attempt, v.t. هڅه کول، زيار ايستل، خواري کول: بريد کول يرغل کول: لاس اچول (يو کار ته)، لاس پورې کول.

n. هڅه، بريد، پيل، زيار، يرغل، حمله.

attend, v.t. پاملرنه کول، حاضرېدل، څارنه کول، پالنه کول (لکه د ناروغ يا ميلمه): ګډون کول: په غاړه اخيستل: د تيارسۍ په حال کې اوسېدل.

attendance, n. حاضري: پاملرنه: اوسېدنه: ګډون کوونکي (غونډه، مجلس کې): حاضر کسان.

attendant, adj. ملګری، مل، ضميمه.

n. ملګری، په جلو کې ورسره تلونکی، په غاړه اخيستونکی.

attention, n. پام، توجه، فکري تمرکز: مؤدب والی: (لښ) تيارسۍ: ځيروالی.

atten.tive, adj. متوجه، څك، فکرناك، متمرکز، ځير.

atten.tively, adv. په توجه، په پاملرنه، په ځيره.

attenuate, v.t.i نري کول ، نري کېدل (دقينګېدل لوخړه) وړول، لږول (کثافت) لږول (زور، ارزښت) .

attenua.tion, n. نري کول: ووړ کول، لږول، کمزوری کول .

attest, v.t. د شهادت په توګه لاسليك کول، شهادت ورکول: ثابتول: ښودل: نظامي خدمت کې داخلېدل: اعلامول .

attesta.tion, n. شهادت .

ttic, n. بامبوړی: د بام او آهن پوښ ترمنځ خونه يا پټونې .

adj. دا تيکا ښار يا اتن ښار ته منسوب (په غټ A–) .

ttire, v.t. وراغوستل: سينګارول ، ګاڼل (په ګاڼه پټول .)

n. ګاڼه ، سينګار، کالي .

attitude, n. وضع، روش، کړه وړه ، انګېرنه ، تلقی .

attorney, n. : حقوقي وکيل، د دعوا وکيل : څارنوال .

attract, v.t. : راښکل، راښکول، جذبول، جلبول، اړول (لکه پام): لېوال کول .

attraction, n. جاذبه، راکښښه، جذبونه، جلبونه، اړونه، ننداره، سيل:، سيل ځای .

attrac.tive, adj. په زړه پورې، ګلالی، راکښونکی ؛ جالب .

aud.ibly, adv. په زړه وړونکی توګه، په جالب ډول .

attribute, v.t. نسبت ور کول ، ګڼل ، منسوبول .

at.ri-but, n. منسوب شوی: ذاتي، نه بېلا کېدونکی: کيفيت او خاصيت : (ګر) نسبتي توري يا صفت يا صفتي فقره .

attrib.utable, adj. د منسوبولو وړ.

attribution, n. منسوبونه : منسوب شوی، منسوب .

attrition, n. سولېدنه، زړېدنه (د سولېدو موښل کېدو په اثر)، سولونه: اند پښېمنه (له ګناه څخه) .

attune, v.t. سورول، برابرول، غبرګول هماهنګه کول .

attune.ment, n. هماهنګي ، سور .

auburn, adj. and n. بور، سور چکه ، نسواري رنګه .

auction, n. ليلام، بولي ، داو

v.t. ليلامول، د ليلام په ډول خرڅول په داو او بولی خرڅول .

auctioneer., n. ليلام کوونکی ، د ليلام دلال .

audacious, adj. زړور، باتور ، تورکښ بې باکه، ماجراجو .

audacity, n. بې پروايي ، زړورتوب: بې باکي .

audible, adj. اورېدل کېدونکی ، د اورېدو وړ .

audibil.ity, n. اورېدا، د اورېدو قوت .

aud.ibly, adv. په اورېدل کېدونکی غږ: په لوړ غږ .

audience, n. اوريدا، اورېدنه ، اورونه : رسمي ملاقات : اورېدونکي، نندارچي يا نندارچيان .

audio, adj. سمعي، هغه برقي جريانچه د اورېدل کېدونکو غږو د څپو سره سمون کوي ، داسې جريان ته منسوب يا د داسې جريان .

audit, n. دحسابونو تصفیه ، دحسابي چارو بیلانس .

v.t.i. دحسابونو تصفیه کول، حسابي بیلانس جوړول .

audition, n. اورېدا، داورېدو حاسه : اورونه: د ږغ از مېښنه (لکه د سندر غاړو) .

auditor, n. اورېدونکی : د حسابي تصفیې مامور .

auditorium, n. اډیتوریم، د کنفرانس خونه ، داورېدو سالون : دننداري (تیاتر) ، د تماشا کوونکو دناستې ځای .

auditory, adj. داورېدلو حاسې ته منسوب داورېدلو .

auger, n. ګرمېچ ، برمه .

aught, n. صفر، شی ، هرشی ، هرڅه ، هغه څه چه .

augment, v.t.i. زیاتول، لویول، ډېرول ، ارتول: زیاتېدل ، لویېدل، ارتېدل.

augmenta.tion, n. زیاتی، ډېروالی ، پراخی، لویوالی ،

augur, v.t.i فال کتل، بخت ازمویل ، پیش ګوئي کول .

n. دلرغوني روم هغه خلك چه دمرغانو له الوتلو او غاړو څخه به یې دراتلونکي پېښو پیش بیني کوله: فال کتونکی ، فال ګر .

augury, n. طالع ، بخت : فال کتنه بخت ازمېینه .

August, n. دعیسوي کال اتمه میاشت چه یو دېرش ورځې لري، داګست میاشت.

august, adj. عالي ، مجلل ، شاندار .

auk, n. دقطبي سیمو یو ډول اوبني مرغه.

auld, adj. زوړ ، لرغونی له موده لوېدلی ؛

old, لرغوني بڼه .

aunt, n. ترور: توړی: تندیار: دماما یا نیا یې ښځه، عمه، خاله .

aura, n. هغه اترنا که وړانګې چه دانسان له وجود یا بل جسم څخه خپرېږي او مېسمارېك (جادویي) اغېزه کوي، تظهیر.

aural, adj. غوږیز ، غوږ ته منسوب ، داورېدو حاسې ته منسوب .

aureole, n. شپول (لکه دسپوږمۍ) هاله

شپول : آسماني نور ، آسماني تاج : هغه نوراو شغلې چه دملایکو او مقدسو خلکو له وجود څخه خپرېږي .

auricle, n. خارجي غوږ: (دغوږ خارجي برخه) د باندیني غوږ په شکل دزړه دهلیز .

auricular, adj. غوږ یا داورېدو حاسې ته مربوط، داورېدو: پټه (خبره): اورېدلې (لکه خبره)

auriferous, adj. سره زرلرونکی ، له طلاډك .

aurora, n. سپېده داغ ، ګولنګه خېړه، سپېدې چاودې : دروم په افسانو کې دسهار الهه : لمرخرك .

auspice, n. فال ، طالع ، بخت ، فال لیدنه (دمرغانو دالوتنې او غاړې له مخې): (جمع) ساتنه ، ژغورنه ، پالمسرنه ، نظرلرنه، حمایه ، مراقبت .

auspicious, adj. نیکمرغه، بختور: سعود

austere, adj. تند خوی ، سخت ، جدی ، تریو ، تندی ، تریخ : کلك ، ټینګ : په ځان حاکم : زیږ (بې تجمله ، ساده)

auster.ity, n. تروشوالی ، کلکوالی : زیږوالی ، ساده ګی (د سبك) .

authentic, adj. واقعی ، اصلی ، (د جعلی ضد) کره ، رښتینی ، د منلو وړ ، معتبر .

authent.ically, adv. په موثقه توګه .

authenticate, v.t. اعتباری کول : کره کول ، د منلو وړ ګرځول ، تصدیقول : اصلیت ثابتول .

authentica.tion, n. تصدیق ، کره توب ، اعتبار .

authenticity, n. اصلتوب ، سوچه والی ، رښتیاوالی .

author, n. مؤلف ، لیکوونکی ، جوړوونکی : پیل کوونکی : مبتکر .

auth.oress, n. (مو) .

authoritarian, adj. اقتدار خوښوونکی ، اقتدار ته د غاړې ایښودلو پر خوا ، (د فردی آزادۍ مخالف) ، د حکومت مطلق اقتدار طرفدار .

authoritative, adj. مقتدر ، معتبر ، د اعتماد وړ ، منل شوی ، تصدیق شوی ، غوره .

authority, n. واك ، صلاحیت ، قانونی قوه : حکومت : (جمع) رسمی - مقامات ، لوړ حکومتی مقامونه : قدرت او صلاحیت : صلاحیت لرونکی ، مقتدر ، د لوی لاس خاوند .

authorise, v.t. صلاحیت ور کول ، واك ور کول (قانونی) ، اجازه ور کول : اعتبار ور کول .

authorisa.tion, n.

authorship, n. لیکوالی ، د کتاب ، مفکوري او داسی نورو منشاء .

auto, (مختفه) خپله ، پخپله ، پخپل سر .

autobiography, n. اتوبیوګرافی ، خپل ژوند لیك ، خپله سوانح ، د خپل ژوند په باره کی لیکنه .

autobiograph.ical, adj.

autocracy, n. اتوکراسی ، مطلق العنان حکومت ، داسی حکومت چه پکښی ټول واك د یوه سړی په لاس کی وی .

autocrat, n. ټولواك ، مطلق حاکم .

autocrat.ic, adj. مطلق ، استبدادی .

autograph, لاس لیك : خپل لیك ، هغه لیك یا امضا چه سړی پخپل لاس شوی وی .

automatic, adj. خپل کاری ، (پخپل سر کار کوونکی) اتوماتیك : غیر ارادی .

automatically, adv. په خپل سر ، په اتوماتیکی ډول ، په غیر ارادی توګه .

automaton, n. خپل کاری ماشین ، ماشینی انسان ، بی ارادی انسان یو ډول ماشین چه د انسان په تقلید جوړ شوی وی : میخانیکی انسان (هغه چه له خپل ذکا څخه کار نشی اخیستلای) .

automobile, adj.

automo.bilist, n. ګرځندی موټر

automotive, adj. پخپله ګرځیدونکی پخپله ګرځیدونکی ماشین ، پخپله خوځیدونکی ماشین .

autonomy, n. پښپلواکی (خپل حکومت) حق ، دخپل حکومت واك او صلاحیت (په تېره بیا) دداخلی واك حق : (فل) دکانټ دانظریه چه دبشری ارادی اساس پخپله په اراده کی پروت دی .

auton.omous, adj.

autopsy, n. اټوپسی ، دمړی معاینه (دمړینی دعلت دڅرګندولو لپاره).

v.t. دمړی معاینه کول .

autumn, n. منی (دکال دریم فصل) .

autumnal, adj. دمنی ، هغه چه په منی کی غوړیږی : مړاوی ، رژیدا رژیدو په حال کی .

auxiliary, adj. مرستیال : کومکی :

n. مرستیال ، معاون : (لښ) کومکی عسکر .

auxiliary, ver, n. (ګر) کومکی فعل دفعل مرستیال .

avail, v.t.i په کار یدل ، په کار راتلل ، ګټه رسول ، دچاپه ور باندی کېدل ، دچا ور باندی کیدل .

n. ثمر ، ښه ګټه ، سوده .

available, adj. په کار راتلونکی : لاس ته راتلونکی ، لاس ور رسیدونکی ، لاس پری بریدونکی .

availabil.ity, n. شته والی ، موجودیت پیدایښت .

avalanche, n. داشی (دواوری) ، مچګی یاد کمره یوه برخه چه دغره له څوکی وښوییږی : (برفکوچ) : باران (دلیکونو سوکانو او اورو).

avarice, n. حرص ، په شتمنی پسی هڅه ، سراښتیا .

avaricious, adj. حریص ، سراښ ، په شتومین .

avast, interj. دریږ (ودریږه) (دبېړی چلولو قوماندہ)

avatar, n. حلول ، دهندوانو دعقیده چه خدای دچا په بڼه ښکاره کیږی ، دتناسخ عقیده .

avaunt, interj. ولاړشه ، ځه ، لاړ وهه . مخه وهه .

v.t.i. لاپی وهل .

n. لاپی .

avenge, v.t. کسات اخیستل ، دار اخیستل پور اخیستل (انتقام اخیستل) .

aveng.er, n. کسات اخیستونکی .

aveng.eress, n. (مو)

avenue, n. واټ ، ارت سړك ، جاده .

aver, v.t. په مثبت ډول تاییدول : تصدیقول : ریښتیا ګڼل : (حق) اثباتول ، حق ور کول (حق په جانب ګڼل) .

aver.ment, n. تصدیق : یقینی کول : حق ور کونه : ثبوت ، دثبوت لپاره رسمی اقدام ، ثبوت په غاړه اخیستنه .

average, n. ، منځنی (درجه یا مرحله) اوسط (داکثر او اقل منځنی حد) .

adj. معمولی ، عادی .

v.t. منځنی حد ته راوستل .

averse, adj. مخالف ، بېزاره ، کرکجن ، بې علاقې .

aver.sion, n. بې علاقګی ، بېزاری ، کرکه ، بې میلی ، مخالف ، د منفور یا ساقی څخه لیرې کېدل .

avert, v.t. لار چپول ، مخ اړول : ساتل ، ژغورل : مخه ګرځول .

aviary, n. د مرغانو کېس (لکه چه په ننداره توګی اېښودل کېږی) .

aviation, n. هوا بازی ، هوانوردی .

a.viator, n. هوا نورد ، هوا باز .

avid, adj. حرابښ ، حریص ، لېوال ، تږی ، شوقمن .

avid.ity, n. لېوالتیا ، تنده ، شوق ، حرص ، علاقه .

avocado, n. د استوائی سیمو یو ډول ونه او د هغې مېوه چه د خوراك وړ ده او ناك ته ورته ده .

avocation, n. فرعی مشغولا ، پس له وخته مشغولا ، شخصی مشغولا په تېره چه تفریحی جنبه هم ولری .

avoid, v.t. مخه نیول ، مخ نیوی کول ، ژغورل ، ډډه کول ، ځان ساتل پرېښودل .

avoid.able, adj.

avoid.ance, n. مخ نیوی ، ځان ساتنه ، ژغورنه ، په څنګ کېدنه په څنګ کول ، ډډه کول .

avoirdupois, n. د انګلیسی ژبی وېونکو سیمو یو ډول وزنی مقیاس چه یکی یو پونډ شپاړس اونسه کېږي .

adj. دی مقیاس سیستم ته مربوط (۱۶ ډرام = ۱ اونس ، ۱۵ اونس ۱ پونډ) : تول ، وزن .

avouch, v.t. تصدیقول ، تثبیتول ، اقرار کول ، شهادت ورکول : ذمه وهل : ذمه وار کېدل : د چا له خوا ګڼل ، له چا ګڼل .

v.i. ډاډ ور کول .

avow, v.t. په ډاګه پېیلی ویل ، ښکاره ویل : منښه کول .

v.i. (حق) په حقه ګڼل .

n. لوړه ، لوز .

avow.al, n. منښه ، ډاګه پېیلی وینا ، لوړه : څرګند اعتراف .

await, v.t. انتظار کښل ، غوښتل (لټول) تیار اوسېدل (په تمه کښېناستل ، ملتیا او خدمت کول .

awake, v.t.i. وېښېدل ، له خوبه پاڅېدل . توي ژوند ور کول ، را وېښول .

(awoke' ماضی)

awaken, v.t.i وېښول ، وېښېدل .

awakening, n. وېښتوب ، بېداری ، فعال کېدل .

award, v.t. تاوان ور کول : ور کول (جایزه ، بخښښ ، انعام) : د تاوان د پرېکړې فتوا ور کول .

n. فتوا ، قضاوت : جایزه ، انعام .

aware, adj. خبر ، باخبره ، پوه (اګاه)

awash, adv. د اوبو د سطحې سره برابر : د اوبو په سر ، اوبو اخیستی : اوبو او څپو وهلی او مینځلی .

away, adv. لیری ، له لاسه وتلی ، دایمی ، بی ځنډه ، بی ډیله : بهر ، (ناڅاپه) .

awe, n. ډار ، وېره : ډار (احترام له حس سره ګډ) .

v.t. ډارول ، اريانول .

awe.son, adj. هيبتناك ، سهمناك .

awe.stricken, adj. هيبت وهلى ،
سهم وهلى .

axiomat.ic, adj.

aweary, adj. ستومانه ، ستړى .

awful, adj. هيبتناك ، سهم ناك ، له
اريانۍ ډك : بدرنګه ، ناوړه ؛ ډېر ،
بل شانته .

aw.fully, adv په بدرنګه توګه .

awhile, adv. لږه شېبه ، د څه وخت دپاره
د لنډې مودې دپاره .

awkward, adj. شواڼه ، په غير ماهرانه
توګه ، (نااستادانه طريقه) :
په وارخطايى (داسې چه سړاو ښځې ترې
غلطى شى) :
بې رقمه او مشكل (چه سر او برېى نه
وى ښكاره).

awk.wardness, n

awk.wardly, adv.

awl, n. تېره ، رېبه ، يوه تېره څوكې اله
چه واړه سورى جوړوى .

awning, n. څپرى ، د ټوكر يا بل شى
سايوان چه دسيورى دپاره تر لاندې
كښېږي .

awry, adv. and adj. په اړخ ، په يوه اړخ ،
كوږ ، خطاشوى .

ax or axe, n. تبر ، په انګلښت كې دزيات
كموالى داوستنه .

v.t. په تبر وهل

axes. (جمع).

axial, adj. محورى ، له محوره چاپېر ،
دمحور په اوږدو .

axiom, n. بديهى حقيقت ، منلى حقيقت ،
منلى خبر ، مسلم حقيقت شمار .

axiomat.ic, adj.

axis, n. محور ، هغه خط چه بل شى يې چار
چارپېر څرخى (يا چورليداى شى) : (زو)
دويمه مهره : (ب.ب) ګرګه ريښه (چه له
هغې څانګې بېلېږى) : سره متحدې
قواوې لكه په (۱۹۳٦م) كې د المان او
ايټاليې اتحاد .

axes. (جمع).

axle, n. هغه ميله چه ارابه پرې څرخى ،
اكسل (لكه دموټر) .

aye, adv. تل ، مدام ، هر كله .

aye, ay, adv. دهوراپه .

n هو ، واقعا ، هو هو ، هو كوونكى ،
مثبته رايه وركوونكى .

azalea, n. يو ساراېى ګل لرونكى بوټى .

azimuth, n. دافق يو قوس چه ديوه ثابت
ټكى او يوې داسې عمودى دايرې ترمينځ
اندازه كېږى چه (دادايره) ديوه جسم
له مركز څخه تېره شى (له مرېى السموت
سمت څخه).

azo, (په تركيبى حالت) نايټروجن .

azote, n. ازوت ، دنايټروجن لرغونى
نوم ، دنايټروجن فرانسوى نوم .

azure, adj. شين (اسمانى) ، آبى .

n. اسمانى رنګ ، اسمان .

B

B, b, n. بی د انګليسی الفبا دوهم توری چه فنيقيانو beth باله او د يونانی بيټا beta سره برابر دی .

babble, v.i. دماشومانو په شان خبرې کول ، پرتې ويل ، اپلتې ويل .

babb.ler, n. بنګېدل : اسرار ويل .

babe, n. تی خور ماشوم ، کوچنی ، وړوکی (شيدې خوړونکی) (مجازاً) بې تجربې ، ساده سړی .

babel, n. شور ماشور : د شور ماشور ځای ، د ژبو يو د بله سره ګډېدل .

Babel, n. بابل .

baboon, n. بابون ، يو ډول غټه بيزو چه اوږه دمخ او پلنې شونډې او د سپی غوندې داړې لری .

baby, n. تی خور ، ماشوم ، کوچنی ، وړوکی .

adj. بچی (د هر ژوی) : (مو) نجلی ، پيغله .

ba.byhood, n. ماشوموتوب ، کوچنيوالی ، وړکتوب .

ba.byish, adj ماشومانه ، د وړوکو ، د کوچنيو .

baccalaureate, n. بکلوريا ، د عالی ښوونځی پوری ليک ، د پوهنځی بچلر - ډيګری .

baccalau.reate, ser·mon, n. د بری ليکونو د ويشنې خطابه .

baccahanalia, n. : د شرابخوری ميله د شرابو محفل .

abcchana'lian, adj. د شرابو محفل د مجلس ، شرابخوری محفل ـ ته منسوب .

bachelor, n. ژنکی : د لومړی (ټيټې) علمی درجی خاوند : لونډ (مجرد)

bache.lorhood, n. ژنکيتوب : لونډتوب .

bacillus, n. باسيل ، يو ډول بکټريا ، يو اوږد دشکله ذره بينی ژوی - .

bacilli (—i) (جمع) .

back, n. شا (له ورمېږه ترکوناټيو) ، شا (لکه د کتاب) : وروستنی ليکه (لکه دفټبال په لوبه کې) ، شا ، څټ (لکه دتورې ، تبر او تېغ) .

v.t. : ملاتړ کول ، اوږه ور کول : په څټ بېول ، شاته را کښل ، په شا کول : تکيه کول ، ډډه ور کول .

adj. بېرته ، ورو ستنه : بېرته (خپل ځای ته) : پخوانی (لکه د مجلې ګڼې) : وخت پر تېر شوی ، ځنډنی : مخ په څټ ، په شا .

adv. شا ته، ترشا: خپل پخوانی ځای ته، پخوانی څښتن ته: په بدل، په وار: د څښتن، د پخوانی، دلسوز او خبرې د بېرته اخیستلو.

backbone, n.: شمزۍ، د ملا تیر: تکیه ځای: عزم، اراده (ټینګه).

backer, n. ملاتړونی، ګټندوی، ساتندوی، ملاتړ.

backfire, n. پخواله وخته چاودنه (د انجن په سلنډر، اګزاسټ نلوکی) د ماشین په بې ځایه برخه کې د احتراق پېښېدنه.

backgammon, n. نرد، د لوبې یوه اله چه له دوو دړو څخه جوړه شوې او د پرش دانې لري چه د چکه پاو د دانو تر اچولو وروسته پر دړه باندې خوځېږي، د نرد لوبه.

background, n سابقه، تېر حال، پخوانی وضعه، پس منظر: زمینه: صلاحیت او تجربه.

backing, n. حمایه، ملاتړ، مرسته، اوږه، مټ (طرفداري مرسته)، تکیه: خوښه: تصویب، تائید.

backslide, v.i. شا ته ښوییدل، بېرته ګرزېدل (په تېره) په اخلاقی او دینی چارو کې.

backward, adv. and adj. شا ته، څټ ته، په څټ، په شا: بېرته پاتې، مخ په ځوړ (قهقرایی): غیر عادی (د نارمل ضد): شرمیندوکی: زړه نازړه: سست وده کوونکی: ناوخته: لټ.

back.wardness, n. بېرته پاته کېدنه.

bak.woods.man, n. د ابادې سیمې شاوخوا ځنګل، ځنګلي سیمه.

back woods.man, n. د ځنګلي سیمې اوسېدونکې.

bacon, n. د سرکوزي (خوګ) د ورانه او ملاغوښه (په تېره بیا) د لاندي په شکل.

bacteria, n. pl. بکټریا، ډېر واړه (میکروسکوبی) ژوی چه پر نورو عضوی او غیر عضوی شیانو باندې ژوند کوی او ځینی نوعې یې ناروغی تولیدوی او ځینې یې په موره (تخمر) کولو کې برخه لري.

bacte.rrial, adj.

bacteriology, n. بکټریالوژي، بکټریا پېژندنه.

bacteriolog.ical, adj. د بکټریا پېژندنې، بکټریا ته منسوب.

bacteriol.ogist, n. بکټریا پېژندونکی، بکټریا پوه.

bad, adj. بد، خراپ، ناوړه، ناکاره: شري، ضرري: غلط: خوار: بې هنره: بې ارزښته: دردناک: ویجاړ.

bade, pa. t. د bid. ماضي.

badge, n. مټ تړونی (بازو بند)، فورم او نښان (لکه د افسرانو)، لیس او پلیټ، نښې او نښانې (د کومې ډلې د غړیتوب)

badger n. یو ډول حیوان دی چه شایې پلنه او ګڼ وېښتان لري او په غارو کې اوسېږي:

v.t ځورول، ربړول، په شوق سره تعقیبول.

baffle, v.t. ویجاړول، شنډول، خرابول: خوارول: له کاره ایستل: خنډ ورهول.

bag, n. کڅوړه، توبره، کوړی، بکس

v.i. پړسېدل.

v.t. : په کڅوړه کې اچول، ډکول: نیول، لاس ته راوستل، پټول: نیول او وېشتل (په ښکار کې).

bagatelle, n. وړوکی (شی)، بې ارزښته (شی): د مرد کولو به، چه نه مرد کې به یوه سوري کې اچوي (بوډول بلیارډ)

baggage, n. پنډ کی، خوری، بګاژ، د مسافرو پنډ او بار: بېکاره ښځه.

baggy, adj. لکه بنډی، پړسېدلی.

bagpipe, n. مشکی باجه، بین باجه، داسې باجه چه یوه کڅوړه پوري انښتې وي او چغنده ږغ تري خېژي.

bail, n. ضامن، ضمانت.

په ضمانت خلاصول، په ضمانت خوشې کول.

bail, bale, n. څمڅه، کاچوغه، سطلواغه یا سطل چه له بېړۍ څخه اوبه پرې لیرې کوي.

v.t.i په سطلواغه اوبه اچول، له بېړۍ څخه اوبه لیرې کول.

bail, n. د سطلواغې لاستی، د سطل کړی، د هرنالي او اوښي لاستی چه کوږ یا د کړی په شان وي.

bailiff, n. (انګلستان کې) حاکم یا قاضی، د ښاروالی وکیل، د حاکم کفیل یا مرستیال: ناظر، وصی، ګماشته، ګومارلی.

bailiwick, n. خپله سیمه، صلاحیت، قدرت، قانونی حق.

bairn, n. (سکاټ) ماشوم.

bait, n. شومه (چه په ښکار کې استعمالېږي لکه د کب په نیولو کې غوښه، چینجی چه په چنګک پیول کېږي)، طعمه: خوری چه د مسافر سره وي.

v.t شومه ور کول، په شومې غولول. په تمه کول: خوراک ور کول: لار تری ورکول (لکه سپی چه ګیډړ پسې واخلی) ګیرول، چاپېرول، وارخطا کول.

baize, n. د مېز پوښ، یو ډول ډبن ټوکر چه په مېز یانو روښیانو غوړېږي او اوږدې رېښکې لري.

baka, n. یو وړوکی بمب الوتکی جاپانی راکټ چه له الوتکې څخه توغول کېږي.

bake, v.t. پخول (په تناره یا داش کې). پخېدل (لکه د خښتې).

baker, n. نانوای، هغه څوک چه په تناره یا داش کې ډوډۍ یا کلچې پخوي.

bakery, n. نانوایي، د ډوډۍ او کلچو پخلنځی.

balance, n. تله: تلنه: تعادل، موازنه (د قوتو، وزنو، درو ندوالی): برابرونه، برابری: د سات (ساعت)، د ګړندیتوب د سهون آله.

v.t. تلل: برابرول: انډول کول، پر تله کول، بیلانس جوړول، حساب پاکول.

v.i. برابرېدل، انډول کېدل متوازن کېدل.

balbriggan, n. د بنیان ټوکر، تاری یا سپنسین او بدل شوی ټوکر.

balcony, n. کتاره اروتکی برانډه: بالکون، لوژ (لکه د تیاتر).

bald, adj. پک، ګنجی: لغړ، ساده، بې سینګاره، بې تصنعه.

baldric(k), n. ملاوستنی، کتار وزمه (وزنه)، دوسلې ملاوستنی.

bale, n. ګانټ: بنډل، پنډ، انډۍ: مصیبت، کړاو.

v.t. انډۍ کول، پنډې تړی جوړول، پړانډې یو ویشل.

baleful, adj. وژونکی: تاوان رسوونکی، مضر: ویرناک، دردناک.

balk, baulk, n. شاړه: له سترګو لوېدلې ځمکه.

v.t. سترګې پټول، له نظره غورځول، له پامه اچول: ټګه کول: ښوییول، ځمکې اچول: شنډول.

v.i. په ټګه کیدل، غړیدل.

ball, n. د نڅا مجلس، د نڅا محفل یا غونډه

ball.room, n. د نڅا سالون.

ball, n. توپ، ګین، پنډوسکی، ټوپکی، هر ګردی شی، مځکه: د بیسبال لوبه: ګولۍ، چرې.

v.t. ګردي کول، غونډاري کول.

v.i. غونډاري کېدل، ګردېدل: ګرد چاپېر راټولېدل.

ballad, n. (شعر) بولله (قصیده): حکایوي نظم (لکه جنګنامې او کارنامې).

ballast, n. تول برابروونکی مواد، هغه درانه مواد چه د هوازې د برابرولو د پاره په بېړۍ او بالون کې اچول کېږي.

v.t. له درنو موادو ډک کول: تول ور برابرول.

ballerina, n. د بالټ نڅا لوبغاړې، د بالټ نڅا کوونکې (ښځه).

bal.let, n. د بالټ نڅا، یوه نڅا د ډلې په صورت اجرا کېږي او معمولاً یوه قصه یا کیسه ترسیموي: د بالټ نڅا کوونکي.

ballistics, n. د توغېدونکو شیانو علم (لکه ګولۍ، راکټ او نور).

balloon, n. بالون، هوایي کڅوړه، هغه کڅوړه چه له غاز څخه هوا ته د پورته کېدو په غرض ډکه کېږي: بالون ته ورته نااټکله: هر تش مغځی پړسېدلی شی.

balloon.ist, n.

ballot, n. د رایې کاغذ، د کاغذ یوه ټوټه چه هر څوک خپله رایه پرې لیکي: په دغه ترتیب رایه ورکوله یا اخیستنه: ټولې رایې.

v.t.i په دغه ډول رایه ورکول یا اخیستل.

balm, n. د ویلنۍ (امناع) د کورنۍ هره ونه: خوشبويي (چه له ویلنۍ څخه لاس ته راځي): درد غلي کوونکی مالش دارو، درد غلي کوونکی شی، ملهم.

balmy, adj. نرم، خشخوږ: خوږ (لکه خواږه تماکو): کراروونکی، مسکن.

balsam, n. بلسام (یو ډول صحي شراب)، یو ډول بوټی چه سپین ګلان لري او له خوشبويي شیرې څخه یې د مالش دارو جوړېږي.

baluster, n. بازو، د کتارې بازو او تکیه (چه لیښه ولاړه وي)

balustrade, n. د بازوګانو قطار چه، کټارې او پټلۍ ورباندې لګول شوي وي : دزینې پټۍ .

bamboo, n. بانګس ، یو ډول استوایي بوټی چه سخت او د لاس لکړې ځنې جوړیږي .

bamboozle, v.t. غولول ، تېرایستل ، مسخو رول .

ban, n. منع، موقوفي ، بندیز : ځنډنه .
v.t. منع کول ، بندیز لګول ، غیر قانوني بلل : ځنډل .

banal, adj. معمولي، عادي: بېخونده ، مبتذل .

ban.ality, n. بېخوندي: معمولي توب، ابتذال .

banana, n. د کېلې ونه ، کېله .

band, n. بند، وندنی ، کړی ، وندر: ډله، ټولی: فیته : (۲) دساز کوونکو ډله په تېره بیا چه بادي الات (لکه ټرومپیټ ، باجه، شپېلۍ) وږغوي: (په اردو کې) دشپوډ او ډ دوالي یوسیمه .
v.t.i. په ډله کې شریکېدل، ډله کول، په ډله کې ـ شریکول .

bandage, n. پټۍ: هغه ټوټه چه پرټپ یا زخم اېښودل کېږي .
v.t پټۍ اېښودل .

bandana, bandanna, n. رنګین دسمال چاپي دسمال ټاپه شوي دسمال .

bandbox, n. کلکه کاغذي قطۍ چه کالي خولۍ او نور داسې شیان پکې اېښودل کېږي .

bandit, n. یاغي ، لارې وهونکی ، داړه مار .
bandit.ti or ban.dits. (جمع) .
ban.ditry n. یاغیتوب، لارې وهنه، داړه ماري .

bandoleer, bandolier, n. قطار وزمه ، دوسلې قطار ، غاړه کۍ (دوسلې) ګردۍ .

bandy, v.t. سره وهل : پرله پسې یو بل ته سره اچول (لکه ټوپ وسکی): اوازه اچول، خوله په خوله ګرځول(لکه خبره): سختې سپورې ـ سره مبادله کول .

bandy, adj. چاټ، ارت (چه زنګونه یې سره لیرې وي) .
ban.dylegged adj. پښې ارتې ، چاټ لینګی .

bane, n. بربادي، یو پنا کېدنه، تالا کېدنه : مرګ: شیطاني : زهرناك .
bane.ful, adj. د بد وسر چینه، بلا، مضر.

bang, n. ټرك ، ټس ، ځرپ ، ټنك (ناڅاپي لوړ غږ چه د یوه شي له وهلو څخه جګېږي): سخت وار (کلکه ضربه): چاودنه .
v.t. وهل ، دربول .
v.i. دربېدل ، وهل کېدل .

bang, v.t. پېکی پرېښودل ، د پېکی په شان پرې کول)دویښتان) .
n. پېکی .

bangle, n. بنګړي ، کړی (د لاس یا د پښو

banish, v.t. شړل ، تبعیدول ، فرارول ، موقوفول .

ban.ishment, n. فرار ، تبعید ، شړنه .

banister, n. زینه او پټۍ یې .

bango, n. بنجو ، د موسیقۍ یوه آله چه پنځه تارونه لري .

bank, n. دخاورو ټوټې یا ډېرۍ : غاړه ، ځنډه (لکه د سیند) : خوا ، اړخ ، ځنګه (لکه د سړک) : خوله (لکه د غار) : شیله (لکه د سیند) : د اوریځو څو اړاسکی وزرمات ، وزر کوږک (الوتکه چه د دورې په وخت کې یو وزر ټیټ کړي) .

v.t لیکه تړی چاپېرول ، غاړه یا ځنډه ور کول : ډېری کول ، ټوټې کول : اور پټول (چه د لګیدو سرعت یې ابن شي) .

v.i. کږ بدل و زرماتی کیدل کوږ کېدل (لکه الوتکه) : ځنډه ګرځېدل . غاړه کیدل .

bank, n. د لوڅ چوکۍ : مسند (د قاضي) : سره لړی او ور نږدې شوي شیان ،

v.t. جوړه کول لړی کول ډله کول .

bank, n. بانک ، یو تجارتي مرکز چه پیسې ساتي او پور ، کټه ، اعتبار او قرضه ور کوي : د سپما صندوق : بانګه ، زېرمه .

v.t. په بانک کې کښېښودل .

v.i. بانکي حساب لرل ، اعتبار لرل .

bank.er,n. د بانک مامور ، بانکوالا .

bank.ing, n.

bank note, n. بانکي نوټ پیسې .

bankrupt, n. یوالي ، هغه سړی چه په معامله کې تاوان وکړي .

bank.ruptcy, n. د یوالیتوب افلاس .

banner, n. توغ ، بیرغ : نښان هغه بیرغ چه په دوو لکړو پورې تړل شوي وي .

bannock, n. د جودرو کیک (چه په کاله کې پوخ شي) ، او وربشین کیک ، روټه .

banns, n. pl. څرګندونې اعلان (په تېره بیا په کلیسا کې د واده اعلان)

to forbid the banns. د واده د کېدو سره رسمي مخالفت .

banquet n. میلمستیا : خوږ خوراک یا ښباك (چه تر ډوډۍ وروسته استعمالیږي) .

v.t. میلمستیا ور کول .

bantam, n.: بیسټی (ټیټه ، وړه) چرګه : ټیټکی ، خېټکی (په تېره ټیټ قدی سپاهي) .

adj. بیسټکی نسل : ټیټکی خوغښتلی .

banter, v.t. ملنډې وهل (په ټوکو) ، ټوکې کول : چل کول .

n. ټوکې ، ملنډې ، مسخرې .

bantling, n. بچی ، ماشوم ، کوچنی .

banyan, banian, n. (د ختیځ هند) بوټول انځر چه ښانګې یې په ځمکه ـ ځوړندې وي او لویه ساحه نیسي : ګجراتي تاجر : هندي تاجر : بنیان (جاکټ) .

banzai.inter, j. په جاپاني (تل دې وي) د جاپان د جنګ کرېږه .

baptism, n. (مس) د تعمیدغسل ، د تعمید د مراسمو اجرا کوله یا کېدنه د عیسوي کولو په غرض او به ور شیندله یا په اوبو کې لمبوله د اوم ا ښودلو مراسم

baptis.mal, adj.

baptistery,-try, n. د تعمید ځای (په کلیسا کې) .

baptise, tize, v.t. د تعميد غسل ورکول (ته) ، عيسوي کول (عيسوي نوم ورکول) ، نومګړنه کول .

bar, n. : سيخ ، ميله (لکه د پنجرې) : اډه ، قبضه : ځنځير او کونده : خنډ (مانع) : پنجره : ميز (معمولاً جګ او اوږد) چه د هغې شا ته هوټلي يا شراب څرڅوونکي ناست وي : فيته چه نښان يا ميډال ورپورې نښتي وي : د نوټ اندازه کولو د پاره يوه معموده ليکه .

v.t : نښلول : ايسارول : خنډ اچول : د ميلې او پنجرې په واسطه مخه نيول : ليکه ليکه کول : منع کول .

bar, prep. بې له ، غير له .

barb, n. خنډ، څوکه يا نوکه (لکه د غشي يا د چنګک) : ږيرکۍ (لکه هغه چه د مرغه بڼه ورڅخه جوړه وي) .

v.t. : څوکه ورکول ، خنډن کول : خرېيل ، کوږ په کول .

barbed. adj. په خنډ و پټ ، اغزن (لکه اغزن سيم ـ سيم خاردار) .

barbarian, n. (تاريخ) ځنګلي ، نيم وحشي سړى : بربر : پردى، خارجي : (لر) غير يوناني، غير رومي : زيږ او بې ذوقه (سړى) : غير مدني (تر يوه حده) .

barbarism, n. بربريت ، د مدنيت او وحشت تر منځ يوه مرحله : بربري ثقافت او اخلاق .

barbarity, n.

bar.barous, adj.

barbecue, n. وريت (لکه پسه يا غويى چه سلامت کباب شي) ، ميلمستيا (چه روغ پسه يا غويى په کې وريت کوي) .

v.t : سلامت وريتول ، روغ وريتول : د غوښې (په تنور د کې) د وړو ټوټو پخول (په سرکه کې) .

barber, n. ډم ، نايي سلماني ، دلاک .

barberry, n. کروشکی ، يو ډول اغزن بوټی چه ژېړ ګلان او سرې اوږدې دانې لري او د ډول د پاره د کاله په شاو خوا کی اېښودل کيږي .

barbiturate, n. (طب) د دردغلي کوونکو دارو ګانو له ډلې څخه يو ډول دارو، يو ډول خوب راوستونکی دارو (منوم دارو) .

bard, n. شاعر، سلتيکي شاعر او سندرغاړی هغه سندرغاړی يا شاعر چه کلي په کلي ګرځي .

bare, adj. : لوڅ ، لغړ، بربنډ : څرګند : ايستلی (لکه توره له تيکی څخه) : تش لاسی (بې وسيلې) : بې زيرمې : شړيدلی (لکه کالي) : خوار : تش: بې ډوله ، ساده .

v.t. بربنډول، لغړول : تشول .

bare.ness, n.

barefoot, adj. and adv . پښې لوڅې په پېيلو پښو .

bare.footed, adj. پښې لوڅې شوي، پېلې پښې شوي .

barely, adv. په بربنډه بڼه : په ساده ګی په ښکاره توګه : ايله بيله : ان شاالله : نه دومره : په سختۍ .

bargain, n. جوړه، سوړه منښه: ګټور قرارداد، ګټوره تجارتي معامله: ارزان بيه شی، وړيا خونډي شی: د اکړه ورکړه: چنه.

v.i. جوړه راتلل: قرارداد کول، سوړه منل: چنې وهل.

barge, n. بړاخه، پلنه وړه بېړۍ چه په سيندانو ويا له کې چلېږي: ماشين لرونکی وړه بېړۍ چه بحري افسر يا بيرغ پکي وهل کيږي: تفريحي وړه بېړۍ.

barge.man n.

baritone, barytone, n. بم غږ (د ږغ او چغنده، د بم او زير تر منځ)، د دغسې غږ خاوند.

bark, n. د ونې پوستکی، د ونې پټ، د ونې پوټکی.

v.t. پوستول، پټ ايستل، پوټکی توږل.

bark, n. غپا، غپهار (د سپي).

v.i. غپهل.

bark, barque, n. يو ډول وړه بېړۍ چه درې بابې (سټنی) لري.

barley, n. اوربشې.

barley, carn. د اوربشې دانه.

barn, n. ګودام: بوسخونه: غوجل.

v.t. په ګودام کې ساتل: په غوجل کې اچول.

barn.yard, n.

barnacle, n. يو ډول کوچنۍ اوبنۍ ژوی چه په کاڼو او بېړيو پورې انښلي: ملګری (چه سړی په اسانه ترې نشي خلاصېدای) (شلېدونکی ملګری.)

barometer, n. د اتموسفير د فشار سنجولو آله: د تحول او بدلون نښه.

barometeric, adj. بارومېټري، د فشار سنجولو ته منسوب.

baron, n. (بر تانيه) بېرون؛ يو اشرافي لقب.

bar.onage, n. بېرني تشکيلات: د بېرنانو سلسله.

bar.oness, n. (مؤ) بېرنه او د بېرن ښځه.

baronial, adj. بېرني.

bar.ony, n. د بېرن تر واك لاندې سيمه، د بېرن درجه.

baronet, n. وړوکی بېرون: د برېتانيې په ميراثي لقبو کې تر ټولو کښته لقب:

baronetcy. n.

barouche, n. يو ډول څلور ارابه ييزه ـ بګۍ.

barracks, n. pl. بارکونه (د لښکرو استوګنځی).

barracuda, n. تېره سرې کب.

barrage, n. (لښ) مصنوعي ليکه (د سيند په پساره): مخه نيونه، د دښمن د تېرېدو د ليار بندونه (د توپو او ډزو په وسيله).

barred, adj. بند شوی، احاطه شوی (د ميلو په ذريعه): ليکه ليکه شوی (لکه) پنجره.

barrel, n. بېرل، بېلر: د توپك ميل: يو بېلر. (هغه مقدار چه په يوه بېلر کې ځايېږي).

v.t. په بېلر کې ځایول یا اچول .

barren, adj. شنډ (ژوی ، بوټی) وچ : شاړه : بې ډوله ، بېخونده ، وچ کلک : هسې چټی ، ابته ، بې ګټې پوچ ، مغزی ، احمق .

n. شاړه او له کروندې وتلې ځمکه .

barrenness, n. شاړه توب .

barrete, n. : ګبرا (د ښځې د ویښتانو) بیته خولی ، بیره خولی .

barricade, n. خنډ، سد (چه په بېړه په سړک او کوڅو کی جوړه شی مخنیوی ، سنګر (موقتی) څوکی .

v.t. سد جوړول ، سنګر نیول .

barrier, n. بندېز ، خنډ، سد ، وېړه (مانعه) : حدود، سیمه : سرحد .

barrister, n. (انګلستان) د مرافعې وکیل، هغه مشاور یا وکیل ، چه د جګو محکمو د غوښتنې واک لري : مقنن ، څارنوال .

barrow, n. زمبیل (زنبیل) .

barter, v.t. (تج) بدلول (جنس په جنس)، جنس په جنس سودا کول ، الیشول .

n. بدلون ، تبادله، سودا (جنس په جنس) .

barytone, n. baritone. وګوری .

basal, adj. قاعدوی ، اساسی ، بنیادی ، بنسټی .

basalt, n. تور مرمر .

basaltic, adj. د تور مرمر .

base, n. سټه ، قاعده ، تل ، بنسټ : اساسی (رکن) : اډه (لکه د نظامی عملیاتو) : (کیمیا) هغه مرکب چه د تېزابو سره د تعامل په نتیجه کې مالګه شی : اساس .

base, adj. ټیټ (معنآ)، ناوړه ، بدذاته : بدخویه : بې ارزښته : قلب : (حق) مربی .

baseball, n. د بیسبال لوبه، توپ ډنډې ته ورته یوه امریکایی لوبه .

baseless, adj. بې اساسه ، بې بنسټه : بې دلیله ، بې وجهی .

basement, n. زېرخانه ، د تعمیر تر ټولو کښته ، پوړ .

bashful, adj. شرمېندوکی ، خجول :

bash.fulness, n. خجالت ، شرمندګی .

basic, adj. اساسی ، قاعدوی ، اصلی ، عمده .

bas.ically, adv. اساساً ، قاعدتاً اصلا ، له اره .

basil, n. ریحان ، یو ډول اشنوایی بوټی چه د ویلنۍ د کورنۍ غړی دی کشمالی بڼی .

basilica, n. یو ډول اوږدوټی عیسوی کلیسا چه ساده او اوږد د تعمیر یې درلود .

basilisk, n. (تخ) ښامار یا بلا چه په کتو سره سړی وژنی .

basin, n. تشت ، کنډول ، تشی ، تغاره : ډنډوکی .

basis, n. قاعده ، اساس ، بنسټ ، ستنه اساسی توکی .

bask, v.t.i. پېتاوی کول ، ګرمی یا پېتاوی ته غزېدل ، تودېدل ، تودول .

basket, n. ټوکری : شکور : کجاوه .

bas.ketful, n. یوه ټوکری ، د یوی ټوکری په اندازه .

basketball, n. د باسکیټ بال لوبه ، یوه لوبه چه پکې دوه ټیمونه پنځو سکی یو د بل ټوکرۍ (جالۍ) ته اچوي : د دې لوبې پنځو سکی .

bas-relief, n. په مجسمه جوړولو کې د شیرو داسې ترتیب چه له سطحې څخه ډېرې راوتلې او ډېر ګنډې نه وي .

bass, n. (م) ټیټه او غم راوړونکې غاړه (آهنګ) : د باجې بمه پرده : په ارکسترا کې د بم بړغ پارټ او برخه (چه د کوم سندرغاړي یا آلې په غاړه وي) .

adj بم ، ږږ بړغی .

v.t. ږږ بړغ ایستل ، ږږ بړغ کول .

bassinet, n. زانګو ، یو ډول زانګو چه ټوکرۍ فولدی وي .

basso, n. بم بړغ لرونکی سندرغاړی .

bassoon, n. (م) شپېلۍ ، (د ارګی) یو ډول شپېلۍ چه بم بړغ لري .

basswood, n. د امریکا یوه ونه چه ګڼې څانګې او زیړ ګلونه لري .

bast, n. پوستکی (د ونو او بوټو) ، د بوټو پوستکی چه له ریښکیونه یې پړی او رسۍ اوبدل کېږي .

bastard, n. ارمونی (حرامزاده)، مټونګی

adj. ناروا ، غیرقانونی : غیر اصلی کم اصل ، بدل غیرعادي (په بڼه او جوسه کې).

bas.tardy, n. ارامی توب ، مټونګی توب .

baste, v.t باڼې کول ، باڼې وهل ، ګینډه کول (ارت کوکونه پرې وهل).

baste, v.t. تېل ور کول ، په غوړو یا وازګۍ غوړول (لکه کباب) : وهل ټکول .

bastinado, bastinade, v.t. په لښته وهل ، په تېره بیا د پښو پر تلو .

n. په لښته وهل ، د وهلو د پاره پښې ور پورته کول.

bastion, n. برج (د کلا یا حصار) جنګځی (هر ډول) سنګر .

bat, n. کوتک ؛ سوټی ، لوډ : ډنډه (د پنډوسکی یا د کریکټ د لوبو).

v.t. په کوتک وهل ، په سوټي ټکول.

bat, n. ماښام څکلکی ، ماښام مرغک وزلرونکی موږک ډوله ژوی چه ماښام الوځي ، شوپرک .

batch, n. څواله : یو تنور (ډوډۍ) : یو پخلی (خواړه) : یو دسته (کاغذ) : یوه دسته یا اندازه (د هر شي) : یو فصل.

bate, v.t.i. کوزول : کوزېدل : لږول : لږېدل

bath, n. غسل ، لمبېدنه : د لمبلو اوبه : هره هغه مواد چه که نور اجسام پکې واچول شي تاثیر ور باندې کوي.

v.t.i. مینځل : لمبل ، لمبېدل .

bath.house, n. تشناب ، حمام .

bath.robe, n. د حمام چپنه .

bath.tub, n. د حمام ټب .

bathe, v.t. غسل ور کول ، لمبول ، ډوبول :

v.i. لمبېدل ؛ خیشت پیشت کېدل.

bath.er, n.

bathroom, n. تشناب : حمام .

btst.e, n. یو ډول نازك نخی ټوکر.

baton, batoon, n. کوتك (لکه د امنیې د پولیسانو) د لاس لرګی (لکه د ارکسټرا لارښوونکی).

batrachia, n. pl. (زو) دوه ژوندی ژوی (ذوحیاتین) د چونګښو کورنی.

batra.chian, n. & adj. د چونګښی کورنۍ ته منسوب.

battalion, n. (لښ) لیوا: (جمع) لښکری قوه: نظامی واحد چه له څو ټولګیو څخه جوړ شوی وی.

batten, n دړه، تخته (د نمبی یا چار تراش).

v.t دړه انبلول: په تختې بندول یا پوښل.

batten, v.i. چاغېدل، تیارېدل، څربېدل؛ وده کول.

v.t. چاغول، تیارول، څربول، ستړول: وده ورکول؛ ستړول.

batter, v.t. پرله پسې ټکول، دربول: زړول: (د سولو او او ټکولو په اثر).

n. نری شوی مخلوط (لکه د شلی (د پشلي) اوړه چه نری شی)

batter, n. خمیر، بنت وهونکی، ټوله. وهونکی، کوتك مار.

battery, n. ټکونه، دربونه: (لښ) د توپخانې یونټ: د توپ د نصبېدو ځای: برقی بیټری: (حق) ناحقه وهنه.

batting, n. د پنبه یا مالوچو یا د ړیو نختې چه په بړستنو کې استعمالیږی.

battle, n. جګړه (د لښکرو)، مرچول جګړه.

v.t.i. جګړه کول، جنګېدل

batt.le-field, n. د جګړې میدان، د جنګ ډګر.

batt.lefront, n. د جنګ جبهه، محاذ.

batt.le ground, n. جبهه، ډګر.

battle-ax, axe, n. تبرزین.

battle-ment, n. تېر کېښ، کنګره.

bauble, n. نانځکه، نادکی د لوبو شی.

bauxite, n. د المونیم خاوره، یو ډول خاوره چه د المونیم په جوړولو کې کار ځنې اخیستل کیږی.

bawdy, adj. کاسیره، بدلمنه، غره، کنجره.

bawl, v.t.i. چیغې وهل، کریږې یا کریغې کول.

n. کریغه، چیغه، کریږه.

bay, n. خلیج، هغه د اوبو ټوټه چه دری خواوې یې په وچه او یوه یې بحر پورې تړلې وی.

bay, n. د ماڼۍ یوه برخه چه د ستنو په وسیله ورڅخه بېله شوې وی: برنډه: ماڼۍ یا بالاخانه چه وزر (مخکې راوتلی ساختمان) ولری.

bay, v.i. غپېدل، غړانګه کښل، انګولل (قوله ایستل لکه سپی).

n. غپا، غړانګه، انګولا، قوله: کېرېدنه، ایسارېدنه.

bay, adj. سور چك، نسواری، کهار (داس یو ډول رنګ).

bayberry, n. د لویدیځ هند یو ډول مېوه.

bayonet, n. برچه، شلګی.

v.t. په برچه وهل، په شلګی ټپول.

bayou, n. شپله، ویاله یا ناوه چه لوی سیند ته ورګډیږی .

bazaar, bazar, n. بازار .

bazooka, n. (امر ، ابن) د ټانك دافع توپ چه راکټ توغوی .

be, v.i. اوسېدل ، وجود درلودل .

was ماضی یې .

been دریم حالت یې .

beach, n. د سیند غاړه (په تېره چه شګلنه‌وی) ، ساحل .

v.t غاړې ته کول (لکه بېړۍ) .

beacon, n. د خطر نښه: بل شوی اور یا څراغ (چه په شپه کې ماڼوګانو ته د خطر د علامې په حیث استعمالیږی) ؛ د بېړیو د څارلو برج : څوکۍ ، څارنځی .

bead, n. مری، موشکۍ، د مری دانه ، تسبیح .

beading, n. مری جوړونه : مری ور پورې کول .

beady, adj. د مریو .

beadle, n. د (انګلستان) د کلیسا ناظم .

beagle, n. بنجری سپی ، لوټی سپی ، ښکاری سپی چه لنډې پښې لری .

beak, n. مښوکه ، مشوکه: څوکه، بزه .

beaked, adj.

beaker, n. بیکر، جام: یو ګیلاس چه په لابراتوارو کی کار ځنې اخلی .

beam, n. میله : تیر: د تلې ډنډه : د بېړۍ اس یا ترټولو پسروره برخه .

radio beam راډیویی نښه یا علامه چه پیلوټ لارښوونه کوی: د رڼا لیکه، شغله، پلوشه .

v.t.i. ځلېدل ، بریښېدل ، رڼ او خوشاله کېدل .

beam.ing, adj.

bean, n. د لوبیا مختلف اقسام، باقلی: دانه، نینګی .

bear, v.t. وړل : ګرځول (لکه یوه علامه چه څوك د ځان سره و ګرځوی): لرل: زېږول ، زو کول، راوړل : زغمل، ګالل ور کول (لکه شهادت): په غاړه اخیستل .

bear.able, adj.

bear.er, n.

bear, n. (ایږ)، خرس، یږ: محتکر، چالباز .

bear.ish, adj. یږ صفته .

beard, n. ږیره: د وږي زیږي خاشې ، زیږه ویښتان .

v.t. ډغرې وهل (سره)، مقابله کول .

bearing, n. وضع (د درېدو یا تګ) : عادت، رویه ، اړه، ارتباط : زغم توان : حالت : لوری : اغېزه : مفهوم او معنی (جمع) لیس او اینان : د ماشین هغه پرزه چه پله پرزه پکی څرخېږی (بیرینګ)

beast, n. څاروی ، څلور پول، حیوان : څاروی صفته سړی .

beast.ly, adv. څاروی صفته ، ظالم ، بی عقل .

beat, v.t. وهل، ټکول : بری موندل : وار ور کول .

v.i. غورځېدل (لکه د زړه) : ګټل .

n. وار، ورځېدنه : (م) تال: لوری .

beat,er, n.

beat.en, adj. وهل شوی .

beatific, adj. نېکمرغه کوونکی، بختور ، خوشالی راوستونکی .

beatify, v.t. بختور کول، نیکمرغه کول، خوشالول : (مس) بې گناه او بزرگ اعلانول .

beatifica.tion, n.

beatitude, n. مکمله خوشالی : تل تر تله خوشالی : بختور توب : (جمع) د انجیل پنځمه یا له ۳ تر ۱۲ صحیفې پوری چه په هغه کی د ځینو کسانو او ځ اود بخښل کېدو او بختور والی زیری راغلی دی .

beau, n. فیشنی (ځولی سړی) : هغه سړی چه ښځو ته پام کوی، مین : (جمع) .

beaux,

beauteous, adj. ښکلی، گلالی .

beautiful, adj. ښکلی، گلالی، ښیمخی .

beau.tifully, adv.

beatify, v.t. ښکلی کول، سینگارول، ځولی کول .

beau.tifier, n. ډمکی (مشاطه)، سینگاروونکی .

beauty, n. ښکلا، ښایست : ښایسته یا ښیمخې ښځه .

beaver, n. داوبو سپی، سگ لاهو : د دې حیوان پوست .

becalm, v.t غلی کول، کرارول : درول (بیړی د باد د نشتوالی له کبله) .

became, د become ماضی .

because, adv. ځکه، له دې سببه، ځکه چه، د دې لپاره چه .

beck, n. سر ښورونه، گوته ښورونه، (داشارې په توگه) .

beckon, v.t.i. اشاره ور کول، رابلل، داشارې په واسطه رابلل .

becloud, v.t. په اوریځو پټول، تتول، خړول .

become, v.i. & v.t. کېدل، گرځېدل، لگېدل، جوړېدل، ښه سره ایسېدل .

becoming, adj. لگېدونکی، جوړېدونکی، مناسب، وړ، ښه ایسېدونکی .

bed, n. بستره : کټ : د خوب ځای : کیاری، کوډکی (لکه د گلانو) : تل (لکه د دریاب) : پټ (قشر) .

v.t. ویده کول، په کیاری یا کوډکی کې کښېنول (لکه بوټې، گلان)، په بنسټ یا تل پورې نښلول : پټ په پټ اېښودل .

bed.chamber, n. د خوب کوټه .

bedclothes, n. pl. د خوب کالی (لکه بړستن، نیالی او نور)

bedspring, n. چپرکټ، کټ .

bedbug, n. غسک .

bedding, n. د خوب سامان، د ویده کېدو کالی : بنسټ، تل .

bedeck, v.t. سینگارول، گاڼل .

bedevil, v.t. ځورول : مغشوش کول (ذهناً) سر او بور کول (ځنه)، کړول .

bedew, v.t. پرخول (پرخې پر خې او به پرې شیندل)، لمجن کول .

bedfellow, n. د خوب ملگری، د بسترې ملگری .

bedizen, v.t. ځلبلې کالی اغوستل، په سپکه بڼه سینگارول، کچه کالی اغوستل .

bedlam, n. لېونتون، د لېونیانو ځای ، دارالمجانین: د شور ماشور او ګډ وډ ځای .

bedraggle, v.t. په خټو لړل، په خټو کې را کښل .

bedrid, n. بستري، په بستره کې پروت .

bedridden, adj.

bedroom, n. دخوب خونه .

bedside, n. د بستر څنګ (په تېره بیا دناروغ) .

bedstead, n. دخوب تخت یا کټ .

bedtime, n. دخوب وخت، دویدېدو وخت .

bee, n. مچی، مچ مچی: اشر (بېګاره) .

bee.hive, n. د مچی ځاله ، ټوبکی ، شکر ګنی .

beech, n. (ب ب) یوډول ونه چه ښوی او سپېره پوستکی او وچ لرګی لری پاڼی یې تور ښخنی شنی وی او ډری کوڅه غوز په شان مېوه کوی .

beef, n. or beefs

beeves جمع یې . غوا یا غویی چه دغوښی لپاره روزل کېږی . دغویی غوښه (اصط) ، وزن ، زور .

beefy, adj. دغویی غوښی غوندې ، غوښن، غړی لرونکی ، مزی، چاغ .

beefsteak, n. دغویی دورانه غوښه، دغویی دورانه کباب .

beeline, n. لنډه لار ، سیخه لار ، نژدې لار .

beer, n. بیر د اوربشو کمزوری الکولی څښاك .

beery, adj. بیرډوله ، بیرونکی .

beeswax, n. موم ، چه په شاتو کی موندل کېږی ، دشاتو موم .

beet, n. چوغندر (لبلبو)

bett.root, n. دلبلبو ریښه .

beet.sugar, n. دلبلبو څخه جوړه شوی شکره .

beetle, n. لرګی چه غوښی او نور پرې ټکوی

beetle, n. خزندکه، ماهی ، یوډول حشره چه څلور وزرونه لری او مخکی دوه وزره یې د نه الوتلو په وخت کی د وروستنیو وزرو د پاره پوښ وی .

beetle, v.i. ځوړندېدل : ننېدل او راوتل (په تېره د وروځو) .

bee.tling, adj. راوتلی : ځړېدلی : اېغ .

beetle, v.f. لوېدل: پېښېدل : پېښول : را وستل .

befall.ing, pres.part. غورځول .

befall.en, past part.

befell, past.

befit, v.t. وړ ایسېدل ، ښه ایسېدل ، جوړ راتلل .

befitt.ingly, adv.

befitt.ing, daj.

befog, v.t. تتول ، په ګرد کې پټول ، مغشوشول .

before, prep. and, adv. پخوا ، ړومبی ، مخکې وړاندې :

ته یا باندې یا سره (نزد)، په سر کی .

before hand, n. پخوا له پخوا ، له اوله څخه ، له مخکې نه .

befoul, v.t. ککړول، مردارول ، لړل ، خرابول .

befriend, v.t. ملګري کول ، ملګرتیا ، ساتل پلوي کول .

befuddle, v.t. خټ پټ کول ، ګډوډ کول

beg, v.i. سوال کول ، خواست کول ، درېوزه کول ، استدعا کول .

began, د begin. ماضي ، پیل کړ ، شروع کړ .

beget, v.t. پیدا کول (لکه پلار چې اولاد پیدا کوي) زاوزل : پلار کېدل .

beggar, n. سوالګر ګدايي ګر ، درویز ګر ،

v.t. ملنګ کول ، الله درته کښېنول ، نیستمن کول .

beggarly, adj. غریب ، بېوزلی ، وږې سترګی .

beggary, n. غربت ، خواري ، بېوزلي .

begin, v.i. پیل کېدل ؛ شروع کېدل : اوچتېدل ، راوتل .

v.t. پیل کول شروع کول : اوچتول ، راوستل (منځ ته) ګوتې پورې کول لاس پورې کول .

beginn.er, n. پیل کوونکی .

begun, past part.

beginn.ing, n.

begone, interj. ورک شه ، ور کېږه ، لرې شه ، ځه ،

begonia, n. (ب ب) یو لوی بوټی چې غلاندې سپینې پاڼې او ګلابي یا سور ګل لري او پاڼې یې د تزئین لپاره استعمالیږي .

begrime, v.t. لړل ، ککړول . خیرنول ، تورول .

begrudge, v.t. رخه کول ، حسدوړل .

beguile, v.t. غولول ، تېرایستل ، بې پامه کول : پام غلطول . مشغولول .

behalf, n. خوا ، پلو ، پار (د پاره) په خاطر .

behave, v.t. سلوک کول ، رویه کول ، عادت لرل (په تېره بیا ښه) .

behaviour, n. سلوک ، کړه وړه ، رویه .

behead, v.t. سر پرې کول سرغوڅول .

behest, n. امر ، لوز : دنده وظیفه

behind, prep, and adv. ترشا ، شاته ، وروسته : ناوخته ، ځنډېدلی .

behind hand, adv. & adj. ټال شوی ځنډېدلی : بېرته پاتې شوی یا پسېنه ، یا کشري (لکه فصل) .

behold. v.t. پام کول کتل (متوجه کېدل) ځیر کېدل .

interj. ګوره! پام کوه! کسه!

behold.er, n.

beheld, past t.

beholden, adj. احسان من ، تر احسان لاندې پوروړی .

behoof, n. ګټه ، زیاتوالی ، زیاتوب (مزیت) ، ښېګڼه سهولت ، اسانتیا .

behoove, behove, v.t.i. وړتوب ، ښایي (له ښایېدل څخه) : په کار راتلل .

beige, n. & adj. اوم ژېړ : ژېړ بخن رنګ (لکه د پسه وړی) ژېړ بخن ، خړ چه لږ غوندې ګلابي رنګ ولري .

being, n. موجودیت ، شته والی ، اوسېدنه : هستي ، دژوند نومنه . ژوندی شی ژوندی : اصل ، جوهر .

belabor, belabour, v.t. ډبول : (اصطـ) دربول .

belated, **adj.** ځنډېدلی، ټالېدلی، وخت پر تېر شوی .

belay, **v.t.** : نښېښتل، پېچل، تاوول، ټینګول : نښلول، پوری کول .

interj. بس! بس که؛ پرېږده، ودرېږه!

belch, **v.t.i.** ساه بندول، ساه نیول : په زوره ایستل (په تېره له خولی څخه لکه ایټکی، غرچی، سوګلی، اوږدمی) : وتل (لکه اوګی د توپ له خولی څخه).

beldam, **beldame**, **n.** بوډی، زړه ښځه، مکرجنه بوډی، زړه کاسېره، زړه کچڼی .

beleaguer, **v.t.** ایسارول، کلابند کول، احاطه کول، چاپېرول .

belfry, **n.** د زنګ برج (لکه د کلیسا) .

belie, **v.t.** غلطول، خطا ایستل : غلطی ښودل غلطی کول، غلط ثابتول : خیانت کول .

believe, **v.t.** کروهه، عقیده، باوره، ویسا، نظریه .

belief, **n.** منل، عقیده کول، ایمان لرل .

v.i. تابع کېدل، معتقد کېدل .

believ.able, adj. د منلو وړ .

believ.er, n. منونکی، مؤمن معتقد .

belike, **adj.** شایی چه، غالباً، ګوندی .

belittle, **v.t.** وړوکی کول وړوکی ښودل لږول، لږ ښودل سپکول تحقیرول

belitt.ling, adj.

belitt.lement, n.

bell, **n.** زنګ، ګېنګړی، کړنګهار : ترنګهار .

v.t. زنګ ور پوري نښلول .

belladona, **n.** یو زهرناك بوټی چه د پټاټو په کورنۍ پوري اړه لري او دوا ځنی جوړېږي .

belle, **n.** ښېښې نجلی یا ښځه، ښایسته نجلی یا ښځه : (اصط) د نجونو مېره .

belles-lettres, **n. pl** ادبی پارچې یا ټوټې، هغه پارچې چه ادبی او ظریفه خواږې د رڼا وی .

bellicose, **adj.** جنګ ته تیار، جنګړه، بدغونې .

belligerency, **n.** اضطراری حالت، د جنګ حالت .

belligerent, **adj.** د جنګ په حال کې، د جګړې په حالت کې په اضطراری حالت کې : په جنګ لګیا :

bellig'erence, n. پــــر غلګــــر .

bellow, **v.i.** رمباړې وهل، نارې وهل، نړېدل (د غويی په شان) غرچېدل : ځېږ صېدل

n. رمباړې، نړېدا، غرچی : ځېږ صبی

bellows, **n.** بټی (لکه د پښ، اکاره یون) سږی (مجازاً) .

belly, **n.** نس، خېټه .

v.t.i : ډک را وتل، پوټ را وتل : ډک را ایستل، پوټ را ایستل، پړسېدل .

belong, **v.i.** اړه لرل، رابطه لرل، منسوبېدل .

belongings, **n. pl.** مربوط شیان، کالی او سامان (متعلقات) (اصط) کالی، شته مال .

beloved, **adj.** ګران، منلی، زړه ته نژدې، خوږ : ګران یا ګرانه (سړی، ښځه) معشوق، محبوب .

below, **adv.** : کښته، لاندې : په مځکه، په دوزخ کې .

below, adv, : کښته ، لاندی : په مځکه ، په دوزخ کې

prep. کښته تر ، کوز تر ، لاندې تر .

belt, n. : کمر بند ، ملاوستنی ، ملاوندنی ، کړۍ : تسمه : او بوتنکی (آبنا) .

v.t. کړۍ کول ، ایسارول : په متروکه وهل ، په تسمه یا ملاوستنی وهل .

bemoan, v.t.i. ویر کول ، زړه سوی کول : خپه کېدل ، غمجن کېدل ، ویرجن کېدل ، ولېدل .

bemock, v.t. : مسخرې کول ، ملنډې وهل

bemuse, v.t. لار ور کول (مخه) ، مغشو شول ، گډوډ کول ، سر گرا کول .

bench, n. : اوږده چوکۍ : د کار میز : گدۍ ، مسند (د قاضی) : محکمه او قاضیان

bend, v.t. : تاوول : لیندی کول : کږول :

v.i. تاوېدل : لیندی کېدل : کږېدل .

n. کږ ایښی : لیندی .

beneath, adv. and prep. لاندې (تر) ، کوز (تر) ، کښته (تر) .

benedicite, interj. خیر یوسې اخدای دې وبښه !

n. دعا ، پر دسترخوان د برکت دعا .

benediction, n. د خیر دعا ، دعا (د مذهبی مراسمو په پای کې) .

benefaction, n. خیر رسونه ، ښه نیتی ، ښېگڼه ، نوروته گټه رسونه .

benefactor, n. خیر رسوونکی ، ښه نیتی ، خیرمن ، روغ نیتی .

benefac.tress, n. (مو) .

benefice, n. صوفیانه او زاهدانه ژوند ، د خانقاه ژوند ، د کلیسا عایدات .

beneficence, n. ښېگڼه ، ښه سړیتوب : خیر ، خیر رسونه : ښېگڼه .

beneficent, adj. نیک عمله ، خیر رسوونکی ، سخی ، نیک چاری .

beneficial, adj. خیر خواه ، گټور ، کومکی ، خیر رسوونکی ، سود من ، گټور .

beneficiary, n. گټه کوونکی ، گټه وړوونکی هغه سړی چه گټه یا تحفه یا مزیت لاس ته ورځی .

benefit, n. تحفه ، پیشکش : گټه : هغه ننداره چه پیسې یې د ټاکلی هدف یا شخص د پاره ټولېږي .

v.t. گټه رسول .

v.i. گټه اخیستل ، فایده من کېدل ، سودمن کېدل .

benevolence, n. خیر رسونه ، لوی زړه توب ، سخاوت ، خیرات .

benev'olent, adj. خیرغوښتونی ، سخي ، مهربان ، خیر رسوونکی .

benighted, adj په تیاره کې راگیر شوی ، تور تم پر باندې راغلی ، تپه تیاره باندې راغلی : جاهل ، ناپوه ، تاریک .

benign, adj. مهربان ، خوا خوږی ، پوست (طبیعتاً) : (طب) ، سلیم .

benighnant, adj. مهربان ، خوا خوږی ، گټه رسوونکی .

benighnity, n. نیکخویی ، زړه سواندی ، زړه سوی ، نرمی ، پوستوالی د مهربانی شخه ډک عمل .

benison, n. برکت ، خیر ، د خیر دعا .

bent, past t. and past p. of کوږ شوی bend, adj.

کوږ : کږ ایښی اړوونکی : (مصمم) .

n. میلان : لوری : د لېږدې کېدو او انحنا طاقت : د زغم ظرفیت .

benumb, v.t. بې حسه کول ، فلجول ، ویده کول (لکه د غړو) .

benzene, n. بنزین ، یو سوځېدونکی مایع چه د ډبرو سکرو د قیر څخه لاس ته راځی .

benzine, n. بنزین ، یو ډول اوراخیستونکی مایع چه د پټرولو څخه لاس ته راځی .

benzoate, n. د بنزوئیك اسید مالګه : د بنزین اسیتر .

benzoic acid, n. (کیم) سپین بلوری تېزاب چه په بنزوئین کې پیدا کیږی او د موادو د تازه ساتلو د پاره استعمالیږی .

benzoin, n. بنزوئن ، د جاوا د ونې رانیچه (گنده ورې) ، سمغ .

benzol (e), n. وگوری benzene.

beqeath, v.t. په میراث پرېښودل : پرېښودل ترشا پرېښودل .

bequest, n. میراث ، میراث پرېښودنه ، ترکه

berate, v.t. ملامت کول ، سرزنش کول .

bereave, v.t. غمجن کول ، محرومول ، نیمه خوا کول ، بوړول ، یتیمول ، میراتول .

beseeched', or besougt', past t.t.

bereave.ment, n.

beret, n. بېره خولۍ ، بې پیکه گرده نرمه خولۍ .

berg, n. څوندی یا غر : د یخ غټه ټوټه ، په تېره چه د اوبو پر سر روانه وی .

beriberi, n. (طب) یوه ناروغی چه د ویټامین بی (ب) د نشتوالی له کبله پیدا کیږی .

berry, n. آلو (هر ډول) : د ځینو بوټو وړوکی یادانې (لکه د توتو ې دونې) : انګور توره .

berth, n. د بېړۍ د چلېدو د پاره کافی ځای یا سیمه : د بېړۍ لنگر ځای : ټاکل شوې ځای د خوب خونه (لکه په ریل اورگاډي کې) : د سیالی او استراحت

to give berth to, v.t. ځای ځای ور کول .

to give a wide berth to. ترې لرې گرځېدل ، ځان ترې ساتل .

beryl, n. شینچکی یاقوت .

beseech, v.t. زارۍ کول ، په زارۍ غوښتل ، روی وروړل (لکه د خدای) لمن نیول .

beseeched., or besougt., past t.

beseem, v.t.i. ښکاره کېدل ، مناسب ښکاره کېدل ، لگېدل (سره) .

beset, v.t. ایسارول ، راچاپېرول ، تېری کول : لارور کول : گډوډ کول ، وار خطا کول .

beseting, adj. تل یرغل کوونکی ، یرغلگر .

beshrew, v.t. لعنت پرې ویل ، رټل .

beside, adv. and prep. : برسېره پر : بې له دې : سربېره ، څنگ ته .

besides, adv. : برسېره پر : بې له دې : له بله پلوه : چپ له .

besiege, v.t. ایسارول ، په لومه کې اچول ، لارور باندې بندول راچاپېرول .

besieg.er, n.. محاصره کوونکی ، یرغلگر .

besmear, v.t. ککړول ، لړل ، غوړول .

besmirch, v.t. تورول (لکه په لوگی) : کرغېړنول ، داغی کول .

besom, n. جارو ، د بېز چه له لښتو او ځانگو څخه جوړه شوې وی .

besotted, past p. and adj. مست (بېخوده دشرابو په اثر) .

besougt, past t. & past p.

د beseech ماضى اودريم حالت .

bespangle, v.t. ځل بل کول، په ځلېدونکى ګاڼه سينګارول .

bespatter, v.t. خټې او چکړې پاشل، په خټو ککړول ، مردارول .

bespeak, v.t. فرمايش ور کول، سپارښتنه کول : تيارى نيول .

bespoke., past t.

bespoke., past t.

besprent, past part, & adj. (شعر) شيندل شوى ، پاشل شوى : هغه شى چه پلې ورباندې شيندل شوى يا پاشل شوى وى.

best, adj. تر ټولو ښه ، تر ټولو غوره ، تر ټولو ګټور .

n. غوره شى.

v.t. غوړه راتلل ، غوره والى اړل .

bestial, adj. څاروى ډوله، څاروى خويه، لکه څاروى ، وحشى .

bestir, v.t. پارول ، ښورول ، تحريکول، چټکول ، لمسول .

bestow, v.t. اېښودل : ښندل ، عطا کول .

bestow.al, n. عطا ، ښندنه ور کول : اېښودنه .

bestride, v.t. سپرېدل، درېدل داسې چه يو پښه يوې خواته او بله بلې خواته وى: ساتل ، ننګه کول ، پلو کول .

bestridden. pst part.

bestrod., past t.

bet, v.t.i. & n. شرط تړل : شرط تړنه ، شرط .

beta, n. ديونانى الفبا دوهم توری .

betake, v.t. تلل ، ځان رسول : متوسل کېدل .

دا لغت اکثر د oneself ځان سره استعمالېږى .

bethink, v.t. فکر ته راوړل، په ياد راوړل، په زړه کول : دځان سره ويل .

bethink.ing, pres. part.

bethought, past part.

betide, v.t.i. ور پېښېدل ، واقع کېدل (ناوړه پېښه پېښېدل) .

betimes, adv. دوخته، وختى : ژر، په خپل موسم ، وخت ، په بېړه .

betoken, v.t. د نښې په اثر خبر ور کول ، شهادت ور کول ، دلالت کول، ښودل (لکه ژېړ رنګ چه ناروغى ښيى) .

betook, past t. د betake. ماضى .

betray, v.t. اعتبار يا اميد خوړل ، خيانت کول ، په اعتبار کى تېرا يستل، په بې ايمانى او بې غيرتى يوازې پرېښودل: دروه کول (سره) .

betray.al, n. غولونه ، خيانت .

betray.er n. خاين .

betroth, v.t. په نامه کول (د نجلى) ، کوژده کول ، نامزد کېدل .

belroth.al, n. کوژده .

betroth.ed, n. کوژدن، په نامه شوې .

better, adj. ښه (تر)، غوره (تر ، ډېر) لوى (تر) ، لوړ (تر) : روغ (تر) .

n. ښه شى ، غوره شى .

v.t. ښه کول ، غوره کول ، لوړول .

better, bettor, n. شرط تړونکی ، شرط اېښودونکی .

betterment, n. اصلاح ښه والی ، ترقی ، پرمختګ .

between, prep. ترمنځ ، په منځ کې : له یوه نه بل ته .

betwixt, prep. منځکې .

bevel, n. ریونده سطحه ، مایله سطحه : ګونیا .

v.t. ریونده کول .

v.i. ریونده کېدل ، کږېدل .

beverage, n. څښاک : د څښنګې مواد ، مشروب .

bevy, n. ډله ، په تېره بیا د ښځو ، سېل ، رمه .

bewail, v.t.i. ویر کول (پر) ، ساندې ویل (پر) : ویرجن کېدل .

beware, v.t.i. پام ساتل ، په تابیه کې اوسېدل ، پام اړل .

bewilder, v.t. وارخطا کول ، ترهول .

bewilderment, n. وارخطا یی ، ترهه ، ترهونه .

bewitch, v.t. کوډې کول (پر) جادو کول (پر) دا کښېل ، مسحور کول .

bewray, v.t. خیانت کول (سره) ، ډګی کول (په اتبار کې) .

bey, n. د بېګ یا بیګ انګلیسی املاء : د ترکیې او تونس حکومتی لقب .

beyond, adv. & prep. هاخوا : پورې خوا : په هاخوا کې ، ابرې : روتېر ، راتېر (په درجه کې لوړ) : بېرو تلی (لکه له طاقت څخه) .

bezl, n. د ګوتې هغه برخه چه غمی پکښې ټینګوی ، د ساعت کړۍ چه ښیښه پکښې کلکېږی .

bias, n. ریونده بڼې : تعصب : یواړخیز قضاوت یا فکر ، تنګ نظری .

v.t. تنګ نظری کول ، تعصب کول

bib, n. لیړ ګیرک ، یوډول کرچه د ماشوم ترغاړه تړل کېږی چه کالی یې ککړ نشی .

Bible, n. انجیل .

biblical, adj. د انجیل ، انجیلی .

bibliography, n. د کتابو او نسخو تاریخ او انهقه : د هغو لیکو نولست چه په یوې موضوع یا مولف پورې مربوط وی .

bibliographer, n. ببلیوګرافی لیکونکی .

bibliographic, adj. د ببلیوګرافی .

bibliographical, adj. ببلیوګرافی پورې مربوط .

bibliophile-phil, n. د کتاب مین ، د لوست او مطالعې شوقمن او لېوال .

bicameral, adj. د دوو مقننه څانګو لرونکی .

bicarbonate of soda, n. (کیم) سپینه بلوری مالګه چه په پخلی او د اروګانو کې استعمالیږی : سوډا ، بولی .

biceps, n. ماکوچوله غړی ، دوه سری غړی لکه د مټ تورغړی (ماچه ، ماهیچه) .

bichloride, n. (کیم) یوه زهرلرونکی ماده (د پارې کلورایډ) چه په طب کې د ضدعفونی په حیث استعمالیږی .

bichromate, n. (کیم) د ډایکرومیك ایسیډ مالګه.

bicker, v.i. n. جنګېدل، جګړه: د خولې جنګ، ناندرې.

bicuspid, adj. دوه نوښ لرونکی.

n. دوه ځاښیز، دوه څوکیز، هغه غاښ چه دوه نوښه لري.

bicycle n. بایسکل.

bid, v.t. بیه ټاکل، بیه ایښودل: امر کول: وېل یا کول (لکه خدای پامانی یا هر کلی).

v.i. بیه کېدل.

n. بیه، بولی (داو) په لیلام کې: (اصط) بلنه.

bidder, n.

bidden, past part.

bade, past t.

bide, v.t.i. انتظار کښل، اوسېدل، پاتی کېدل: زغمل: په زړه ورتوب مقابله کول.

bode, past t.

bided, past part.

biding, n.

bienial, adj. هر دوه کاله، دوه کلن، دوه کلیز: هغه ونه چه یو کال ګل او بل کال میوه کوي.

bienn.ial, n.

bienn.ially, adv.

bier, n. هغه چوکاټ چه تابوت یا مړی پاندي ایښودل کېږي.

big, adj. لوی، ستر: غټ: پړسېدلی، بلاربه ډډ: مهم.

bigness, n. لویوالی، ستروالی، غټوالی.

bigamy, n. په یوه وخت کې د دوو مېړو لرنه، په یوه وخت کې د دوو ښځو لرنه.

big.amist, n. هغه سړی چه دوې ښځې یا هغه ښځه چه دوه مېړونه لري.

big.amous, adj.

bighorn, n. د امریکا د راکی غرو یو ډول وحشی پسه، وحشی ښکرور پسه، قوچ.

bight, n. غوټه، ګنډه (لکه د پړی): د ساحل انحنا د جهیل د څنډو کږوالی.

bigot, n. په پټو سترګو منونکی، بې دلیله ټینګار کوونکی: متعصب.

big. oted adj. تعصب لرونکی: په پټو سترګو منونکی، خرافاتی.

big.otry, n. خرافات.

bilateral, adj. دوه اړخیز، دوه خواییز، متقابل.

bile, n. ژېړی (چه له تریخی څخه وزي): غضب، قهر.

bilious, adj. د ځیګر په خرابی اخته، د ځیګر ناروغی ته مربوط: قارووونکی، غوني زېږوونکی

bill, n. مښوکه، څوکه.

v.i. مښوکه په مښوکه کېدل (لکه کوترې): سولېدل (په مهربانۍ): نوازش ور کول: نازور کول.

bill, n. قانونی لایحه، د قانون مسوده چه مقننه مجلس ته د چلند (انفاذ) د پاره وړاندې شي: د پیسو صورت حساب، سند: د تجارتي سند: (امر) بانکنوټ یا د

خزانې لوټ: (حق) د جنایت د اثبات لیکل شوی سند.

v.t. صورت حساب وړاندې کول، بل ورکول: د پاڼو او لوحو په واسطه اعلانول.

ترخې دانې کوی او په دواوو کې
استعمالیږی.

camouflage, n. کموفلاژ ، هغه وسیله چه
در قیب د غولولو د پاره استعمالیږی.
v.t.i. غولول ، پټه اړول.

camp, n. کمپ (کامپ)، هغه ځای چه
خېمې موقتاً پرورد رولی شی:
د عسکرو یا پوندهووا او یا مېلمه کوونکو
د استوګنې موقتی ځای ، لښکرګاه.

campaign, انتخاباتی مبارزه: عسکری
عملیات: د یوه ټاکلی مقصد د پاره
دلاس و پښو وهنه: یوه خلاصه ور شو.

camphor, n. کافور، یوه ژاولنه غوندې
ماده چه له ونې څخه راځاځی، داونی
عموما په جاپان او فارموسا کې
زرغونیږی. د اسر ښنا که شی په
دواوو کې استعمالیږی.

campus, n. (امر) د پوهنځی یا پوهنتون
ساحه.

can. n. د بلی ، د یوه حلبی یا بل فلز قطی
چه په هغه کې وچ یا لانده شیان اچوی.

can v. توانېدل، پر کړو قدرت موندل.
could. ماضی صیغه.

canaille, n. ډله: ازدحام: کښېنته طبقه.

canal, n. یوه لویه واله په تېره چه بېړی
پکښې چلیږی: داوبو لګولو واله:
(ب) یو رګ چه د حیواناتو او یا نباتاتو
په جسم کې مایعات تېروی.

canard, n. غلطه اوازه.

canary n. کنری ، یو ډول شکلی رنګه
مرغۍ ده چه د کنری په جزیره کې
موندل کیږی: یو ډول سپک شراب دی
چه په همغه جزیره کې
جوړیږی: یو ډول اتڼ ته
هم وایی چه په دغه جزیره پوری مربوط
دی: زوښنا نه ژېړ رنګ.

cancel, v.t. فسخ کول ، خط پر را کښل،
د پوستې ټکټ باطلول.

cancellation, n.

cancer, n. د سرطان ناروغی، ناوړه
د بېړ سوب خطرناکه دانه ، دوجود
د حجراتو نا منظم تکثر.

can.elabrum, n. شمع دان (چه څو ښاخونه
ولری).

candid, صمیمی، په زړه سپېڅلی، بې ریا.

candidate, n. کاندید، در تبې یا مقام
غوښتونکې.

candidacy, n.

candidature, n

candied, adj. په بوره لړلی ، په بوره
کې ساتل شوی.

candle, n.	شمع .
candor, candour, n.	له تعصب او کینې څخه خلاص، صمیمی : واضح : څرګند : عدالت.
candy, n.	خواږه، له بورې څخه جوړ شوی شی .
cane, n.	کږکی د لاس لرګی : شکر ګنی : قانقه : ګنی .
canine, adj.	د سپی له کورنۍ څخه، دسپی غوندې .
n.	سپی : دسپی داړه .
canister, n.	د چایو کافی یا نورو یو ډبلی : یو ډول ګولی چه د نژدې فاصلې دویشتلو دپاره استعمالیږی .
canker, n.	دخولې و تنه، دونو یو ډول ناروغی : شوږ هدنه .
cankerworm, n.	یو ډول چینجی چه مېوه او سیوری لرونکی ونې وهی .
canned, n.	په ډبلی یا په مرتبان کې ساتنه یا ساتل شوی شی .
canner, n.	هغه څوک چه مېوه او نور شیان په ډبلیو کې اچوی .
cannibal, n.	د خپل همنوع غوښې خوړونکی : هغه خلک چه د نورو خلکو غوښې خوری، سړی خور، ادم خور .
cannon, n.	توپ، توپخانه .
canny, adj.	ماهر، هوښیار : بختور، نیک پال، بې ګناه، بې ضرره .
canoe, n.	هغه بېړۍ چه دونې له مینځه تشې تنې څخه جوړه شوې وی : په دې بېړۍ کی سفر کول .
cannon,	قانون : منل شوی اساسات .
canonize, v.t.	په ښو او مقدسو خلکو کې شمېرل : سرلوړی کول : قانونی ډول ورکول .
canonization, n.	
canopy, n.	چتری، سایوان (مجازاً) اسمان
cant, v.t.i.	کوږ والی، میلان، بریوه اړخ کېدل، یوې خواته کږول، یوه اړخ ته کږېدل .
cant, n.	د یوه خاص کسب اصطلاح : غونډه خوله : غیر صمیمی اظهارات، ظاهری خواخوږی : (سکاټلنډ) ژوندی یا ویښ : په لیلام خرڅونه .
cantaloupe, n.	یو ډول کوچنی خټکی .
cantan.kerous, adj.	بد طبیعته، بدخویه .
cantata, n.	دموسیقی یو ډول کمپوز چه یوه ډله یې اجرا کوی .
canteen, n.	کانتین، دعسکرو داوسېدلو په ځای کې یو دوکان چه پر عسکرو شیان پلوری، په مکتبو کې هم دغه ډول دوکانونه جوړیږی .
canter, n.	په غبرګو (چارنعل) دآس ځغاستنه .
canticle, n.	بدله، سرود (روحانی) .
cant.le n. v.t.	یوه برخه یا کونج : دزین وروستنی لوړه برخه : یوه برخه یا ټوټه جدا کول، وېشل .
canto, n.	بند (شعر) .
canton, n.	یو کونج : یوه منطقه یا ځای : ناحیه .
cantonment, n.	دعسکرو هغه موقتی ځای چه د عملیاتو او یا سپورت دپاره پکښې اوسی .

cantor, n. په کلیسا کې د هغې ډلې مشر چه بدلې په ګډه سره وايي .

canvas n. ټاټ : يو ډول کلك ټوکر چه له پنبه ؤ څخه جوړ شوی وی : يو شمېر خېمې (سرکس) .

canvas back. د شمالی امریکې يو ډول وحشي بطه .

canvass, v.t. په ټاټ يا شړۍ کې نغښتل : امتحانول : څېړل : (امر) په انتخاباتو کې د خلکو څخه د رايو غوښتنه .

canvasser, n.

canyon, n. تنګه ژوره دره .

caou.tchouc, n. هندی رېړ ، سرېښناکه او بلنه شیره چه د رېړ له ونې څخه راڅاڅي .

cap, n. خولۍ ، هر هغه شی چه سر په پټېږي ، سرپټوني .

v.t. سر پوښل ، سره جوړه کول غلبه پر موندل .

capable, adj. لايق ، وړ .

capacious, adj. ډېر ګنجایش درلودونکی : ارت .

capacity, n. ظرفیت ، استعداد ، ګنجایش : وظیفه : پراخوالی .

caparison, n. د آس ښکلی شوی جل : چرګی .

cape n. بې لستوڼی چپنه .

cape, n. (جغ) راس ، پوزه ، دماغه ، د ځمکې یوه تېره غوندې پوزه چه په بحر یا خلیج ننوتلې وی .

caper, n. يو ډول ونه ده.

capillarity n. هغه عمل چه د هغه په واسطه د مایعاتو سطح د جامد شي سره د تماس په وخت کې لوړه یا ټیټه شي : شعریت (ویښتهشه ورته والی) .

capillary, n. يو کوچنی ویښته غوندې رګ ، (جمع) عروق شعریه (ویښته رګ)

capital, adj. مهم : عمده ، اساسی : د مرګ سزا : لوی ، ستر ښار لکه د مملکت پایتخت ، لوی توری (په اروپايي ژبو کې) : سرمایه ، پانګه : سرمایه داران .

capitallism, کپټلیزم ، د سرمایه دارۍ سیستم : پانګه ایز نظام ، هغه اقتصادی سیستم چه تر هغه لاندې شخصی اقتصادی فعالیتونه د رقابت په توګه اجرا کیږي .

capitalist, n. سرمایه دار .

capitalize v.t. په سرمایه اړول یا د سرمایې په توګه استعمالول : سرمایه ورکول : په لويو تورو ليکل يا چاپول .

capitation, n. يو ډول سري غم (ټکس) دی ، هغه غم چه پر سرو باندې اېښودل کېږي : مستقیمه برا بره مالیه .

capitol, n. د ملي شورا ماڼۍ .

capitulate v.i. تر منل شوو شرایطو لاندې تسلیمېدل : د قرارداد د شرایطو ترتیبول.

capitulation, n. صورت حساب : خارجي حکومتو ته مخصوص امتیازات ورکول .

capon, n. خسي چرګ چه د خوړلو د پاره چاغ (څورب) شوی وی .

caprice n. بې علته د خپل فکر اړونه .

capricious, adj.

capsize, v.t.i. ویجاړول، ویجاړېدل : پر بله خوا اړول، نسکورول: نسکورېدل چپه کېدل.

capstan, n. څرخ : هغه څرخ چه د رسۍ د تاوېدو په واسطه دروانه شیان را کاږي (په تېره) په بېړۍ کې.

capsule n. کپسول، کوشکوړۍ (تش مینځه شی) : یو پوښ چه دوا پکښې اچول شوې وي.

captain, n. کپتان، رئیس، مشر (لښ)، جګړن.

captious, adj. د ګوتې نیولو وړ، د اېراد وړ.

captivate v.t. مایل کول، جذب کول، ځان ته را کښل.

captive, n. بندي، د سړي یا حیوان تړنه په یوه ځای کې ایسارونه.

captor, n. نیوونکی، بندي کوونکی.

capture n. په زور یا حیله نیونه :

v.t. په زور یا چل نیول. ګټل (د انعام)

car, n. ګړندی موټر : د جر ثقیل وړه قفسچه.

carafe, n. د مېز د پاره د اوبو ښیښه ئي بوتل.

car.amel, n. سوې بوره : د سوې بورې رنګ چه په وریجو پوخېږي او نورو خوړو کې یې اچوي : پوخول چاکلېټ.

carapace, n د کیشپ، شمشتي یا د چنګاښ پاسنۍ کاسه.

car.at, n. قیراط، د سرو زرو یا نورو قیمتي ډبرو تقریباً د ۲۰۵ میلي ګرامو وزن.

caravan, n. کاروان، پېټیر.

caravanserai, n. کاروان سرای.

caraway, n. د تودې ځیرې بوټی.

carbine, n. لنډ سپک ټوپک.

car.bohy.drate, n. (کیم) کاربوهایدریټ د کاربون هایدروجن او اکسیجن مرکبات چه شکره او نشایسته هم پکښې وي

carbolic, adj. کاربولک اسید، د ډبرو له سکرو څخه حاصل شوی اسید چه وروسته له اوبلن کولو د ناوړو بویو په ضد استعمالېږي.

carbon, n. کاربن، د کیمیاوي طبیعي ماده چه د ډبرې د سکرو، پټرولو او الماسو جزء دی : د کاربون د کاغذ یوه ټوټه.

carboniferous, adj. د کاربون یا د ډبرو د سکرو تولیدوونکی او یا لروونکی.

carbon paper, کاربن پېپر، یو ډول نازک کاغذ چه یو مخ یې تور وي او د کاپي په لیکلو کې استعمالېږي.

car.buncle, n. تر پوستکي (جلد) لاندې کلکه دانه چه ډېره خوږېږي.

car.buretor, car.burettor-er, n. کاربېټر د موټر په ماشین کې هغه آله چه هلته پټرول له هوا سره یو ځای کېږي او بیا سوځي.

carcass, carcase, n. لاش، حلال شوی حیوان چه د خوړلو د پاره چمتو شوی وي.

card, n. پاڼې (جمع) د پتو لوبه، له کلک کاغذه جوړې شوې ټوټې، کارت.

v.t. د کلک کاغذ پر ټوټه باندې ټاپل یا مښلول : پر کارتونو باندې ترتیبول.

card, n. زمنځ (د اوسپنې غاښ لرونکی ږمونځ چه وړۍ، پنبه په شني).

cardboard, n	کلک پنډ کاغذ، مقوا.
car.diac, adj. n	د زړه، زړه ته منسوب، قلبي. له زړه سره نژدې خوا: پرنس سره بېره او تر زړه را لاندې ځای.
cardigan, n.	له سنېو څخه اوبدل شوی جاکټ
cardinal, adj.	ستر: اساسي: اصلي: تکسور: په رومن کاتولیک ـ کلیسا کې د پاپ نه لاندې رتبه یا مقام چه د پاپ له مړینې نه وروسته نوی پاپ انتخابوي. یوه تکه سره امریکایي مرغۍ.
care, n.	پام، پاملرنه، څارنه: احتیاط. اضطراب.
v.i.	پام ک. ل. علاقه درلودل: اندېښنه درلودل: غوښتل (خواهش لرل)
careen, v.t.i.	کږېدل: پر یوه اړخ اوښتل (په تېره د کوم کارد کولو په وخت کې) یوې خواته اړول یا کږول.
career, n.	مسلك، حرفه: د ژوند لاره: پرمختګ (په ژوند، کار کې): منډه: بېړه.
careful, adj.	پام لرونکی، محتاط، په توجه سره اجرا کوونکی.
carefulness, n.	دقت، پاملرنه.
ccareless, adj.	بې پامه، بې فکره، بې احتیاطه بې توجه.
caress, n. & v.t.	نازول (نوازش ور کول)، په مینه په غېږ کې نیول، مچول.
caret, n.	دا(٨)علامه چه یو هېر شوی مطلب په لیکه کې ځایوي.
caretaker, n.	څارونکی: چوکیدار: وکیل: ساتونکی (د ځای، شي، د چا د ګټو).
careworn, adj.	غمونو او اندېښنو زوړ کړی، د ژوند سړو او تودو ځپلی.
cargo, n.	مال، پېټی، بار.
cari.bou, n.	د شمالي امریکې غرڅه،
caricature, n.	کاریکاتور: ټوکیزې څېرې (مسخره تصویرونه).
caricature, v.t.	
caries, n.	د هډوکو او غاښو خرابوالی (فساد).
carillon, n.	د ګېنګېو (ږغږغو) جوړه چه د هغو په ذریعه موزون تالونه جوړوي
carmine, n.	سور رنګ: سور بخن رنګ: د یو ډول حشرې سور بخنه ماده.
carnage, n.	عام قتل، زیاته ژوبله، د وینو تویونه.
carnal, adj.	غوښن: جسماني، غیر روحاني جنسي: حسي.
carnation, n.	غوښن رنګ: د مېخك د ګل اصلاح شوی رقم.
cranival, n.	کارنېوال، مېله، ساتېري
carnivorous, adj.	د غوښو خوړونکی.
carol, n. & v.t.i.	د خوشالۍ بدله: تعریف کول: فداکاري کول: چار بدل.
carom, n.	د carambole لنډ شکل چه په برتانیه ـ کښې cannon, هم ورته وایي د بلیارډ په لوبو کې: د مردکي داسې وهنه چه په دوو نورو مردکوو لګېږي.
carous.al, n.	د مشروباتو مېله: د نڅې وهلو مسابقه: ساتېري.
carouse, n.	د څښاك مجلس.
carp, v.i.	د عیب پلټل، عیب موندل.

carp, v.n.i. تنکی ماهی چه په پاکواو بو او بهاندوو یالو کی موندل کیږی

carpel, n. د تخم غوټۍ، په گل کی هغه غوټۍ چه تخم پکښې وی .

carpenter, n. ترکاڼ ، نجار .

carpet, n. غالی ، قالینه : ټغر .

carriage, n. د مال وړنه : بگۍ ، گاډۍ

carrier, n. وړونکی ، ځری : پوسړی یا شرکت چه د مال وړلو وظیفه ـ پرغاړه اخلی .

carrion, n. وروست، خوسا ، د مړه جسم خوسا کېدنه .

carrot, n. گازره ، زردکه (کاجره) .

carry, v.t.i. وړل ، اخستل په زوره اخستل (لښ) د سلامی په توگه نیول (د ټوپك) : گټل : بېول :

cart, n. and v.t. دغویو گاډۍ: کراچۍ .

cartage, n. v.t.i. د کراچۍ په ذریعه وړل په کراچۍ کی وړنه : هغه بیه چه د دغسی وړلو د پاره ورکوله کیږی ، د کراچۍ کرایه .

cartel, n. د شرکتونو یو ځای کېدنه، انحصار : د بندیانو تبادله.

cartil age, n. کرپندوکی (غضروف) ، تنکی هډوکی چه ورو ورو په ـ کلك هډوکی اوړی .

carton, n. کارتن، له کلك کاغذ نه جوړه شوې دوسیه .

cartoon, n. کاریکاتور، ټوکیزی څېرې

cartoonist, n. کاریکاتور ایستونکی

cartridge, n. کارتوس (چه په ټوپك کښې استعمالیږی).

carve, v.i. توږل ، کېندل (حکاکی) : پرېکول ، په ټاکلو اشکالو غوڅول .

caryatid د ښځې مجسمه چه د ستنې (پایه) په لومړی برخه کی په تعمیر کی لگولی شوی وی .

cascade, n. ‘ v.t.i. داوبو جوړ جوړی ، جړوبی (ابشار): د کاسگیډ په ذریعه د مختلفو الاتو سره تړل : تړل کېدل .

cascara, n. یو ډول ونه چه په کالیفورنیا کی زرغونیږی او سرښناکه مواد ځینی راوزی .

case, n. & v.t. صندوق : پوښ : جوړه (سیټ) د الاتو: د کړکی چوکات : (په طباعت کی) لوړ کېس او کښته کېس چه په لوړ کی غټ توری او په کښته کی واړه توری وی: په صندوق کې اچول.

case, n. ټاکلی حالت یا مثال : قانع کوونکی دلیل : قضیه : (گر) د نوم ضمیر یا صفت هغه حالت چه رابطه یې له نورو شیانو سره ښیی : (حق) د دعوې اقامه کول .

casein, n. سپین پروټین چه د حیواناتو په پیو کی موندل کیږی .

caseent, n. د کړکی چوکاټ : چپراس لرونکې کړکی .

cash, n. & v.t. نغدې پیسې ، سکه : د چك په مقابل کی نغدی پیسې ـ اخستل .

cashier, n. خزانه دار ، صراف .

cashier, v.t. موقوفول، له عسکری خدمت نه طردول.

cashmere, n. پت، له پت نه جوړ شوی ټکر (اصلي یا نقلي)، کشمیره (د کشمیرو دو ژغنو پت).

casing, n. ټیکی، پوښ: پو ښهد نه (تج) کولمې.

casino, n. لوبه‌خونه، تعمیر (د نڅا، مجلسو او ساعت تېرې لپاره) کازینو.

cask, n. لوښی (د مایعاتو لپاره): د دغسې لوښي مایعات.

casket, n. د ګاڼې صندوقچه: (امر) تابوت.

casque, n. خول.

cassava, n. د بوټو د ولیو (ریښو) نشایسته یا د هغې ډوډۍ.

casserole, n. ارکاره (هر کاره): خاورین یا ښیښه یي لوښی چې ډوډۍ پکښې پخېږي او خوړل کېږي.

cassia, n. بوټی (طب) د سنا د بوټي پاڼې.

cassino, n. د پټو یو ډول لوبه.

cassock, n. د عیسوي ملا یا نو چپنه: اوږد کوټ.

cast, v.t. غورځول: ټوپول: شمېرل: متشکل کول: لوبغاړي ته د لوبې یوه برخه سپارل.

castanets, n. pl. یو ډول د موسیقۍ آله: د عاج یا لرګي دوه واړه غوټیاري چې د نڅا او ساز سره یې ترنګوي.

caste, n. په هندوستان کې ارثي مذهبي فرقه: هغه نظام چې خلک پکښې د ثروت نسب او اجتماعي موقف په اساس وېشل شوي وي.

cas.tellated, adj. کلا (قلعه) ډوله.

caster, castor, n. د مالګې یا مرچو لوښی، نمکدانۍ: ارابه (د چوکۍ ـ کوچ چپرکټ).

castigate v.t. جزا ورکول، ترټل انتقاد ور باندې کول: سپېڅلی کول.

castiga.tion, n.

casting, n. په قالب کې اچونه، قالبېدونکی، قالب.

cast-iron, n. چون (چدن): یو ډول اوسپنه چې په اسانۍ قالبېدای شي.

castle, n. حصار، کلا: (شطرنج) رخ، کلا ته تګ، کلا کې حصاربندنه.

cast off, adj. تیت و پرک شوی، رژېدلی: رټل شوی سړی یا شی.

castrate, v.t. خصي کول، ټکول.

casual, adj. اتفاقي، کله کله، تصادفي: بې قاعدې.

cas.ualty, n. پېښه: په جګړه کې مړګ او ژوبله.

cas.uistry, n. ماهرانه دلیل چې حقیقت ونه لري خو خلک ور باندې وغولېږي.

cat, n. پیشو: ناوړه ښځه، خرابه ښځه.

cataclysm, n. ناڅاپه ستره پېښه: ستر اړودوړ.

catacomb, n. د ښخو لو ځای (تر ځمکې لاندې) د ځمکې لاندې هدیره.

catalogue, catlog, n. and, v.t.i. اساسي لست (د کتابو، نومو او ځایو): لست جوړول، کیټلاګ جوړول.

catarpa,n. یو ډول ونه چې پلنې پاڼې لري او پلۍ غوندې تخم کوي.

catamount, n. (امر) پیش پړانګ.

catapult, n. (لښې) یو ډول ماشین چه په هغه ډبرې یا غشی غورځی : په بېړۍ کې یو آله چه له هغه نه الوتکه الوځوی.

catract, n. لوی ځړوبی (آبشار) : دسترګې ګل یا اوره.

catarrh, n. نزله ، دپوزې یو ډول ناروغی.

catastrophe, n. غمجنه پېښه (فاجعه) ، لوی مصیبت ، ستره بدبختی.

cat-bird, n. یو ډول امریکایی مارغه چه ږغ یې دپیشو دمیو غوندې دی.

catch, v.ti. and n. نیول : کښې ایستل ، کښېناستل (په اډه کې د کیکړی یا تلکه کې) : اریانول : خوشالول : تړل : پوهېدل : اور لګېدل لاندې کول : نیولی ساتل : دراښکولو یا راښکلو حالت : نیونکی : دنیولو عمل (توپ او نور).

catch.er, n. نیوونکی ، د بیسبال په لوبه کې د توپ نیوونه.

catchup, n. چټنی ، یو ډول چټنی چه له رومی بانجانو یو ځکی (ډینګری) او غوز (چارمغز) څخه جوړیږی.

catechism, n. دمذهبی تعلیماتو کتاب چه دسوال او ځواب په اساس ترتیب شوی وی

catechise, v.t. اوږده سوالونه کول.

catechumen, n. هغه څوك چه لومړی تر عیسایی کېدو دعیسوی عقیدې تعلیمات اخلی.

categorical, adj. مطلق ، بې شرطه ، بې استثنا : په کومې ډلی پورې مربوط.

cat.egory, n. کټګوری ، ډول (قسم) ، صنف ، طبقه ، ډله : هغه ویش چه په تصنیف کې استعمالېږی.

cater, v.i. خواړه تهیه کول : دضرورت وړ شیانو تهیه کول.

caterpillar, n. ځینی حشرات (پتنګې ، کمپلې) چه دچنجی په حالت کې وی : دوړی چینجی : غیر مولد مستهلك (تیار خور) : ترا کتور چه پری پری ځنځیر ډول ارابې لری.

catfish, n. پیشی کب (یو ډول ماهی دی چه دپیشو په شان بریتونه لری).

cathartic, adj. پاکوونکی : یو ډول مسهل : تخلیه کوونکی (لکه جلاب).

cathedral, n. لویه کلیسا.

catheter, n. دمثانې څخه دبولو (میتازو) ایستلو آله.

cathode, n کتوډ ، دیوې برقی منبع منفی اړخ (برخه).

cahtolic, adj. کاتولیك ، جهانی ، عمومی : دعیسوی دین پیرو ویا نامزد (په تېره د رومن Catholic. کاتولیك مذهب چه مشر یې پاپ دی).

catkin, n. سنګار (په غمیو سره) : دځینو ونو ږدې ډوله ګل (لکه دولی او نورو). غبی ، پخ.

catnip, n. دوچی سنبل.

cat-o-nine-tails, n. نه تسمه یی متروکه.

catspaw, n. بېړۍ ا : کم عقل : غولېدونکی ، ساده : نری وږمه چه اوبه پرڅپو راولی.

catsup, n. د catchup. n. بل شکل

cattail, n. ګانه ، بړه کال ، ډو بلی (دلوخو ګل) ، لوخه ، ډیله .

cattle, n. څاروی (په تېره غوا ، غویی).

Cauca.sian, adj. : سپین نژاد ، قفقازی : د نوع بشر د نژاد وهغه ښاخو نه چه په یورپ ، امریکا ، افریقا او د آسیا په جنوب غربی برخو کې اوسی .

caucus, n. دحزبی مشرانو مجلس چه په هغه کې خپل سیاست او کاندیدان ټاکی .

caudal, adj. ، دلکی ځای : لکی ته نژدې ، دلکی شاو خوا .

caught, د catch. ماضی .

cauldron, n. د caldron. بله بڼه .

cauliflower, n. ګوبی ، د کرم ګل .

caulk, v.t. د calk. بله بڼه .

caus,al, adj. and n. علتی ، سببی ، د علت څرګندونه : د علت او معلول د اغېزو څرګندونه (یو پریل) : (ګرامر) دعلت توری .

causa,tion, n. علیت (د علت او معلول اړیکه) ، دعلت عملیه ، معلول تولیدونکی وسایل .

cause, n. and v.t. علت ، سبب ، قضیه ، هغه څه چه نتیجه ځنې حاصلیدای شی : د موضوع فیصله کول : دعوی یا اجراات (په محکمه کې) د کوم شی علت ګڼل

causeway, n. and v.i. بر لنده ځمکه باندی د ډبرو لاره یا سړك : د سړك پخول ، پوخ پیاده رو.

causic, adj. and n. سوځوونکی : تریخ : شدید : خوځوونکی ، تیره : یوډول ماده چه دجسم پوستکی خوسا کوی اوغوځوی

يې : (نور) د نور د وړانګو انکسار انعکاس د منحنی سطح څخه .

cauterise, v.t. داغول ، داغل (طب) د برق په وسیله د یو شی سوځول لکه ددانې او نورو

caution, n. nad v.t. and adj. دخبرداری عمل یا وینا : احتیاط : اخطار : اریانونکې : خبرداری ورکول : اخطار ورکول .

cau.tious, adj. adv. محتاط ، محتاطانه .

cavalcade, n. v.i. رساله ، دآس د سپرو ډله یا لیکه : د آس د سپرو رسم ګذشت : بهیر .

cavalier, n. adj. v.i. د آس سپور : هغه سړی چه دښځو ډېره موریانه رفتار کوی : ازاد ، بې قیده : لقب (په انګلستان کې) : هغه زړور ځلمی چه پر کومه معتبره ښځه دساتونکی په حیث وی : په پخوانی روم کې سپور عسکر.

cavalry, n. سپاره عسکر ، رساله .

cave, n. & v.i. سمځ ، سمڅه ، غار : په سیاسی حزب کې انشعاب کوونکی - اقلیت : په سمڅه کې استوګنه .

cavern, n. v.t. adj. سمڅ ، غار : (دغره) په سمڅه کې ایښوول : غار کول : له سمڅو ډك .

caviare, caviar, n. خاویار ، دماهی هګی

cavil, v.t. بې ځایه اعتراض پر غیر مهمو شیانو اعتراض کول .

cayenne, n : غار ، جوف ، دمنع تشوالی :

cavort, v.i. (امر) تره پکې خنجکی ، ټوپ سور مرچك ، دمرچکو چکنی (چټنی)

cease, v.t.i.	تمامول پای ته رسول، درول، درېدل .
ceaseless, adj.	پرله پسې ، بې وقفې .
ceaselessly, adj.	په پرله پسې توګه
cedar, n.	دسرو ونه .
cede, v.t.i.	تسليمول، پرېښودل ، تسليمېدل
ceiling, n.	چت : دلېدو د قوت ، د لوړ اندازه (په تېره په هوا نوردۍ کې) .
celandine, n.	ماميره (طب) يوډول بوټي چه ژېړ ګلان کوي .
celebrate, v.t.	جشن نيول ، په مناسبو مراسمو اجرا کول، په خاصه طريقه اجرا کول .
celebrity, n.	نامتو سړی : معروف .
celery, n.	دګازرې د کورنۍ يوډول سابه چه پاڼې او ډنډرې يې اومه او پاخه خوړل کېږي
celestial adj. n.	اسماني ، جنتي ، د جنت اوسېدونکی .
celibacy, adj. n.	لونډ (مجرد)، لونډتوب .
cell, n.	وړه کوټه (د زندان) ، حجره (د جومات او کليسا): (ب) حجره (د حيوان او نباتي اجسامو): برقي بېټري .
cellar, n.	زېرخانه ، تحويلخانه چه هلته شراب او نور د څښاك شيان ساتل کېږي
cello, n.	(مو) يوه آله ده (لوي وايلون)
cellular, adj.	حجره لرونکی (په عضوي شيانو کې) .
cellulose, n.	سلولوز د يو کيمياوي ماده چه د نباتاتو د حجرو ديوالونه ترې جوړ شوي وي او له هغه نه کاغذ او ريان (مصنوعي ورېښم) هم جوړ وي
celt, kelt, n.	سېلټ، کېلټ، د هند و جرمن له کورنۍ برېټون ، ويلش، ايرش کايليك او نوري ژبې .
celtic, keltic, adj.	سېلټکی ، کېلټکی
cement, n.	سمېنټ .
cemetery, n.	هديره .
censer, n.	لوښی چه په کليسا کې خوشبويه تېل پکښې سوځوي .
censor, n.	سانسورکوونکی (هغه مامور چه چاپ شوي آثار ، فلمونه ډرامې تلګرامونه ، مکتوبونه ګوري او د ضبطولو صلاحيت يې لري)
censorious, adj.	کرموونکی ، منتقد ، عيب لټوونکی .
censure, n. v.t.	ترټنه ، زوروونه، ترټل .
census, n.	احصائيه، سرشماري يا مالشماري
cent, n.	سېنټ ، د ډالر سلمه برخه .
centaur, n.	نيم سړی ، نيم آس (د يونان په نکلو کې) .
centave, n.	د جنوبي امريکا ، هسپانيې فلپاين او نورو سکې سلمه برخه .
centenarain, n.	سل کلن سړی يا ښځه .
centenary, adj. & n.	سلمه کاليزه
center, centre, n.	مرکز : د شورې مرکزي ځې چه نه د ښي او نه د کيڼې - خواوې .
centigrade, adj.	سانتي ګراد (د سانتي ګريډ په حساب ميزان الحراره پر سلو درجو وېشل شوې ده چه په صفر درجه يې اوبه يخې (کنګل) کېږي او په سلو درجو يې ايشي) .
centigrame, n.	سانتي ګرام (د ګرام سلمه برخه) .

centime, n.	د هرشی سلمه (په تیره د فرانك)
centimeter, n.	سانتی متر (د متر سلمه برخه) .
centipede, n.	یو ډول حشره یا چینجی چه ډیری پښې لری .
central, adj. & n.	منځنی ، مرکزی ، اساسی : ستر .
centralize, v.t.	مرکزی کول : تمر مرکزی کنټرول لاندې را وستل .
centrafugal, adj.	له مرکزه تېښته .
centripetal, adj.	مرکز ته راګرځېدونکی په زور مرکز ته راکښېدونکی ، الی المرکز
centurion, n.	د سلو تنو مشر .
century, n.	پېړی ، قرن ، سل کاله .
ceramic, n. & adj.	د کلالی صنعت ، کلالی .
cereal, n.	دانې یا حبوبات : غله .
cerebellum, n.	د مغز کښتنۍ شاته برخه ، وړوکی دماغ (دماغ اصغر) .
cerebrum, n.	د انسان د مغزو مخنۍ او پاسنۍ برخه دماغ اکبر .
cerement, n.	کفن ، په موم لړل شوی ټوکر .
ceremonial, adj.	په رسم یا مراسمو پورې مربوط : د مراسمو ټاکلی طرز او مقررات (لکه په عبادت کې) .
ceremony, n	مراسم : د مراسمو ټاکلې سلسله چه په مذهبی او نورو امورو کې اجرا کېږی : ظاهری بڼه : تشریفات.
certain, adj.	یقینی ، متیقن : ټاکلی : د اعتماد وړ : نه تېرېدونکی .
certainty, n.	اطمینان ، خاطر جمعی حقیقی ، ایقان .
certificate, n.	تصدیق نامه .
certify, v.t.	تصدیقول .
certitude, n.	زړه ته لوېدنه ، باور کونه اطمینان .
cerulean, adj.	تک شین .
cessation, n.	پرېښکونه ، انقطاع : ځنډ .
cession, n.	د حق او مال سپارل (بل چا ته) تسلیمول .
cesspool, n.	د بدرفت ځای چه هلته ناولی اوبه غونډېږی .
chafe, v.t.	تودول (په تیره په منګولو) : په قاړول ، خوږول .
chaff, n. & v.t.i.	بوس ، پروړ : بې ارزښته شی ، ټوکې کول (پر) .
chaffer, n. & v.i.	د چنو وهنه ، جګړه کول ، جګړه (د بیې د لږولو د پاره) .
chaffinch, n.	سایره .
chagrin, n. & v.t.	ناهیلی ، پرېشانی : (د ناکامی په سبب) : سودا ، اندېښنه .
chain, n.	ځنځیر ، زولنې : د مساحت ځنځیر : یو لړ پېښې : یو لړ غرونه
v.t.	په ځنځیر تړل ، په بند کې اچول ، سره تړل (په ځنځیر) .
chair, n.	چوکۍ : کرسی : رئیس (د غونډې) .
chairman, n.	رئیس ، مشر ، د مجلس مشر
chaise, n.	بګۍ ، ګاډی .

chalcedony, n. سپینه شنه بخنه قیمتي ډبره
(غرنۍ مرغلره).

chalet, n. بانډه (په سویس کې) یو ډول
سویسی کوټه چه دا لپ په غرو کې
یې د صیفیې په توګه استعمالوی.

chalice, n. پیاله: (عیسوی) متبرکه
کاسه.

chalk, n. تباشیر.

challenge, n. & v.t. د مسابقې د پاره بلنه
او عام اعتراض: په مسابقه یا جګړه
فیصله کول: د ایراد نیول: مسابقې
ته را بلنه: استثنا قایلېدل: اعتراض
کول.

challis, shalli, challie, n. شال (ښایي
دا کلمه د پښتو (شال) وي). وړېښین سپک
ټوکر: د پشمې او وړېښو ګډوله ټوکر.

cham, n. خان، د خان بل شکل.

cchamber, n. کوټه، د خوب کوټه: د قانون
ساز مجلس خونه: د تمانچې جاغور
(ججوره): غونډه (لکه د تجارت): محکمه.

chamberlain, n. د عالي محکمې غړی:
خزانه دار (د یورپ په ځینو ښارو کې).

chambray, n. چیټ.

chameleon, n. کربوړی، : هر دم خیاله
سړی.

chamois, n. غرڅه: د پسه یا وزې پخه
او پسته څرمن.

champ, v.t.i. په شدت سره ژوول (چړز غ
غني پورته شي)، کرپول، خوپول (د کلک
شي د خوړلو په وخت کې)

champagne, n. شامپاین، یو ډول فرانسوی
شراب.

champaign, adj. ارته ورشو.

champion, n. اتل، قهرمان: مسابقه
ګټونکی: د چا یا نورو د پاره مبارزه
کوونکی: لومړۍ درجه (په مسابقه کې).

v.t. د قهرمان په توګه مدافعه کول.

chance, n. چانس، تصادف: پېښه: بخت:
مخاطره: قمار: فرصت: امکانات
(پېښې د کېدو).

v.t. خطر قبلول.

v.i. پېښېدل.

chancel, n. (په کلیسا کې) د پادری ځای.

chancellor, n. صدر اعظم، منشی: د پوهنتون
رئیس: د محکمې رئیس.

chanceryy, n. دفتر: محکمه.

chandelier, n. قندیل، شمعدان.

chandler, n. بقال.

change, v.t.i. تغیر ورکول: بڼه بدلول:
الیشول: حالت ته تغیر ورکول: بدلېدل

n. بدلونه، د پیسو په پیسو بدلونه.

changeling, n. په پټه بدلونه (د ماشومانو).

د ویالې مجرا: کوچنوتی کم بری سیند

channel, n. آبنا: ټیوب: آب رو:
د تېرېدو لاره: د راډیویی ارتباط
مخصوصې څپې.

v.t. لاره پکښې جوړول: تر لارې تېرول.

chanson, n. سندره.

chant, v.t. سندرې ویل: سندرو غوندې
خبرې کول: زمزمه کول.

n. نغمه: سندره.

chanticleer, n. چرګ.

chantry, n. اسقاط، هغه ځای چه د مړی
د پاره ختم او دعا پکښې کېږي.

chaos, n.	ګډوډي ، بشپړه بې نظمي .
chap, n.	سړی، ژامکی .
chap, v.t.i.	درزاچول : چاودېدل : چاودل زيږ کېدل .
chap, chop, n.	ژامه ترامه .
chapel, n.	وړه کليسا .
chaperon, n.	يو پوخ سړی يا ښځه چه دځوانانو سره وي او دهغوی داوضاعو مراقبت کوي .
chaplain, n.	پادري(په تېره د بېړۍ يا بحري عسکرو).
chaplet, n.	امېل ، تار .
chapman, n.	معامله دار : طواف : دست ګردان
chapter, n.	څپرکی، فصل ، څانګه (دټولنی) ، چله .
char, v.t.i.	سکاره کول ، نيم سوی کېدل .
character, n.	کيفيت يا بڼه : توری : سيمبول چه دژبې په ثبتولو کی په کار يږي: حيثيت اومقام : داخلاقو مجموعه چه يو له بله بېلوي : شهرت : دکيسې اتل شهرت .
characteristic, adj.	خاصيت ، طبيعت : بېلوونکې نخښه .
charaterize, v.t.	تشريح کول: دخصوصيت نخښه کېدل .
charade, n.	حرف جنګی ، په دې لوبه کی ګډون کوونکی دخپلی املا قوت ـ څرګندوي ، مثلا که لومړی سړی ديوې کلمې لومړی توری و وايي نوربی په خپل وار بشپړه وي .
charcoal, n.	دلرګو سکاره .
chard, n.	يو ډول سپين چغندر ، چه دهغه پاڼې او ډنډر پخوی او خوري يې .
charge, v.t.	بارول : فرمان ور کول امرور کول : تورول ، متهم کول : حمله کول : جريمه کول : قيمت ټاکل (برېښنا) نوې قوت ور کول (لکه بېټرۍ چارجول)چارج(بار) .
charger, n.	جنګی آس: چارج کوونکی .
charger, n.	لوی غوری .
charily, adv.	په احتياط .
chariot,n.	دوه ارابه يي بګۍ چه پخوا وختو کې په جګړو او مسابقو کې استعمالېدې .
charitable, adj.	سخی ،خلاص لاسی : دپراخ نظرخاوند (په قضاوت کی).
charity, n.	سخاوت ، خيرات(مس)دخدای او انسان سره مينه ،دسخا احساس يا عمل مرسته(دخوارانو سره): په نرمه قضاوت (دنورو په باب): زړه سوی .
charlatan, n.	شارلتان ، ټګمار ، چلی چل باز ، غولوونکی .
charm, n.	طلسم ، جادو : کوډې تعويذ .
v.t.	ترجادو لاندی راوستل: جذب کول
charnel, n.	اديره (حضيره) .
chart, n.	چارټ ، نخشه ، دفهرست پاڼه ګراف اوداسی نور .
charter, n.	منشور: درسمی سند ور کونه مستعمراتو ته دحقوقو ور کونه : دربست نيونه(دموټر ، الوتکې او نورو) براءت
chary, adj.	محتاط ، احتياط کار .

chase, n. & v.t. ښکار و تعقیب : تعقیبول : ښکار کول .

chase, v.t. ښکلی کول د حکاکۍ په ذریعه.

chase, n. چوکاټ ، صندوقچه .

chasm, n. چاود : کږ ننګ : تنګه دره .

chasis, n. قالب: د موټر چوکاټ (شاسی)

chaste, adj. پاك ، سپېڅلی : بوبه ، سوچه باکره پاك لمنه .

chasten, v.t. جزا ورکول : انتظام سمون .

chastise, v.t. وهل (په قمچینه ، قمچینه) : په څپېړه وهل ؛ وهل : جزا .

chastity, n. عفت ، پاکی ، سپېڅلتوب پاك لمنی .

chasuble, n. یو ډول چپنه ده چه عیسوی ملایان یې د لمانځه په وخت کې پر نورو کالو اغوندی .

chat, v.t. غیر رسمی خبرې ، ګپ شپ .

chateau, n. د خان کلا (په فرانسه کې) لوی کور (په اطرافو کې) .

chatelaine, n. ګاڼه ، یو ډول ګاڼه چه ډیر زنځیرونه لری او ښځې په هغوی کې کلی ، بیاتی او داسې نور شیان راځړوی .

chattel, n. منقول جایداد .

chatter, n. & v.i. خبرې ، هغه خبرې چه بې فکره ژر ژر کیږی : د مرغانو چغېدل : د ژامې کړپهار (د سړو په اثر) .

chatty, n. هغه چه ډیرې خبرې کوی ګپاوو .

chauffeur, n. موټروان (شخصی) .

chaunt, v.t. & n. د chant. بل شکل .

cheap, n. & v. t & adj. ارزانه : په لږ زحمت لاس ته راوستل : ارزانه بیه : قیمت (سهی) .

cheapen, v.t.i. د بیې کښته کول : ارزانه کول .

cheat, n. ټګ یا ټګمار .

v.t. ټګی کول : تېر ایستل ، غولول .

check, n. & v.t. ټیونه ، ټمبونه : چارخانه : د کار د صحیح کېدو له پاره نګرانی او همدې مقصد د پاره لارښوونه : دغه علامه (v) چه په کتل شوې تصحیح شوې پاڼه جمله کرښه او نورو باندې ایښووله کیږی : چك (د بانك حواله) سرزنش ، کنټرول : لټونه : درول : ځپل : ژغورول : د تصحیح په غرض کتل په سترنج کې (کشت) ورکول : مخ نیوی .

checkers, n. د سترنج تخته : په انګلستان کې یو ډول لوبه چه د دوو کسانو تر منځ د سترنج تختې په شان تخته باندې اجرا کیږی .

checkmate, n. په سترنج کې کشت و مات : ماته : ما یوسی .

cheek, n. اړخو ، غومبوری (بڅون) : بې پروایی ، جسارت ، بې باکی .

cheep, v.i. چونهار (لکه د چوغکې) .

cheer, n. خوشحالی : څه چه خوشحالی راولی : د خوشحالی یا تحسین ږغ .

cheerful, adj. خوشحاله : ورین تندی .

cheery, n. خوشحاله .

cheese, n. یو څه پنیر .

cheesecloth, n. خمتا ، کرباسی (له پنبې) .

chef, n.	سراشپز ، اشپز باشی .
chefdoeuvre, n.	غوره کار شهکار (په ادبیاتو کې) .
chemical, adj.	کیمیاوی : کیمیاوی ماده دوا : هغه شی چه د کیمیاوی عملیاتو په نتیجه کی په لاس راشی .
chemise, n.	یو ډول اوږد کمیس چه ښځی یې تر ملا لاندی اغوندی .
chemist, n.	د کیمیا پوه یا د کیمیا عالم .
chemistry, n.	د کیمیا علم چه د شیانو او د هغو په ترکیباتو او تغیراتو په شاوخوا کې خبری کوی .
cheque, n.	چك (پر بانك حواله).
cherish. v.t.	په مینه او احتیاط رویه کول دخاطرې په توګه په ذهن کې ساتل .
cherry, n.	ګیلاس (یو ډول میوه)
cherub, n.	مقربه ملائکه : ښکلی ماشوم .
chess, n.	سترنج ، شطرنج .
chest, n.	سینه ، ټټر : صندوق ، یخدان .
chestnut, n.	یو ډول ونه او د هغې میوه : سور بخن نسواری رنګ .
chevalier, n.	شوالیه ، زړه ور سوار کار د فرانسې د اشرافو غړی .
cheviot, n.	یو ډول غرنی پسه چه لنډی وړی لری او د شیویت په غرو کې پیدا کیږي ددې پسه د وړیو څخه جوړ شوي وکر (کشمیره).
chevron, n.	(لیښ) نښان چه رتبه ور باندې معلومیږي .
chew, v.t.	ژوول.
chicanery, n.	چل ، چلبازی ، حیله
chick, n.	چیچی ، چرګوړی ، مرغزی (د مرغه بچی یا چیچی) .
chickadee, n.	خړ بڼه مرغی چه توری چرخول لری .
chicken, n.	چرګه ، د چرګی غوښه .
chickweed, n.	تخم یادانې (د یو ډول هرزه بوټی چه د مرغانو ډیرې خوښی وی) .
chicory, n.	کاسنی ، کاشنی .
chide, v.t.i.	توبیخ ور کول ، دغوږ تاوول دغوږیوتاوېدل : خرېدل ، غورېدل .
chief, adj.	رئیس ، مشر ، د لوړی رتبې څښتن ، مهم عمده ، اساسی .
chieftain, n.	مشر (د قوم یا د یوې ډلې) .
chiffon, n.	سوچه وربښمین ټوکر .
chiffonier, chiffn-nier, n.	د میز یا الماری خانه .
chilblain, n.	چاود یا چاوده چه د یخنی په اثر په لاس او پښو کی پیدا کیږی : پرهار (د یخنی په اثر) .
child, n.	کوچنی ، وړوکی ، ماشوم (نجلۍ وی که هلک).
childbirth, n.	د ماشوم زېږېدنه : لنګون.
chil, n.	ساړه : د ساړو په اثر رېږدېدنه : ساړه احساسات .
v.ti.	سړول : سړېدل .
chimaera, n.	افسانوی حیوان چه سر یې د زمری ، لکی یې د مار او نور جسم یې د وزې وی : خیالی ، واهی او تصوری معنا ور .
chime, n.	د ګنګینو یو یا څو جوړه چه د سندرو په وخت کی یې ډغوی : نغمه ، اهنګ ، زنګ (لکه د ساعت) .

chimera, chmaera, n. احمقانه او وېروونکي فکرونه .

chimerical, adj. خيالي ، پوچ .

chimney, n. دېرڅه يا دريڅه : داليکين يا لمپ ښيښه : دودکښ (لکه د بخاري) .

chimpanzee, n. چيمپانزي (يو ډول غټه افريقايي انسان ته ورته بيزو) .

chin, n. زنه .

china, n. چيني باب (گيلاسونه ، پيالې ، چاينکي او نور)

chinchbug, n. دغنمو سپوږيه ، شپږی .

chinchilla, n. دجنوبي امريکې يو حيوان چه خړ برېښېدونکي پاسته وښتان لري .

chink, n. کوچنۍ چاوده يا چاك ، درز .

chintz, n. چيټ .

chip, v.t. کوچنۍ ټوټه (دلرگي يا بل شي) : يوه خوله مړۍ : مهره چه په پوکر او نورو لوبو کي استعمالېږي .

v.t.i. ټوټه کول : ټوټه کېدل .

chipmunk, n. يو کوچنی امريکايي حيوان چه نولي يا موش خرما ته ورته دی .

chipper, adj. تازه او خوشاله .

chirp, n. چرچر ، دځينو مرغانو ږغونه .

chisel, n. ترښځ ، تېشه .

chit, n. رسيد ، بيل .

chitchat, n. عادي مرکه ، گپ شپ .

chivalrous, adj. غښتلي ، زړور ، نجيب مؤدب .

chivalry, n. دشواليه عادات ، اخلاق او کردار : زړورتيا : دآسونو سپرو ډله : دخاني نظام .

chive, n. دغره پياز : دپياز غوندي بوټي .

chloral, n. يو ډول خوب راوړونکی د اروپا پوډر .

chloride, n. (کيم) کلورايډ .

colrine, n. (کيم) گلورين .

chloroform, n. کلوروفارم ، بې رنگه درنه مايع : د بېهوښۍ درمل .

clorophyll, n. کلوروفيل ، د نباتاتو شنه ماده .

chocolate, n. چاکليټ ، يو ډول خوږه يا څښاك چه له ککو څخه جوړه شوې وي : تيز نسواري رنگ .

choice, n. انتخاب ، خوښنه ، ټاکنه : غوره : بدل يا عوض : دسړي او شي انتخاب : دغوره کولو موقع .

adj. دغوره کېدو لايق : غوره انتخاب .

choir, n. ډله (دسندرغاړو) : په کليسا کي دسندرغاړو ځای .

choke, v.t. زندۍ کول ، تربتول ، خفه کول : د يوشي دودې او عمل مخه نيول : تړل .

choler قهر و غضب .

cholera, n. کولرا (يو ډول وژونکې ساري ناروغي چه د ناولو شيانو دخوړلو څخه پيدا کېږي) .

choleric. adj. تند مزاجه .

choose, v.t.i: انتخابول : په فکر کول : موزون گڼل : خوشالول .

chop, n. & v.t. ټوټه (لکه د غوښو) : ماتول (لکه په تبر) : ټوټه کول .

chop, n. چاپ ، مهر ، نښانه .

chops, n. زامه .

choral, n. (م) د سندر غاړو ډله : په ګډه سندرې (په کلیسا کې) ترانه (کورس) .

chord, n. تار (په تېره د موسیقۍ آلاتو): رسۍ .

chore, n. (امر) وړه یا سپکه دنده ، کار چار .

chorister, n. سندرغاړی (د کلیسا د سندرغاړو په ډله کې) .

chorus, n. کورس ډله (په ننداره کې هغه ډله چه د نڅا او سندرو له پاره روزل شوې وی) : په ګډه سندرې : د سندرې یوه برخه چه په ټاکلې وقفه کې ویل کیږی :

chose, د choose ماضی .

chosen, د choose ماضی .

chowder, n. د ماهی ښوروا چه پیاز د خوګ غوښه او شیدې هم ورسره وي .

christ, n. حضرت عیسی علیه السلام .

Christen, n. په مسیحی مراسمو د ماشوم نوم ایښودنه : د تعمید غسل ورکول .

christendom, adj. & n. مسیحیان : د نړۍ هغه برخې چه عیسویان پکې اوسیږی .

Christian, adj. عیسوی ، مسیحی : عیسوی مذهبه .

Christianity, n. : مسیحیت ، عیسوي مذهب : د عیسوي توب شرایط .

Christianize, v.t. : عیسوي مذهب ته اړول : عیسوي کول .

Christmas, n. کرسمس ، د عیسویانو اختر .

chromatic, adj. (م) د نیمې پردې ساز : رنګه

chrome, n. (کیم) رنګ (لکه سور کروم یا ژېړ کروم) .

chromium, n. کلک خاورین رنګه فلز .

chronic, adj. مزمن ، اوږد ، ځنډن (د ډېرې مودې) .

chronicle, n. & v.t. تاریخ : تاریخ لیکل .

chronology, n. د نېټو په ترتیب د پېښو د لیکلو علم

chronometer, n. د وخت د معلومولو آله ، ساعت .

chrysalis, n. پتنګ (کمپلې) چه د ودې په دوهمه مرحله کې وی .

chrysanthemum, n. د اودی ګل .

chrysolite, n. زبرجد .

chub, n. یو ډول کمکی ماهی .

chubby, adj. چاغ او ګرد .

chuck, v.t. & n. ارتېیل ، غورځول (په نیمه وازه) : په اسانۍ ارتېینه .

chuck, n. د غوایي غوښه (په مالګه او مرچ ولړلی) : ګیرا (د توږلو په ماشین کې)

chuckle, n. مسکا ، مسل (د ټیټې خولې خندا) .

chum, n. انډیوال : خونه ملګری .

chump, n. بې عقل : کونده .

chunk, n. پنډه ټوټه (لکه د لرګی یا ډوډۍ) بوټۍ .

church, n. کلیسا (د عیسویانو عبادتځی) .

churchman, n. د کلیسا غړی ، پادری : هغه څوک چه کلیسا ته ډېر ځی .

churchwarden, n. د کلیسا مامور (هغه څوک چه د کلیسا مال ساتی) .

churl, n. بزګر ، کروندګی ، دهقان : کلیوال : بې ډوله .

churn, n.	مڼۍ ، غړ کۍ ، منډوڼی .
v.t.	شړبل ، ګول .
cicada, n.	ملخ ، مچخ .
cicerone, n.	لارښوونکی .
cider, n.	د مڼو اوبه : مڼو شيره ، شربت .
cigar, n.	سيګار (د څکولو د پاره د تمباکو نه اوږد جوړ شوی شی).
cigarette, n.	سګرېټ .
cinch, n.	تانګې .
cinchona, n.	د کوينو ونه (په جنوبی امريکا کی) .
cincture, n.	کمر بند .
cin.der, n.	نيم سوی سکاره (نيم سوخته).
cin.ema, n.	سينما .
cinematograph kinematoga	د سينما ماشين .
cin.namon, n.	دال چينی
ci.pher, n..	ټکی ، صفر (٠) شفر .
circle, n.	(هندسه) دايره : ګرد شکل : يوه ډله خلك چه ګټې يې سره ګډې وی : د نفوذ دايره .
v.t.i.	دايره کول ، په حلقه کی راوستل ، دايره کېدل .
circlet, n.	کوچنی دايره (په تېره بيا ګوتمی ، وښی او دا ډول نوری ګېڼې).
circuit, n.	دوره ، محيط : شاوخوا راتاوېدل يا راګرځېدل : (برق) د برېښنا د جريان لار .
circu.itous, adj.	شاوخوا ، ګرد چاپېر : غير مستقيم .
circular, adj.	دايروی ، سطحه چه په دايره کې احاطه شوې وی : په دايره کې يا د دايرې پر شاوخوا خوځېدونکی : متحد المال ايك .
circulate, v.t.i.	ګرد چاپېره ، ګرځېدل (لکه وينه په بدن کی) : له يوه ځايه په بل ځای ته يا د يوه سړی څخه بل ته تېرول خپرېدل يا خپرول .
circumcise, v.t.	سنت کول ، ختنه کول .
circumference, n.	(هندسه) محيط .
circumlocution, n	د مقصد څرګندونه (په غير ضروري اوږدو خبرو کی) اطناب .
circumnavigate, v.t.	شاوخوا بحری سفر کول .
circumscribe, v.t.	پورا کښل ، احاطه کول .
circumspect, adj.	محتاط : پام لرونکی .
circumstance, n.	حالت ، څرنګوالی ، وضع تفصيل : پېښه : شرط : شاوخوا (محيط) تشريفات .
circumstential, adj.	په پېښو او حالاتو پوری مربوط ، پر پېښو متکی : له بشپړو تفصيلاتو ډك .
circumvent, v.t.	لاس ته راوستل (په چل ول) ګېرول : بشپړ تفصيلات در لودل .
circus, n.	سرکس .
cistern, n.	داوبو د ټولېدو ځای ، ناور .
citadel, n.	(لښ) نظامی کلا ، ارګ : سنګر .
citation, n.	جلب : محکمې ته راغوښتنه : اقتباس : له ياده ويل .
cite, v.t.	راغوښتل (لکه محکمې ته) : اقتباس کول .
citizen, n.	تبعه ، ښاري .

citric acid, n. دلیمو د او یو جوهر : د لیمو د کورنۍ د میوو تیزاب .

citron, n. : یو ډول غټ بیضوي شکله لیمو : یو ډول هندوانه چه د هغې مغز د مخصوص ډول کیک جوړولو لپاره استعمالیږي .

citrus, citrous, adj سټروس ، د لیمو او نارنجو د کورنۍ میوې ددغو میوو نی .

city, n. ښار .

civet, n. مشک .

civic, adj. ملکی : ښاری مدنی .

civics, n. مدنی پوهنه .

civil, adj. مدنی : ملکی : داخلی : اجتماعی : دښار د اوسېدونکوډ : مؤدب : متمدن .

civilian, n. ملکی : غیر نظامی .

civility, n. ادب ، تهذیب ، ښه سلوک .

civilization, n. مدنیت : کلتور .

civlize, v.t: مدنی کول .

clad, n. ملبس .

claim, v.t. & n. حق غوښتل : مطالبه ، ادعا ، تقاضا .

clairvoyant, n. هغه سړی چه وایی د پټو شیانو د لیدلو قدرت لری (د کرامت خاوند) .

clam, n. یو ډول صدف چه خوړل کیږی .

clamber, v.i. ختل .

clammy, adj. : نمجن : پوست : سریښناك سوړ .

clamor, clamour, v.t. غال مغال : په زوره ږغ .

clamp, n. نیوونکی (گیرا) ، هغه آله چه شیان یو ځای سره نیسی .

clan, n. قوم ، قبیله . طائفه

clandestine, adj. مخفی ، پټ .

clang, v.i. & n. کړنگول ، سره وهل (لکه فلز د بل شی سره) ، کړنگ .

clangor, clangour, n. کړنگهار .

clank, n. د فلز ږغ چه د clang.. له ږغ نه یو څه ټیټ وی (لکه د ځنځیر ږغ) .

clap, v.t.i. چك چکې کول ، لاسونه پړ کول .

claboard, n. نری تخته چه په ودانیو کې استعمالیږی .

clopper, n. لاس پړ کوونکی ، چك چکې کوونکی ، یو شی چه د ډول ږغ تولیدوی .

claptrap, n. ځان ښودنه ، تظاهر .

cldret, n. سره شراب : سور شی .

clarify y.v.t: تصفیه کول : پا کو ل .

clarinet, n. کلارنیټ (د شپېلۍ یو ډول) .

clarion, n. صاف او لوړ ږغې شپېلۍ .

clarity, n. وضاحت ، څرگندوالی .

clash, n. ټکر : لوړ ږغ چه د ټکر نه پیدا کیږی : تصادم .

clasp, v.t. & n. تړل ، په غېږ کې نیول په لاس کې ټینگ نیول : چپراس : سگك ، چنگك .

clas , adj. صنف ، طبقه ، ډله ، درجه ، رتبه : پر ډلو وېشل ، پر طبقو وېشل .

classic, n. کلاسیک ، لرغونی ، اصلی معیاری اثر : لومړی درجه : د پخوانی روم او یونان کلتور ته منسوب . نامتو لیکوال یا کتاب .

classical, adj.	کلاسیك ادبیات ، نامتو ادبیات : ښه او نامتو تال یاسور .
classify, v.t.	تصنیف : په منظم ډول ترتیبول .
clatter, n.	داسې ږغ چه د لوښو د سره موښتلو څخه پیدا کیږی : په لوړ ږغ خبرې کول .
clause, n.	فقره : (گر) د جملې یوه برخه : د لیکنې یا سند یوه برخه .
clavicle, n.	د ټټر دوه لوی هډوکی د مرغانو خوږ تخیل .
claw, n.	نوك : چمبه (پنجه) .
clay, n.	خاوره : د انسان بدن .
clean, adj.	سپېڅلی ، پاك .
cleanly, adj. & adv.	سپېڅلی (په خوی او شخصیت کې) په پاکۍ سره .
cleanse, v.t.	پاکول ، سوچه کول .
clear, adj.	روڼ : صاف : بې شکه : یقین سپېڅلی : خالص ، سوچه .
clearance, n.	تصفیه ، د موانعو (خنډونو) لیری کول ، د چکونو او اسنادو تصفیه .
clearing, n.	په ځنګله کی هغه ټوټه ځمکه چه ونی یی وهل شوی وی : (بانکي) د چکونو ملاحظه .
clearing house, n.	(بانکي) د چکونو او جنجالی حسابونو د تصفیې ځانګه .
cleat, n.	یوه ټوټه فلز یا لرگی چه د شیانو د قوت د زیاتولو یا تکیې په غرض پاندی وهل کیږی (لکه پر بوټو باندی میخونه).
cleavage, n.	چاود ، انشعاب ، درز .
cleeave, v.t.i.	سوری کول ، جلا کول ، جلا کېدل .
cleaver, n.	ساتول ، لویه چاړه .
cleft, n.	(موسیقی) د تنالونو کلی .
cleft, n.	چاود ، درز .
clematis, n.	ټاك ډوله بوټی چه سپین چکې او سره ښخن گلان کوی .
clemency, n.	زړه سوی ، رحم : نرم والی (لکه د هوا) .
clement, adj.	ښه ونکی : زړه سواند ، رحیم .
clench, v.t.	موټی ، موټ کول (لکه د لاس) : ټینگې نیول .
clergy, n.	ملا : روحانی .
clergy man, n.	پادری ، یو له ملا یا نو څخه .
cleric, n.= clergyman.	پادری .
clerical. adj.	میرزائی ، د لیکلو کار : روحانی چاری .
clerk, n.	میرزا ، لیکونکی : (امر) په هټۍ کی خرڅونکی یا خوشونکی .
clever, adj.	هوښیار ، چالاکه .
clew, clue, n.	د سپنسو گوټ : نښه ، علامه ، اثار ، کلی .
cliche, n.	کلیشه : یو ساده ادبی اصطلاح .
click, n.	ټکې ټکې (ږغ) : کمکی ږغ .
client, n.	مراجعه کوونکی : هغه څوك چه مقنن یا داکتر ته ورځی او مشوره ورسره کوی .
clientele, n.	مشتریان (بیپار) : پیروان .
cliff, n.	کړنګ : د غره ښوینده لاښی .
climate, n.	اقلیم : د هوا د یو کلنی درجو اوسط .
climax, n.	لوړه درجه : منتها : هسکې : آخری درجه : اوج .

climb, v.i. or v.t. ختل : لوړې ته ختل :
پر لوړه خېژول .
(له down سره) کښته کېدل .

clime, n. اقلیم ، هیواد (په شعر کی
استعمالیږی .)

clinch, v.t. ټك وهلی میخ کږول یا کلکول :
د ټك وهل شوی میخ د کږولو په اثر د دوو
شیانو سره ټینګول : ټینګ نیول .

cling, v.i.t. سره نښتل : په غېږ کی نیول :
فکر کی ډوبېدل .

clinic, adj. کلینیك ، د ناروغانو کتنځی ،
د روغتون یوه برخه چه هلته ناروغان
کتل کیږی .

clinical, adj. کلینکی ، بستری : ناروغه
بستری :

clink, n. شرنګی ، شرنګا : بندیخانه
(د بندیخانې کوټه) .

clip. n. ګیرا ، هغه سیم چه کاغذونه په
نیول کیږی : بیاتی .

clip, v.t. & n. غوڅول : خریل : سکول :
سکوستل : ګوزار ور کول .

n. سکول : د پسه د وړیو ورکړه .

v.i. په چټکی سره تلل .

clipper, n. خرخول : یو ډول ګړندۍ بېړۍ :
لوك بري کوونکی (آله) :
ګړندی : د ټاك بریه بیاتی .

clipping, n. پرې شوې ټوټه (لکه د اخبار) .

clique, n. ډله (د خلکو په تېره هغه کمکی
ډله چه د خپلو اغراضو د پاره کار کوی) .

cloak. n. چوغه : چپن ، خرقه ، ماسك ، نقاب .

v.t. په چپنه کی تاوول ، په چپنه کی
نقابول پټول .

clock, n. سرمېزی یا دېوالی ساعت .

v.t. د ساعت په واسطه وخت ټاکل .

clock-wise, adv. د ساعت د ستنو د ګرځېدو
برخوا ، له کیڼی خوا ښی خوا ته :

clod, n. لوټه : بې عقل ، ناپوهه .

clodhopper, n. کروندګی : کلیوال ،
بانډه وال : مضبوطی څپلی (لکه د
کروندګو) .

clog, n. درونډ شی چه د خوځېدو مخه
نیسی : مانع : د رټې څپلی چه تلی یی
عموماً د لرګو وی : د لرګی ټوټه .

v.t. ممانعت کول ، مخه نیول ، بندېدل .

cloister, n. صومعه ، څیله ، د دنیا د تارکانو استوګنځی .

v.t. له خلکو څخه جدا کول .

close, adj. نژدې : دقیق : تخمینی : تړلی :
مخفی : محرم ، صمیمی .

close, v.t. تړل : بندول : نتیجه اخیستل :
موافقه پر کول .

v.i. یو ځای کېدل .

close, n. پای ، نتیجه : محوطه ، انګړ .

clos et, n. الماری ، د خلوت کوچنۍ کوټه ،
پسخانه : بیت الخلا .

v.t. کوچنۍ خونی ته د خبرو د پاره
بېول ، پټول .

closure, n. پای ، انجام ، انتها : د بحث
ختمول (په شورا کی) او د رایو اخیستنه ،
نتیجه .

clot, n. پرنډ (شیدی) ، غوټه (لکه د وینو
د غنډو وینو ټوټه ، د وینو ټوټه : د کریم
ټوټه : هره ټینګه مایع .

cloth, n. ټوکر، رخت (وړی، تاری، سونټی، ورېښمين او نور....) يو ټيغارم يا پوشان کالی (په تېره د عيسوی ملا يانو).

clothe, v.t. د کالو اغوستل: پوښل (د کالو اغوستلو په اثر).

clothes, n. & pl. کالی، جامې.

clothier, n. کالی خرڅوونکی، يا ګنډونکی.

clothing, n. کالی، پوښاک، لباس.

cloture, n. ختمونه (لکه د مباحثې).

cloud, n. اوريځ، اوره: دوړې: ډله: هر هغه شی چه توره او وېروونکې بڼه او منظره لري.

v.t. په اوريځو پټول او تورول: بدنامول.

v.i. په اوريځو پټېدل او توريدل: بدنامېدل.

cloudburst, n. ناڅاپی زور ور باران.

clout, n. چپلاخه: څپېړه: پيوند، پينه: صافی: نښه.

v.t. پينه کول، پيوندول: په ټوکره پټول.

clove, cloven, n. د cleave, ماضی.

clove, n. لونګ، په اري خيز کې يو ډول ونه چه ګلان يې د ديګ د مسالې په توګه استعماليږي.

clovepink, n. د لونګ ګل.

clover, n. شوتل، شوتله (شبدر).

clown, n. مسخره، بې تربيې: سپک: کم عقل.

v.t. سپک کارونه کول.

cloy, v.t.i. مړول: د اشتها تر حده پورې (په ماړه نس) خوړل ډوډۍ ته خوانه کېدل يا زړه نه کېدل.

club. n. کلوب (د ناستې ځای، دراغونډېدو خونه): يو ډول لرګی يا ډنډه چه په ځينو لوبو کې استعماليږي: ځای چه پکې يو ډله خلک د ټاکلی مقصد له پاره راغونډيږي.

v.t.i. په لرګی وهل: د مقصد له پاره سره راغونډېدل.

cluck. n. کوړکهاری (لکه د چرګې خپلو بچو ته).

v.t. کوړکهاری کول.

clump, n. کوټه، ګڼ شيان (لکه ونې) ګڼه، غوټه: ډډغ.

v.t.i. درانه ګامونه اخيستل: وهل.

clumsy, adj. ناوړه، بې خونده، کاږي-واږي، بې مهارته بې ډوله.

clung, n. د cling ماضی.

cluster. n. غونچه، ګېډۍ: ډله: وږی.

v.t.i. د غونچې په شان شنه کېدل يا شنه کول: راغونډول يا غونډېدل.

clutch. v.t. n. کلچ (د موټر: نيول، کلکول.

v.i. کلکېدل: په منګول کې نيول.

clutter. n. ګډوډ: ګډوډي: بې نظمي.

v.t.i. بې نظم کېدل: بې نظم کول: د ځای تنګول.

coach, n بګۍ: د اور ګاډي خونه: ښوونکی

v.t. مرسته کول (د زده کوونکی سره د خصوصی تعليم په اثر): د مسابقې له پاره د پهلوانانو چمتو کول.

coajutor, n. مرستيال.

coagulate, v.t.i. تړل، تړل کېدل، غوټه کېدل د کيمياوي عمليې په اثر ځنځېدل (متحجر کېدل) پرڼ کېدل.

coal, n. د ډبرو سکاره.

v.t.i. د ډبرو سکاره تهيه کول، سکاره کېدل.

coalesce, v.i. ټله کېدل : يو تن کېدل (يو وجود کېدل).

coalition, n. يووالی، ائتلاف.

coaloil n. د خاورو تيل.

coal tar. n. ټار کول، قير (د ډبرې له سکرو نه).

coarse, adj. زېږ : ټيټ کيفيت والا : هغه چه غوره نه وي : بې ادبه.

coarsen, v.t. & i. زېږ کول : د کيفيت ټيټول : بې ډبه کېدل : زېږېدل.

coast. n. د سيند غاړه، د بحر څنډه : رېونده

v.i. پر څنډه څنډه تلل (د بېړۍ په ذريعه): په اسانۍ خوځېدل يا تلل :

coast guard, n. ساحلي ساتونکي : بحري يا عسکري قوه.

coat, n. کورتۍ : بالاپوښ : د څاروي پوټکی اوبت : پوښ.

v.t. پوښول.

coating, n. پوښ.

coat of arms, n. نښان چه تر مړوند تړل کيږي.

coat of mail, n زغره

coax, v.t. غوړه مالي کول : ملنډې وهل.

cob, n. ټټو، غټ يا مشهور سړی : قو (نر) : ټوټه (لکه د سکرو و يا خټو).

cobalt, n. کوبالټ، يو سپين نقره يي رنګه فلز چه د اوسپينې او نکلو سره پيدا کيږي

cobble, v.t. پيوندول، پينه کول (په تېره د پوټو).

cobbler, n. موچی.

cobble stone, n. غرګی (طبيعي ګرده ډبره).

cobra, n. چمچه مار : کوچه مار.

cobweb, n. د غڼې جاله.

cocaine, cocain, n. کوکاين، مخدره دارو چه له يو ډول پلن پاڼي بوټي څخه لاس ته راځي.

cochineal, n. يو ډول رنګ چه له يو ډول امريکايي وچې شوې حشرې څخه جوړيږي.

cochlea, n. د غوږ د کرپندوکي د ننني برخه، د غوږ کاسه.

cock, n. چرګ : نر (د هر مرغه) : لار ښوونکی : د اوبو د نل شيردان : د ټوپک کلنګ.

v.t.i. کلنګ شا ته وهل.

cock, n. يوه کوټه واښه، د وښو کوټه، ډلی.

cockade, n. د خولۍ د پاسه نښه يا ګل.

cockatoo, n. يو ډول استراليايي رنګه ټوټي : کوچنی بزګر يا هغه سړی چه لږ مځکه لري

cockatrice, n. (تخ) يو ښامار چه په تش کتلو سړی وژني.

cockerel, n. چرګوړی (نر).

cock eye, n. چپك، چڼو، کوږ سترګی

cock eyed, adj. چپی.

cockle, n. واښه، ناکاره واښه.

cockle, n. يو صدف چه خوړل کيږي.

cockle shell, n. د صدف پوست (پوښ): وړوکې بېړۍ.

cockney, n. یو ډول انګریزي لهجه چه د لندن په شرقي څنډه کې ویله کیږي: لهجه: بې ادبه کوچنی (چه د ناز په اثر خراب شوی وي).

cock pit, n. ژور ځای، سرپټی ژور ځای، د الوتکې د چلوونکي د کښېناستو ځای: د چرګانو د جنګولو ځای: په بېړۍ کې د ټپیانو ځای: ژورغالی.

cock roach, n. ګرنډی (یو ډول خزنده)، دوړ پړو موریڼه

cocktail, n. کاکټېل، یو ډول شراب چه څو رنګه یې سره ګډ شوي وي: د اشتها راوستلو خواږه.

cocky, adj. له ځانه خوشحاله: کبرجن، مغرور، ګستاخ.

coco, n. کوپره.

cocoa, n. ککاو: بې غوړو چاکلېټ: یو ډول څښاک چه له همدې شي څخه جوړیږي

coconut, n. کوپره، نارېال، د ګارې زړی.

cocoon, n. د وریښمو د چنجو غوزه.

cod, n. یو ډول کب دی چه لویه خوله لري

cocdle, n. په سړو (نه ایشېدلو) اوبو کې ورو ورو پخونه: په ناز او هوسایۍ کې روزنه.

code, n. د قوانینو مجموعه: رمز، شفر.

codex, n. د کتاب قلمي نسخه: رمز: مقدس کتاب.

cod fish, n. یو ډول لوی خولی کب

codger, n. عجیب سړی.

codicil, n. د وصیت نامې مل یا ضمیمه

codify, v.t. شفر جوړول، په رمز کې اړول: سنبالول: د قوانینو تدوینول

codling, n. کوچنی خزنده چه مڼې او شفتالو وهي.

coeducation, n. یو ځای لوست (د نجونو او هلکانو)، د نارینه او ښځو ګډه تعلیم یا زده کړه.

coefficient, n. په ګډه کار کوونکی، هغه شی چه د بل شي په مرسته کار کوي: (ریاضي) ضریب.

coerce, v.t. تېری کول، جبر کول: تشدد کول: زور اچول: پر چا باندې په تحمیلي توګه یو کار اجرا کول.

coeval, adj. همزولی: د یوه عصر ـ.

coexist, v.i. یو ځای اوسېدل: ګډ ژوند کول.

coexistence, n. ګډ ژوند.

coffee, n. قهوه، کافي.

coffer, n. صندوخچه (د ګڼو د ساتلو دپاره).

coffin, n. تابوت (هغه صندوق چه مړی پکې ږدي).

v.t. په تابوت کې اچول.

cog, n. غاښی (د ماشین په ارابه یا پایه).

cogent, adj. غښتلی: قانع کوونکی.

cogitate, v.t.i. فکر کول، په مغزو کې ګرځېدل، په فکر کې ډوبېدل

cognac, n. کنیاک (یو ډول فرانسوي شراب).

cognate, adj. خپل خپلوان: د یوې وینې: د یوې کورنۍ: همطبع: له یوې ریښې څخه.

cognition, n. پوهه: ادراک: د پوهې قوه.

cognizance, n. پوهېدنه ، ادراك : خبرېدنه : خبر کېدنه ، پام ، توجه .

coheir, n. میراث خوار ه (هغه چه په میراث اخیستلو کی سره ګډ حق ولری).

cohere, v.i. سره نښتل : اړه درلودل : په یوه فکر کېدل ، متفق کېدل .

coherent, adj. نښتونکی ، نښتی ، تړلی ، مربوط .

cohesion, n. نښتنه یا ارتباط (یو له بله سره) : د مالیکیولونو د جاذبې قوه (په خپل منځ کې) .

cohort, n. یوه ډله (په تېره د جګړنو) .

coif, n رخچینه (یو ډول تنګه خولۍ)

coiffeur, n. نایی ، سلمانی

coiffure n د سر د ویښتانو د جوړولو موډ یا ډول .

coil, n. تاو را تاو ، حلقه ، کړۍ ، مار پېچه کړۍ شوی سیم یا پړی v.t. تاوول ، کړۍ کول ، حلقه کول .

coin, n. سکه ، پیسه ، فلزی ټوټه چه حکومت یې د پیسو په توګه او حیث په چلند اچوی v.t سکه وهل ، د فلزی پیسو جوړول ، اختراع کول .

coinage, n. سکوك ، سکه وهنه

coincide, v.i. په یوه وخت او ځای کښې پېښېدل : برابرېدل : موافقه کول .

coincidence, تصادف ، په یوه وخت او ځای کې پېښېدنه .

coincident, adj. اتفاقی ، په یو ځای او یوه وخت کښې پېښ شوی ، تصادفی : موافق .

coke, n. کوك (یو ډول سکاره چه د ډبرو د سکرو له تصفیې نه په لاس راځی)

colander, n. چلو صاف : غلبېل .

cold, adj. ساړه یخنی : بې مینې : سوړ والکی .

cole, n. د کرم د بوټی د کورنۍ عام نوم .

colic, n. (طب) قولنج .

collaborate, v.i. کار کېدل (د دو یا ډېرو کسانو په ګډه مرسته) : ګډ عمل همکاری کول .

collapse, v.i. ټوك ټوك کېدل : سقوط کول : له مېنځه تلل : په سوړه ننوتل : د زړه دربېدل .

n. ستونزه ، اضمحلال .

collar, n. کالر ، د خت غاړه : غړوندی v.t. تر غاړې یا ګرېوان نیول : کالر یا غاړه پر مغزی یا اوږ مېږ را تاوول .

collarbone, n. د اوږې هډوکی چه ټټر د اوږې سره نښلوی .

ocllate, v.t. پرتله کول ، مقایسه کول (د یو شی کره او ناکره معلومول لکه د یو مضمون یا متن) .

collateral, adj. څنګ په څنګ ، اړخ په اړخ : په هماغه وخت کې پېښه : اتفاقی : له یوې کندې یا سرونځی نه یعنی د یوه نیکه اولاد : تضمین .

n. د وینې خپل : د کوم شی تضمین .

collation, n. پرتلنه ، مقایسه (په انتقادی توګه) لکه د مضمونو : ناری .

colleague, n. ملګری ، انډیوال .

collect, n. لنډ یا مختصر لمونځ .

CC-0. Agamnigam Digital Preseyation Foundation, Chandigarh

collect, v.t. ټولول : کنټرول ټینګول (پر) : د پور کښیل یا سند د پیسو حصولول .

collective, adj. ټوله ایز : اشتراکی : راغونډ شوی ، ټولول شوی : د یوی ټولي .

college, n. پوهنځی : اختصاصی تعلیمی مؤسسه : د منصبدارانو یا همکارانو ټوله چه یو ډول او یو اندازه حقوق سره ولری .

collide, v.i. نښتل (سره) ، ټکر یدل ، یو له بل سره جنګېدل : مخالف کېدل .

collie, n. یو ډول سکاټلنډی سپی چه اوږده ویښتان لری او پېروی .

collier, n. سکاره خرڅوونکی : د ډبری د سکرو په کان کی کار کوونکی .

colliery, n. د ډبری د سکرو کان یا کارخانه .

collocation, n. د شیانو په لاسی ډول اوډنه یا ترتیبونه چه یو له بل سره اړه او ارتباط لری ؛ څرګندونه ، ښکارونه (په یو ځای کی) .

colloquial, adj. په عامیانه ژبه خبری ، عادی او غیر رسمی خبری .

colloquy, n. خبری اتری (یو له بله) ، مرکه .

collusion, n. دسیسه (سوډه) ، چل ول ، ټګی و برګی .

cologne, n. کلونیا ، خوشبویه اوبه .

colon, n. د شارحې نښه (:)

colon, n. انتړه ، د لویی کولمی یوه برخه .

colonel, n. ډګروال .

colonial, n. د مستعمراتو اوسېدونکی .

adj. مستعمراتی : استعماری .

colonist, n. استعمارچی : د مستعمرې اوښنی او سېدونکی .

colonize, v.t.i. مستعمره کول : مستعمره کېدل : مستعمره جوړول .

colonization, n.

colonnade, n. د ستنو قطار (په تعمیر کی) یا د ونو قطار .

colony, n. مستعمره ، یوه ټوله خلك چه بل وطن ته ولیږدی خو بیا هم د خپل اصلی وطن متابعت ساتی : هغه محکمه چه دغه ډول ټوله پکښی میشته وی

color, colour, n. رنګ ، ډول (جمع) بیرغ : شکلې منظره .

v.t.i. رنګول : رنګېدل .

colourful, adj.

coloration, n. د رنګولو سره کړونه او استعمالونه .

colored, coloured, adj. رنګ شوی : هر ډول نژاد (بې له سپین پوستو څخه) .

colorist, colourist, n. رنګمال : نقاش .

colossal, adj. ستر ، لوی ، غټ .

colossus, n. غټ سړی یا شی .

colt, n. بهاڼ (د آس یا ګوره خر) کوټی (خرګی) : توپنچه (تپانچه) .

columbine, n. & adj. یو ډول خپر بخن کمکی بوټی چه غټ ګل کوی او له ورایه څرګند وی : خړی کوتری غوندی رنګ ، د کوتری په ډول .

column, n. مټه ، ستن (ستون) (چه چت ته پې ور کوی) : هر هغه شی چه ستنی ته ورته وی : (لیکن) د پاڼی قطارونه : د اخبار یا کتاب ستون .

columnist, n. لیکوونکی (په اخبار کی د ټاکلی ستون) .

coma, n. کوما ، بې حالی .

comb, n. ږمونځ یا ږمنځ : د چرګ چرخول یا چرخولک .

v.t. ږمنځول : جلا کول .

combat v.t.i. مبارزه کول : جنګېدل : جګړه کول : مقاومت کول.

n. جګړه : مسابقه .

comber, n. ږمنځوونکی : اوږدې کږې وږې څپې .

combination, n. ترکیب : یو ځای کېدنه : یووالی دموټرسایکل کجاوه .

combine, v.t.i. یو (متحد) کول : یو کېدل ، ګډول ، ګډېدل ، یو ځای کېدل

combine, n. اتحادیه ، په تېره د سیاسی او تجارتی ګټو دلاس ته راوړو د اوله باره : ډلې ، غوبل ، ټکولو یا کوټلو او یا پاکولو ماشین .

combustible, adj. اوراخیستونکی ، هغه شی چه ژر اور اخلی لکه پټرول او نور غوړ شیان .

combustion, n. احتراق ، سوځېدنه

come, v.i. راتلل : ورتلل : یو ټکی ته سره رسېدل ، موافق کېدل .

v.i. اجرا کول .

comedian, n. کومېډین ، مسخره ، ټوکمار (په یوه کمېډی لوبه کې)

comedy, n. یوه ډرامه یا کیسه چه لږ و ډېر خنداراوستونکی وی او په خوشالی پای ته رسېږی .

comely, adj. ښکلی ، ګلالی .

comestible, adj. دخوړلو وړ .

n. خواړه .

comet, n. لکی لرونکی ستوری غوندی ځلاند آسمانی جسم چه په لمر راګرځی.

comfit, n. خوږې (نقل او نور) .

comfort, v.t. هوسا کول : دلاسا کول : ډاډه ور کول .

n. له درد او ربړ څخه ژغورنه ، هوسایی

comfortable, adj. ارام ، مستریح ، مناسب ، هوسا (اصط) پوره ، کافی

n. (امریکا) بړستن ډوله روجایی .

crypt, n. سمڅ، زېر زمیني، حجره چه مخصوصا تر کلیسا لاندې وي او مړي پکښې ښخوي.

cryptic, adj. پټ، سري، اسرار امیز، مرموز.

crystal, n. کرسټل، بلور: د ساعت ښیښه: یو جسم لکه د اورې شېږې: هر روڼ او شفاف شی.

crystalline, adj.

crystallize, v.t.i. په بلور و بدلول: ټاکلی بڼه یا شکل ور کول.

crystallization, n.

cub, n. د ګیدړې، یږ، غوا او زمري بچی.

v.t. بچې راوړل (لکه د غوا او نورو).

cube, v.t. مکعب: مکعب کول: د درو (۳) په قوه (جذر مکعب).

cubic, adj. مکعب، مکعب غوندې.

cubical, adj.

cubit,, n. د مقیاس پخوانی معیار چه د ۴۵ر۷۲ سانتي متره په اندازه و.

cuckoo, n. کوکو کوتره، اروپایي جنس یې خپلې هګۍ د نورو مرغانو په ځالو کې اچوي چه ورته ویې شاربي.

cucumber, n. بادرنګ.

cud, n. شخوند.

cuddle, v.t.i. & n. نوازش، مینه: په غېږ کې په مینه نیول، نوازش ور کول:

cue, n. اشاره.

cue, n. کوڅۍ یا چوټۍ: هغه لرګی چه د بلیارډ په لوبه کې استعمالیږي: صف، کتار.

cuff, n. کپ (د پتلانه یا پخو یا د کمیس د لستوڼو خولې): د لاس زولانه، ولچک.

cuirass, n. زغری چه پخوانو به په جګړه کې د ځان د مدافعې د پاره اغوستې.

cuirassier, n. هغه سپور عسکر چه دا ډول زغره به یې اغوستله.

cuisine, n. د پخلي طرز یا ډول: د پخلي ځای.

culinary, adj. د پخلنځي مربوط، پخلنځي ته منسوب.

cull, v.t.: ټاکل، غوره کول، راټول

گلچین کول .

n. د جدا کولو عمل .

cullender, colander, n. چڼونی، صافی .

culminate, v.i. د اقتدار یا ترټپې هسکې درجې ته رسیدل .

culmination, n.

culpable, adj. ګرم، د سرزنش وړ، د ملامتی وړ، ګناهکار، مجرم .

culprit, n. ګرم: مجرم: تورشوی یا متهم .

cult, n.: د مذهبی عقایدو یو سیستم: لمانځنه (پرستش) .

cultivate, v.t.: کرل، کرلو ته چمتو کول: پام کول، توجه کول: مدنی یا مهذب کول .

cultivation, n.

cultivator, n.

cultivable,

cultivatable, adj.

culture, n.: کلچر، کرنه: کرل شوی: تصفیه: ثقافت، تهذیب، تمدن، فرهنګ .

cultural,, adj.

cultured, adj.

culvert, n. لښتی، داوبو تیریدلو ځای چه پوښل شوی وی لکه ترسړك لاندې لښتی یا شپېله .

cumber, v.t. ممانعت کول: تر بار لاندې کول، زحمت ور کول .

cumbersome, adj.

cumbrous, adj.

cumulative, adj. د پرله پسی ډیرېدو په اثر ډیرشوی د قوت یا قیمت ډیروالی، متراکم .

cuneiform, میخی خط .

cunning, adj.: چیرك، ماهر: ټګ مار: چالاکه .

cunningly, adv.

cup, n.: پیاله: داوبو څښلو لوښی: (کپ) چه دلوبو په پای کې یې بریالی خواته ور کوی .

cupbearer, n.

cupful, n.

cupboard, n. چڼی (رپ یارپك): الماری د صندوقو د ایښودلو ځای .

cupidity, n. سرابښتوب، د شتو راټولو ته، حرص .

cupola, n. ګمبته (ګنبد): د ګمبتې ننی خوا: په ګمبتې کې راځوړند فانوس یا قندیل، قبه .

cur, n. بازاری سپی: سپك، رذیل، ټیټ، (اصط) هرزه .

curate, n. شفا بخښونکی: د کشیش مرستیال .

curacy, n.

curative, adj. شفا بښونکی، علاج کوونکی، دارو، دوا .

curator, n. د کتابخانې یا موزیم متصدی، والی .

curb, n. & v.t. خولواښی، د کیزې پړی یا ځنځیر: په اسونو کې د پښو پړسېدلو مرض: مخ نیول: زغمل (لکه د قهر) د پیاده روغنډه چه ترسړك لوړه وی .

curd, n. مستې .

curdle, v.t.i. مستې کول (لکه شیدې چه په مستو واوړی شی) ټومنه کول ټومنه کېدل

cure, v.t. & n. دوا ، درمل : د کلیسا ملا روغتیا ، روحي روغتیا : د ناروغه زېرمه د روغېدو عمل : علاج کول .

cure, v.t. د روحاني چارو په غاړه اخیستل

curfew, n. هغه زنګ چه د اور یا څراغ وژلو مراسم به یې اعلانول : د ګرځېدو د ممانعت زنګ (د ګړې په وخت کې) پر ګرځېدو باندې د قیود د وخت .

curio, n. نادره او قیمتي شی .

curious, adj. لټوونکی ، پلټونکی ، دقیق : عجیب و غریب : نادر .

curl, v.t. ول ول کول ، الوول کول ، ګوړ ګوتې کول (د ښځو) .

curlew, n. ځینګې ، کومول .

currant, n. بې دانې وچکې .

currency, n مروجې پیسې ، په چلند کې پیسې په دوران کې : عمومي منښت (قبولي) .

current, adj. چلاندې پیسې یا بهاندې اوبه : لاس په لاس تلونکی : په عمومي صورت قبول شوی : په اوسني حال پورې مربوطه .

n. د بهېدنې جریان یا څپه .

curriculum, n. تعلیمي نصاب .

curry, v.t. د آس خرخره کول : توږل (لکه د څرمنې) .

curry, n. یو ډول هندي مساله چه په دېګ کې استعمالېږي .

curse, v.t. لعنت ویل ، نفرین کول ، ښېرا کول : زیاتي کول ، ښکنځل کول .

cursory, adj. سرسپون ، سرسري (سطحي) بېړندوکی (عجول) .

curt, adj. بد خولی ، غوڅ خولی ، بدژبی (خشن شدید اللحن) لنډ موجز ، تند .

curtail, v.t. لنډول ، غوڅول ، وروستۍ برخه پرېکول .

curtailment, n.

curtain, n. پرده ، د کړکۍ پرده .

curtsy, curtsey, v.t. سلام یا هرکلی (په تېره د ښځو په توګه) : سلام یا هرکلی کول .

curvature, n. کوږوالی ، انحنا .

curve, v.t. & n. کوږوالی ، انحنا : کږول ، له سمې لیکې اړول ، انحناور کول .

curvet, n. د آس ټګې (په جوتکو یا غبرګو) .

cushion, n. سرویږد ، بالښت : د بلیارډ د مېز د ننی استر .

cusp, n. سر ، څوکه : د یو شي راوتلی برخه .

cuspidor, n. تکدانی (تفدانی)

custard, n. یو ډول خواږه چه د شیدو او هګیو له یو ځای پخولو څخه لاس ته راځي

custodian, n ساتونکی ، خوندي کوونکی سرایدار .

custody, n خوندیتوب ، ساتنه ، محافظت ، امانت : بندیتوب ؛ توقیف .

custom, n. دود ، دستور ، رسم رواج : د ګمرک محصول ، ګمرک .

custommade, adj.

customary, adj. عادي ، معمولي ، مرسوم .

customer, n. بیپار ، پېرودونکی ، مشتري .

customhouse, n. ګمرک .

cut, v.t. پرېکول ، جلا کول ، ایسته کول
لږول : لنډول : غوڅول

v.i. پرېکېدل : لږېدل : لنډېدل : غوڅېدل .

cute, adj. زیرک ، چالاک : جذاب .

cuticle, n. پوټکی ، څرمن ، پوست .

cutlass, n. درنه کږه توره .

cutlery, n. غوڅوونکې آله (لکه چاړه چاقو او نور) .

cutler, n.

cutlet, n. کتره ، ټوټه (د غوښې او نورو) : کټلټ .

cutter, n. غوڅوونکی : کوچنۍ بېړۍ : د واورو ښویه بګۍ چه یو آس یې کشوي گنډونکی .

cutthroat, n. خوني ، وژونکی ، قاتل .

cyclamen, n. د گل یو ډول بوټی چه ساقه نه لري .

cycle, n. دوره ، اربه (بایسکل) ، څرخ . یوه تاریخي دوره د پېښو یا حوادثو یوه دوره : یوه اوږده زمانه .

cyclist, n. بایسکل سوار .

cyclometer, n. یوه آله چه د ارابې گرځېده او وهل شوی واټن یا فاصله معلوموي .

cyclone, n. دوړه دوړکه ، بوړبوړه کی ، د باد او دوړو طوفان .

cyclonic, adj.

cyclopedia, cyclopaedia, n. دائرة المعارف .

cygnet, n. د قو چوچی یا بچی .

cylinder, n. استوانه ، اوږد مدور جسم د توپانچې میل : په ماشین کې د پیستون د اېښودلو ځای .

cylindrical, adj.

cymbal, n. (مو) د ژېړو بوغولی (تال) چه سره وهل کېږي .

cynic, n. عیب لټوونکی ، بدبینه ، کلبي (په غټ C سره) .

cynical, adj.

cynicism, n.

cynosure, n. د توجه مرکز ، دب اصغر ، د قطب ستوري .

cypress, n. د سرو ونه .

cyst, n. د کڅوړې په ډول یو ساختمان ، مثانه .

czar, n. د روسیې د پاچاهانو لقب .

czarina, n. د روسیې د ملکې (ټولواکمنې) لقب .

D

dab (v.t. & n.) په پاسته او لانده شي په
نرمۍ وهل : ټاپه کول : ورو ملهم
اېښوول (پر) : ټکوروول : کوچنۍ ټمڼا که
کوټه : ماهر .

dabble (v.i.) د ساتېرۍ په ډول په کار
لګیا کېدل : په اوبو لاس یا پښې ننه
ایستل او بېرته را ایستل (اوبه چپه پول) .

dace, n. یو ډول وړوکی کب .

dactyl, n. دري سیلا بیزه مصرع چه خج پر
لومړی وي .

daffodil, n. نرګس .

daft, adj. لیونی : احمق .

dagger, n. خنجر ، چاړه .

dahlia, n. د ډلیه ګل .

daily, adj. ورځنی .

dainty adj. خوندور ، مزه ناك ، زړه
وړونکی ، نفیس .

dairy, n. دشېدو ، کوچو او پوڅی پلور ځی :
هغه ځای چه هلته له شېدو څخه کوچ ،
پوڅه او نور جوړوي : لبنیات .

dais, n. چوتره : تخت : دغولی یوه هسکه
برخه .

daisy, n. داوُدی ګل .

dale, n. ناوه ، وادي .

dally, v.i. اخرې کول : خوشې عبث وخت
تېروول : معاشقه کول ، ناز کول .

dailiance, n .

dam, n. بند ، وند ، سد ، خنډ .

dam, n. موریڅه ، مور (د حیوانا نو) .

damage, n. زیان ، تاوان : ورانی ،
ویجاړتوب ، نقصان .

damage, v.t.

damask, n. کڼاوېز ، وریښمینه ټوټه :
فولاد (د دمشق) .

dame, n. ښځه : مېرمن .

damn, v.t. لعنت ویل (پر) : بدو یل ، په
بدو محکومول ، غندل .

damned, adj.

damnable, adj. د لعنت وړ ، د بد ووړ ،
د ترټنې وړ ، د غندنې وړ .

damnation, n. لعنت ، محکومیت ، بدی :
جزاء (د تل دپاره)

damp, n. & adj. لوندوالی ، لندبل :
لوند .

v.t. خفه کول ، تربتول ، ساوړ پڅول :
مخه نیول : درول : لندول .

dampen, v.t.i. : لوندول يا لمدول : لوندېدل .

damper, n. . خفه کوونکی : لوندوونکی

damsel, n. پېغله ، نجلۍ .

dance, v.i. نڅېدل ، گډېدل : د نڅېدو يا گډېدو ټولنه : د نڅا نغمه .

dancer, n.

dandelion, n. يو ډول بوټی چه ژېړ گلان کوي . ژېړ گلی .

dander, n. غوسه ، قار .

dandle, v.t. نازول ، ځنگول ، کنجول ، په غېږ کې کېنوه پورته کول (لکه د ماشوم) : مشغولول .

dandruff, n. د سر پخه

dandy, n. هغه سړی چه ځان او جامو ته ډېر متوجه وي ، يوشی چه په خپل جنس کې ډېر ښه وي : ځان ښودونکی .

danger, n. خطر ، وېره ، بېره ، ډار .

dangerous, adj. خطرناک ، وېروونکی ، بېروونکی ، ډاروونکی .

dangerously, adv.

dangle, v.i. ځړېدل ، ځوړندېدل .

dank, adj. لوند ، مرطوب .

dapper, adj. ګړندی : کمکی او ټکره : سپېڅلی ، سوتره ،

dapple, adj. ټکی ټکی ، ټپی ټپی ، برگ ، ټکی ټکی کول ، ټپی ټپی کول .

dare, v.i.t زړورتوب کول ، جرأت کول .

daredevil, n. تو سرتېر سړی ، مشهور سړی .

daring, n. جسارت ، جرأت .

daring, adj.

dark, adj. تياره : تور : ټيټ : مبهم : بې نومه : بد ، ناامېده ، گونجې گونجې (تندې) : مغشوش ، مجهول .

darken, v.t.i.

darkly, adv.

darkness, n.

darkling, adv. & adj. په تياره کې : تياره ، ظلمت .

darksome, adj. تياره .

darling, n. په زړه پورې ، خوږه ، گرانه محبوبه .

darn, t·i . پېنه کول ، رفو کول

darn’ n

darner, n.

dart, n. & v.t. لوکداره گولۍ : تېز حرکت : يو ډول د لښې ويشتلو لوبه چه په کوچنيو غشو سره اجرا کېږي : په تېزۍ غورځول : په بيړه توغول .

dash, v.t. : ځبل ، ځپل ، ذړې ذړې کول : په زوره غورځول : شيندل : تباه کول : خوابدی کول ، افسرده کول ، مړاوي کول : په بيړه ليکل .

v.t. په بيړه پرمخ تلل .

n. زور ور گوزار : د غه (—) نښه : (د يوشي) لږ مقدار : ناڅاپي پرشا کېدنه ، لنډه تېزه مسابقه (ځغستا کې) .

dasher. n. هغه چه ورانی راولي ، خودنمايه سړی ، د موټر پايدان .

dashing, adj. : ژوندی ، ويښ ، ټکره : ځان ښودونکی .

dastard, n. نامرده ، ناځوان .

dastard, adj.

dastardly, adj.

data, n. ابتدائي معلومات چه د هغو په اساس نور حقايق لاس ته راتلای شي: مفروضات، معلومات، سوابق.

date, n. نیټه (ورځ، میاشت، کال او نور): د يوې پېښې نیټه: دملاقات نیټه.
v.t. نیټه ټاکل.

date, n. خجوره، خرما.

dative, adj. (گر) غیرصریح مفعول

datum, n. د data. مفرد.

daub, v.t. بوښل، ککړول، په غیر ماهرانه توگه رنگول.

dauber, n.

daughter, n. لور.

daughter-in-law, n. نږور یا مږور

daunt, v.t. ډارول، بې زړه کول، وېرول

dauntless, adj. زړه‌ور، بې وېرې، زړه ور، بې باکه، بې پروا.

dauphin, n. د فرانسې د ډولواك د مشر زوی لقب چه له (۱۳٤۹ - ۱۸۳۰) پورې استعمالیدی.

davenport, n. لویه ارامه چوکۍ (کوچ) د لیك وړوکی مېز.

davit, n. بوډول پالوان (جرثقیل).

daw, n. کاغی.

dawdle, v.i. وروخوځېدل: دوخت تېرول (په غیرمفیده توگه).

dawn, n. & v.i. سپېدې چاود، د سهار رڼا سباوون: د گېيځ شروع کېدل: د پوهېدو شروع کېدل.

day, n. ورځ: شواروز: هغه موده چه ځمکه په خپل محور یو وار څرخی: کالیزه: زمانه، عصر، عمر:

daylight, n.

daytime, n.

daybreak, n. سپېدې چاود، لمرخرك

daydream, n. خیال پلو.

daydream, v.i.

dayspring, n. سپېدې چاود، سباوون

daze, v.t. n. پرېښودل: گنگسول، سر بداله کول: تشويش: گډوډي: تلولی توب ویر، وېره.

dazed, adj. مشوش: گډوډ: تلولی.

dazzle, v.t.i. د ناڅاپي رڼا په سبب د سترگو برېښېدل، مبهوت کېدل.

dazzle, n.

deacon, n. د پادرۍ مرستیال: خیرات خور: هغه سړی چه په کلیسا کی زنگ وهی.

deaconness, n. fem.

dead, adj. مړ: بېکاره: (هغه چه نه استعمالیږي)، بې حسه، بې حرکته: بې معنی، دقیق
adv. کاملا، په پوره توگه، مستقیما.

deaden v.t. بې اثره کول، له منځه وړل، وژل: سوستول، روحیه ور ضعیفول.

dead.-end, adj. هغه کوڅه یا نل چه پای یې بند وی.

dead-letter, داسې لیك چه څښتن ته د غلط آدرس په نسبت له وي رسېدلی: هغه قانون چه نفوذ یې بایللی وی خو رسما لغو شوي نه وي.

deadline n. په عسکري مجلس کې هغه
حد چه تر هغه تېر پدل د مرگ سبب کېږي :
وروستنۍ نېټه چه يو کار بايد اجرا شي .

dead,lock, n. ځنډ ، قال : د مخالفو
اشخاصو يا ډلو د فکر په واسطه د کار
بنديز .

deadly adj. وژونکی ، مخالف ، مهلك ،
زر لرونکی .

deaf. adj. کوڼ ، په غوږو درونـد ، ځان
کوڼ اچوونکی .

deafness, n. کوڼ والی .

deafen, v.t. کڼول .

deal, n. : مقدار ، اندازه . (نامعلومه)
معامله .

deal, v.t. ويشل : ور کول (لکه د گوزار) :
معامله کول : اقدام کول : بحث کول .

dealing, n.

deal, n. د سپر لرگي يا د سپر تخته : ويشه .

dean, n. د کليسا مشر : د پوهنځي رئيس :
د يوې څانگې مشر (لکه په يوه هيواد کې
د خارجي ډيپلوماتانو) .

deanery, n.

dear, adj. گران ، محترم ، زړه ته نژدې ،
قيمتي .

n. معشوقه ، محبوبه .

dearly, adv.

dearness, n.

dearth, n. لږوالی ، قحطي ، گراني .

death, n. : مړينه ، مرگ : د مړينې حالت :
معدوميت .

deathbed, n.

deathblow, n.

deathless, adj.

debacle, n. ماته ، ناکامي ، سقوط .

debar, v.t. له ننوتو څخه منع کول ،
د ننه نه پرېښودل : منع کول ، د حق څخه
بې برخې کول .

debase, v.t. زليلول ، راټيټول ، سپکول .

debasement, n.

debate, n. مناقشه ، مشاجره ، مناظره ،
مباحثه .

debate, n.

debatable, adj.

debauch, v.t. بې لارې کول ، له لارې
ايستل ، فاسدول ، خرابول .

debauchery, n.

debilitate, v.t. ضعيفول ، کمزور کول ،
بې سېکه کول .

debility, n. کمزورتيا ، ضعيف والی ،
ناتواني .

debit, n قرضداري ، (په بانکي معاملاتو کې)
د ورکړې ستون : په چا پسې د قرض ليکنه .

debonair, debonaire, adj. خوشاله ، ښکلی

debris, n. نښې نښانې د ټوټې ، ټوکرې ،
بقايا ، پاتې شوني (لکه هغه چه د يو ځای
د ړنگېدو په اثر پاتې کېږي) .

debt, n. پور : د پور اخستلو شرايط :
گناه ، وبال .

debtor, n. پوروړی .

debut, n. لومړی کوشش : د لومړي ځل
د پاره د خلکو په ډله کې ښکاره کېدنه
په يوه ټولنه کې رسمي شمول ، ظهور .

debutante, n. په لوبو یا ټولنه کې د لومړي ځل د پاره د ځوانې ښځې ښکارېدنه .

decade, n. لس کاله ، لسيزه

decadence, n. زوال ، سقوط ، فساد .

decadent, adj. & n.

decalogue, n. لس حکمونه (په یهودی مذهب کې)

decamp, v.i. لیږدېدل : ناڅاپه ځغستل .

decant, v.t. تویول ، تلول .

decanter, n. صراحی .

decapitate, v.t. سرغوڅول ، سرپرېکول .

decapitation, n.

decay, n. خرابوالی ، وروستوالی ، خوسا توب.

v.t. خوسا کول ، وروستول .

v.i. خوسا کېدل . وروستېدل .

decease, n. مړینه ، مرګ .

v.i. مړ کېدل .

deceit, n. غولونه ، تېرایستنه .

deceitful adj.

deceitfulness, n.

deceive, v.t. خطا ایستل ، غولول ، تېرایستل

deceiver, n.

decelerate, v.t.i. ورو کول ، په سیاله کول ، غېرن کول .

v.i. سوکه کېدل ، ورو کېدل ، په سیاله کېدل .

december, n. د ډیسمبر د عیسوی کال دوولسمه میاشت (یو دېرش ورځې) .

decency, n. درنښت ، مناسب خوی یا اخلاق

decent, adj. ښه ، شریف : ملایم ، سپېڅلی .

decentralize, v.t. د تمرکز څخه ایستل ، وېشل ، جلا جلا کول ، بېلول (لکه حکومتی اداره) .

decentraliztion, n.

deception, n. غولېدنه ، تېر و تنه ، غولونه ، تېرایستنه ، دوکه ورکونه.

deceptive, adj.

decide, v.t. پرېکړه کول ، فیصله کول : تمامول ، ترسره کول : پتېیل .

v.i. فیصله کېدل ، تمامېدل .

decided, adj. کلك ، ټینګ : څرګند ، روڼ ، بې سهوی : فیصله شوی .

decidedly, adv.

deciduous, adj تویېدونکی (لکه په منی کې د پاڼو) : موقتی .

decimal, adj. اشاري ، اشاریه .

decimate, v.t. لسمه برخه اخیستل یا ایستل : هر لسم سړی وژل : لویه برخه ځنې تلف کول .

decipher, v.t. د رمز ترجمه کول : د یو شي معنی موندل : پوهېدل (په) : کشفول.

decision, n. فیصله : قضاوت : ټینګار : تصمیم .

decisive, adj.

decisively, adv.

deck, n. & v.t. د بېړۍ عرشه : ښکلی کول : پوښل : پر غولی کوټه کول : غولی جوړول (پکښې) : پتی یا د لوبو پاڼې (قطعی) .

declaim, v.i. په مؤثره او فصیحه توګه خبرې کول .

declammation, n.

declamatory, adj.

declare, v.t. اعلانول، څرگندول، بیانول

declaration, n.

declarative, adj.

declaratory, adj.

declension, n لوېدنه، سقوط، زوال (گر)
داسم ، ضمیر یاصفت گرزونه (گردان).

decline, v.i. یوې خواته کږېدل : ناکاره
کېدل: غورځېدل: پاتې کېدل: ځوړېدل.
v.t. یوې خواته کږول : ناکاره کول ،
انکار کول .

n. پرېوتنه، انحطاط : (گر) گردانول.

declination, n. سقوط ، مخ ځوړ، زوال.

declivity, n. ځوړه یا ځوړ .

decode, v.t. له رمزه راایستل ، رمز په
ساده او څرگنده ژبه اړول .

decollete, adj. پوړول کمیس چه غاړه او
اوږې نه پټېږي، لنډ غاړی کمیس .

decompose, v.t.i. تحلیل کول ، تجزیه
کول ، جلاجلا کول ، برخې برخې کول :
خوسا کول : جلاجلا کېدل، خوسا کېدل.

decomposition, n.

decorate, v.t. سینگارول ، ښکلی کول.

decorator, n.

decoration, n. سینگار ، ښکلا: نښان .

decorative, adj.

decorous, adj. ښه ، وړ ، مناسب .

decorum, n. ادب، ښه خوی، وړتوب .

decoy, v.t. په لومه یا تلکه کې نیول:
د مرغانو ښکار کول : د ښکار د پاره
دانه اچول : په دام کې د نیولو
کوښښ کول :

n. د ښکار زړی، مله، طعمه، هغه مرغۍ
چه د ښکار د پاره نورې مرغۍ په را جلبوي.

decrese, v.i.t. لږېدل : لږول.

decree, n. فرمان: عدلي فیصله : حکم .

decrepit, adj. زوړ : کمزوری ، ضعیف
(د ډېر عمر په سبب) .

decrepitude, n.

decry, v.t ملامتول ، سپکول ، رټل .

dedicate, v.t وقف کول: ډالۍ یا اهدا کول.
(لکه د کتاب) : د یو سپېڅلي مقصد د پاره
جلا ایښوول .

dedication, n.

dedicatory, adj.

deduce, v.t. استنباطول، نتیجه کښل .

deduct, v.t جلا کول ، بېلول ، لږول ،
کمول ، منفي کول .

deduction, n. تقلیل ، کموالی، جلاوالی،
تفریق .

deductive, adj

deed, n. عمل ، کار ، فعل قواله (قباله).

deem, v.t. اټکلول ، فکر کول .

deep, adj. ژور: پوه: پټ: شدید، مشکل
گڼ ، بم : بحر: آسمان: جدي، چالاک،
ډېر زیات .

deep-laid, adj

deepen, v.t.i. ژورول: ژورېدل .

deer, n. هوسۍ.

deerski, n.

deface, v.t بڼه ورخرابول، بې شکله
کول ، بې مخه کول .

defalacation, n. پر امانتي مال یا پیسو تیری، د بل چا د مال څخه ناوړه استفاده، د امانت خیانتول، امانت .

defame, v.t. د چا نوم بدول، تورول، تهمت پوري کول ، بدنامه کول .

defamation, n.

defamatory, adj.

default, n. تقصیر ، نیمګړتیا : د پور په ورکړه کې بې وسی ، ناکامی ، عیب ، غفلت .

v.t. نیمګړې کول ، بې وسه کول .

v.i. بې وسه کېدل .

default, v.t.i.

Uefaulter, n.

defeat, v.t. ماتې ورکول : نا امیده کول : بری موندل (پر) : ویجاړول ورانول : د لوبې یا مسابقې بالل ، بایلل .

defect, n. نیمګړتیا ، عیب ، نقص : کمبودی .

defection, n. ناکامی ، بې وسیتیا ، بې وسه توب : په وظیفه کې بېرته پاتې کېدنه : تښتېدنه : پرېښودنه : پر لوز نه درېدنه .

defective, adj. نامکمل ، غیر کافي : عیب درلودونکی .

defence, n. دفاع ، ځان ساتنه .

defend, v.t. دفاع کول ، ساتل : (حق) د چا مدافعه کول .

defender, n.

defendant, n.: (حق) مدافعه کوونکی متهم ، تورن .

defense, defence, n. دفاع ، ځان ساتنه ، د حملې په مقابل کې مقاومت : په دلایلو له خپلو کړو مدافعه : په لوبو کې د حریف د حملې په مقابل کې چمتوالی : (حق) د رد ځواب (د مدافع له خوا) .

defer, v.t.i. ځنډول ، ټالول ، ځړول : ځنډېدل .

deferment, n.

defer, v.t. د بل چا یا مقام نظریو ، هیلو یا صلاحیت ته غاړه ایښودل .

deference, n.

deferential, adj.

defiance, n. جنګ ته رابلنه : بې پروایی ، د مقاومت کولو تمایل .

defiantly, adv.

deficient, adj. نیمګړې ، نیمګله ، نامکمل ،

deficiency, n.

deficit, n. کسر (په تېره بیا په عایداتو کې) .

defile, v.t. خرابول ، بدبویول ، ورستول ، ککړول ، خیرنول ، لړل : بې پته کول ، بې عزته کول .

defile, n. تنګی ، تنګه وت یا تنګه دره .

define, v.t. تعریف کول : معنا کول : برید ټاکل ، ټک معلومول ، محدودول .

definite, adj. قطعي ، صریح ، ټاکلی ، جوت ، څرګند ، ښکاره : (ګر) د تعریف توری .

definitely, adv.

definition, n. تعریف ، څرګندونه ، ښکارونه ، د یوه توري یا موضوع تشریح کول .

definitive, adj. څرګند ، ښکاره : قاطع .

CC-0. Agamnigam Digital Preseyation Foundation, Chandigarh

deflate, v.t. هوا ايستل، تشول (لکه د باد څخه) .

deflation, n. باد ايستنه : د پيسو لږوالی (په عمومی ډول) .

deflect, v.t.i. يوې خواته کول ، ايسته کول: کږول : کږېدل . ايسته کېدل .

deflection, n.

deform, v.t. بې بڼې کول، شکل ته تغيير ورکول ، مسخ کول ، بدډوله کول .

deformation, n.

deformity, n.

defraud, v.t. غولول ، تېر ايستل .

defray, v.t. ورکول، تاديه کول، ادا کول

deft, adj. ماهر ، په کار پوه : چټک ، تردست (چالاك) .

deftly, adv.

deftness, n.

defunct, adj. مړ ، بې ساه .

defy, v.t. جګړې ته لمسول ، شخړې ته پارول : بې اهميته ګڼل: مخالفت کول: کرکه کول .

degenerate, adj. کم اصل، منحط : فاسد .

v.i. کمسل کېدل، ټيټېدل : فاسدېدل

degeneration, n.

degeneracy, n.

degarde, v.t. له اوچتې رتبې څخه ټيټې رتبې ته کښته کول : فاسدول، ټيټول .

degration, n.

degree, n. درجه : رتبه : دژوندانه پړاو : په رياضۍ کې دغه (٥) نښه : (ګر) په صفت کې درې درجې لکه ښه، ډېر ښه، زښته ډېر ښه ، برې ليك .

deify, v.t. په خدايی نيول، په خدايانو کې شمېرل : نمانځل .

deign, v.i. تنزل کول، کمينه کېدل، عاجزه کېدل ، خاکساره کېدل .

deism, n. دخدای منښه خو په پېغمبرانو او نورو دينی مسايلو باور نه درلودنه : په داسې خدای عقيده چه په خپلو مخلوقاتو باندې اغېزه يا غرض نه کوی .

deity, n. الوهيت ، الهه .

dejection, n. خواشينی، خپګان : تشو نه (لکه دمعدې ، کولمو او نورو) .

dejected, adj.

dejectedly, adv.

delay, v.t. ځنډول، ټالول، ځيلول، موقتی بندی کول .

delegation, n. خوندور، خوشالوونکی .

delegate, n. & v.t. نماينده، دهيأت غړی : دپارلمان غړی : نمايندګی کول : بل چا ته سپارل .

delegation, n.

deleterious, adj. زيان ور ، ضررناك .

delft, n. يو ډول کلالی .

deliberate, v.t.i. سنجول، مشوره کول، غور کول، فکر کول: سنجېدل، ځير کېدل.

deliberately, adv.

deliberative, adj.

delicacy, n. تنکی والی، نزاکت، لطافت، پوست والی، عياشی : حساسيت، يوخوندور شی .

delicate, adj. تنکی، نازك ، لطيف ، خوندور ، نفيس، حساس . دسليقې خاوند

delicatessen, n. پخه خوندوره غذا، دداسې خوړو د خرڅلاو ځای .

delicious, adj. خوندور، په زړه پورې: لذيذ .

deliciously, adv.

delight, n. خوشالتيا ، زړه ښه والی ښادی .

delightful, adj.

delightedly, adv

delightfully, adv.

delighted, adj.

delineate, v.t. انځورول ، تصويرول ، نخښه کول ، تشريح کول .

delineation, n.

delinquency, n. جرم ، خطا کاری ، شرارت .

delinquent, adj. بدعمله ، مجرم ، غفلت کار .

deliquesce, v.i. اوبه کېدل، ويلې کېدل

deliquescent, adj

delirious, adj. ابلتی (ابلا کې) ويونکی پرتې ويونکی ، ليونی .

delirium, n. ليونتوب ، سودايي توب، سرسام توب .

deliver, v.t. تسليمول: ازادول: زېږول: گوزار ور کول : ايرادول .

deliverance, n.

deliverer, n.

delivery, n. ازادونه: سپارنه، ايرادونه: گوزار ورکونه : زېږونه: دخبرې کولو يا سندرو طريقه .

dell, n. کوچنی ناوه یا وادی .

delphinium, n. يو ډول گل دی .

delta, n. دلتا : د يوناني الفبا څلورم توری: هغه ځمکه چه د سيل په اثر درود په شاوخوا کې تشکيله شوې وی : د نيل درود دلتا .

delude, v.t. بې لارې کول، گمراه کول، تېرايستل .

delusion, n.

delusive, adj.

deluge, n. پر مځکه د لوی سېل را تلنه، داوبو سېل ، تر اوبو لاندې کېدنه .

delve, v.t.i. کيندل : څېړل: غوټه ور کول يا ډوبول .

demagogue, demagog, n. عوام فريب، هغه څوك چه خلك تېر باسی .

demagoguery, n.

demand, v.t. غوښتل (لکه د پور) : پوښتنه کول : ضرورت درلودل ، مطالبه کول، تقاضا کول .

demarcation, n. د بريد يا سرحد ټاکنه .

demean, v.t ټيټول (پست کول)، ځوړول، کښته کول .

demean, v.t. ښه سلوك كول : زغمل ، تحمل کول .

demeanor, demeanour, n. خوی ، اخلاق .

demented, adj. ليونی .

dementia, n. ليونتوب .

demerit, n. عيب ، تقصير : ناوړه تيا : په ناوړه توب متهم والی .

demesne, n. سیمه ، منطقه ، قلمرو .

demigod, n. نیم خدای .

demijohn, n. ښیښه یی بوتل چه نری غاړه لری .

demilitarize, v.t. له عسکرو خالی کول یا تخلیه کول : غیر نظامی کول .

demse انتقال ، پرېښوونه (لکه د تاج و تخت) : مړینه ، مرگ .

demolization عسکر ترخیصول (له جگړې وروسته) .

demobiliza,tion, n.

democracy, n. دیموکراسی ، د خلکو حکومت، هغه ډول حکومت چه د ټولنې ټول افرادې برابر حقوق لری .

democrat, n.

democratic, adj. دیموکراتیك ، دخلکو دحکومت طرفدار، دیموکراسی ته منسوب.

demolish, v.t. ویجاړول ، خرابول ، ړنګول ، ورانول .

demolition, n.

demon, n. , شیطان .

demoniac شیطانی ، د شیطان تر اثر لاندې ډوله : غضبناك .

demonology, n. دشیطان پېژندنې علم.

demonstrate څرګندول، ښکاره کول: ثابتول : په عملی توګه تشریح کول ، مظاهره کول، تمثیلول .

demonstrable, adj.

demonstrator, n.

demonstration, n. مظاهره .

demonstrative, adj. ثابتوونکی، مدلل : (گر) اشاری صفت یا اشاری ضمیر .

demoralize, v.t. بې زړه کول: دلسرده کول، بې همته کول : وارورخطا کول: فاسدول .

demoraliza'tion, n.

demote, v.i. تنزیل ورکول .

demur, v.i. مذبذب کېدل (دمشکلاتو او دوه زړه والی په اثر): معترض کېدل، تامل کول .

demure, adj. محجوب: درونډ، سنگین، باوقاره : هغه چه اصلا سنگین نه وی خو دا ښکاره کوی چه سنگین دی .

demurely, adv.

demurrage, n. ډیمرېج ، ډیل، ټال ، ځنډ: دټالیدو جرمانه(لکه په گمرك کی پر مالونو).

den, n. غار ، دشیرو ونکو (درنده) حیوانانو استوگنځی : دغلو استوگنځی : دځان له پاره پنا یسته وړوکی کوټه.

denature, v.t. دطبیعت بدلول (دیو شی مخصوصاً الکول چه و نه څښل شی) .

denial, n. انکار ، دغوښتنې ردونه ، دیوې ادعا ردونه : په خپلو غوښتنو بندیز لگونه .

denim, n. جیم ډوله ټوکر .

denizen, n. اوسېدونکی ، مېشته .

denominate, v.t. نوم ایښوول : بلل.

denomination, n. نوم ایښوونه: نوم یا لقب: کومه لویه مذهبی فرقه : واحد یا ارزښت (لکه د پنځو ، لسو ، شلو ، پنځوسو او نورو نوټونه).

denominational, adj.

denominator, n. : نوم ايښوونکی : (حساب) مخرج.

denote, v.t. دلالت کول (پر) : معنی ورکول : څرګندول : اشاره کول : ښوول

denouement, n. : د دسيسې څرګندونه : د کومې پېښې، واقعې او نتيجې ښکاره کول (لکه په ډرام کې).

denounce, v.t. تورول : مخالفه وينا کول : ښکاره تهديدول : فسخ کول (لکه د قرارداد او تړون).

dense, adj. ګڼ : خنښ، ټينګ، مزدحم، متراکم، غليظ : احمق.

densely, adv.

density, n.

dent, n. غاښ.

v.t. غاښ جوړول.

dental, adj. د غاښو، غاښيز، په غاښو جوړولو پورې تړلي چارې.

dentifrice, n. د غاښو مينځلو بوډر.

dentist, n. د غاښو ډاکتر، غاښ جوړوونکی.

dentistry, n.

denude, v.t. لڅول، لوڅول

denudation, n.

denunciation, n. : تورونه، مخالفه وينا : د يو مملکت له خوا د کوم قرارداد فسخ کول : تهديد، بد ويل، چغلي، تهمت، شکايت.

deny, v.t. ردول، انکار کول : د مسئوليت نه منل.

depart, v.i. روانېدل : مړ کېدل.

department, n. څانګه : دايره، شعبه.

departmental, adj.

departure, n. روانېدنه، له يو ځای څخه خوځېدنه (په سفر)، عزيمت، مرګ، انحراف.

depend, v.i. متکي کېدل : مربوطېدل : هيله درلودل : باور درلودل.

dependable, adj

depend'ability, n.

dependant, adj. & n. متکي، هيله ناک : باوري : تکيه : هيله : باور : هغه څوک چه اعاشه يې په بل پورې اړه لري.

dependence, n. اتکا : اړيکه : تابعيت : هيله : باور.

dependency, n. اړيکه : تابعيت : تر لاس لاندې والی (لکه يو هېواد چه د بل هېواد تر لاس لاندې وي).

dependent, adj. تر لاس لاندې : هيله ناک : متکي.

depict, v.t. انځورول : رسمول، عکس اخيستل : تشريح کول.

depiction, n.

deplete, v.t. ستړی کول : خالي کول : قوت يا منابع د لاسه ځني ايستل.

depletion, n.

deplorable, adj. د خواشينۍ وړ : د غم وړ.

deplore, v.t. غم کول، خواشيني کول : زړه سوی ښکاره کول، ويرکول.

deploy, v.t. اوږدول، خپرول (لکه د عسکري جبهې)، له قطارونه په صف کې درول (لکه د عسکرو).

deponent, n. هغه څوک چه تحریری شهادت ورکوی .

depopulate, v.t. کم جمعیت کول ، د نفوسو لږول، ویرانول .

depopulation, n.

deport, v.t. شړل، تبعیدول ، له یوه ځای څخه بل ځای ته لېږدول: سلوك کول .

deportation, n.

deportment, n.. چلند، چلاو، سلوك، وضع

depose, v.t. معزولول، موقوفول، له تخت څخه غورځول: شهادت ورکول خلع کول.

deposit, v.t. امانت ایښودل ، ایښودل، رسوب کول، پاسره ایښوول، ذخیره کول.

n. کاڼی ذخیره .

depositor, n.

deposition, n. معزولتیا، خلع توب(لکه د یوه ټولواك): شهادت : پاسره .

depository, n. مخزن ، د پاسرې یا ذخیره کولو ځای (لکه تجریه یا بانك)

depot, n. ډیپو ، تحویلخانه (لبن) . د جلبی عسکرو د ټولنې او روزنې ځای

deprave, v.t. ویجاړول ، خرابول .

depraved', adj.

deprav' ity, n.

deprecate, v.t. بدګڼل: ناراضی څرګندول.

dep'recato'ry 'adj.

depreciate, v.t. د نرخ یا بیې لږول ، کم بیه کول .

v.i. د نرخ یا بیې لږېدل : لږېدل: ټیټېدل

depr'ecia'tion, n. تنزیل .

depredation,n. چوروچپاو.

depress, v.t. ټیټول : لږول : کښېکښل: له پې غورځول: زړه ور تنګول ، خوابدی کول : سپکول ، تابع کول (په موسیقۍ کې) داواز غوره کول .

depression, n. ټیټوالی، تنزل: ځپنه ، زمولونه ، ځړاویتوب : خپګان : (په اقتصاد کې) د فعالیت کموالی ، بحران کساد .

deprivation, n. محرومیت، بې برخې والی، تاوان ، زیان : خوارې ګالنه .

deprive, v.t. محرومول، بې برخې کول.

depth, n. ژوروالی: کنده ، ګړ ننګ : عمق ، د شی منځ : شدت : په موسیقۍ کې د بوغ بموالی .

deputation, n. جرګه ، مرکه، هیأت .

depute, v.t. نماینده ټاکل: دوظیفې ټاکل.

deputy, n. نماینده ، وکیل : مرستیال .

derange, v.t. ګډوډ کول : لیونی کول .

deportment, n.

derelict, adj. پرې ایښی ، متروك، بېړۍ ، هغه چه د وظیفې په اجرا کې سستی کوی

dereliction, n. بېرته پاتې کېدنه(د وظیفې په اجرا کې) : عیب ، نقص، قصور .

deride, v.t. ملنډې وهل، ټوکې کول(په).

der,ision, n.

deri'sive, adj.

deri'sively, adv.

derivation, n. اشتقاق ، له منبع څخه ځانګړي کول: سرچينه: اقتباس، استخراج .

derivative, adj مشتق ، کچه ، ځانګه، ځانګه شوی .

n. اشتقاق (لکه د يوی کلمې نه د بلې) .

derive, v.t. مشتق کول ، استنباط کول، نتيجه اخيستل: له سر چينې نه اخيستل: د يوې کلمې اصلی ريښه موندل .

derogation, n، زيان اړونه يارسونه ، د بيې کمونه : سپک ګڼنه په خوا ره سترګه کتنه .

derog'ato'ry, adj.

derrick, n. هغه آله چه درانه شيان پورته کوی: پالوان ، جرثقيل.

dervish, n. درويش ، ملنګ .

descant, n. وينا : (مو)د سندرۍ ور سره . غبرګونه (لکه يو چه يې سر وا يی بل يې پای) .

descend, v.i. کښته کېدل : له يوی ګنډی څخه زېږېدل: ميراث ور ته رسېدل: حمله کول .

descendant, n. زوزات ، اولاد .

descent, n. لوېدنه، کوزېدنه، کښته کېدنه ، پښت ، په ميراث رسېدنه.

describe, v.t. روښانول ، تشريح کول: غټ غټ ټکی څرګندول، بيانول .

description, n. سپړنه، تشريح ، ډوله : ډول: د غټو غټو ټکو څرګندونه ، تعريف.

descrip.tive, adj. تشريحی .

descry, v.t. ليدل ، کتل، په نظر کښېوتل: تشخيصول.

desecrate, v.t. اړول ، ملوث کول ، بې حرمته کول .

desecra'tion, n.

desert, n. وړتيا ، لياقت : مکافات ، مجازات .

desert, v.t.i. پرېښوول ، پرېښودل : تښتېدل.

desert, n. د شګو بېديا ، ريګستان ، دښت، وچه ميره .

deserve, v.t.i. مستحق کول: وړ کېدل، لايق کېدل: استحقاق موندل .

deserving, adj.

desiccate, v.t.i. وچول : د وچولو په اثر ساتل: وچېدل .

desideratum, n. غوښتنه، هيله، آرزو .

design, v.t. طرح کول ، تدبير کول ، پلان جوړول ، نخشه جوړول .

n. پلان ، نقشه، هدف، تصوير، ديزاين.

design.er, n. طرح کوونکی .

designate, v.t. ټاکل، غوره کول، نامزد کول معرفی کول، اختصاص ور کول.

des.igna.tion, n.

designing, adj. محيرک ، چالاک، هغه څوک چه په پټه د ځان د ښېګڼې د پاره کار کوی.

desirable, adj. د غوښتنې وړ ، خوشالوونکی، مطلوب ، مرغوب .

desirabil'ity, n.

desire, v.t. غوښتل ، خواهش کول .

n. غوښتنه ، ميل، اشتياق، مطلوب شی .

desirous, adj. د غوښتنی وړ : مشتاق ، ارمانجن، لېوال .

desist, v.i. درېدل: لاس ترې اخيستل .

desk, n. د نوشته کولو میز (آمر) منبر .

desolate, adj. ویجاړ، متروک : زړه تنګوونکی : بې جمعیته .
ویجاړول، بې جمعیته کول، ترک کول .

desolation, n. ویجاړ تیا ، خرابتیا : خفګان : متروک ځای، ویرانی، خرابی، یوازی توب .

despair, v.i. مایوسېدل، نا امید کېدل .
n. مایوسی ، نا امیدی .
despair'ing, adj.

despatch, v.t. وګوری dispatch

desperado, n. سرتېره جنایتکار .

desperate, adj. مایوسه ، نا امیده : خورا کلک: ډېر بد : نه کېدونکی کار : هغه څوک چه چاره یې هم ته رسېدلی وی .
des'perately, adv.

desperation, n. نا امیدی، مایوسی، چه په یوه خطرناك عمل منتج شی .

despicable, adj د سپکتیا وړ، د اهانت وړ

despise, v.t. په بده سترګه کتل، نفرت کول ، کرکه کول .
despis'er, n.

despite, prep, n. سره له دې : کینه : نفرت، کرکه .

despoil, v.t. چورول ، تالا کول .
despoil'er, n.

despond, v.i. بې زړه کېدل .

despondence, n. خپګان ، نا امیدی ، تا تر مېراوي توب .

despot, n. مستبد ، په خپل سر ، هغه ټولواك چه ټول کارونه یې په خپل لاس کښې نیولی وی : ظالم .

despot.ic, adj. ظالمانه ، مستبدانه .

des. potism, n. په خپل سری استبداد .

dessert, n. خواږه خواړه چه تر ډوډۍ وروسته خوړل کېږی .

destination, n. د تللو ځای، منزل مقصود .

destine, v.t. په نظر کې نیول ، مقدر کول معین کول ، تخصیص ور کول .

destiny, n. تقدیر یا سرنوشت ، قسمت

destitute, adj. ډېر خوار او غریب .
destitu. tion. n.

destroy, v.t. ویجاړول، ورانول، تباه کول ، وژل .

destroyer, n. ویجاړوونکی، ورانوونکی یوډول وړه تېزه جنګی بېړۍ .

destruction, n. ویجاړ توب ، ورانی ، خرابی ، تباهی .

destruc.tive, adj. مخرب، ورانوونکی
destruc.tiveness, n.

desuetude, n. متروك والی ، د یوشی نه استعمالونه ، منسوخ والی .

desultory, adj ګډ وډ ، بې تر تیبه : بې مقصده یا بې هدفه : نامربوطه .

detach, v.t. جلا کول، رابېلول .
detach.able, adj.
detached. adj.

detachment, n جلاوالی ، بېلوالی (لښ) یو ټولګی چه له غونډ یا فرقې څخه رابېل شی : انزوا .

detail, v.t. تفصیل ور کول .
n. جز ، تفصیل ، شرح (لښ) د ټاکلی وظیفی د پاره لېږنه .

detain, v.t. بندي کول ، ځېلول ، معطلول ، ځنډول .

detect, v.t. موندل ، څرګندول ، کشفول

detec.tor, n.

detec.tion, n.

detective, n. موندونکی ، څرګندوونکی ، کشفوونکی د جرم کشفوونکی .

detention, n. توقیف ، ځنډونه ، معطلونه ، ځېلونه ، د توقیف ځای .

deter, v.t. وېرول ، منع کول .

deteriorate, v.t.i. وېجاړول ، ناوړه کول ، خرابول له اصلي حال نه اړول خرابېدل ، ناوړه کېدل .

detona. tion, n.

determination, n. پرېکړه ، تصمیم ، فیصله صحیح او په زړه پورې کچه یا تول نتیجه : ټینګکار ، ثبات ، ټینګ عزم .

determine, v.t. پرېکړه کول ، فیصله کول محدودول : څرګندول : معلومول : پر ټاکلې لاره روانول .

deter. mined, adj.

deter. minedly, adv.

determinism, n. معینیت ، هغه فلسفه چه وايي خارجي اسباب د انسان اراده کنټرولوي .

deterrent, n. وېرووونکی : منع کوونکی پر ځای دروونکی .

detest, v.t. نفرت کول ، بد ځېنې راتلل .

detest. able, adj.

detestation, n.

dethrone, v.t. له تخت څخه غورځول ، بې تخته کول : خلع کول (لکه د ټولواک) .

dethron.ement, n.

detonate, v.i.t. چاودل یا چول .

detona' tino, n.

detour, n. موقتي لار چه د اصلي لارې د یوې برخې پر ځای جوړه شي .

detract, v.t. پېلول ، جلا کول ، کمول بې عزته کول .

detrac. tion, n.

detractor, n.

detriment, n. زیان ، تاوان .

detriment. al, adj.

detritus, n. کوډري یا ټوکري چه د طبیعي عملې په اثر مینځ ته راشي (لکه د تېږې په سر چه د ځپرو بارانو په اثر ټوکري موندل شي) .

deuce, n. دوه ټکی ، دوه خطه (لکه د قطعو په لوبه کې) : شیطان ، آفت : د ټینس د لوبې شمېر چه دواړې خواوې څلوېښتو ته ورسېږي .

devastate, v.t. وېجاړول ، وېرانول ، چوړول .

deteriora. tion, n.

develop, v.t. اړتول ، انکشاف ورکول پرمخ بیول : څرګندول ، ښکاره کول : وده ورکول ، ترقي ورکول .

devel. oper, n.

devel. opment, n. انکشاف .

deviate, v.t.i. ګرزول ، له سمې لیکې اړول ، انحراف کول : ګرزېدل ، له سمې لارې اوښتل .

devasta. tion, n. انحراف ، کږېدل .

devjce, n. آله ، وسیله : فکر : تدبیر ،

تږو یو لخشه: نښان: خوږ یا بوښ (جمع) اراده، خواهش.

devil, n. شیطان، ظالم، اوشریر سړی.

dev. ilish, adj.

devilment, n. شیطانی، بدیلتوب، شرارت.

devilry, n. or deviltry, n. بدیلتوب، شرارت، شیطانت دشیطانانو ډله.

devious, adj. بې لارې، بدو بېدلی، سرگردانه، گمراه.

devise, v.t. تدبیر کول، اختراع کول، تجویز کول: (حق) په میراث پرېښودل، په وصیت ورکول (میراث).

n. وصیت، وصیت نامه.

devoid, adj تش، خالی، بې څه.

devoir, n. آداب (د جمع په شکل استعمالیږی)، نمانځنه، وجیبه، وظیفه (په مفرد شکل).

devolve, v.t. ورپرېښودل، ورسپارل.

devolu .tion, n.

devote, v.t. وقفول، جارول، قربانول: اختصاص ورکول.

devot. ed, adj.

dev. otee, n.

devotion, n. وقف، مینه، جذبه: عبادت، لمونځ، ښه سړیتوب (په جمع کی).

devotjonal, adj.

devour,, v.t. په حریصانه توګه ډوډۍ خوړل: ضایع کول، تباه کول، نابود کول.

devout, adj. پاک، صالح، ښه (سړی)، ریښتینی، صمیمی، پرهیزگاره.

dew, n. پرخه، د شبنم څاڅکی.

dewy', adj.

dexterous, dextrous, adj. ماهر، دلاس چالاکی.

dexterity, n.

dexterously,

or

dextrously, adv.

diabetes, n. دیابیت، دشکری ناروغی، یوډول ناروغی چه مثیازی یې ډېرې څی او ناروغ پر له پسې ضعیفه کیږی او دخپل بدن درنښت بایلی.

deabetic, n.

diabolic, adj. شیطان ډوله، پساتی، شریر.

diadem, n تاج: (مجازاً) ټولواکی.

diagnosis, n. موندنه، تشخیص (دناروغی)

di.agnose, v.t.i.

di. agnostic, adj.

diagonal, adj. وښنده یار بونده، دڅلورضلعی شکل قطر: په ربونده توګه یا په ریښنده ډول.

diagram, n. هندسی شکل: انځور یا طرح.

diagrammat.ic, adj.

diagrammatically, adv.

djal, v.t. دساعت مخ: لمریځ ساعت: څرګندول، ښکاره کول. ټیل (دډایل په واسطه)، د تلفون ډایل کول (نمره وهل).

dialect, n. لهجه (دیوې ژبې).

dialectic, n. & adj. ډیالکتیک: جدل،

کوونکی ، اړوونکی یا تغییروونکی : منطق، مناظره : دجدل او مناظرې په اثر دحقیقت موندنه: منطقی ، دمناظرې په توګه دجدل په ډول دمنطق هغه څانګه چه داستدلال قواعد او ډولونه بیانوی .

dialogue, dialog, n. ډیالوګ ، خبرې اترې، پوښتنې او جوابونه ، مکالمه .

diameter, n. قطر (دایره): پریړ والی پنډوالی .

diamond, n. الماس : څلورنیم بوټه حروف : لوزې ، معین (هندسه).

diaper, n. دکتان ټوکر : دماشوم کنسترګی .

diaphanous, adj. روڼ، ځلانده

diaphragm, n. ډیافرام (طب) پردین (حجاب حاجز) هغه پرده چه نس او اړمون سره بېلوي .

diarrhea, diarrhoea, n. اسهال، نسبهنی، دنس ناسته .

diary, n ورځنی یادداشتونه .

dibble, n. پلن یوم، بیلچه چاری رمبی

dice, n. چکه پاو (دقماردانې).

dichromicacid, n. د کروم تېز اب : یو ډول تروه چه مالګه ترینه جوړېږي .

dichromates,

dicker, n. چنه، چنې وهنه (په سودا کې) (جګړه .)

dickey, dicky, n. لمن، پیش بند: دچوپړ دکښېناستلو ځای (په بګۍ کې) دعرادې د چلوونکی چوکی یا ځای .

dicotyledon, n دوه پاڼی بوټی یا هغه بوټی چه دوې پاڼی کوي، دوه مشیمه نبات .

dicotyledonous, adj.

dictate, v.t. دېکته کول ، املا ویل : حکم کول ، په زوره ویل .

dictation, n.

dictator, n. دکټاټور، مستبد : هغه څوک چه په دولتی چارو کې ډېر زیات واک لری.

dictatorship, n.

dictatorial, adj.

diction, n. دوینا په وخت کی د کلمو انتخاب، دښو الفاظو انتخابونه : وینا.

dictionary, n. ډکشنری ، قاموس ، دلغاتو معناګانې چه دالفبا په ترتیب سره پکښې را غلي وي .

dictum, n. وینا ، دنظرېې څرګندونه رسمی اعلامیه .

did, د do ماضی .

didactic, adj. تعلیمی ، تربیتی ، ادبی

die, v.i. مړ کېدل .

die, n. ګاټی، ګټی (دتخته نرد) : دچکه پاو دانې، دجوارې یا قماردانی : دېرې کولو آله ، اسباب .

dielectric, adj. برېښنا نه تېروونکې آله عایق .

diet, n. خواړه، غذا: پرهېز : غذایي رژیم

di.etary, adj. n.

differ, v.i بېلېدل ، تفاوت درلودل ، اختلاف درلودل ، شخړه ارل .

difference, n. فرق ، مخالفت ، توپیر ، تفاوت ، تبعیض : مشاجره .

different, adj.

differently, adv.

differential, adj. تشخیصوونکی، توپیر

د موقر هغه ګير چه ګړي نه يتوب ته تغيير ور کوي : (رياضي) تفاضلي .

differentiate, v.t. تشخيصول ، فرق ور کول .

differentiation, n.

difficult, adj. مشکل ، ګران ، سخت .

difficulty, n. سختي ، ګراني : ربړ .

diffidence, n. پر ځان ويسا نه لرنه ، محجوبيت .

diffdent, adj.

diffuse, adj. شيندلی شوی ، تيت شوی .

diffuse, v.t.i. شيندل ، تيتول ، خپرول : تيتېدل ، شيندل ، کېدل ، خپرېدل .

dig, v.t. کيندل ، کيندل .

dig'ger, n.

digest, n. مجموعه، خلاصه (د قوانينو يا مضامينو) .

digest. ible, adj.

diges. tion, n.

digest, v.t. هضمول (د خوړو): په منظمه توګه ترتيبول : تحمل کول : يو شی په داسې توګه اړول چه د جذب وړ وګرځي .

digit, n. د لاس يا پښې ګوته : رقم : دانچ $\frac{۳}{۴}$ برخه .

dignified, adj. درونه ، د وقار خښتن ، معزز .

dignify, v.t. درنول ، د وقار ور کول ، امتياز ور کول ، لوړول .

dignitary, n. د عزت ، مقام او حيثيت خښتن .

dignity, n. درنښت، وقار، حيثيت ارزښت لوړ مقام .

digress, v.i. يوې خواته کېدل، له اساسي موضوع څخه او بنتقل (په خبرو کې) انحراف کول (له موضوع څخه) .

digres. sion, n.

dike, n. بند (په تېره بيا هغه بند چه په هالنډ کې يې د سيند داوبو په مقابل کې جوړ وي او په دې توګه له سيند څخه مځکه لاس ته راوړي) .

dilapidated, adj. زوړ، وېجاړ شوی، له کاره وتلی (تر يوې اندازې) .

dilap. idation, n.

dilate, v.t. لويول اوږدول ، پړسول (د پوکولو په اثر)

dila. tion, n.

dil. **atation**, n.

dilatory, adj. ورو، سوکه، ځنډوونکی

dilemma, n داسې يو حالت چه يو سړی مجبور وي د دوو داسې خواوو څخه يوه غوره کړي چه يوه هم د ده پر طبيعت برابره نه وي : مشکل انتخاب(لکه چه وايي يوې خواته پان دی بلې خواته پړانګ دی) .

dilettante, n. د ښکلو صنايعو هغه خوښوونکی چه د هوس له مخې د هغو دزده کولو هڅه کوي .

diligent, adj. خوارې کښ، زيار کښ، د کار په کولو پسې شارو او ساعي .

dil. igently, adv.

dil. igence, n.

dill, n. يو ډول نبات چه ښه بوی لري (شبت)، سووه ، شنه : يو بوټي چه داني او

پاڼې يې تر يو خوند لري او په اچارو کې استعمالېږي .

dilute, v.t. اوبلنول ، رقيق کول .

dilu. tion, n.

dim, adj. تت ، هغه چه روڼ نه وي : ډېم : مبهم .

dim, v.t.i.

dim. ness, n.

dim. ly, adv.

dime, n. (امر) دلسو سنټو سکه .

dimension, n. بعد (اوږدوالی ، سوروالی ، پېړوالی): حجم ، لویوالی : اهمیت : انداز‌ه .

diminish, v.t. لږول ، کمول .

diminutive, adj. ډېر لږ ، خورا لږ .

dimity, n. دمالوچو يوه ټوټه ده چه پلنې اوږدې اوږدې ليکې لري او د پردو دپاره استعمالېږي

dimle, n. د زنې يا د باړخو ښا : د اوبو پر سر کمکې څپه .

din, n. لوړ ږغ ، کړېږه ، ږوږ يا زوږ .

v.t. په مکرر ډول تکرارول .

dine, v.t.i. دماښام ډوډۍ خوړل ، ډوډۍ خوړل ، مړول (په ډوډۍ) .

diner, n. ډوډۍ خوړونکی : په رېل کې د ډوډۍ خونه .

dinghy, n. کوچنۍ بېړۍ .

dingle, n. کوچنۍ ناوه يا وادي چه په ونو پټه وي يعنې ډېرې ونې پکښې ولاړې وي .

dingy, adj. خېرن : زوړ .

din. gIness, n.

dinner, n. دماښام ډوډۍ ، رسمي مېلمستيا

dinn. ertime, n.

dinosaur, n هغه لرغونی ستر حیوان چه پوسېده په ښو يېده او اوس نشته .

dint, n. ګوزار ، ضربت : غښتلوالی ، قوت .

diocese, n. هغه ښار يا منطقه چه د يوه عيسوي ملا (پادري) تر اثر لاندې وي

dip, v.t. غوټه کول (په اوبو کې) ، ښخول کښته کول او بېرته سمد لاسي پورته کول (لکه د بيرغ) .

diptheria, n. ديفتري ، خناق (يو ډول ناروغي ده) .

diphthong, n. هغه دوه ږغيز اوازونه چه د يو ځاى کيدو څخه يې يوه هجا جوړېږي لکه ، زه ، په ، کښې او داسې نور .

diploma, n. ډيپلوم ، بري ليك د تحصيل سند.

diplomacy, n ډيپلوماسي ، د ملتونو ترمينځ د مفاهمې د چارې ساتلو فن .

dip.lomat, n. سياستمدار .

dip. lomatic, adj. سياسي .

diplo. matist, n. د سفارتي چارو ماهر .

dipper, n. څمڅې ، کاچوغه .

dipterous, adj. دوه وزري حشره .

dire, adj. ډېر وېروونکی : خورا خوفناك ډېر ناوړه : د افراط حد ، خورا ډېر .

direct, adj. سم ، نېغ ، مستقيم .

v.t. لارښوونه کول ، امر کول ، اداره کول ، شارل .

direction, n. خوا ، طرف : لارښوونه ، هدايت

director, n. مدیر ، لارښوونکی .

direc'torship, n.

directorate,

directory, n. لارښوونکی : د یادداشت
کتابچه : داجرائیي هیئت (دفرانسې
په انقلاب کی) : دټلیفون یا تجارت
لارښوونی یا رهنما .

direful, adj. ویره وونکی : ډیر ناوړه
خوراخوفناك .

dirge, n. د خواشینۍ او غم ساز :
ساندی : دغم سندری :

dirijible, adj. دلارښوودلی وړ .

n. هوایی جهاز ، الوتکه .

dirk, adj . چاړه یا پیش قبضه ، ساتوره .

dirt, n. خاوره : چټلی ، ناپاکی .

dirty, adj. په خاورو لړلی ، ناپاکه ، چټل
طوفانی (هوا) .

disable, v.t. له زوره اچول ، کمزوری
کوز ، ناتوانه کول ، گوډ ول .

disabuse, v.t. نه غولول : له اشتباه څخه
را ایستل .

disadvantage, n. ناوړه حالات یا شرایط :
زیان ، تاوان ، ضرر .

disaffected, adj. بی مینی ، سوړه ، بې وفا ،
ناراضه .

disagree, v.i. مخالفېدل ، ناموافق کېدل

disagreeable. adj. بد خویه ، بد خلقه ،
ناموافق .

disallow, v.t. غندل : نه راپرېښودل ،
نه منل ، ردول .

disappear, v.i. له نظره پټېدل یا غایبېدل
ورکېدل .

disappoint, v.t. مایوس کول ، نا مینده
کول .

disapprove, v.t. بد گڼل ، تقبیح کول ،
نه قبلول ، ردول .

disarm, v.t. بې وسله کول، وسله ځنې اخیستل .

disarmament, n. خلع سلاح ، بې وسله والی ،
وسله اخستنه .

disarrange, v.t. گډوډ کول ، سره لړل
بې ترتیبه کول .

disarrangement, n. گډوډوالی ،
بې ترتیبی .

disarray, v.t. گډوډ کول ، بې نظمه کول
لړول .

n گډوډی ، بې نظمی .

disaster, n. ټکه ، ناوړه ، پېښه ، بدبختی ،
ناورین .

disavow, v.t. ځان ، نا گمانه اچول ،
انکار کول ، ردول .

disband, v.t. تیت و پرك کول ، شو پشو کول ،
ماتول (لکه دعسکري قطعاتو)

disbar, v.t. دوکیلانو له ټولنی څخه
ایستل ، دوکالت له حقه محرومول .

disbar, n. محرومونه (د وکالت له حق څخه) .

disbelieve, v.t. عقیده نه پرې درلودل، باور نه پرې کول .

disburse, v.t. تادیه کول (د پیسو)، خرڅول (د پیسو) .

disc, n. پلنه تخته، دایره، ټیکلی (قرص)، د گرافون ټیکلی .

discard, v.t. ایسته غورځول: ټوټې ټوټې کول: ترک کول په پتو کې د ورکو غورځول .

discern, v.t. لیدل پوهېدل (په)، تشخیصول .

discharge, v.t. بری الذمه کول: تشول: رخصتول: ایستل، موقوفول: پر ځای کول: (برق) برقي چارج ځنې لېرې کول: له کاره ایستل .

disciple, n. شاگرد، مرید .

discipleship, n. شاگردي، مریدي، په یو چا پسې تگ، پیروي .

discipline, n. ډیسپلین، سمون، انضباط، انتظام: سزا: روزنه .

disclaim, v.t. له هوډول ادعا څخه انکار کول، له ټولو حقوقو سترگې پټول: نه منل، انکار کول .

disclose, v.t. څرگندول، ښکاره کول .

discolor, or discolour, v.t. بې رنگه کول، بې ډوله کول: ویجاړول: بڼه بې گرزول: لکه دار کول .

discomfit, v.t. خنثی کول، بې اثره کول، ماتول، له موانعو سره مخامخ کول: باطلول .

discomfort, n. & v.t. نا ارامتیا، د جسم یا دماغ نا ارامي: مایوسي، تکلیف ورکول .

discompose, v.t. گډوډ کول، پارول، لالهانده کول، مضطرب کول .

disconcert, v.t. لاس و پښه کول، وارخطا کول، ورانول، باطلول: مشوش کول.

disconnect, v.t. جلا کول، بېلول، پرېکول، غوڅول .

disconsolate, adj. غمجن، زړه ماتی، نه تسلي کېدونکی.

discontent, adj. ناراضه، ناخوښه .

discontinue, v.t. پرې کول، نه پسې اوږدول، موقوفول، ځنډول .

discord, n. بېلوالی، توپیر: جگړه، نفاق، لانجه، اختلاف .

discordant, adj. غیر موافق، مخالف، مغایر .

discount, n. لږونه، د بیې را ټیټونه، تخفیف، لږول، کمول، تخفیف ورکول v.t.

discountenance, v.t. ناخوښول، ښه نه گڼل، منع کول: ملاتړ نه کول، شرمنده کول، شرمول .

discourage, v.t. د لسرده کول، زړه ورتورول: ښه نه گڼل: مخه نیول، بې جرأته کول .

discourse, v.t. خبرې اترې، وینا کول په یوه موضوع کې د خبرو و یا لیک په ذریعه بحث کول .

n. خبرې اترې وینا یا لیکنه (په یوه جدي موضوع کې) .

discourtesy, n. بې تهذیبي ، بې ادبي ، سپین سترګي ، یو بې تهذیبه عمل .

discover, v.t. موندل ، څرګندول ، لوڅول : ښکاره کول : کشفول .

discredit, n بې اعتباري : بدنامي ، بې اعتقادي .

v.t. بې اعتباره کول ، بدنامول بې اعتقاده کول ، بې اعتماده کول

discreet, adj. محتاط ، پوه ، د بصیرت خښتن

discrepancy, n. توپیر ، اختلاف .

discretion, n. واک ، اختیار ، پوهه ، رایه بصیرت جلاوالی ، بېلوالی ، احتیاط ، انصاف

discriminate, v.t. تبعیض کول ، توپیر کول بېلول ، له یوه چا سره د بل چا په نسبت بېله رویه کول : پېژندل ، تمیز کول .

discursive, adj. تېت ، ګډوډ : له یوې موضوع څخه بلې موضوع ته اوښتونکی : استدلالي ، منطقي ، معقول .

discuss, v.t. مباحثه کول ، څېړل : په خوند خوړل .

disdain, v.t. په خواره سترګه ورته کتل سپک ګڼل ، کبر کول ، اهانت کول ، کرکه ځني کول .

disease, n. ناروغي ، جسمي یا فکري ناروغتیا ، مرض ، علت .

disembark, v.t.i. له بېړۍ یا الوتکې څخه پلي کول یا پلي کېدل ، پروچه پلي کېدل .

disembody, v.t. بېلول (له جسمه جلا کول) تېتول ، شوپشو کول .

disenchant, v.t. له خرافاتو څخه ازادول ، له خیالي دنیا څخه را پرسد کول ، له بې ځایه تصور څخه را ایستل .

disengage, v.t.i. بې شغله کول ، بېکاره کول : ازادول ، له قیده را ایستل ، خلاصول : بې شغله کېدل ، بېکاره کېدل ، خلاصېدل .

disentangle, v.t.i. خلاصول ، د چا له منګولو را ایستل : صافول : خلاصېدل ، سمول .

disestablish, v.t. لغوه کول ، تېتول : کلیسا له دولت څخه بېلول .

disesteem, n. په خواره سترګه کتنه ، بې اهمیتي ، بې اعتباري ، بې قدري

disfavor n. نه خوښونه ، ناخوښي ، بې میلي بې علاقګي ، بې اعتباري ، بېزاري ، قهر

disfigure, v.t. بې بڼې کول ، بې ډوله کول ، بې مخه کول ، بدرنګه کول .

disfranchise, v.t. د رایې له ورکولو څخه محرومول ، د تابعیت له حق څخه محرومول .

disgorge, v.t. کانګې وهل ، خوړو وهل ، یې بېرته را ګرزول ، (تر خولې) قی کول .

disgrace, n. سپکوالی ، شرم ، بې حرمتي رسوایي : مخ توري :

disguise, v.t. بڼه بدلول ، بدلې جامې اغوستل ، حقیقي ماهیت بدلول : ځان په بل شکل جوړول .

disgust, n. کرکه ، بېزاري ، تنفر ، قی—

dish, n. قاب ، پشقاب : خوراک : په قاب کې شیان .

v.t. په پشقاب کې اچول ، خطا ایستل مقهر کول .

dishearten, v.t. بې زړه کول، بې همته کول، روحیات یې کمزوری کول، دلسوده کول.

dishevel, v.t. تیت یا بې نظمه کول (لکه د ویښتانو) مروړل، تیتول.

dishonest, adj. منافق، بې ایمانه، چلی، بې اعتباره.

dishonour, n. سپکوالی، بې شرفي، بې حرمتي، بې احترامي.

disillusion, n. له اوهامو خلاصونه، له غفلته را ایستنه.

disinclination, n. نه غوښتنه، بې میلي، کږېدنه: ورانوالی یا مخالفت.

disinfect, v.t. دعفونې ضد کول (لکه د خونې یا جامو)، یو شی داسې چمتو کول چه میکروبونه ور باندې تاثیر ونه شي کولای.

disingenuous, adj. چلی، بې اخلاصه، حیله ناك، چالاکه.

disinherit, v.t. له میراثه محروم، عاق کول.

disintegrate, v.t. شوپشو کول، تیت و پرك کول، څپل، ټوټې کول، تجزیه کول.

disinter, v.t. له خاورو را پورته کول، له قبر څخه را کښل، له گمنامۍ څخه را ایستل.

disinterested, n. بې طرفه، بې علاقې، بې غرضه، بې تعصبه.

disjoin, v.t. جلا کول، بېلول، سره کښل.

disjoint, v.t.i. بند بند جلا کول، بېلول، جلا کول (له مفصل څخه): بند بند جلا کېدل، بېلېدل.

disjointed, adj. له بنده ختلی، بې ځایه، بې ترتیبه، بې رابطه.

disk, disc, n. ټبی، ټیکلی، تپځنه، د لمر سترګه.

dislike, v.t. کرکه کول، نفرت کول، بد راتلل (مخنی)، نه خوښول.

dislocate, v.t. بې ځایه کول: بې ترتیبه کول.

dislodge, v.t ایستل، بې ځایه کول، له پټه ځایه را ایستل.

disloyal, adj. بې وفا، بې عقیدې: خاین.

dismal, adj. سوړ، مړاوی، غمجن.

dismantle, v.t. لغړول، لوڅول، بې اسبابه کول، ورانول، ویجاړول، پیاده کول.

dismay, v.t. وېرول یا بېرول، بې زړه کول، بې جرأته کول.

n. بې زړه توب، بې جرأتي.

dismember, v.t. بند په بند بېلول، جلا کول، بېلول، ټوټه ټوټه کول، پرې کول.

dismiss, v.t. موقوفول، له کاره شړل: لیرې کول (حق): نه اورېدل یا غوږ نه ورته نیول (عدم سمع)، بې اعتنائي کول: رخصتول.

dismount, v.t. پلی کېدل، راکوزېدل (له آس موټر او داسې نورو څخه).

disobedience, n. بې اطاعتي، نافرماني، غاړه غړونه.

disobey, v.t. غاړه غړول، اطاعت نه کول، امر نه منل، سرکښي کول.

disorder, n. گډوډي، بې نظمي، بې ترتیبي، الدوډوډ: ناروغي.

disorderly, adj. & adv.

disorganize, v.t. ګډوډ کول، بې ترتیبه کول، بې ارادې کول، شوپشو کول، تیت و پرک کول.

disorganization, n.

disown, v.t. انکار کول، غاړه غړول، ردول، ایسته ار تېل: د ځان نه ګڼل.

disparage, v.t. کښته ګڼل، بې اهمیته بلل: د چا له فضیلات څخه انکار کول، بې اعتبار ول، بې قدره کول.

disparagement, n.

disparity, n. توپیر، فرق، اختلاف.

dispassionate, adj. بې تعصبه، بې عاطفې، بې طرفه، سوړ، غلی، ارام، بې شفقته.

dispatch, despatch, v.t. لیږل، استول: اعدام کول: برطرفه کول، مخابره کول،

n. پیغام، زیری، چابکی.

dispatcher, or despatcher, n.

dispel, v.t. ایستل، شړل، خور ځول، ردول، ورکول، تیتول.

dispensary, n. هغه ځای چه هلته ناروغانو ته وړیا یا په قیمته بیه دارو درمل ور کول کیږی.

dispensation, n. وېشنه، توزیع، قسمت، نصیب، معافیت: د قوانینو مجموعه (په تیره د مذهبی قوانینو).

dispense, v.t. وېشل: اداره کول: استثنا کول یا بخښل: سمول یا جوړول (لکه د دوا ګانو): اجرا کول: اصلاح کول: تطبیق کول، معافول.

dispenser, n. جوړوونکی: وېشونکی.

disperse, v.t. تیت او پرک کول، شو په شو کول: وېشل.

dispersal, n. تیت و پرک کونه.

dispersion, n. وېشنه.

dispirit, v.t. بې زړه کول، مړاوی کول: سړول، بې جراته کول.

displace, v.t. بې ځایه کول: د بل چا ځای نیول: موقوفول.

displacement, n. ځای نیونه، برطرفی، حجم یا وزن (د یوه مایع).

display, v.t. څرګندول، ښکاره کول، ښودل.

n. نمایش (ښودنه).

displease, v.t. خپه کول، زړه بدول.

displeasure, n. خپګان: ناراضی: مشکلات، ربړ: خپه کوونکی.

disport, v.t.i. ساعت تېرول، اتڼ کول، خوشالی کول، لوبې کول، خوشالېدل، لوبې کول.

dispose, v.t. سمول، ترتیبول، سنبالول، تنظیمول: فیصله کول: په خاص ډول استعمالول، متمایل کېدل، ځان څنې خلاصول.

disposer, n. سموونکی، تنظیموونکی.

disposal, n. ترتیبونه: واک، اختیار.

disposition, n. ترتیب، تنظیم: وېشنه، توزیع: د شتمنی د وېشلو پلان: طبیعی میلان: طبیعت، مزاج: حالت: واک: شخصیت.

dispossess, v.t. بې شتمنی کول: لیری کول: د باندې ایستل: محرومول.

dispraise, v.t. غندل، له پیې غورځول.

n. غندنه.

disproportion, n. بې تناسبی، بې موازنګی

v.t. بې تناسبه کول، بې موازنې کول .

disproportionate, adj. بې تناسب .

disprove, v.t. غلط ثابتول، تردیدول .

disproof', n. ردونه

dispute, v.t.i مناقشه کول، جګړه کول
بحث او مباحثه کول .

v.i. منکر کېدل: ردېدل: جنګېدل .

dis putable, adj د جګړې وړ .

dis putation, n. جګړه، دنګله .

dis putant, n. جګړه مار .

disqualify, v.t. د حق یا امتیاز څخه بې
برخې کول، نا مطلوب ګڼل: بې
صلاحیته کول .

disqualification, n. د صلاحیت نه لرل، عدم
صلاحیت .

disquiet, v.t. نا راموول، بې کراروول .

adj. نارامه، ناکراره .

disquitude, n. نارامی، اضطراب،
اندېښنه .

disquisition, n. څېړنه، پلټنه: هغه مقاله
یا رساله چه د څېړنې په اثر لیکل شوې وي .

disregard, v.t. بې اهمیته ګڼل، په سپکه
سترګه ورته کتل پام ورته نه کول .

n. بې اعتنایی، بې اهمیتی .

disreputable, adj. بدنام: بې اعتباره
سپک: ورک .

disrepute, n سپک تیا، بې اهمیتی،
بې اعتباري، بدنامی بدخویی، رسوایی

disrespect, n. په سپکه سترګه کتنه،
بې احترامی، بې حرمتی، بې ادبی

disrespectful, adj.

disrobe, v.t.i. لغړول، لوڅول، کالی
ترېنه ایستل، کالی کښل

disrupt, v.t.i. پرېکول، ماتول، جلا
کول، چول، ماتېدل، چاودل، په شدت سره
خارجېدل .

disruption, n.

dissatisfaction, n. ناراضی توب،
خپګان، قناعت نه درلودنه، ناخوشی .

dissatisfy, v.t. ناراضه کول، زړه
وربدول، خپه کول، خوابدی کول

dissatisfied, adj ناراض .

dissect, v.t. پو برخو وېشل، برخې برخې
کول، ټوټې ټوټې کول، تجزیه کول،
تحلیلول، تسلیخ کول .

dissection, n.

dissemble, v.t. بڼه اړول یا بدلول،
پټول، پلمه کول، ځان کوڼ اچول .

dissembler, n.

disseminate, v.t. تیتول، پاشل (لکه د تخم)
وېړول: خپرول: په بله بڼه اړول .

disemination, n.

dissension, n چپوالی یا انحراف: توپیر،
اختلاف: جګړه، نفاق .

dissent, v.i. مخالفت کول (په عقیده کې):
جلا کېدل، بېلېدل، مختلف کېدل .

dissentient, adj.

dissent.er, n.

dissertation, n. دیسرټېشن (هغه اثر چه
د ډاکټرۍ د درجې د اخیستلو د پاره لیکل
کېږي)، مقاله، رساله، رسمی لیکنه .

disservice, n. زیان، بدی، آزار .

dissever, v.t. جلا کول، بېلول، پرې کول

dissimilar, adj. ناورته (غیر مشابه)
بې شباهته، مختلف .

dissimulation, n. پټونه ، بڼه اړونه ، د درواغو بانه : مکر ، غولونه .

dissipate, v.t. شو پشو کول ، تیت و پرک کول ، جلا کول .

dissipation, n. شو پشو والی .

disspated, adj. شو پشو شوي ، حل شوي

dissociate, v.t.i. له ټولنې یا ډلې څخه جلا کول ، بېلول : جلا کېدل ، بېلېدل .

dissociation, n.

dissolute, adj. هرزه ، بداخلاقه .

dissolution, n. تجزیه ، انحلال ، ماته ، مړینه ، زوال ، تباهي .

dissolve, v.t. ویلول ، ویلې کول ، اوبه کول ، حل کول ، ګډوډ کول : منحل کول

dissonance, n. توپیر ، اختلاف ، نه جوړښت (عدم توافق) : ناروغتیا .

dis.sonant, adj.

dissuade, v.t. اړول (له فکره یا یوه کاره) ګرزول ، منصرف کول : بد ګڼل .

distaff, n. څرخې ، څرخ ، هغه شی چه سنې پر تاوشوې وي : (اصطلاح) د ښځو کار : ښځه .

distance, n. واټن ، فاصله ، لیرې ځای مخالفت : موده : تفوق : سړه وضع

distant, ad. لیرې : توپیرلرونکی : سوړ (غیر صمیمي) .

distantly, adv.

distaste, n. له خوښونه ، بې خونده تجربه ، کرکه .

distasteful, adj بېزاره ، بې میله .

distemper, n. & v.t. دماغي ناروغي : اختلال ، د سپي یو ډول مهلکه ناروغي : بد ذوقي : ګډوډ کول ، ناروغه کول

distend, v.t. اوږدول ، لوبول ، پړسول ، ارتول ، ډکول .

distention, n.

distill, distil, v.i. نیڅېدل ، څڅېدل (تقطیر کېدل ، تصفیه کېدل) .

v.t. تصفیه کول ، تقطیر کول .

distill.er, n.

distill.ery, n.

distillation, n. نڅونه ، چڼ (یا چوڼ) ، څڅونه (تقطیر ، تصفیه) .

distinct, adj. منفرد : څرګند ، ښکاره : اوځار ریا ممتاز : روڼ : ساده : واضح

distinct.ness, n.

distinction, n. څرګندوالی ، اوځارتوب : امتیاز : ښه والی ، ترجیح ، ناوړه والی ، تبعیض .

distinctive, adj. ممتاز ، څرګند ، ځا کلی : جلا ، مشخص : اوځار (ممتاز) .

distinguish, v.t. توپیر ورکول ، جلا کول : لوړول ، ستړول : نامتو یا نوموړی کول : تشخیصول ، درک کول : تصنیف کول .

distinguishable, adj.

distinguished, adj. اوځار ، مشخص : لوړ ، نوموړی یا نامتو .

distort, v.t. ګرزول ، اړول ، کږول ، پېچل ، تاوول ، بې ډوله کول : بد څرګندول ، ناوړه ښوول : تحریفول : بل ډول تعبیرول .

distor.tion, n. اړونه ، ګرزونه ، تحریفونه .

distract, v.t. گرزول ، اړول (لکه د نظر یا تو ، توجه) منحرف کول : جلا کول وېشل : مضطرب کول : لیونی کول : پارول .

distrac.tion n.

distrait, adj. سربداله : پرېشان حاله .

distraught, adj. لیونی ، گیچ .

distress, n. غم ، زړه تنگی ، لاس تنگی ، نیستی (د پیسو) غریبی : ناروغی ، خوږ : دخطر حالت : مصیبت . (حق) گرو .

distressful, adj.

distribute, v.t. وېشل ، وېشول ، جلا کول ، خپرول ، توزیع کول .

distribu.tion, n.

distrib.utor n.

district, n. سیمه ، منطقه ، علاقه ، ناحیه .

distrust, n. بې اعتباری ، بدگمانی ، بې اعتمادی ، شك .

distrust.ful, adj.

distrub, v.t. ځپول ، گډوډ کول ، نارامه کول ، اخلالول ، حواس ور پرېشانه کول ، مزاحم کېدل

disturber, n.

disturb.ance, n. لاس وهنه کول .

disunite, v.t. بې اتفاقه کول ، جلا کول ، بېلول ، شو پشو کول ، چاك اچول .

disuse, n. نه استعمالونه ، له استعمال څخه اچونه : پرېښودنه .

ditch, n. لښتی ، کندی ، ژوره ، تشی ځای .

ditto, n. ایضاً : لکه د مخه .

ditty, n یوه لنډه ساده سندره .

diurnal, adj ورځنی روزانه ، ورځنی وخت

divan, n. دیوان ، کوچ ، هغه اوږده چوکی چه هم پر کښېنی او هم پر غځېږی

dive, v.i. په اوبو کې غوټه کېدل : له پاس څخه د الوتکی په کښته توب را ټیټېدل

div.er, n.

diverge, v.i. شو پشو کېدل : یو له بله جلا کېدل ، لیري کېدل (یو له بل څخه) .

divergency, n. لیري والی : اختلاف .

divergernt, adj. لیري .

diverse, divers, adj. څو ، متعدد ، ډېر ، مختلف ، ډول ډول .

diversify, v.t. ډول ډول کول ، بېله بېله بڼه ور کول ، توپیر ور کول .

diversification, n. توپیر .

diversion, n. کږېدنه ، اوښتنه ، انحراف ، چپېدنه : ساتېري .

diversity, n. توپیر ، اختلاف ، نه ورته والی ، تنوع .

divert, v.t. اړول ، گرزول ، منحرف کول : منعکس کول : یوې خواته کول سات ور تېرول .

divest, v.t. لغړول ، لوڅول ، وسله ترېنه اخیستل : له حقوقو محرومول ، تشول .

divide, v.t. تقسیمول ، بېلول ، جلا کول وېشل ، برخې برخې کول : غوڅول ، پرېکول : ټوټې ټوټې کول .

divid.ing, adj. وېشل شوې ، وېشونکی .

dividend, n. برخه ، سهم (لکه د بانك یا شرکت) : د وېشلو وړ پیسې .

dividers,n. pl وېشونکی : د وېشلو پرکار

divination, n غیب وینه ، اټکل ، پال کتنه ، پېشگویی .

divine, adj.	سپېڅلی، مقدس، آسمانی، خدایی، ستر، لوی.
divine.ly, adv	آسمانی ډول، په روحانی توګه.
divin.er, n.	غیب ویونکی: روحانی.
divinity, n.	الوهیت، روحانیت خدایی
divisible, adj.	دویشلو وړ.
division, n.	تقسیم، وېش، برخه، اختلاف، تفرقه: (اېش) فرقه.
divisor, n	(حساب)، مقسوم علیه.
divorce, n.	پرېښوونه، طلاق، جدایی
divorce, v.t.	پرېښودل، طلا قول.
divorce.ment, n.	طلاق، پرېښودنه.
divulge, v.t.	څرګندول، ښکاره کول
dizzy, adj.	له خوبه ډک، خوبولی: سربداله، ګېچ: بې فکره، ګنګس، ډوب.
dizzily, adv.	د سربدالی په ډول.
dizziness, n.	پرکالتوب.
do, v.t.	کول: اجرا کول: بشپړول: پای ته رسول: جوړول: کار کول ترتیبول یا چمتو کول (مجازا) غولول.
doat or dote, v.i.	احمقانه مینه درلودل
docile, adj.	د ایلېدو وړ، د تابع کېدو وړ، د مطیع کېدو وړ: د روزل کېدو وړ.
docil.ity, n.	
dock, n.	ترووکی، شلخی.
dock **v.t.**	لنډول، پرې کول، لږول بېلول
dock v.t.	
dock, n	د بېړیو د لنګر اچولو ځای.
dock, n.	په محکمه کې د بندی د درېدو یا کښېنستو ځای: د لکۍ وروستۍ کلکه برخه.
docket, n.	د حقوقي دعوو د ثبتولو دفتر، (امر) د غونډې اجندا.
docket, v.t.	
dockyard, n.	د بېړیو د جوړولو یا ترمیمولو ځای: د بحری لوازمو تحویلخانه.
doctor, n.	ډاکتر، طبیب.
doc.toral, adj.	
doc. torate, n.	
doctrine, n.	دوکتورین، عقیده، مفکوره، اصول، نص.
doc.trinal, adj.	
document, n.	سند.
doc.ument, v.t.	
documen.tary, adj.	مستند.
dodge, v.t.i.	یوې خواته کېدل، یوخوا بلې خواته اوښتل: چل وهل، چلبازی کول: په چټکۍ سره ځان ګوښه کول: د چالاکۍ څخه کار اخیستل.
dodge, n.	
doe, n.	د هوسیو، غرڅو، سوی، مونث جنس.
doe.skin, n.	
does,	د do د مفرد غایب صیغه.
doff, v.t.	ایسته کول، لیری کول (لکه د کالو): ځان ترېنه خلاصول.
dog, n.	سپی چنګک: بد اخلاقه، (سپی) سړی.
dogbane, n.	یو ډول زهرلرونکی بوټی (پیاز) چه پلنی پانې لری او ویل کېږی چه که یې سپی وخوری هغه وژنی.
doge, n.	د (وینس) او (جینوا) په پخوانیو جمهوریتو کې د ستر قاضی (قاضی القضات) لقب.

dogfish, n. يو ډول کوچنی شارک (ماهی) .

dogged, adj. ټينګ ، کلک ، سر سخت ، سرزوری ، متمرد ، هوډی ، ضدی ، لجوج ، جنجالی : سپی صفته .

doggedness, n.

doggerel, n ټيټ ، بې مغزه ، بې خونده شعر .

dogma, n. دوګم ، عقيده (دينی) ، اصول (الهيات) ، نص .

dogmatism, n. دګماتيزم ، بې دلېله ديوې عقيدې يا نظريې منښه يا پرهغې ټينګار .

dogmat ical, adj.

dogmatically, adv.

doily, n. يو کوچنی ټوکر چه عموما ترغاب لاندې اېښودل کېږی .

doings, n. کارکړنه ، اقدامات ، عمليات .

doldrums, n. پخوالی ، پټ خولتوب ، مړاوی توب : دلوی سمندرهغه لته برخه چه داستوا کرښې ته نژدې پرته وی .

dole, n. خيرات ، بخشش ورکړه او ښېنه ، هغه پيسې چه د بيمې له خواد بيکاری په وخت کی ورکول کيږی .

doleful, adj. غمجن .

doll, n. نازکه ، ناوکۍ ، ګوډۍ : (اصطلاح) غوړه او ښکلې ښځه .

dollar, n. ډالر .

dolly, n. ناوکۍ (دماشومانو په ژبه) يوه کوچنۍ عراده چه درانه بار روړه وړی : ټو بادی ، يو ډول لرګی دی چه دمينځلو په وخت کی کالی په ټکوی .

dolor, dolour, n. غم ، خواشيني ، خپګان .

dolurous, adj.

dolphin, n. يو ډول ماهی چه نهنګ ته ورته وی .

dolt, n. لټ ، مړيته ، پخ ، ناپوه سړی

domain, n. تر نفوذ لاندې منطقه ، قلمرو ، دعمل او فکر ساحه .

dome, n. ګنبته يا ګنبزه .

domesday, n. دقيامت ورځ.

domestic, adj. کورنی ، داخلی : اېل (اهلی يا تابع).

n. نوکر ، خدمتګار.

domesticity n.

domesticate, v.t. اېلول ، اهلی کول ، تابع کول :

domestication, n. اېل ، اهلی .

domicile, n. & v.t.i. ټاټوبی ، داوسېدلو ځای ، هستوګنځای : کور : اوسول ، هستول ، اوسېدل ، هستېدل .

domiciliary, adj. کورنی .

dominance, n. واک ، اختيار : نفوذ : صلاحيت : کنټرول : تسلط.

dominant, adj. دواک خښتن ، مسلط ، حاکم.

dominate, v.t.i. حاکميت لرل ، واک درلودل ، نفوذ درلودل ، کنټرول درلودل : لوړوالی موندل : کنټرولېدل ، لوړېدل :

domination, n. واک ، نفوذ ، حاکميت.

domineer, v.i. په خپله خوښه اداره کول حکومت کول .

dominion, n. ډومنيون ، دحاکميت حق قلمرو : واک لرونکی مستعمره .

domino, n. یو ډول زدمبك داره خولۍ چه ښوونکی او مسیحی ملایان یې پر سر کوی یو ډول لوبه چه (۲۸) ګټې لری او له دوو خواولو بوله کیږی .

don, n. ښاغلی ، صاحب (په هسپانوی ژبه)

don, v.t. اغوستل ، پر سر کول .

dona, n. مېرمن (په اسپانوي ژبه) .

donate, v.t. بسپنه ور کول ، بښل .

dona.tion, n.

done, د do دریم حالت .

donkey, n. خر ، مردار هډی : ناپوه ، احمق.

donor, n. بسپنه ور کوونکی ، بخشش ور کوونکی ، (طب) وینه ور کوونکی .

doom, n. حکم ، فتوا ، فرمان : سرنوشت تقدیر : مړینه ، فنا .

doomsday, n. دقیامت ورځ.

door, n. ور ، دروازه ، دړه .

doorkeeper, n. دوره ساتونکی .

doorway, n. مدخل.

doorstep, n. دوره زینه .

dooryard, n. دوره غولی .

dope, n. یو ډول مخدره مایع : بې عقله : معلومات .

dormant, adj. بیده ، بې فعالیته ، بې حرکته ، بیکاره ، غلی .

dormer, n. د بام په مایله برخه کی کړکی لرونکی کوچنی خونه : کړکی.

dormitory, n. لیلیه .

dormouse, n. یو موږك ډوله حیوان .

dorsal, adj. شاتنی ، شاتګنی (ظهری) ، شاته نږدې .

dory, n. یو ډول کب نیوونکې بېړۍ چه پلن هوار غولی لری.

dose, n. د درمل هغه اندازه چه په یوه وخت خوړل کیږی .

dosage, n.

dot, n. ټکی ، خال.

dotage, n. د دماغ کمزوری (په تېره په سپین ږیرتوب کې) .

dotard, n. هغه سړی چه دماغ یې د سپین ږیروالی په اثر ضعیفه شوی وی .

dote, doat, v.i. مین کېدل (په احمقانه توګه): د دماغی کمزورتیا (د عمر له کبله).

doting, adj.

double, adj. ډبل ، دوه ګون ، غبرګ : دوه برخیز : دوه ژبی (هغه سړی چه په خوله یې یوه او په زړه یې بله وی) .

doublet, n. تنګ کمیس چه له څورلسمی تر شپاړسمې پېړۍ په اروپا کی مروج و : تکراریدونکی شی : جوړه (جفت) : هغه کلمې چه اصلاً له یوې ریښې څخه وی خو وروسته یې په بڼه او معنا کی بدلون راغلی وی .

doubloon, n. د هسپانیې پخوانی د سروزرو سکه.

doubly, adv. یو په دوه.

doubt, v.i. شکمن کېدل ، متردد کېدل .

v.t. شکمن کول ، متردد کول .

doubtless, adj. بې شکه ، بې تردیده .

doubtful, adj. شکمن ، متردد .

doubtfully, adv.

dough, n. خمیره .

doughboy, n. پلی عسکر یا سپاهی .

doughnut, n. په غوړو کې پخه شوې ډوډۍ.

doughty, adj زړور، پیاوړی (دا توری اوس د استعمال څخه لوېدلی دی).

dour, adj. سرزوری، بدخویه، تریو تندی.

douse, dowse, v.t. ټیټول یا ځوړندول (لکه د بېړۍ بادوان): لمدول: وژل (لکه د اور یا څراغ): له منځه وړل، منسوخول: په اوبو کی غوټه کول: په اوبو کی لوېدل: وهل، گوزار ور کول.

dove, n. کوتره: کټمیر (قمری).

dovecote, n.

dive, dove, ماضی. د

dovetail, n. & v.t.i. جفتکاری: سره وروستل: واقعیتونو ته په معقوله توگه ارتباط ورکول.

dowager, n. هغه کونډه چه له مېړه څخه میراث ورته رسیدلی وی: (اصطلاح) درنه یا باوقاره ښځه.

dowdy, adj خوږمېنه، ناوړه بوښه، هغه ښځه چه ښه پاك کالی نه اغوندی.

dowel, n. پتری، پرزه، دوه سری مېخ چه دوې ډډی سره نښلوی.

dower, n. د مېړه د شتمنۍ هغه برخه چه د قانون له مخې ښځې ته رسیږي.

down, n. پت، پستې بڼکی.

down, n. هسکه مځکه، کځه (چه د سیند داوبو د څپو په اثر هسکه شوې وي).

down, adv. لاندې خوا، کښته: پر مځکه: سر بېره: ټیټ.

downcast, adj. غمجن، مړاوی، لوېدلی، پربوتلی.

downfall, n. لوېدنه، غورځېدنه، کښېوتنه، پرېوتنه، سقوط، زوال: د گڼ باران اورېدنه.

downhearted, adj. مړاوې، غمجن، زړه ماتی.

downpour, n. گڼ باران، ډېر اوربښت.

downright, adj. سم، څرگند، سیخ، نېغ، الك: محض: کوټ: پوره.

downtown, adj. کښته خوا، کوزه برخه (د ښار): د یو ښار تجارتی مرکز.

downward, adv. کوزې خواته، کښتې خواته، ځوړې خواته، مخ په ځوړ.

downward, adj. کښته خوا، کوزه خوا، ځوړه، اره خوا.

downy, adv. پت لرونکی، پوست، نرم.

dowry, n. د ناوې د کور (هغه سامان چه ناوې یې د پلار له کوره د مېړه کره د واده په ورځ راوړی): هغه تحفه چه دواده په ورځ یې ناوې ته خپل مېړه ور کوی.

dowse, v.t. douse دې وکتل شی.

doxology, n. عبادت، خدای یادونه، دخدای دستاینې سرود.

doze, v.i. پرمخکی، پڼ مېښی، نیم ویده، پرمخکی وهل، نیم ویده کېدل.

dozen, n. درجن، دولس شیان.

drab, n (اصط): سپك نسواري رنگ: یوډول والی (یکنواخت)، ستوماتوونکی یوډول نسواري رنگه ټوټه: ډمه، کچنۍ، رنډۍ.

draft, draught, n. حواله ، برات :
مسوده : عسکري جلب : لوی له وړونه
مړل یا بهلول : ټاکنه ، خوښونه سکیچ نخشه
v.t. حواله کول : مسوده کول :
جلبول (لکه عسکري ته) .

draftsman, draughtsman,n. نخشه
کښ ، هغه سړی چه د کورو ، ماشینو
او نورو نخشې جوړوي .

drag, v.t. ښکول ، کشول ، ښېړل :
پاکول یا صافول (لکه ویاله له خټو او
نورو شیانو څخه) : وخت تېرول :
ورو ورو ښکېدل یا کښېدل : بې
ارابو ښوېند وکې بګی : د کب نیولو
جنجك (چنګک) .

dragon, n اژدهار ، ښامار .

dragonfly, n. ښمبېرك (یو ډول لویه ځلاوره
زړې بې ازاره حشره) .

dragoon, n. وسله وال سپور عسکر .
v.t. مجبورول : وسله وال سپاره
عسکر ته پرلاس ورکول .

drain, v.t.i. وچول ، اوبه ترېنه ایستل :
تشول : زیم ایستل : ورو ورو کمزوري
کېدل ، ورو ورو د عایداتي منابعو
کمېدل .

drainer, n.

drainage, n. زیم ایستنه ، وچونه : وچه
سیمه .

drake, n. هیلۍ (نر) .

dram, n. درم ، د اونس شپاړسمه برخه
وزن : د شرابو یو ګوټ .

drama, n. ډرامه (هغه شکل چه په عملي
توګه ښودل کیږي) : د ډرامې هنر .

dramatic, adj. ډراماتیك .

dramatically, adv. د نکل په توګه : په
ناڅاپه ډول .

dramatist, n. ډرام لیکوونکی
یا د ډرامې لیکوال ، د هغو نکلو لیکوونکی
چه په عملي توګه ښوول کیږي .

dramatize, v.t. د ډرامې د ودا و بڼه
ښوول : په بدله بڼه ښوول ، د ډرام په بڼه
اړول .

dramatization, n.

drank, د drink, ماضي .

drape, v.t. په پرده یا رخت پوښل ،
پرده یا ټوټه پر غوړول .

draper, n. بزاز ، رخت پلورونکی .

drapery, n. د رخت پلورنځی : د پردې
رخت .

drastic, adj. غښتلی ، پیاوړی ، قوي :
چټك ، جدي : اغیزناك ، مؤثر .

drastically, adv.

draught, n. کشونه ، ښکونه ، راکښنه :
بېړۍ ، بار : چښاك ، اېښنده یا سکېنده ،
ګوټ (جرعه) : یو خوراك دوا یا شراب .

draughts. n. یو ډول لوبه چه په ۲۲۴ ګټو لو
بوله کیږي (د چکر لوبه) .

draw, v.t. کشول ، ښکول ، راکښل :
راښکول : ایستل : پرشا تنبول یا وهل :
اخیستل : پوهېدل : پرېښوول : تشول :
جوړول : صادرول ، تشریح کول : حواله
کول (لکه د پیسو) : په یوه ساتېرول :
راټولول .

drawback, n. مخ نیوی، مانع: زیان، بې گټی، د امانتو پیسو بیرته اخیستنه (لکه له گمرك څخه).

drawbridge, n خوځښت کېدونکی (متحرك) پل، هغه پل چه خوځښت کیږی او بیرته غوړیږی.

drawer, n. حواله کوونکی (لکه د پیسو اوداسی نورو): میز خانه یا جعبه.

drawing, n. نقاشی، نخشه، سکیچ، رسم.

drawl, v.t.i.: په مړاوی بږغ خبری کول: په اوږده غاړه بږغېدل. لټ بږغېدل، په زگېروی بږغېدل (لکه ناروغه یا ییده.)

drawl, n.

drawn, adj. د draw دریم حالت.

dray, n. قېټه او کلکه هراده چه مالونه پکښی وړل کیږی: له چار تراشو څخه جوړه شوې بې ارابو گاډی چه څکوله کیږی.

drayman, n. گاډی وان.

dread, n. وېره، ترهه، ډار.

dreadful, adj.: ډاروونکی، وېروونکی: ترهوونکی: نا وړه.

dreadfully, adv. په وېره، په ډار، دو یري په توگه.

dreadnought, dreadnaught, n. سپك سړی، بې باکه سړی: لویه جنگی بېړی

dream, n. خوب لیده، رؤیا.

dreamer, n. خوب لیدونکی.

dreamy, adj. خوب خوندی، خیالی.

dreamily, adv. دخوب په توگه.

dreamland, n. دشاپېر یو هېواد، خیالی ملك، دخوب اوخیال عالم.

drear, adj. dreary, وگوري.

dreary, adj. غمجن، زړه تنگوونکی، خفه کوونکی، وېره وونکی.

drearily, adv.

dredge, n پاکونه (لکه د کاریز ویالې اوداسی نورو): د کاریز د پاکولو آله، د بندرگاه د ژورولو آله.

dredge, v.t.i. پاکول.

dredge, v.t. اوړه یا داسی بل شی پرپاشل، په اوړو لړل، اوړه پرشیندل (تر پخولو د مخه).

dregs, n. pl. ذړې، رسوب: د هر شی بې اهمیته برخه.

drench, v.t. لندول، خیشتول.

dress, v.t. کالی اغوستل: ښکلی کول، هوارول، درول، تیارول، پر ټپ ملهم ایښوول: صافول، پاکول، پخول په بیاتی غوښول، په عسکری قطار کی درول، نظامی اتحاد کول

dressmaker, n کالی گنډونکی (د ښځو)

dresser, n. د سینگار میز: د پخلنځی میز یا قفسچه: پرهار تړی، پرهار تړونکی (زخم بند)، پرهار ولونکی: د کا او خوندی کوونکی (په پوهنی ننداري کی) هغه ماشین یا آله چه د سرو ښتان په سموی.

drew د drew, ماضی.

dribble, v.i. & v.t.: ډریبل، څڅېدل: څڅول، ورو ورو پرمخ وړل یا بیول، لکه توپ

dried, د dry ماضی او دریم حالت: وچ

drier, dryer, n. وچوونکی: د وچولو ماده چه په غوړېدونو رنگ کې د ژر وچېدو د پاره گډوي.

drift, n. گردله ، راشه : هغه شی چه اوبو
یا هوا دلی (غونډۍ) کړی وی (اصط)
ډډه ، تمایل : داوبو سره جریان .
drift.wood, n.
drill, n. سوری کول (په برمه) مشق
و تمرین کول د تخم د ښندلو آله .
driller, n. سوري کوونکی .
dril, n برمه د سوری کولو اله مشق و تمرین
drill, n. یو ډول بیزو چه په غربی
افریقا کي او سیږی .
drink, v.t. څکل ، چښل : مشروب .
drinkable, adj.
drinker, n.
drip, v.t.i. څڅېدل یا څڅول
drive, v.t. چلول ، بېول ، خوځول :
ځغلول ، پسی اخیستل : ایستل ، شړل : په
مخ بېول : په ګاډۍ کی بېول : مجبورول :
کار یا زیار ته تشویقول .
driver, n. بیوونکی ، خوځوونکی :
موټروان (ډریور) .
drivel, v.i.t. لاړې یا ناړې څڅېدل : لاړې
څڅول : د کمکو په دود لاړې څڅېدل :
په احمقانه ډول بږغېدل .
driveller, n.
driven, د drive. دریم حالت : شړل شوی .
drizzle, v.i. نری نری اورېدل (باران) .
drizzle, n. نری باران ، نری واوره .
droll, adj. دخندا وړ ، دملنډو وړ : عجیب
و غریب : مسخره .
drollery, n.
dromeedary, n. اوښ (چه یو بوك یا کاو
و لری) .

drone, n. دشاتو د مچیو نر .
drone, v.t.i. یکنواخته ږغېدل او ږدونکی
په پرله پسي ږغېدا پکو کول .
n. تیار خور .
droop, v.i.t. رالوېدل : سر ټیټی کېدل
سر ځوړی کېدل : سر کښته اچول یا ځړول
drop, n څاڅکی : رالوېدنه (لکه د بړدي)
سقوط ، تنزل : پرده (تیاتر) : ناوړه
ناڅاپه پېښه .
v.t. څڅول ، اچول ، ایله کول ،
کمول : کښته کول ، حذف کول : زېږول
(دحیواناتو په مورد کی)
dropsy, n. دانسان په طبیعی جوفونو
او یا په حجراتو کي دغیرطبیعی مایعاتو
ټولېدنه لکه په نس (خیټه) کی د نس د سل
په وخت کي (طب) استسقا .
dropsical, adj.
dross, n. ځګ (دویلی شوو فلزاتو)
زنګ : پاتي شونی : بې اهمیته مواد
غیر خالص مواد .
drought, n سوکړه ، وچکالی ، تنګی
وچ والی ، تنده .
drove, د drive ماضی .
drover, n. هغه سړی چه مالونه (حیوانات)
خرڅوی ، خرڅوونکی : مالدار .
drown, v.i.t. ډوبېدل : غلی کول ، چپول
یا چوپول (لکه دغږ) .
drowse, v.t.i. & n نیم ویده کېدل :
پرمخکی وړل ، چرتی کېدل : چرت وهل ،
نیم ویده والی : یا چورت .
drowsy, adj. نیم ویده ، پرمخکی وړی :
چورت وهونکی : (اصط) لټ : درونده .

drowsily, adv. نیم ویده ډول .

drowsiness, n. نیم ویده والی .

drudge, v.i. & n. زیار ایستل (په یکنواخته او بې اهمیته کار کې) : زیار ایستونکی یا زیار کښ .

drudgery, n. یکنواخته کار .

drug, n. درمل ، دارو .

druggist, n. درمل جوړوونکی ، درمل خرڅوونکی .

drum, n. (موسیقی) ډول .

drunk, adj. نشه ، مست .

drunkard, n. شرابخور ، شرابی ، هغه سړی چه ډېر شراب څښي ، دایم الخمر .

drunken, adj. نیشه یا نشه ، مست .

drunkenness, n. نشه توب ، مستی .

dry, adj. وچ ، بې نمه : تږی : بې شیدو ، بې مزې ، بې عاطفې ؛ بې ګټې .

dryness, n. وچوالی .

dryad, n. د ځنګله حوره .

dryer, د drier بله بڼه .

drygoods, n. رخت باب ، منسوجات .

dual, adj. دوه ګون ، شریک ، یو په دوه .

dualism, n. هغه فلسفه چه د روح او مادې دواړه په اصالت عقیده لري .

ducility, n. ثنویت (د ماټر یا لیزم او ایډیا لیزم مخالفه فلسفه) .

dub, v.t. د Knight لقب ورکول : د سر لوړی یا درناوی لقب ورکول : سینګار ول ټوټول : ښوی کول .

dubious, adj. شکمن ، شکی .

dubiously, adv.

ducal, adj. په (ډیوک) یا د (duke) په قلمرو پورې مربوط .

ducat, n. د اروپا پخوانی د سرو زرو سکه : (جمع) نقدی پیسې .

duchess, n. د (ډیوک) ماینه یا د هغه کونډه : هغه ښځه چه د (ډیوک) مقام لري .

duchy, n. هغه سیمه یا علاقه چه پر هغې باندې د (ډیوک) یا (ډچیز) حکومت وي .

duck, n. هیلۍ ، بته : په اوبو کې غوټه وهنه .

duck, n. یو ډول ټوکر ، ډول ټوټه چه له مالوچو نه یې اوبي (اوبی) .

duck, v.i.t. په مایعاتو کې غوټه کېدل او ژر بېرته وتل ، سر په اوبو کې ډوبول : ټیټېدل : غوټه کول ، ټیټول .

duckling, n. د هیلۍ بچی .

duct, n نل ، بهاندی (مجرا) : رګ .

ductless, adj.

ductile, adj. لوله کېدونکی ؛ هغه فلز چه د اوږدولو او هوارولو وړ وي .

ductless, adj.

dude, n. ځان ښکاره کوونکی ؛ ځان جوړوونکی (خودساز) تظاهر کوونکی .

dudgeon, n. خوا شینی ، خوا بدی ، خپګان ، خوا پوڅی .

due, adj. پور وړي : وړ ، جوړ مناسب : د غوښتنې وړ پیسې ، د ورکړې وړ پیسې (طلبات) : ټاکلی شوی .

duel, n ډویل ، د دوو کسو ترمینځ جګړه دوه په دوه جنګېدنه ، د دوو ډلو ترمینځ نښته

duel, v.t.i. دوه په دوه جګړه کول ، دوه په دوه جنګېدل .

duet, n (موسيقي) داسې کمپوز چه ددوو سندرغاړو د پاره ترتيب شوي وي .

dug, د dig. ماضي او دريم حالت .

dugout, n ناوه وزمه بېړۍ ، داسې بېړۍ چه د ونې دتنې يا کونډې مېنځ وکاږي او هغه تښې جوړه کړي : سمڅ (پناه ګاه) چه دغره په ډډه کې جوړه شوې وي .

duke, n (ډيوك) په انګلستان کې د اشرافو موروثي لقب په انګلستان کې هغه شازاده چه يوه سيمه يا (duchy) يې تر لاس لاندې وي .

dukedom, n د(ډيوك) لقب يا علاقه .

dulcet, adj خوږ ، پوست : همغاړي (هم آهنګ) .

dull, adj. لټ ، غېړندی ، سست مړاوی بې خونده ، تت ، پخ بې عقل ، غبي ، بې ذوقه .

dullness, n. لټوالی ، غېړندوالی .

dully, adv. په غېړندي والي ، په مړاوي والي .

dullard, n. ناپوه ، سوړدماغه سړی

duly, adv. په مناسبه توګه يا مناسب وخت کې .

duma, n. شورا په پخواني روسيه کې

dumb, adj. پوټ خولی ، چوپ ، ګونګی .

dumfound, dumfound, v.t. هك پك کول اريانول ، هېښ هېښ کول سر بداله کول

dummy, adj ګونګی ، نقلي يا مصنوعي شی چه د اصل پر ځای استعمالېږي بې عقل سړی

dump, v.t. بار چپه کول يا اړول : په

پردېو بازارو کې مال وړه يا خرڅول : درب يا ضرب (لکه د يو جسم له لوړه ونه چه پيدا شي) ګوزار ، وار يا ضربت : انبار ډېران (لکه دخاوړو او خځلو) : د مال د ذخيرې کولو ځای : لين) لښکري زېرمه (ګدام) .

dumpling, n. ډوډۍ چه مېوه په ګېډه وي .

dun. v.t. مکرره غوښتنه (لکه د پور) پوروړي ته ادام کول چه ژر پور ورکړي .

dun, adj. خړ بخن ، نصواري (رنګ) سمند (آس) .

dunce, n. پخ يا کوډه ذهنه سړی .

dune, n. د سيند د غاړې شګلنه غونډۍ ، د شګو (ريګو) غونډۍ چه باد جوړه کړې وي

dung, n. خوشايي (غوشايه) ، ټپي : سره : شپېکه .

dungeon, n. زندان ، بنديخانه .

dunghill, n. دخوشايو کوټه ، دخوشايو ځلی .

duo, n. duet. وګوري .

dupe, n. ژر غولېدونکی سړی :

v.t. غولول ، خطا ايستل ، تېرا ايستل .

duplex, adj. دوه ګون ، ډبل ، غبرګ .

duplicate, adj. دوه ګون : ډبل ، دوه ګون : نسخه يې نقل ، کاپي : غبرګ ، دوه پټه : کټ مټ ؛ ورته .

duplicity, n. دوه مخی ؛ غولونه ، تېرا ايستنه .

durable, daj. ټينګ ، کلك ، دوامداره .

durance, n. بنديتوب ، بندي ګري .

duration, n. موده ، مهال ، وخت .

duress, n. بندیتوب، بندي کري، تشدد، اجبار.

during, prep. په ترڅ کې، په وخت کې، په اوږدو کې.

dusk, adj. تره غوندې، تیاره، ماښام، تېر ماښام.

dust, n. دوړې، خاورې: جسد: ځمکه: بې ارزښته شی.

duteous, adj. وظیفه پېژندونکی، منونکی.

dutiable, adj. د محصول وړ، د مالیې وړ.

dutiful, adj. وظیفه شناس: د درناوي وړ.

duty, n.: وظیفه، دنده، وجیبه، چوپړ: محصول، مالیه.

dwarf, n.: لوېشتکی سړی، قیټکی سړی: هر هغه ژوی یا نبات چه تر طبیعي اندازې قیټ وي.

dwell, v.i. مېشته کېدل، اوسېدل: پاتې کېدل: ځیر کېدل.

dwelling, n. کور، ټاټوبی، استوګنځی.

dwindle, v.i. مړاوی کېدل، بې سېکه کېدل: کمېدل، لږېدل: ویلي کېدل، زمولېدل.

dye, n. رنګ.

v.t. رنګول، رنګ ور کول.

dyer, n. رنګوونکی.

dyestuff, n. رنګ (مواد).

dying, pres. part. of die. مرګي حاله، مړ کېدونکی.

dyke, n. د dike. بل شکل

dynamic, adj. داینامک، فعال، غښتلی، د خوځولو قوه یا محرکه قوه.

dynamite, n. دینامیټ، چاودونکی ماده چه له تېزابو او ګلسرین څخه جوړېږي.

dynamo, n. داینمو، هغه آله چه د میخانیکي عملیاتو په اثر برښنا تولیدوي.

dynasty, n. کورنۍ.

dynastic, adj. د یوې کورنۍ زوزاد.

dysentery, n پېچ.

dyspepsia, n. بد هضمي.

dyspeptic, adj.

dyspeptically, adv.

* * *

E

each, adj. pron.	هر (لکه په هر یوه کې، هر سړی) .
eager, adj.	لېوال ، شوقمن .
eagerly, adv.	په لېوالتیا ، په شوق ، په مینه .
eagerness, n.	لېوالتیا ، اشتیاق .
eagle, n.	عقاب ، یو ډول باشه : دامریکی طلایی سکه چه لس ډالره ارزي .
eaglet, n.	د عقاب چیچی (بچی) .
ear, n.	غوږ : اورېدنه ، منښه : غوږدی
ear, n.	وږی (لکه د غنمو) .
eardrum, n.	دغوږ پرده .
earl, n.	(برټ) یو اشرافي چه رتبه یې له مارکیس څخه ټیټه وي .
earldom, n.	د ارل موقعیت ، لقب یا جایداد .
early, adv.	وختي ، د وخته ، مخکښې ، وړاندې .
adj.	مخکینی ، په سر کې : پخوانی ، ارغونی : نژدی ، نژدې د راتلونکی .
earmark, n.	د وجود پېلوالی نښه ، فارقه علامه : تشخیص .
earn, v.t.	گټل ، لاس ته راوړل ، پیدا کول .
earnings, n. pl.	بچت ، سپما ، عایدات .
earnest, n.	جدیت ، ټینګوالی ، کلکوالی ، شدیده علاقه .
adj.	جدی ، کلك ، ټینګ : مهم : ریښتینی .
earnestly, adv.	په جدی (تر ګ . لهجه) ، په کلکه ، په ریښتیا .
earnestness, n.	دزړه له کومې .
earshot, n.	داورېدلو ساحه : هغه واټن چه له یوه سره ئې بل ته ږغ رسېږي .
earth, n.	خاوره : مځکه : کره (د مځکې) ، نړۍ .
earthly, adj.	مځکنی ، دمځکې (دآسمانی ضد) .
earthy, adj.	
earthen, adj.	خاورین ، د خاورو .
earthenware, n.	خاورین لوښی .
earthnut, n.	هغه بوټی چه محصول یې په ریښو کی وي (لکه ممپلی ، پلی) .
earthquake, n.	زلزله .
earthwork, n.	خاورین بند ، دخاورو دړ ، پڅم .
earthworm, n.	دخاورو چنجی .
ease, n.	سهولت ، آسانی ، هوسایی (جسمی یا روحی) : طبیعی توب ، ساده توب (دسلوك)
v.t.i.	هوسا کول ، بېغمه کول ، در دغلی کول : اسانول : فشار کمول : اسانېدل .
easel, n.	د نقاش د تابلو اېښودلو چوکاټ

east, n. ختيځ، لمرخاته، ختيځ (هېوادونه، سيمې).

adj. دختيځ، شرقي.

easterly, adj. & adv. دختيځ لهخوا.

eastern, adj. شرقي، د ختيځ.

eastward, adj. & adv. مخ په ختيځ، مخ په لمرخاته، دختيځ په لوري.

eastwards, adv.

Easter, n. (مس) د عيسى دحلول يا بيا پيدا کېدو اختر.

easy, adj. اسان، هوسا: بې غمه: سپک (لکه بار): ارت، پوست: طبيعي، غيررسمي: په کراره، سوکه.

easily, adv. په اسانۍ.

easiness, n. اسانتيا، اسانی.

eat, v.t. خوړل: ابته کول، خرابول، له کاره ايستل، زمول: خوړل (لکه برمه) خوراک کول، خوړل کېدل (لکه v.i. لرگی د برمې په اثر): زمولېدل، مړاوی کېدل.

eater, n. خوړونکی، خوراک کوونکی.

eatables, n. & pl. خوراکی شيان، خواړه.

eaves, n. pl. د بام څنډه، د بام ژۍ، د بام پېڅه باراوتلې برخه.

eavesdrop, v.i. غوږ نيول (د پټو خبرو د اورېدو لپاره)، گونگوسې ته په پټه غوږ نيول.

eaves dropper, n. غوږ نيوونکی.

ebb, n. جزر، دڅپې بېرته ستنېدنه (سيندته): د بخت گرځېدنه، د ورځې گرځېدنه، د برم پرېوتنه.

v.i. له څپه لوېدل، له برمه پرېوتل: کښېناستل او کرار کېدل (لکه دطوفان او سېلاو): ښه په بده بدلېدل، مخ په خرابۍ او ويجاړتوب تلل، مخ په ځوړ تلل.

ebon, adj. تور.

n. د ځېړې لرگی (يا د هرې بلې ونې لرگی چه تور او د ډبرې غوندې کلک وي).

ebony, n. ابنوس.

ebullition, n. ايشونه، خوټونه: پارونه، لمسونه.

eccentric, adj. څنډې ته کېدونکی، له مرکزه لرې کېدونکی، گوښه گير، عجيب، ځانته، بې شانه: غيرعادي.

eccentricity, n. گوښه گيري، بېلوالی.

ecclesiastic, n. (مس) کشيش، پادري، ديني.

ecclesiastical, adj.. کليسايي، د کليسا.

echo, n. د ږغ انعکاس (اصط) د کمره ږغ، د کمره پېري، دپاڼ پېري.

v.t.i. په څټ ور گرځول (ږغ): منعکس کېدل، ستنېدل (د ږغ).

eclat, n. ځلا، جلال، شهرت، عظمت، نامتووالی، تمجيد: رسوايي.

eclipse, n. خسوف يا کسوف، د لمر يا سپوږمۍ نيول کېدنه: تتوالی.

ecliptic, n. د لمر مدار (يوه فرضي لويه دايره) کسوفي، خسوفي.

eclogue, n. د شپنو سندرې، شاريه.

economic, adj. اقتصادي، د سپما.

economical, adj.. اقتصادي، سپمونکی

economically, adv.	د سپما له مخې، په اقتصادي توګه .
economics, n.	اقتصاد، هغه علم چه د پانګې د تولید، ویش او لګښت څخه خبرې کوي .
economist, n.	داقتصاد عالم، سپماپوه .
economize, v.t.i.	سپما کول .
economy, n.	سپما، زېرمه، زېرمه برابرونه .
ecstasy, n.	نشه، حال، وجد، جوش، مستي، لېوالتیا .
ecstatic, adj.	په وجد راغلی: خوندور: لېوال .
ecstatically, adv.	
eddy, n.	ګرځنی (ګرداو لکه د اوبو)، ګډوبی، ګرځوبی .
v.i.	ګرځنی کېدل، چورلېدل، څرخېدل .
edge, n.	څنډه، ژۍ (لکه د چاقو): څنډه (لکه د کمره)، پېڅه .
v.t.i.	ورو ورو ګام اوچتول .
edgeways, edgewise, adv.	په نېغو، په تېرو، په څنګه، په څنډه، اړخېز .
edging, n.	لمانۍ، د لمنې یا پېڅې اڅوړونه، پېڅه ماتونه اودوړاړونه، د څنډې یا پېڅې چرمه کاري یا بخې .
edible, adj.	دخوراك، د خوراك وړ .
n.	د خوراك شی .
edict, n.	فرمان، حکم .
edification, n.	روزنه، پالنه .
edify, v.t.	روزل، پالل، تربیه کول، خوی ورښه کول .
edifice. n.	ماڼۍ، ودانۍ .
edit, v.t.	نشر ته چمتو کول (لکه دورځپاڼې) .
editor, n.	چلوونکی، خپروونکی، هغه څوك چه لیکنې اصلاح کوي او بیا یې چاپ ته چمتو کوي .
editorship, n.	چلونه، خپرونه، دخپرونو اداره .
edition, n.	خپرونه، چاپ، صحافت او قطع: شمېر (لکه د کتابو، خپرونو) عمومي ګڼه .
editorial, adj	سرمقاله: چلوونکی،
editorial board.	چلوونکې جرګه .
editorially, adv.	د سرمقالې په ډول .
educate, v.t.	روزل، ښوول، تربیه کول .
educator, n.	روزونکی، ښوونکی، مربي .
education, n.	پوهنه (معارف) د ښوونې او روزنې علم، تعلیم، زده کړه .
educational, adj.	تعلیمي، د زده کړې .
educe, v.t.	ایستل: راکښل، زېښل .
eel, n.	مارماهي .
eerie, eery, adj.	وېروونکی، غوني زېږوونکی، ډاروونکی: دارشوی، ترهېدلی .

effface, v.t توډل ، ايسته کول ، لېرې کول ، پاکول (له) .

effect, n نتيجه : اثر ، اغېزه : مفهوم الفاظ ، چلند : واقعيت .

pl. شته ، دارايي .

v.t. لاس ته راوستل (نتيجه ، بری) ، بری مومندل (پر) : سر ته رسول .

effective, adj. اغېزه ناک : نتيجه ورکوونکی : نافذ ، په چلند کې : چمتو ، تيارسيه : اثر ناک ، په ځای : واقعي .

effectively, adv. په اغېزه ناکه توگه .

effectiveness, n. اغېزه ناکی ، اثر ناکی : چلند .

effectual, adj. اغېزه ناک ، په ځای ، گټور ، د نتيجې ارونکی (د بې ثمره اوابتر ضد) .

effectually, adv

effeminate, adj ښځنی ، ښځورنگی ، د ښځې په ډول ، ښځنو کی .

effeminacy, n.

efferent, adj. بهر وړونکی ، د باندی چلوونکی .

effervesce, v.i. سره خوټېدل او ځکک کول (لکه سرکه يا د سوډا اوبه) .

effervescence, n. سره خوټېدنه ، ځوشېدنه ، ځکک کونه .

effervescent, adj. سره خوټېدونکی او ځکک کوونکی .

effete, adj. وچه ، شنډه (لکه ونه يا ښځه) ، له کاره لوېدلی ، بې حاصله .

efficacious, adj. نتيجه ورکوونکی ، په ځای لگېدلی (لکه خبره يا عمل) .

efficacy, n. اغېزه ناک توب .

efficient, adj. مؤثر ، په ځای ، اغېزناک ، با کفايت .

efficiency, n. اغېزناکی ، مؤثريت ، مستعد .

efficiently, adv. په اغېزه ناکه توگه .

effigy, n. ځېره يا مجسمه چه يو سړی ته ورته کښل شوې يا جوړه شوې وي ، ځېره ، بڼه .

effluence, n خپرېدنه ، بهېدنه ، پرخېدنه .

effluvium, n. ډ و ز ی ، بدو بوم : غير مرئی ذرات چه له يو جسم څخه خپرېږی) .

effort, n. هڅه ، هاند : د هڅې نتيجه ، د کوشش مولود .

effrontery, n. بې شرمی ، سپين سترگی ، بې حيايی .

effulgent, adj. ځلاند ، پرښېښند ، روڼ .

effulgence, n.

effuion, n. داړه ، غورځنگ : بې واکه خبری .

effusive, adj.

eft, adv. داوبو سمسار (سمسهره) .

egg, v.t. پارول ، لمسول ، (اصط) جگول .

egg, n. هگی ، ويه .

eggplant, n. باټينگن ، بانجن (تور) .

egis, aegis ته مراجعه وکړئ .

eglantine, n. دستورن بوټی يا گل ، چمبه گل .

egoism, n. ځانمني ، په ځان مینتوب ، ځانته غره والی ، ځان منښه .

egoist, n. په ځان مین ، په ځان غره ، په ځان کې ورك .

egotism, n. ځان ستاینه ، ځان ښوونه ، ځان یادونه .

e gotist, n.

egotistical, adj.

egrégious, adj. بدی ، بدنام : مشهور وتلی .

egress, n. دوتولار ، وتوځی : وتنه ،

egret, n. ږینګۍ ، کوموول .

eider, n. یو ډول بحری بته چه پستې پڼکې لری .

eight, n. اته (۸) .

eighth, adj. اتم .

eighteen, n. اتلس (۱۸) .

eighteenth, adj. اتلسم .

eighty, n. اتیا (۸۰) .

eightieth, adj. اتیاوم ، اتیایم .

either, adj. یا

either do this or do that. یا داو کړه یا هغه .

conj. یوله دوو څخه .

ejaculate, v.t. دفعتاً او په لوړه اوازویل : د بدن څخه دمایعاتو ایستل (انزالېدل)

ejaculation, n. انزال .

eject, v.t. شړل ، ایستل ، معزول کول ، لیرې کول .

ejection, n.

eke, v.t. زیاتول : اوږدول : بشپړول ، نیمګړې تیاوې پوره کول

elaborate, adj. مکمل ، مفصل ، په زیار او پاملرنه ترسره شو .

elaboratly, adv. په پاملرنه ، په ستونزه .

elaborateness, n. بشپړتیا ، تفصیل ، دقت .

elaborate,v.t.i. په دقت اجرا کول ، په زیار او پاملرنه سرته رسول ، په کار لاس پورې کول ، له هیڅ څخه یو شی جوړول : تفصیل ور کول .

elaboration, n. تفصیل ، ستونزه .

elapse, v.i. تېرېدل (لکه دوخت) .

elastic, adj. ارتجاعی ، فنرډوله ، دشرایطو سره سم دبدلېدو وړ ، دغبرګېدو اولږ کېدو وړ .

elasticity, n. ارتجاعیت ، دځکېدو او سره ورتلو وړوالی ، دژر راستنېدو قابلیت .

elate, v.t. غرور کول ، (اصط) ځان ښکاره کول ، په خپل بری ویاړل :

elated, adj.

elation, n.

elbow, n. څنګل ، لېچ : کږ لېچی ، پېچومی .

v.t.i. په څنګل وهل .

eld, n. دعمر بوخوالی : پخوانی وختونه ، لرغونې زمانه .

elder, adj. مشر ، ستر : ډومبنی ، وختنی : بوخ ، رسېدلی : جګ ، لوړ (په رتبه کې) .

n. په عمر بوخ سړی .

elderly, adj بوخ سړی یا ښځه .

elder, n. یو بوټی چه ګلان یې اوتونکی تیل لری او دغه تېل دسوځی او ناسور دعلاج د پاره استعمالیږی .

elderberry, n.

eldest, adj. ترټولو مشر، ترټولو زوړ، ترټو لو بوخ .

El Dorado, ودانه سیمه، له زرو ډکه سیمه، شتمن هیواد .

elect, adj. غوره: منتخب، ټاکل شوی .
v.t.i. غوره کول، انتخابول، ټاکل (د رایو په واسطه) .

election, n انتخاب، ټاکنه (د رایو په واسطه) .

electioneer, v.i. په انتخاباتو کی د یوه ګوند په ګټه کار کول .

elective, adj. غوره شوی، انتخاب شوی د انتخاب واك لرونکی .
n. (امر) هغه کورس چه زده کوونکی یې ځان ته غوره کوی (اختیاری کورس)

elector, n. غوره کوونکی، انتخابوونکی موکل: (امر) د انتخابی جرګی غړی
electoral,. adj

electorate, n. یوه ډله خلك چه د انتخاب واك لری، انتخاباتی حوزه

electrician, د برېښنا ماهر، برقی .

electricity, n برېښنا برق .

electric, adj. برېښنا، برقی .
electrical, adj.

electrically, adv. د برېښنا په واسطه .

electrify, v.t. د برېښنا په سامان سمبالول د برېښنا سامان نصبول، چراغان کول: هك پك کول، هیجانی کول.
electrification, n.

electrocute, v.t. د برق په واسطه وژل، برق ور کول .
electrocution, n.

electrode, n. د برېښنا د سرچینې قطب .

electrolyte, n. الیکترولیت: هغه ماده چه که برقی جریان ورځنې تیر شی مواد د غاز یا جامد په شکل له ځانه دفع کوي .

electromagnet, n. هغه فلز (اوسپنه، فولاد) چه د برقی جریان په واسطه مقناطیسی خاصیت پیدا کوی .

electromotive, adj: په برق چالان شوی: د برېښنا په واسطه لاس ته راغلی: د برقی جریان پیدا کوونکی .

electron, n. د برېښنا منفی قوت یا بار: الیکترون، هغه ذره چه منفی چارج ولری .

electrotype, n. الیکټرو ټایپ، د چاپ قالب، یوه لوحه چه د یوې نری فلزی پردې په واسطه د چاپ د قالب پوښلو او د هغې تر شا د یوی بلې فلزی پښې ور کولو په اثر جوړه شی .

eleemosynary, adj. خیرات خور، د خیرات، د صدقې، د بسپنې مستحق .

elegance, n. ښه ذوق، ښه سلیقه، خوږه ژبه، ظرفیت .

elegant, adj. خوږه ژبی، ظریف، ښه ذوقی .

elegantly, adv. په ښه ذوق، په خوږه ژبه .

elegiac, n. (شعر) ویرنه: هغه نظم یا نظمونه چه د ویرنې په ډول ویل کېږی، مرثیه .

elegy, n. ویرنه، مرثیه .

element, n. عنصر .
pl. اساسات، مبادی: (کیم) هغه شی چه د مادی کیمیاوی عملیې له لارې نه تجزیه کېږی: برخه، جزء .

elemental, adj.

elementary, adj. ساده : (کیمیا) د عنصر په عنصر پوري مربوط : لومړنی ابتدایی (لکه ښوونځی) : اساسی ، اصلی .

elephant, n. پیل (فیل) .

elephantine, adj. پیل ډوله ، لوی : بوساړی : بد شکله .

elevate, v.t. جګول ، پورته کول : لوړول ، درنول (معنوی او اخلاقی) .

elevation, n. جګونه : هسکونه : هوالی ډوله ځای : جګوالی (د بحر له سطحې) : پرمختګ ، ترفیع .

elevator, n. دغلې ګودام : اسانسور ، لفت (یوه کوچنی کوټه چه د برق په واسطه سړی یوی څو پوړه یزی ماڼی ته پکښې خیژی او را کښته کیږی) : د الوتکې هغه آله چه د ټیټیدو او جګیدو حالت کنټرولوی .

eleven, n. یوولس .

eleventh, adj. یوولسم .

elf n. pl. پیری ، جن .

elfin, adj. پیری ډوله .

elfish, adj. شیطان : ټیټ سړی : شیطان کوچنی .

elicit, v.t. را ایستل : پارول ، شکارل ، کشکارل .

eligible, adj. د غوره کېدو وړ ، مستحق ، لایق .

eligibility, n.

eliminate, n. لیری کول ، کمول ، ایسته کول ، له منځه ایستل ، محو کول له نظره غورځول .

elimination, n.

elixir, n. اکسیر : (طب) د قوت شربت ، داسې دارو چه له ډیرو موادو څخه ترکیب او د الکولو سره ګډ شوی وی .

Elizabethan, adj. د انګلستان ملکې لومړۍ الیزابتې (۱۵۵۸-۱۶۰۳) دوختو .

elk, n. یو لوی ګوزن .

ell, n. په انګلستان کې د ټوکرانو میچ (اندازه) چه ۱۱۵ سانتی متره کیږی .

ell, n. یو ساختمان چه د ماڼۍ په اوږدو قایمه زاویه تشکیلوی او ور پوری نښتی وی ، د ماڼۍ وزر .

ellipse, n. بیضوی .

elliptic, adj. بیضوی .

elliptical, adj.

ellipsis, n. pl. تش ځایونه ، حذفې شوی برخې : په چاپ کې (٠٠٠٠)

elm, n. یو ډول ځنګله ونه چه سور رنګې لری او لرګی یې ډیر کلک او درونډ وی : نارون .

elocution, n. بلاغت ، د بلاغت فن ، د ښې وینا او لوست فن .

elongate, v.t.i. اوږدول ، غځول : اوږدیدل ، غځیدل .

elongation, n. اوږدونه : غځېدنه .

elope, v.i. د مېړه یا ماینې څخه د مین سره تښتېدل ، مېړه بوول ، شیګی کیدل .

elopement, n. شیګی توب : شیګی کېدنه : تښتېدنه .

eloquent, adj. فصیح او بلیغ ، اغېزه ناکه (لکه وینا) .

eloquence, n. فصاحت او بلاغت : د وینا اغېزه ناکی .

eloquently, adv. په فصاحت او بلاغت، په اغېزه ناکه توګه.

else, adj. بل، نور.

adv. په بله توګه، په بل وخت، په بل مفهوم، په بل ځای یا مورد کې.

elsewhere, adj. په بل ځای کې، بل ځای ته، په نورو ځایو او مواردو کې.

elucidate, v.t. څرګندول، روښانول، تشریح کول، جوتول.

elucidation, n. څرګندونه، تشریح کونه.

elude, v.t. څنګه کول، ډډه کول، ځان بچول: (اصط) تېرول، تېرایستل.

elusive, adj: غولوونکی، تېرایستونکی: هك پك کوونکی، اریانوونکی.

elves, n. pl. پېریان، د elf جمع.

Elysium, n. د بشپړې او پوره خوشالۍ ځای، جنت.

Elysian, adj.

emaciate, v.t. ډنګرول، نری کول.

emaciation, n.

emanate, v.i. خپرېدل (لکه له ګل څخه دوږمې)، پورته کېدل، ختل.

emanation, n. خپرېدنه، پورته کېدنه.

emancipate, v.t. ازادول، خلاصول، نجات ورکول، خپل واك کول.

emancipation, n. ازادي، ازادونه، خپلواکي.

emancipator, n. ازادوونکی، ژغورونکی، خپل واك کوونکی.

emasculate, v.t. خصي کول، شنډول، ټکول.

embalm, v.t. مومیایي کول، مړی د ساتنې د پاره په ځینو موادو لړل

embalmer, n. مومیایي ګر.

embankment, n. پټم، بند، درم.

embargo, n. تجارتي بندیز، اقتصادي بندانه.

embark, v.t.i. په بېړۍ کې اچول، بېړۍ یا الوتکې ته ختل، په بېړۍ کې سپرېدل: لګیا کېدل.

embarkation, n.

embarrass, v.t ټلولی کول، بې واره کول، وار خطا کول، سر او پښې ور کول: په اقتصادي مشکلاتو اخته کول، اقتصادي تنګسه راوستل (پر).

embarrassment, n. بې واري، وار خطايي.

embassy, n. سفارت، د سفیر اتو هیأت

embattle, v.t. جنګ ته سمبالول او تیارول، د جنګ لپاره تعبیه کول، جنګ ته سره راټولول.

embed,imbed, v.t. وېده کول، نصبول، ځملول (په بستره کې).

embellish, v.t. سینګارول، مصور کول.

embellishment, n. سینګار، سینګارونه.

ember, n. سکروټه چه په ایرو کې پاتې وي.

embezzle, v.t. اختلاس کول، امانت خیانتول، غلا کول.

embezzlement, n.

embitter, imbitter, v.t. ترېخول: قارول، پارول.

emblazon, v.t. ځلوبل کول، په ځلانده او ښکنده توګه سینګارول، د ویاړ په انځو سینګارول، په یاد د یو ښکلي کول

emblem, n. نښان ، نښه ، دوياړ نښان
سمبول .

emblematic, adj.

emblematical, adj.

embody, imbody, v.t. مجسم کول ، بڼه
ورکول ، ښودل ، څرګندول : په غېږ کې
نيول (احتوا کول) ، احاطه کول ،
راټولول ؛ ور ګډول : تحقق ور کول .

embodiment, n.

embolden, v.t. زړه ور کول ، ډاډه کول ،
زړه ور تکيه کول .

embosom, imbosom, v.t. په غېږ کې
نيول ، غېږ چاپېرول (ښځه) ، په خوا پورې
نيول : ټينګول ، خوندي کول .

emboss, v.t. په برجسته بڼه انځورول
يا کښل (لکه سکه يا مډال) ، برجسته
کول ، له اصلي سطحې لوړول .

embower, imbower, v.t.i. سيوري
ور باندې کول ، سيوري ته کول ،
ترچترۍ لاندې کول : سيوري ته کېدل .
سيوري کېدل .

embrace, v.t. غېږ ترې ګرځول ، غېږ په
غېږ کېدل : ښه هرکلی کول : احاطه
کول : غوره کول (لکه يوه پېښه) .
v.i. غېږ نه ورتلل ، غېږ په غېږ کېدل
(سره)

n. غېږ په غېږ کېدنه .

embrasure, n. ددروازې کړکۍ ، درشل ،
هغه چاود چې په دروازه کې جوړېږي ،
تير کښي .

embroider, v.t.i. خامك دوزي يا ګل
دوزي کول ، سکې کول .

embroidery, n. سکې ، خامك دوزي ،
ګل دوزي .

embroil, v.t. په جنګ اچول ، ګډوډول ،
په ګډوډۍ کې اچول ، مغشوشول .

embroilment, n.

embryo, n. جنين .

embryonic, adj. د جنين .

embryology, n. د بيالوژۍ هغه برخه چې
جنين څېړي .

embryologist, n. جنين پوه .

emend, v.t سمول ، صحيح کول ، سمون
راوستل .

emendation, n. سمول ، تصحيح .

emerald, n. زمروت (مرد) : زمرتي رنګ

emerge, v.i. ظاهر کېدل ، راوتل ،
ميدان ته راوتل ، سر بېره کېدل ،
راپورته کېدل ، راولاړېدل .

emergence, n. راپورته کېدنه ،
څرګندېدنه .

emergent, adj. راپورته کېدونکی ،
منځ ته راتلونکی ، راختونکی .

emergency, n بېړنۍ پېښه يا حالت
داسې پېښه چې سمدلاسه مخنيوی غواړي :
اضطراري حالت .

emeritus, adj. متقاعد .

emery, n. يو ډول کاڼی چې په څرخ
باندې يې سپړوی او چاړې يا چاقوګان
پرې تېره کوي .

emetic, adj. خوا ګرځوونکی ، خوارا
هسکوونکی ، اوتوونکی ، قی راوستونکی

emigrate, v.i. لېږدېدل ، مهاجرت کول .

emigrant, adj. لېږدېدونکی، مهاجر، پردیس.

emigration, n. لېږد.

eminence, n. لوړه درجه، لوړه رتبه: لوړوالی: معراج.

eminent, adj. لوړ، جګ: مهم، غوره: څرګند، روښان، ښکاره.

eminently, adv.

emir, ameer, emeer, n. امیر.

emissary, n. څاری، نماینده، جاسوس.

emit, v.t. اچول (لکه رڼا)، پورته کول، غورځول: چاپول او خپرول (لکه بانکنوټ): له خولې ایستل، ادا کول.

emolument, n. تنخا، معاش، فیس او داسې نور.

emotion, n. هیجان، احساس.

emotional, adj. هیجانی، احساساتی.

emotionally, adv. په هیجان، د احساساتو له مخې، په مینه.

emperor, n. امپراتور.

emphasis, n. زور، لنګر، ټینګار، تاکید (په کومه خبره یا موضوع).

emphasize, v.t. لنګر اچول (پر)، زور اچول (پر)، ټینګار کول (پر)، تاکید کول (پر).

emphatic, adj. ټینګار پرشوی، مؤکد.

emphatically, adv.

empire, n. امپراتوري، د امپراتور تر امر لاندې سیمه، واکمني، سلطنت، برم

empiric, adj. تجربي، هغه چه په تجربه او مشاهده بناوي نه په علم.

empiricism, n. هغه سیستم چه پخوانی معلومات نه مني او یوازې په تجربه او قیاس تکیه کوي.

employ, v.t. کارول، لګول، په کار اچول، نیول (لکه مزدور)، استخدامول

employee, n. کارګر، مستخدم، مزدور، مامور، اجیر.

employer, n. کارفرما، ګومارونکی (کارته).

employment, n. استخدام: ګمارنه، شغل، دنده، کار، چار.

emporium, n. لویه مغازه، پلورنځی.

empower, v.t. قدرت ور کول، ګومارل، واک ور کول.

empress, n. د امپراتور ښځه، ټولواکمنه.

empty, adj. تش، خالي: خوشې، بې ثمره، ابته: ګوګ، تش منځی.

v.t.i. تشول: تشېدل: تویېدل (لکه سیند په سمندر کې).

emptiness, n. تشوالی، ګوګوالی.

empyrean, n. عرش، تر ټولو هسک، آسمان، برنی آسمان، هسک.

emulate, v.t. سیالي کول (سره)، د برابرېدو یا وړاندې کېدو هڅه کول.

emulation. n. سیالي.

emulous, adj. سیالي ګر، سیالي کوونکی.

emulsion, n مستحلب، محلول (لکه غوړی چه په اوبو کې حل شوي وي).

enable, v.t. وړ کول، لایقول، توان ور کول.

enact, v.t. عملی کول، جاری کول، چلول، قانونی کول.

enactiment, n.

enamel, n. جلا، مینا، روغنی رنګ.

v.t. مینایی کول، جلا ور کول.

enamor, enamour, v.t. زړه وړل، مینول، ځانته راکښل.

enamored, adj.

enamoured, adj.

encamp, v.t.i. خیمه وهل، اډون، مېشتېدل (موقتی).

encampment, n.

encase, incase, v.t. په کڅوړه یا پوښ کې اچول، نغاړل.

enchain, v.t. په ځنځیر تړل، ښکېلول، زولانه کول.

enchant, v.t. مین کول، زړه وړل، زړه راکښل، مجذوب کول.

enchanting, adj. زړه وړونکی.

enchantment, n. لېوالتیا.

enchantress, n. کوډګره ښځه.

encircle, v.t. راچاپېرول، راګېرول، په دایره کې نیول.

enclose, inclose, v.t. بندول، ایسارول، په پاکټ کې اچول، راچاپېرول.

enclosure, inclosur, n. چاپېریال، محوطه، حصار: د کړی کی چوکاټ، ضمیمه (د لیک).

encomium, n. ستاینه، صفت، مدح.

encompass, v.t راچاپېرول، کرښه پر را ګرځول، په بر کې نیول.

encore, interj. بیا، دوهمه پلا، بل ځل، دوهم ځل ویلو او تکرارولو غوښتنه لکه (د بدلی یا شعر).

v.t. بیا غوښتل، دوهم ځل لپاره غوښتل، د تکرار غوښتنه کول.

encounter, v.t.i مقابله کول: جنګېدل: مخامخ کېدل.

n. مقابله، جګړه: مخامخ کېدنه: مخالفت.

encourage, v.t. تشویقول، زړور کول: مرسته ور کول (ته): ټینګول، پخول.

encouragement, n.

encroach, v.i. ورو ورو لاندې کول یا نیول: تېری پر کول.

encroachment, n. تېری: لاندې کول: ناوړه استفاده.

encrust, incrust, v.t. استر ور کول، مخ ور کول، پوښ ور کول، قشر ور کول.

encumber, v.t. درنول: له ګړندیتوبه غورځول، ستړول: سر باری اچول (پر).

encyclical, adj. عمومی، متحدالمال لیک، ډېرو خلکو او ځایو ته استول شوی، ګرځند، لاس په لاس ګرځېدونکی: د پاپ لیک چه د کلیسا مشرانو ته استول شوی وی.

encyclopedia, encyclopaedia, n. دایرة المعارف، هغه اثر چه د پوهې مختلفی ځانګې څېړي.

encyclopedic- paedic, adj. د دایرة المعارف: عمومی او مجمل (لکه معلومات)

end, n. پای، حد: مړینه وروستۍ ټکه: څوکه: هدف: نتیجه نښه: په ځینو لوبو کې هغه سړی چه په وروستۍ لیکه درېږی.

v.t.i. پای ته رسول، تر سره کول، سر ته رسول، خلاصول: پای ته رسېدل، خلاصېدل: په اخیر کې پېښول. یا پېښېدل

endanger, v.t. په خطر کې اچول، په بلا ککړول.

endear, v.t. گرانول، زړه ته نژدی کول.

endearment, n. گرانښت، نازولتوب: مینه.

endeavor, endeavour, v.i.-& n.

هڅه کول، زیار ایستل، کوشش کول.

n. هڅه، کوشش، زیار، هاند.

ending, n. نتیجه، پای: مړینه.

endless, adj. بې پایه، بې پایانه، بې سره او بې پایه، بې حده، تل تر تله.

endlessly, adv.

endorse, indorse, v.t پر شا لاسلیك کول (لکه د کاغذ یا چك): تصدیقول.

endorsement, indorsément, n.

لاس لیك (د کاغذ پر شا): تصدیق.

endow, v.t. بخښل (ښېل): سمبالول، چمتو کول، توښه ور برابرول.

endowment, n. ښېنه، عطا، ورکړه (خدایی).

endue, **indue**, v.t. څښتن کول، ور کول، ښېل: واك ور کول.

endurance, n. زغم، گالنه، سېیونه، طاقت، توان، پوخوالی (په درد او غم کې).

endure, v.i. & v.t. زغمل، گالل، سېیول، تاب راوړل.

endurable adj. د زغملو وړ، گالل کېدونکی.

endways, endwise, adv. په څیڅو، په لکۍ، په اوږدو: سر په سر، لکۍ په لکۍ.

enemy, n. دښمن، غلیم، مېرځی.

energetic, adj. پیاوړی، تکړه، غښتلی، قوی.

energetically, adv. په پیاوړتوب، په غښتلتوب، په قوت، جدی.

energize, v.t. پیاوړی کول، غښتلی کول، قوت ور کول.

energy, n. انرجی، قوت، شېمه، دمه، توان: په فزیك کې د کار د کولو وړوالی.

enervate, v.t. کمزوری کول (د اعصابو، قوت، جرات)، اخلاق ور کمزوری کول، له عقله ایستل، بې سده کول، بې حاله کول، سستول.

enfeeble, v.t. کمزوری کول، ناتوانه کول، ضعیفول.

enfold, infold, v.t. نغاړل، په غېږ کې نیول، پېچل.

enforce, v.t. اډا ایستل، اډ کول: جاری کول، چلول، دود کول (لکه قانون): تعمیل کول.

enforceable, adj.

enforcement, n.

enfranchise, v.t. خپلواکول، ازادول (لکه مری): ښاری گڼل، د هم ښاری په حیث منل، د رایې حق ور کول.

enfranchisement, n.

engage, v.t. لګیا کول ، بوختول: په جنګ کې ګیرول: په نامه کول (نامزد کول) : نیول، ګومارل، استخدامول، په ماشین کې سره تړل (لکه پرزې) .

v.i. لګیا کېدل ، مشغولېدل: ایسارېدل (په جنګ کې).

engagement, n. : کوژده ، نامزدي نیونه ، استخدام ، ګومارنه: نښته (لکه د لښکرو): لوز ، وعده (لکه د لېدنې) : مشغولا ، مصروفیت .

engaging, adj. په زړه پورې ، غوره ، مشغولوونکی ، لګیا کوونکی ، راکښوونکی ، جالب ، جاذب .

engender, v.t. روزل ، وده ور کول : زېږول: کرل ، کښېنول: راوړل (لکه ونه چه مېوه راوړي) .

engine, n. انجن ، هر هغه اله چه له ډېرو پرزو څخه جوړه وي او کار ور څخه اخیستل کېږي ، په تېره چه د هغې د چلولو لپاره د برېښنا ، تېلو او سکرو څخه کار اخیستل کېږي .

engineer, n. : د انجن چلوونکی ، انجنیر : مهندس ، د انجن طرح کوونکی او جوړوونکی .

v.t. اداره کول، چلول، په کار اچول (لکه ماشین).

engineering, n. د انجنیري ، د طبیعي منابعو روزنه چه د انسان په ګټه تمام شي: د ماشینو پلو او سړکو جوړونه او نقشه کشي .

English, adj. انګریز (سړی) ، انګریزي (ژبه)

n. انګریز : انګلیسي ژبه .

engraft, ingraft, v.t. پیوندول ، سره لګول ، سره ورو ستل ، کوشیرول ، داخلول .

engrave, v.t. کېندل (لکه د مهر) ، حک کول ، توږل .

engraver, n. کېندوونکی، توږوونکی ، مهر جوړوونکی .

engraving, n. کېندنه، توږنه ، حکاکي ، مهر جوړونه .

engross, v.t. په غټ او مشقي خط لیکل: په حقوقي او قضايي بڼه څرګندول : راکښل ، راښکول ، جلبول ، اړول (لکه توجه) : انحصارول، استهلاک کول .

engulf, ingulf v.t. راچاپېرول ، راایسارول : ډوبول ، په ګرځوبي کې ګیرول : کې ایستل ، غوټه کول .

enhance, v.t. بیه جګول، پورته کول لوړول، قدرمن کول، ګرانول (شدید کول)

enhancement, n.

enigma, n. کیسې ، دوډې ، معما .

enigmatic, adj. ګران ، نښتي ، پېچلی ، معماډوله ، په مشکله حل کېدونکی ، مبهم ، تیاره .

enigmatical, adj.

enjoin, v.t. سپارښت کول ، امر کول : منع کول : لاربنوونه کول : تحمیلول .

enjoy, v.t. خوښي کول: خوند اخیستل ، مزې کول، حظ اخیستل .

enjoyable, adj.

enjoyment, n. مزې ، چړ چې ، سات تېری .

enkindle, v.t.i. لګول ، روښانول ، اور ورته کول ، بلول : وېښول ، پاڅول ، پارول .

enlarge, v.t.i. انلارجول ، لويول ، ارتول ، پراخول .

enlargement, n لويونه ، ارتونه ، پراخونه .

enlighten, v.t. روښانول ، رڼول ، منور کول (ذهناً) : پوهول ، بېدارول ، وېښول ، خبرول .

enlightenment, n. روښانونه : پوهونه ، خبرتيا ، ذهني تنوير .

enlist, v.t.i. په لست کې نيول : لښکري خدمت ته را بلل : مرسته جلبول يا حاصلول طرفدار کول .

enlistment, n. په لست کې نيونه ، لښکري خدمت ته را بلنه .

enliven, v.t. ژوندی کول ، وېښول ، ژوندور کول .

enmity, n. دښمني ، بدي ، بد نيتي .

ennoble, v.t. شريف کول ، د اشرافيت درجې ته رسول ، لوړول .

ennui, n. ستوماني ، زړه وهل کېدنه ، بېزاري ، بېخوندي ، بې مزې توب .

enormity, n. لويوالی : لوی فساد ، لويه او ستره بلا .

enormous, adj. ستر ، لوی ، غټ .

enough, adj. & adv. بس ، کافي ، بسيا کوونکی ، په کافي توګه ، په پوره ډول .
n. بسيا .

enquire, inquire, v.t.i. پوښتنه کول ، پوښتل ، پلټل .

enquiry, n. پوښتنه ، پلټنه ، تفتيش ، غور .

enrage, v.t. قارول ، په غضب را وستل .

enrapture, v.t. خوشالول ، په خوشالۍ را وستل .

enrich, v.t. دولت مند کول ، بډای کول ، سينګارول ، غني کول .

enrichment, n.

enroll, enrol, v.t.i. شاملول ، په لست کې نيول : لښکري خدمت ته جلبول .

enrollment, enrolment, n.

ensconce, v.t. پوښل ، پټول ، سيب ته کول ، خوندي کول ، ښخول : خوندي کېدل : ځان ځايول .

ensemble, n. ټوله ، دسته : د ساز يا نڅا ټوله ، انسامبل : هغه جامې چه يو له بله سره په بشپړه توګه ولګيږي .

enshrine, v.t. زيارت پالندی جوړول ، په مقبره کې اېښودل ، درناوی کول ، تقديسول ، نمانځل .

enshroud, v.t. پوښل ، په کپن (کفن) کې نغښتل .

ensign, n. بيرغ : (امر) د بحري قواو تر ټولو ټيټ افسر .

ensilage, n. په سيلو کې د شنو وښو اېښودنه ، بېده .

enslave, v.t. غلامول ، مريي کول ، اسيرول .

enslavement, n.

ensnare, insnare, v.t. په لومه کې
ايستل، ګيرول، په لومه کې نيول.

ensue, v.t. په نتيجه کې پېښېدل،
منتج کېدل، په اخير کې راتلل.

ensure, v.t. ډاډورکول، ډاډه کول،
ذمه وهل، په غاړه اخيستل، بيمه کول.

entail, v.t. (حق) د تر کې تر
وېشلو دمخه د حقې و قفول، له اصلي
ميراثخور څخه ستنول: په غېږ کې نيول،
متضمن کېدل: منتج کېدل.

entangle, v.t. نيول، ګيرول، ايسارول،
سره تاوول، مغلق کول.

entanglement, n.

entente, n. سره پوهېدنه، خوښه،
موافقه، تړون، مفاهمه.

enter, v.t.i. ننوتل: پيل کول، بريد
کول: برخه اخيستل، ګډول: سوري
کول، لار پکښې کول: محکمې ته وړاندې
کول: پښه ايښودل، داخلېدل.

enterprise, n. تشبث، دستګاه، پروژه،
په تېره هغه چه نوي بنا کېږي، ټاکل
(د نوو پروژو د بنسټ ايښودلو).

enterprising, adj. زړور، قوي، غښتلى،
بې باکه، متهور.

entertain, v.t. مېلمه کول، بلل: فکر ته
راوستل، په فکر کې ګرځول، زړه کې
ګرځول: خوشالول، سات ور تېرول.

entertainer, n. کوربه، سات
تېروونکی.

entertainment, n. سات تېري، مېلمستيا

enthrall, enthral, v.t. غلامول، مريي
کول، تر دام لاندې نيول، مسحور کول،
مجذوب کول.

enthrone, v.t. پر تخت کښېنول.

enthusiasm, n. شوق او ذوق، ټينګه
علاقه، وجد، لېوالتيا.

enthusiast, n. لېوال، شوقمن

enthusiastic, adj. .

enthusiastically, adv. په لېوالتيا،
په شوق.

entice, v.t. اغوا کول، غلطول، تطميع
کول: پارول.

enticement, n. په لومه کې اچونه،
غولونه، تېر ايستنه.

entire, adj. ټوله، واړه، درست، ګرد،
غونډ: پوره، بشپړه.

entirely, adv. په بشپړه توګه، په پوره
ډول، له هر پلوه.

entirety, n. بشپړتوب، پوره والى،
کليت، ټول، مجموعه.

entitle, v.t. نومل، بلل، يادول، لقب
ورکول، مناسب بلل، لايق بلل، وړ ګڼل،
مستحق ګڼل: بښل، عطا کول، ورکول.

entity, n. هستي، شته والى، ماهيت،
ځانګوالى، اصل، وجود: موجود:
واقعيت.

entomb, v.t.: په ګومبزه کې ايښودل:
ښخول.

entombment, n.

entomology, n. حشره پېژندنه، د حشرو
د څېړنې علم.

entomological, adj. د حشره پېژندنې

entamologist, n. حشره پېژندونکی.

entourage, n. پیروان ، ملګری .

entrails, n. pl. کولمې ، د نس د ننه اجزا .

entrance, n. ننوتځی ، سریزه ، پیل: د ننوتلو اجازه .

entrance, v.t. را کښل (لکه په خوږه ژبه)، خوشالول : مسحور کول .

entrant, n. ننوتونکی .

entrap, v.t. په لومه کې ایستل، ګیرول ، نیول ، ایسارول .

entreat, v.t.i. غوښتل (له) ، زاری کول (ته) ننواتې کول .

entreaty, n. ننواتې ، زاری .

entree, n. : د ننوتو لار ، د ننوتو حق : هغه سالن یا سپک خوراک چه تر اصلی ډوډۍ د مخه او یا د هغې په منځ کې خوړل کیږی : قلم ، فقره ، ماده .

entrench, intrench, v.t.i. کنده ترې را چاپیرول ، خندق ترې را ګرځول ، مورچل جوړول : تېری کول .

entrenchment, n خندق ، کنده .

entrepreneur, n. تشبث کوونکی ، معامله کوونکی (تاجر) بنسټ ایښودونکی ، اصلی مؤسس او چلوونکی (لکه د یوې پروژې)، مسؤول آمر .

entrust, intrust, v.t. ور سپارل، ور په لاس کول ، ور له غاړې کول ، واک ور کول ، ور پر ایښوول .

entry, n. د ننوتو لار ، د ننوتو اجازه ، ګډون کونه (لکه په لوبو او مسابقو کې) ننوتنه ، داخلېدنه (لکه په لست کې) . (حق) ذوالید کېدنه .

entwine, v.t.i. . پېچل : نغاړل ، تاوول

enumerate, v.t شمېرل ، ګڼل ، یو یو شمېرل ، دانه دانه ګڼل .

enumeration, n. . شمېرنه ، ګڼنه ، شمېر

enunciate, v.t.i. په څرګندول ښکاره کول ، په رډه ویل ، جوتول ، ډانګ پېلې ویل ، اعلامول .

enunciation, n. څرګندونه ، اعلامونه ، جوتونه ، څرګندونې .

envelop, v.t. پوښل ، نغاړل ، پېچل ، تاوول .

envelopment, n.

envelope, n. . کشوړه ، پاکټ ، جیب

envenom, v.t په زهرولړل ، زهرناک کول، مرچکی کول ، قارول، ترخول .

enviable, adj. . د رخې وړ ، د حسد وړ

envious, adj. کستمن ، رخه ناک ، بې پېرزوینې ، حاسد .

enviously, adv. . په رخه، د حسد له مخې

environment, n. . چاپېریال ، محیط

environs, n.p. چارچاپېر (سیمې) ، شاوخوا (ځایونه) ګرد و ګوښه (خواوې) اطراف ، چوس .

envoy, n. استازی ، ایلچی، څری ، سیاسی نماینده .

envy, n. . رخه ، حسد

v.t. رخه کول ، حسدوړل ، بخل کول، نه لورول .

enzyme, enzym, n. انزایم ، هغه عضوی ماده چه په حیواناتو او نباتاتو کې کیمیاوی بدلون ګړندی کوی (لکه د خوړو په هضمولو کې) .

eon, n. د aeon بله بڼه .

epaulet, epaulette, n. رشمه ، پڅاره ، چرمه چه دافسرانو په اوږو ځړول شوي وي ۔

ephemeral, adj. لنډ موده ژوندی ، د لنډ عمر ، د لنډې مودې ، د یوې شیبې ، فاني ۔

epic, n. جنګي بدله یا حماسه ، رزمي شعر ۔

epicure, n. اپیکوریانو ته ورته سړی ، په ژوندانه کې د خوند او چړچو طرفدار ، د عیش او چړچو د لارو چارو پوه یا ماهر ۔

epidemic, adj. ساري ، هغه ناروغي چه له یوه څخه بل ته سرایت کوي ۔

epidermis, n. د پوټکي باندنۍ طبقه ۔

epidermal, adj.

epiglottis, n. ورږبه ، کمکۍ ژبۍ ، د تنفس لارې هغه برخه چه د تېرولو (بلعې) په وخت کې د مرۍ مخه بندوي ۔

epigram, n. لیشناکه خبره ، اړخیزه خبره ، نکته ، لطیفه ۔

epigramatic, adj,

epilepsy, n. عصبي ناروغي (میرګي)، سیوري (صرع) ۔

epileptic, adj.

epilogue, epilog, n. ویښا ، نطق ، لنډ شعر یا پاړه کې چه وروسته له ډرام څخه یې لوبغاړی ننداره چیانو ته وایي ۔

episcopacy, n. د پادریانو قوانه ، د کلیسا حکومتي تشکیلات ۔

episcopal, adj. د پادري ، پادریانو ته منسوب: د پادریانو د حکومت ۔

Episcopalian, n. د پروتستانت کلیسا ته منسوب ۔

episode, n. ضمني پېښه ، پېښه ، په ژوندانه کې یو لړ داسې پېښې چه له نورو بېلې وي ، تېرېدونکې پېښې

epistle, n. لیک ، مکتوب ، رساله ۔

epistolary, adj.

epitaph, n. کتیبه ، د ګور لیک ، لیک لرونکې شناخته یا تیږه ۔

epithet, n. صفت ، لقب ، ستاینه ۔

epitome, n. لنډیز ، خلاصه ۔

epitomize, v.t. لنډول ، په لنډه توګه ویل ، لنډ ګنډه ویل ۔

epoch, n. دوره ، عصر ، زمانه ۔

epochal, adj.

equable, adj. برابر ، هوار ، متوازن ، متعادل ، انډول ۔

equability, n.

equal, adj. برابر ، مساوي ، یو رنګه ، په تله برابر: وړ ، مناسب : چمتو (د کار لپاره): انډول ، همزولی ۔

equality, n. برابري ، مساوات ، یوشانته والی ۔

equally, adv. په برابره توګه ، په مساوي ډول ، یوشانته ۔

equalize, v.t. برابرول ، مساوي کول ، یوشانته کول ۔

equalization, n. برابرونه ، تساوي ۔

equalizer, n.

equanimity, n. هم فکري ، د کړه وړه ورته والی ، د فکر نږدې والی ، ذهني او اخلاقي برابري ۔

equation, n. معادله ، موازنه ، په شمېر کې د معادلې د دواړو خوا و برابري چه دا نښه (=) يې په منځ کې وي

equator, n. د استوا کرښه ، يوه فرضي ليکه چه د ځمکې د کرې په وچ منځ را څرخېدلې او هغه يې په دوو شمالي او سهيلي برخو وېشلې ده .

equatorial, adj. استوايي

equestrian, adj د آس د سپرلۍ ، د آس د ساتنې ، آس ته منسوب : سپور .

n. سپور ، هغه سړی چه پر آس سپرلي کوي .

equidistant, adj. په فاصله کې سره برابر ، متساوي الفاصله ، په برېد کې سره برابره .

equilateral, adj. متساوي الاضلاع ، په څنډو کې سره برابر .

equilibrium,n. انډول توب ، توازن ، تعادل .

equinox, n. د شپې او ورځې د برابرۍ وخت ، هغه مهال چه د لمر مرکز د استوا له کرښې تېرېږي او هرچېرته شپه او ورځ د لنډوالي او اوږدوالي له پلوه سره برابرې وي .

equinoctial, adj.

equip, v.t. سمبالول (لکه په وسله) ، چمتو کول ، مجهز کول .

equipage, n. ښوری ، توښه ، سامان او لوښي : بدرګه : ورا .

equipment, n. سامان ، سمبالېدنه : سمبالونه ، اسباب .

equipoise, n. انډول توب : برابروالی ، توازن ، تعادل .

equitable, adj. په ځای ، عادلانه ، انصافي .

equity, n. انصاف ، عدل : طبيعي حق : اخلاقي عدالت چه قانون د هغه نيمګړی ښکارندوی دی : د عدل روح چه موږ ته د قانون څخه د سم تعبير قدرت را کوي .

equivalent, dj. معادل ، برابر ، ورته ، کټ مټ ، يو ډول ، مترادف .

equivocal, adj. څواړخيزه خبره : بې اعتباره ، شکي ، مشکوک ، مبهم او تت (لکه خبره) .

equivocate, v.i. په مبهم او تت ډول خبرې کول ، ژوولي خبرې کول : درواغ ويل .

equivocation, n.

era, n. عصر ، زمانه ، دوره ، مهال : د تاريخ مبدا .

eradicate, v.t. ولې (ولېي) ايستل ، بېخ ايستل ، ريښې ايستل ، نابودول ، ورکول .

erase, v.t. پاکول ، محوول ، توږل .

eraser, n. پاکوونکی ، توږوونکی ، تخته پاک : پنسل پاک :

erasure, n.

ere, prep. & conj. پخوا ، ړومبی ، مخکې .

erect, adj. نېغ ، لک ، درېدلی ، ولاړ

v.t. جوړول ، آبادول : نېغول ، نېغ درول ، لګول : درول .

erection, n. وداني : درونه .

eremite, n گوښه گیر (اصط) ، څیله کښ ، زاهد .

ermine, n. یو قطبي ژوی چه په اوړي کې خړ او په ژمي کې سپین پټوکی لري : د همدې ژوي پټوکی : قضا (د قاضي وظیفه یا مسند) .

erode, v.t. کنده کول ، خوړل (لکه سین یا سیند چه خپلې غاړې خوري) ، توږل احتکال ، رژول .

erosion, n د توږلې عملیه ، د احتکال عمل .

erotic, adj. جنسي ، عشقي .

n. عشقي شعر ، غزل .

err, v.i. غلطېدل ، خطا کېدل ، تېروتل گناه کول .

errand, n. رسالت ، مأموریت ، خدمتي مسافرت ، دوره ، لنډ سفر په تېره چه د بل چا د کار د کولو په لحاظ وشي : دنده ، چار .

errant, adj غولېدونکی ، خطا کېدونکی ، ښویېدونکی ، لار ورکوونکی : دربدر ، سرگردان .

erratic, adj. په ځان کې ورك ، عجیب ، سرکوته ، سرگردان ، لالهانده نامعقول .

erroneous, adj. غلط ، بې ځایه ، کوږ .

erroneously, adv. په غلطه ، په کږه (توگه ، لهجه) .

error, n. غلطي ، خطا ، تېروتنه : گناه . جرم .

erst, adv. پخوا ، ړومبی ، په تېروخت کې

erstwhile, adv پخوا ، پخوا اتردې ، مخکې ړومبی .

adj. ړومبنی ، پخوانی .

erudition, n. زده کړه ، پوهېدنه ، پوهه .

erudite, adj. پوه ، زده کړی .

eruption, n. راخوټېدنه ، داري وهنه ، په زور راوتنه (لکه د چینې یا د اور غورځوونکي غره او خړې او مایع مواد) : روانېدنه ، راماتېدنه : پارېدنه : د پوټکي په سر دانو یا داڼو پیدا کېدنه

eruptive, adi

erysipelas, n. سره مخه (یو ډول التهابي ناروغتیا چه پر پوستکي سرې دانې راخیژوي) .

escalator, n. برقي خوځېدونکې زینه .

escapade, n. تېښته (له کار څخه) ، لکتکی یا لینگتی اچونه : گڼکپی

escape, v.i. تښتېدل ، بچ کېدل ، وتل (لکه خبره د خولې نه) .

v.t. ځان بچول ، تېښته کول ، تېرول ، تېرایستل .

n. تېښته ، وتنه .

eschew, v.t. ځان ساتل ، ډډه کول ، غاړه غړول .

escort, n. بدرگه ، ورا ، ملگرتیا ، جلو کوونکی .

v.t. بدرگه کول ، ملگرتیا کول ،

escutcheon, n. هغه ډال چه د یوې کورنۍ د ویاړ نښانونه ولري .

esophagus, oesophagus, n. مریه .

esoteric, adj. سري ، پټ محرمانه : راز

especial, adj. خصوصي ، مخصوص ، ځانگړی .

especially, adv. په تېره : خصوصاً .

espionage, n. جاسوسی.

espousal, n. د واده دود او دستور.

espouse, v.t. ودول، واده کول (سره):
ننګه کول.

esprit, n. ژوند، تاندوالی، تازه ګی،
ښهراز توب.

espy, v.t. تر سترګو کېدل، پیدا کول،
لیدل.

esquire, n. د انګلستان په لقبونو کی تر
knight څخه ټیټ لقب.

essay, v.t. زیار ایستل، کوښښ کول،
هڅه کول.

essay, n. هڅه، کوښښ: مقاله، مضمون.

essayist, n. مقاله لیکونکی

essence, n. جوهر، تومنه، اصل، طبیعت:
وږم، عطر.

essential, adj. ضروری، اصلی،
اساسی.

essentially, adv. د ضرورت په ډول:
اساساً، له آره.

establish, v.t. ټینګول، ځای په ځای
کول: ور په برخه کول: جوړول، تأسیس
کول: منل (پر): ځان ګڼول. لاس بوري
کول: میشته کول (ځان یا بل).

establishment, n. تأسیس:
مؤسسه، د استوګنې او شغل ځای.

estate, n. رتبه: حالت: شته، جایداد،
دولت، ملکیت په تېره د مځکې: طبقه.

esteem, v.t. په درنه سترګه کتل، قدر-
کول، ښاغلی ګڼل، د ملګرتیا په نظر-
کتل، نازول.

n. درناوی، قدر، احترام، مینه.

ester, n. ایستر (هغه کیمیاوی مواد د
چه د شحمی تېزابونو او الکولو له یو
ځای کېدو څخه په لاس راځی).

esthete, esthetic, د aesthetic بله بڼه

estimable, adj. درونه، د درناوی وړ،
قدرمن، نازولی.

estimate, v.t. اټکلول، تخمینول: ارزښت
ټاکل: براورد کول: قضاوت کول (پر)

n. نظریه: اټکل: قضاوت: براورد.

estimation, n. اټکلونه: بر آورد:
د منني نظریه: طرفداری، ننګه: لمانځنه،
ستاینه.

estrange, v.t. شکول، لرې کول،
پردی کول، شړل، ړټل، رټه کول.

estrangement, n.

estuary, n. د سیند هغه برخه چه د بحیرې
په خوله کې ننوتې وی او کوچنی خلیج
جوړوی.

etch, v.t. توږل، کیندل، خوړل (لکه هغه
انځورونه چه د تېزاب بود تویولو په اثر
په فلز یا ښیښه کی کیندل کېږی)، ګرول.

etcher, n. کیندونکې، حکاک

etching, n. د کیندنې یا حکاکی عملیه،
کیندل شوی یا حک شوی انځور: ګرونه

eternal, adj. تل پاییدونکی، ابدی

eternally, adv. په ابدی ډول،
د تل د پاره، تل تر تله.

eternity, n. ابدیت، پایښت، بقا.

ether, n. اتیر، د فضا لوړې سیمې،
هغه فرضی د غاز عنصر چه دا سیمې ډکوی:
ایتر (بوسپک او راخیستونکی مایع چه
چه په جراحی کی د نا روغ د بې حسه
کولو د پاره استعمالېږی).

ethereal, adj. آسماني، ډهسك، سپك، هوايي.

ethical, adj. اخلاقي: سم، درست، مناسب، وړ.

ethics, n. د اخلاقو علم: اخلاقي قوانين.

ethnology, n. توکم پېژندنه، نژاد پېژندنه، هغه علم چه د انسان اصل، توکم او خصوصيتونه څېړي.

ethnological, adj. د توکم پېژندنې

ethnologist, n. توکم پېژندونکی

etiquette, n. دود، دستور، اداب، تعارف، رسم او رواج.

etude, n. (مو) هغه کمپوزچه د ساز ږغولو د روزلو د پاره جوړ شوی وی.

etymology, n. د اشتقاق علم، هغه علم چه د لغاتو رېښې څېړي.

etymological, adj. د اشتقاق

etymologist, n. رېښې څېړونکی

Eucharist, n. (س) د خدای مېلمستيا، د شکر يې او نمانځنې ورځ چه ډوډۍ او شراب په کې خوري.

eucharistic, adj.

euchre, n. د پتو يو ډول لوبه.

eugenics, n. هغه علم چه د انسان د نسل اصلاح کول څېړي.

eugenic, adj.

eulogy, n. ستاينه، د اسې وينا چه د چا د ستاينې په غرض شوې وی.

eulogistic, adj.

eulogize, v.t.

eunuch, n. خصی، شنډ شوی سړی.

euphemism, n. د فصاحت او بلاغت د فن هغه برخه چه د زيږه او ترخه لفظ په ځای د پاسته او خواږه لفظ د استعمال لاره ښيي، حسن تعبير، ښه تعبير.

euphony, n. د ږغ خوږوالی، د ږغ پوستوالی، د ږغ زړه را کښنه، په خوږ باندې د ږغ ښه اغېزه.

European, adj. اروپايي، د يوروپ.

n. اروپايي سړی، د يوروپ اوسېدونکی.

evacuate, v.t. تشول، تخليه کول، اړي کول، بې ځايه کول: په شا کېدل.

v.i. وتل.

evacuation, n. تشونه، تخليه، پرېښودنه.

evade, v.t.i. تښتېدل: تېښته کول (له)، (اصط) ځان تېرول: تېر ايستل، غولول.

evaluate, v.t. ارزښت ټاکل، بيه ښکاره کول.

evaluation, n. ارزښت ټاکنه، بيه ښکاره کونه، ارځ موندنه.

evanescent, adj. ورکېدونکی، نشت کېدونکی، ژر تېرېدونکی، بې دوامه بې پايښته.

evanescence, n. بې دوامتوب، بې پايښتوب.

evangelical, adj. د انجيل، د پروټستانټ، د کليسا، د پروټستانټ هغې ډلې ته منسوب چه ځينې اساسات د حوارېونو د تعليم اساسي مرکز گڼي.

evangelist, n. د انجيل ليکونکی، خطيب.

evaporate, v.i. بړاس کېدل، بخار کېدل، الوتل.

v.t. په بړاس بدلول: لندبل وچول (د تودوخې په ذریعه).

evaporation, n. په بړاس بدلېدنه، تبخیر.

evaporator, n.

evasion, n. تېښته، ځان بچونه، غاړه غړونه (په چل ول).

evasive, adj. غولوونکی، تېرایستونکی

eve, n. ماښام: هغه ورځ یا شپه چه د یوې مهمې پېښې مقدمه وي (لکه د اختر شپه).

even, adj. برابر: منظم: سم: یوشان: عادلانه، د انصاف له مخې: خلاص په خلاص، سره خلاص، خپل حق ته رسېدلی: جوړه، جفت، جې (چه په دوو وېشل کېدای شي)، بشپړ، پوره، بېغږی.

evenly, adv. په برابره توګه، په منظم ډول: په یوشان.

evenness, n. برابروالی: تنظیم: یوشانته والی.

evening, n. ماښام.

event, n. پېښه، واقعه، حادثه: نتیجه: په سپورتي لوبو کې شرط اېښوونه.

eventful, adj. له پېښو ډک، له حادثو ډک، مهم.

eventide, n. ماښام، شپه.

eventual, adj. وروستی، اخیری، نتیجوی.

eventually, adv. په پای کې، په نتیجه کې.

ever, adv. تل، هر کله، د تل لپاره، همېشه، کله.

evergreen, adj. تل زرغون، تل شین (لکه ځینې ونې) تل زرغونه ونه.

everlasting, adj. تل پایدونکی، ابدی، ټینګ.

n. پایښت، ابدی، ټینګتیا.

everlastingly, adv. په ابدی توګه، د تل لپاره.

evermore, adv. تل، د تل لپاره.

every, adj. هر، هر یو

everybody, pron. هر څوک، هر سړی، هر یو.

everyday, adj. هره ورځ، د هرې ورځې، ورځنی.

everyone, pron. هر څوک، هر یو.

everything, pron. هر شی، واړه، ټول.

everywhere, adv. هر چېرته، په هر ځای کې.

evict, v.t. شړل، بې برخې کول، لاس لنډول.

n.

evidence, n. نښه، بېلګه، شاهد، ثبوت، ښودونکی (شی).

evident, adj. ښکاره، څرګند، روڼ.

evidently, adv. په ښکاره، په څرګند ډول، واضحاً.

evil, adj. ناوړه، بد، خراب، زیانمن.

evildoer, n. بدکار، شریر، شیطان.

evince, v.t. ښودل، ښکاره کول، څرګندول.

evoke, v.t. پارول: حاضرول ، رابلل ، راګرځول ، ستنول.

evolution, n. تدریجي تکامل، هغه نظریه چه وایي حیوانات په تدریج سره د ساده شکل څخه تکامل کړی دی .

evolutionary, adj. تکاملي نظریې ته منسوب.

evolutionist, n. د تکامل د نظریې طرفدار

evolve, v.t.i. په تدریجي توګه تکامل کول ، د ساده څخه مرکب خوا ته تلل: جوړېدل ، روغېدل ، منځ ته راتلل ، راوتل.

ewe, n. مېږه .

ewer, n. چګک ، صراحي

exact, adj. درست ، صحیح ، بشپړ ، په ځای ، دقیق.

exactly, adv. بېدو ، کټ مټ .

exactness, n. صحیحوالی ، درستوالی .

exact, v.t. اخ کول (لکه د پور بېرېکړې ته) ، په زور غوښتل ، حصولول.

exacter, n.

exacting, adj.

exaction, n.

exactitude, n. کره والی، صحیحوالی ، درستوالی ، سموالی .

exaggerate, v.t. لویول ، غټول ، اغراق کول ، مبالغه کول .

exaggeration, n. مبالغه ، اغراق ، په خبرو کې زیاتي .

exalt, v.t. لوړول ، درنول ، ستایل ، سرلوړی کول ، لمانځل .

exaltation, n. سرلوړی ، درناوی ، ستاینه .

examine, v.t. ازمېیل ، څرګندول ، پلټل ، (اصط) تلل : پوښتل .

examination, n. ازمېینه ، امتحان ، پلټنه .

examiner, n. ازمېیونکی ، ممتحن ، پلټونکی .

example, n. مثال ، نمونه ، عبرت .

exasperate, v.t. پارول ، پڅول ، غصول ، خولې زیږول .

exasperation, n. پارونه ، پڅونه ، خولې زیږونه .

excavate, v.t. حفر کول ، کیندل ، سمڅ جوړول ، کوګې کول ، کیندل او ایستل (لکه د خاورې) .

excavation, n. کیندنه ، راسربېره کول (د پټو شیانو) : حفریات.

excavator, n. کیندونکی ، هغه آله یا ماشین چه خاوره وباسي .

exceed, v.t.i تېرېدل (له حده)، زیاتېدل : تېری کول ، وړاندې کېدل .

exceeding, adj.

exceedingly, adv. په زیاتېدونکې توګه .

excel, v.t.i. تېرېدل (له حد څخه) : لوړېدل : زیاتوالی لرل : (پر) غوره والی لرل .

excellency, n. غوره والی ، ښه والی ، زیاتوالی : جلالتمآب .

excellent, adj. غوره ، ډېر ښه ، عالي ، ډېر لوړ .

excellence, n. زیاتي ، غوره والی ، لوړ والی .

excellently, adv. په غوره توګه، په ډېر ښه ډول.

excelsior, adj. لا لوړ، لا جګ، لا ښه.

n. توتڼي، د نجارۍ او رنده کارۍ پاتې شوني.

except, v.t. استثنا کول، پرېښودل، غورځول.

v.i. مخالف کېدل: مخالفت څرګندول.

prep. بې له، چپ له، پرته.

excepting, prep. بې له، چپ له، غیر له.

exception, n. استثنا، مستثنا: نه منښه، ایراد.

exceptionable, adj. د استثنا کولو وړ، د بېلولو او ځانګړي کولو وړ، د ایراد نیولو وړ، د اعتراض وړ.

exceptional, adj. استثنايي، فوق العاده، بې جوړې، بې ساري.

exceptionally, adv. په بې سارې توګه.

excerpt, n. اقتباس، اخیستنه، د یوې لیکنې د ځینو فقرو ویا پریګرافو نقلونه.

excess, n. پرېمانه، ډېروالی: زیاتی، تېری، افراط: شته مني.

excessive, adj. ډېر زیات، پرېمانه، کوټه.

excessively, adv.

exchange, n. بدلون، الیشونه، بدلونه، تبادله، معاوضه: بازار: مرکز (لکه د ټیلفون): تجارتي راکړه ورکړه.

v.t.i. راکړه ورکړه کول، بدلول، جنس په جنس تبادله کول.

exchangeable, adj. د بدلولو وړ، د راکړې او ورکړې وړ.

exchequer, n. خزانه: خزانه داري: دولتي خزانه، مالیه.

excise, n. هغه مالیات چه په هېواد کې د ننه پر تولیداتو او مالونو اېښودل کېږي، د داخلي تجارت مالیات.

excise, v.t. پرېکول، بېلول.

excision, n. پرېکونه، بېلونه.

excite, v.t. پارول، فعال کول، په ګېنو راوستل، په هیجان راوستل، هیجاني کول.

excitability, n. د پارېدنې وړوالی.

excitable, adj. د پارېدنې وړ.

excited, adj. پارېدلی.

excitedly, adv. په هیجاني توګه.

exciting, adj. پارونکی.

excitement, n. هیجان، پارېدنه، تحریك، قهر، غضب.

exclaim, v.t.i. چیغې کول، غورزې کول، په جګ ږغ ویل.

exclamation, n. چیغه، کریږه، د تعجب نه ډکه چیغه.

exclamatory, adj. د تعجب، د حیرانتیا.

exclude, v.t. ایستل، د باندې پرېښودل: ردول، شړل.

exclusion, n. ایستنه، شړنه، ردونه.

exclusive, adj. ځانله (د څو کسو د پاره)، ځانګړی: انحصار: ټول: خاص.

exclusively, adv. په ځانګړې توګه، په خاص ډول، په ټوله معنی.

exclusiveness, n. ځانله والی، ځانګړی توب.

excommunicate, v.t. تکفیرول، رټل، شړل، په تېره له مذهبي مراکزو څخه: مردود کول، رټه کول.

excommunication, n. تکفیرونه، رټنه، شړنه.

excrement, n. اطراحات په تېره خولې او نجاست.

excrescence, n. غیر طبیعي وده، مرغېړی، غدود.

excrete, v.t. دفع کول (لکه خولې یا نجاست)، اطراح کول، د باندې ایستل.

excretion, n. اطراح.

excretory, adj. د اطراح.

excruciating, adj. دردناک، ویرناک؛ ځمجن.

exculpate, v.t. سپینول، پاک کول، له تور او ملامتۍ څخه خلاصول.

excursion, n. تفریحي گرځېدنه، سیر او سیاحت.

excursionist, n. گرځندوی.

excursive, adj. بې ترتیبه، گډوډ، گرځنده، سرگردان: منحرف.

excuse, v.t. بښل: بانه (بهانه) کول: معذورول، خوشې کول، پرېښودل، (لکه د وظیفې څخه): حق په جانب گڼل

n. عذر، بښنه: بهانه.

excusable, adj. د بښلو وړ.

execrable, adj. کرکجن، ناوړه، مکروه، د دفع کولو وړ.

execrate, v.t. لعنت ویل: کرکه کول، بد ویل.

execration, n. کرکه: لعنت وینه.

execute, v.t. بشپړول، سرته رسول، خلاصول: اجرا کول: اعدامول (د قانون له مخې): جوړول (د پلان یا نقشې له مخې): برمخ بیول (د پلان له مخې): قانوني کول.

execution, n. اجرأ، اعدام، بشپړونه.

executioner, n.

executive, adj. اجرائیه (لکه اجرائیه قوه)، د کړنې، د بشپړتیا.

n. د حکومت اجرائیه څانگه: د اجرائیې مشر یا ډله.

executor, n. وصي، هغه سړی چه د مړي د پاتې شونو واک لري.

exegesis, n. تفسیر، شرح، په تېره بیا د آسماني کتابو.

exemplary, adj. د مثال، نمونه یي، د عبرت، یادگاري.

exemplify, v.t. مثال ور کول، د مثال په واسطه تشریح کول.

exemplification, n.

exempt, adj. بښلی، معاف، خلاص (لکه د مالیاتو د پرېکړې څخه).

v.t. بښل، معافول: خلاصول.

exemption, n.

exercise, n. مشق، تمرین، کار اخیستنه: روزنه په تېره بدني: تکرار (درسي).

pl. د بیانیو او بدلو پروگرام.

v.t.i. روزل: کار اخیستل (څخه): مشق او تمرین کول.

exert, v.t. اچول (لکه زور)، لگول، په کار وړل، واردول، اجرأ کول، ښکاره کول.

exertion, n.

exhale, v.t.i. ساه ایستل، هوا له خولې ایستل، بوی ور کول، وږمه تلل (له).

v.i. ساه وتل، هوا له خولې وتل، بوی وتل.

exhalation, n.

exhaust, v.t. تشول، خالی کول (لکه بوتل له هوا څخه): لګول، مصرفول: ستړی کول، ستومانه کول، له کاره غورځول: خچ پچ کول.

n. د انجن څخه نل یا لوله چه بخار یا لوګی تری وځی.

exhaustion, n. ستومانتیا، ستړیا، ستونزه.

exhaustive, adj. پوره، بشپړ، حاوی، داسې چه ټول امکانات په نظر کی ونیسی، جامع.

exhibit, v.t. ښودل، څرګندول (لکه خوشالی): (حق) محکمې ته وړاندې کول، دعوا صحیح کول، مدرك.

n. نندارتون: (طب) تداوی.

exhibition, n. نندارتون.

exhibitor, n. ښوونکی، څرګندوونکی.

exhilarate, v.t. خوشالول، زړور کول، ژوندی کول، ساور کول.

exhilaration, n. خوشالونه.

exhort, v.t.i. اړ کول: تشویقول، سلاور کول.

exhortation, n. اړ ایستنه: تشویقی خبرې، سلا: نصیحت.

exhume,, v.t. را سر بېره کول (لکه د قبر څخه)، را ایستل، را سپړل، افشا کول.

exhumation, n. را ایستنه، را کښنه.

exigency, n. اړتیا، سخت ضرورت، تنګسه.

exigent, adj. ضروری، اړ ایستونکی، د بېړې کار، اضطراری حالت.

exile, n. تبعید، شړنه: پردېس، فراری، شړل شوی.

v.t. فرارول، شړل.

exist, v.i. وجود درلودل، ژوند کول، پایښت درلودل.

existence, n. موجودیت، هستی: ژوند، وجود.

existent, adj. موجود.

exit; n. وتنه (لکه له میدان یا صحنې څخه): مړینه، تېرېدنه، سترګې پټونه (له دنیا): د وتو لار، وتوځی.

exodus, n. مهاجرت، یو مخیز لېږد، د بنی اسرائیلو له مصر څخه وتنه (په څټ E).

exonerate, v.t. سپینول، پاکول (له ګناه یا تور څخه)، خلاصول، بری الذمه کول.

exorbitant, adj. تېری (د حق له حدود د څخه): زښت ډېر، خورا ډېر: (حق) د قانون له چوکاټ څخه وتلی.

exorcise, exorcize, v.t. پېریان جګول یا حاضرول، له خبیثه ارواحو خلاصول، له بدو بلا وژغورل.

exorcism, n. د ارواحو او پېریانو د شړلو او جګولو عمل.

exorcist, n. پریانو جګوونکی، کوډګر.

exotic, adj. پردی، ناآشنا: د باندنی (خارجی)

expand, v.t.i. غوړول (لکه فرش)، ویړول، څپرول، ارتول، پراخول، تفصیلورکول.

expander, n.

expanse, n. پراخوالی، وسعت.

expansion, n. انبساط، توسعه، غځېدنه، خپرېدنه، ویړېدنه، ارتېدنه، پراخېدنه: فضا.

expansive, adj. پراخ، ارت، ویړ، خپور.

expatiate, v.i. اوږده وینا یا لیکنه کول: ډېرې غځېدل، اوږدول (خبره، لیکنه، موضوع).

expatriate, n. فرارول، شړل (له خپل هېواده څخه)، تبعید کول.

expect, v.t. سترګې لرل (ته)، تمه لرل، توقع لرل، د پېښېدو اټکل کول.

expectancy, n. توقع، امید.

expectant, adj. تمه لرونکی، متوقع، امیدوار، سترګې پرلار.

expectantly, adv. په تمه، په تلوسه.

expectation, n. تمه، توقع، هیله، امید.

expectorate, v.t.i. لوستل: قی کول، خراشکی غورځول، د ټوخې سره له خولې څخه غورځول.

expectoration, n خراشکی غورځونه، لوستنه.

expedience, n. غوښتنه، اقتضا.

expediency, n. وړوالی، غوره توب، سمون (د غوښتنې سره): خود خواهی (ځانمنی).

expedient, adj. وړ، مناسب، په ځای، اغېزناک (په پرمختګ کې)، د غوښتنې او مقتضا سره سم.

expedite, v.t. خنډونه لرې کول (له مخې څخه): ګړندی کول: استول، لېږل، مخابره کول.

expedition, n. ګړندیتوب: چټکوالی: قولګی یا هیأت (چې د جنګی یا علمی چارو د پاره مسافرت وکړی).

expeditionary, adj. د اکتشافی قولګی، د علمی هیأت استازی.

expeditious, adj. ګړندی، بېړندی: ګړندی کوونکی.

expel, v.t. شړل، ایستل، لېرې کول، دفع کول، رټل، خارجول.

expend, v.t. لګول، خرڅول، مصرفول.

expenditure, n. لګښت، خرڅ، مصرف.

expense, n. خرڅ، لګښت، خراجات: بیه.

expensive, adj. ګران، قیمت.

expensively, adv. په ګرانه بیه.

experience, n. تجربه، ازمېښت: کتنه، مشاهده: سړې تودې (دژوند): پخوالی.

experienced. adj.- ازمېیلی، تجربه لرونکی، پوخ، ماهر.

experiment, n. تجربه، ازمېینه، علمی تجربه (تجریب).

experimental, adj. تجربوي، ازمېښتی.

experimentation, n. تجربه، د تجربې عملیه.

experimenter, n. تجربه کوونکی، ازمېیونکی.

expert, adj. ماهر ، استاذ ، متخصص .

expertly, adv. په مهارت، په استاذی .

expertness, n. مهارت ، استادی ، تکړه توب .

expiate, v.t. ورگرځول، جبیره کول ، تلافی کول، ورپوره کول، مجرا کول.

expiation, n. ورگرځونه، ورپوره‌کونه، جبیره ، تلافی ، مجرا .

expire, v.i. تیرېدل، خلاصېدل، پوره‌کېدل ، سرته رسېدل: سا ایستل، ایستل ختم کېدل .

expiration, n. پوره کېدنه، خلاصېدنه : سا ایستنه ، ایستنه .

explain, v.t. څرگندول ، بیانول ، جوتول ، روښانول، تشریح کول .

explanation, n. څرگندونه، جوتونه ، تشریح .

explanatory, adj. د څرگندونې ، تشریحی .

expletive, adj. ډکوونکی ، بشپړکوونکی: زیات شوی .

n. زاید توری یا لغت چه په نظم کی دمسرۍ دپوره کولو دپاره زیات شوی وی: بی معنا لغت چه دگرامری جوړښت دپاره په جمله کې راوړل کېږی .

explicable, adj. دڅرگندولو وړ ، دروښانه کولو او تفصیل وړ .

explicit, adj. ښکاره ، څرگند ، روڼ ، واضح، په ډاگه ویلی .

explicitly, adv. په ښکاره توگه، په ډاگه ویلې لهجه .

explode, v.t.i. چول :چاودېدل ، کرېڅې کول : نه منل ، ردول: اوروراچول.

exploit, n. استثمار .

v.t. گټه ځنی اخیستل ، قهرمانانه عمل(شهکار) ، چاره سرته رسول ؛ چمتو کول ، په کاراچول : دبل چاگټه ځانته کول .

exploitation, n. په کاراچونه(لکه دکانو) .

explore, v.t. سپړل ، لټول ، لټه کول، پسې گرځېدل .

exploration, n. سپړنه ،لټونه ، پلټنه، ورپسې گرځېدنه .

explorer, n. سپړونکی ، اکتشاف کوونکی ، څری .

explosion, n. چاودنه : اوراخیستنه : یوناڅاپه‌راڅرگندېدنه: انفجار، انفلاق.

explosive, adj. چاودېدونکی : اوراخیستونکی : چاودونکی : بارود (دارو).

exponent, n ښکاره‌کوونکی، مشهر، تفسیروونکی : نښه : مثل:(الجبر) طاقت .

export, n. دباندې لېږل ، صادرول ، بهر استول .

ex port, n. دباندې لېږنه، صادرونه، بهر استونه ، لېږل شوی شی .

exportation, n.

exporter, n. دباندې لېږونکی ، صادروونکی .

expose, v.t. راسربېره کول ، بربنډول ، لوڅول ، څرگندول : ورڅرمه کول (لکه اوسپنه چه اورته ورڅرمه شی) تر اغېزې لاندې راوستل .

exposition, n. شرح ، سپړنه ، ښودنه ، (نمایش)، دماشوم پرېښودنه: څرگندونه شرح کونه : تبصره ، مقاله ، وینا ، انشاء .

expositor, n. راسربېره کوونکی ، شرح کوونکی ، مقاله لیکوونکی ، تفسیر کوونکی : تبصره کوونکی .

expostulate, v.i. گیله من کېدل : گیله کول : په پسته ژبه ملامتول ، غندل .

expostulation, n. گیله .

exposure, n. لڅونه : ورڅرمه کول (لکه په عکاسۍ کی چه فلم رڼا ته ورڅرمه او مخامخ شی) عیب راسربېره کول : څرگندوالی : دخطر سره مخامخ .

expound, v.t. معنا کول ، تفسیرول ، شرح او بسط ورکول ، جوتول ، څرگندول .

expounder, n.

express, v.t. ښتېڅل : څرگندول ، ویل .

adj. څرگند ، روښان ، په بشپړه توگه ، څرگندوونکی ، روڼ ، صریح ، ټاکلی

expressly, adv. په ښکاره ډول ، په څرگند ډول ، دښکاره مطلب دپاره په رښتیا سره .

n. استاځی ، دحمل ونقل یو ډول سیستم چه عرادې یې تیزی چلیږی .

expression, n. ښتېڅنه : څرگندونه : فقره : نښه : غاړه (اهنگ) دافادې ډول ، افاده : کړه وړه ، څېره

expressionless, adj.

expressive, adj. څرگندوونکی : دډېر مطلب لرونکی : په ښکاره ډول ښوودونکی

expulsion, n. شړنه ، ایستنه (موقوفوله) اخراج .

expunge, v.t. پاکول : ورکول ، تویول سپینول : فسخ کول .

expurgate, v.t. تصفیه کول ، تنقیح کول ، دلیکنې څخه داعتراض وړ ټکی لیرې کول : سپېڅلی کول ، پېچوول .

adv. ترحده زیات .

exquisite, adj. ژور : خوندور : زړه وړونکی ، ښکلی : دډېرې ستاینې وړ : ځیرک : مغرور ، په اسانه نه قانع کېدونی ، بې شانه (لکه درد یا خوښی)

extant, adj. وتلی ، ناستو : موجود پاتی څرگند : پرځای پاته .

extemporaneous, adj. بی ځنډه ، بی ډیله ، ژر تر ژره ، لاس په لاس ، فی البداهه

extemporary, adj. په هماغه شېبه اجرا شوی ، ژر په ژره تیار شوی ، سملاسی ویل شوی ، بې ډیله وړاندې شوی چټک ، فی البدیهه

extempore, adv. سمدلاسه ، ناڅاپه ، بې تیارۍ ، فی البداهه .

adj. ناڅاپی ، آنی ، بی تیارۍ ، بی له کاغذه .

extend, v.t. غځول ، اوږدول : پراخول ، ارتول ، پلنول : غوړول ، پراستل : اوادول : وړاندې کول ، ورکول .

extended, adj. غځېدلی، پراخ، اوږد، خپور، ارت.

extension, n. غزونه، غځېدنه: زیاته شوې برخه، نښتې برخه: اندازه، حد، پراخوالی، توسعه، الحاقیه، بعد.

extensive, adj. ارت، لوی، پراخ: ډنګی (د ګڼ ضد).

extensively, adv. په پراخه توګه، په لویه پیمانه.

extent, n. مېچ، اندازه: ارتوالی، پراخوالی، درجه، څومره والی.

extenuate, v.t. لږول: ټیټول: کمزوری کول.

extenuation, n. لږونه: لږښودنه: بخښنه.

exterior, adj. د باندېنی، بهرنی، خارجی، ورچېنی: بهرنی شکل، ظاهری بڼه.

exterminate, v.t. پوپنا کول، ویجاړول، له بېخه کښل، ولی ایستل.

extermination, n.

external, adj. د باندېنی، بهرنی، خارجی: لیدل کېدونکی، د لیدو وړ، جسمانی: برسېرن، سرسېرن: پردی.

externally, adv. د باندې له خوا.

extinct, adj. ایرې شوی، مړ شوی (لکه اور): له منځه تللی: وچ، شنډ، نشت شوی، محو شوی.

extinction, n. وژنه (لکه د اور)، وژل کېدنه، نشت کېدنه: اطفاء، اعدام.

extinguish, v.t. وژل، مړ کول، تباه کول

extinguisher, n.

extirpate, v.t. له بېخه ایستل، ورک کول.

extirpation, n. له منځه ایستنه، ورکونه (ورک کونه).

extol, extoll, v.t. ستایل، نمانځل، غټول، درنول.

extort, v.t. شکول، شوکه کول، په زور اخیستل، غصبول.

extortion, n. شوکه، شکونه.

extortioner, n. شوکمار، غاصب.

extortionate, adj. ډېر، بې پیمانه، خورا ډېر: شوکمار: زورګیر: افراطی.

extra, adj.: سربېره، برسېره: زیات: لا نور، زیاتیکی، ډېر، اضافی، فالتو، فوق العاده.

extract, v.t. استخراجول، ایستل (څخه)، کښل، نیول: اقتباس کول (د چا قول یا لیک).

n. شیره، جوهر، عصاره

extraction, n. ایستنه، کښنه

extractor, n. ایستونکی، کښوونکی، نیوونکی.

extradite, v.t. محکمه بدلول، بلې محکمې ته سپارل.

extradition, n.

extraneous, adj.: پردی، د باندېنی، بې ربطه، نه لګېدونکی.

extraordinary adj.: غیرعادی، بلشانته: فوق العاده، له حده زیات: خاص، خاص کار ته ګومارل شوی.

extraordinarily, adv. په فوق العاده توګه: په اریانوونکی ډول.

extravagant, adj. اسراف کوونکی ، زښت ډېر ، بېځایه : بې ګټې ، ابته ، بې شمېره : ډېر ګران : بې ځلوه : له باوره کی (لکه خبری).

extravagance, n. بې ځایه لګښت ، بې ګټې توب ، بې شمېره .

extreme, adj. د پای ، اخېری ، دسر : لېری ، وریا ، ترټولو هسکی ، ډېر لوی : بې شانه ، بې ساری : افراطی .

extremely, adv. بې پایه ، بې شانه ، په بې ساری توګه .

extremist, n. افراطی سړی .

extremity, n. سر : بدمرغی ، ورغ ګرځېدنه : انتها ، زیات ضرورت یا خطر ، اطراف سفلی او عالیه (لاس او پښې)

extricate, v.t. خلاصول ، ژغورل ، بې غمه کول ، له اندېښنو خلاصول ، له ربړه خلاصول .

exuberant, adj. پرېمانه ، کوټه ، ترغاړو ډک : غوړېدلی ، خوشال ، مستانه

exuberance, . مستی ، پرېمانی .

exude, v.t.i. بهر څول : بهر څڅېدل ، زیم اچول : داری وهل ، درېچی وهل .

exudation, n. داری وهنه ، درېچی وهنه .

exult, v.i. ویاړل ، ډېر خوشاله کېدل ، بری موندل .

exultant, adj. بریالی ، بریمن

exultation, n. ویاړ : بری ، ویاړنه

eye, n. سترګه ، لیمه ، د سترګی کاتی لید : نظر : ښکار : کتنه : موخه : نښه ، بصیرت .

eye-ball, n. د سترګی کاتی .

eyebrow, n. وروځی (ورځی)

eyelash, n. باڼه یا باڼو .

eyeless, adj. ړوند .

eyelid, n. د سترګی جمبړه ، بزراله .

eyesight, n. لید ، نظر .

eyelet, n. سوری ، سوړه ، ښار (لکه د خت یا بوټ چه مزی تری تېرېږی) سپم

F

fable, n.	هغه کیسه چه رښتیا نه وی خو یوه اخلاقی نتیجه ځنی اخیستله کېږی.
fabric, n.	ټوکر، جوړ شوی شی (په لاس یا ماشین): جوړښت.
fabricate, v.t.	جوړول، ودانول، رغول: را ایستل، پیدا کول، میدان ته را ایستل: له ځانه جوړول.
fabrication, n.	جوړونه، را ایستنه، ودانونه.
fabulous, adj.	افسانوی، اریانوونکی، خیالی، نه منل کېدونکی: اتل (په شکل کی): د مبالغې ډك.
facade, n.	مخ (لکه د ودانۍ): ظاهری بڼه.
face, n.	مخ: مخ (د څټ ضد): بڼه، څېره: سطح: حیثیت: زړه ور توب.
v.t.	مخامخ کېدل، مقابله کول، مخی ته درېدل: اخیر کول، مخ ور کول.
v.i.	مخامخ کېدل.
facet, n.	اړخ یا مخ (لکه د غمی یا منشور).
facetious, adj.	مضحك، دخندا وړ، ټوکی، مچله، ټوکمار.
facial, adj.	مخنی، د مخ، مخیز.
n.	هغه مواد چه پر مخ موښل کېږی.
facile, adj.	روان، جاری (لکه په خبرو کی): اسان: ښوی.
facilitate, v.t.	اسانول، روانول.
facility, n.	اسانتیا، اسانی: اسانوونکی: استعداد، مهارت.
facing, n.	لېو، پراو، پز: پوښ (لبنی)، کف، کالر، نښان (فورم)، پټی چه د دریشی له رنګه څخه بې رنګه بېل وی.
fact, n.	رښتیا، حقیقت، واقعیت: پېښه.
faction, n.	ډله، ټولکی، (په تېره د بدو خلکو): ګوند.
factious, adj.	ګوندیمار، ډله باز: د ګوند دروحی څخه منحرف شوی.
factitious, adj.	جوړ شوی، مصنوعی، کلپ (قلب)، کوټه، کچه، کم اصل، جعلی، نقلی.
factor, n.	کړونی، عامل: ضریب: نماینده، وکیل.
factory, n.	فابریکه، چارځای.
factotum, n.	هر کاره: څارو: ناظر.
faculty, n.	فاکولته: استعداد: توان، وس، ملکه: پوهنځی: د پوهنځی تدریسی هیئات: دراك، واکمنی: هیئات.
fad, n.	لېوالتیا، تلوسه: ژر تېرېدونکی، موډ، مشغولا.

fade, v.i. مړاوی کېدل، تت کېدل، پیکه کېدل: رژېدل، ویلي کېدل.

v.t. مړاوی کول: رژول: تتول، خپول.

faery, faerie, n. د شاپیریو ملکه یا وطن: شاپېری: خیالي.

fag, v.i. ستړی کېدل، ستومانه کېدل: ستونځه ګالل.

v.t. ستومانه کول، ستړی کول.

fagot, faggot, n. د لرګو ګېډۍ، د سونګ لرګي، ګېډۍ، کوده.

Fahrenheit, n. فارن هایټ، داسې ترمامیټر چه په هغه کی اوبه په (۲۱۲) درجو کی ایشي او په (۳۲) درجو کی کنګل کېږي

fail, v.i. ناکامېدل، له کاره لوېدل: خوسا کېدل، ورستېدل، مړاوی کېدل، ډوبېدل، ډېوالی کېدل، ډوبه کېدل.

n. ناکامی.

failing, n. بې وسی، ناتوانی، کمزوری، نقصان، سهو، عیب، نیمګړتیا.

failure, n. ناکامی: نشتوالی: بې وسی، خوسا توب، ورستوالی: ډوبه توب: ناکام (سړی یا شی).

fain, adj. خوښ، خوشال

adv. په خوشالی، په خوښی.

faint, adj. بې سېکه، پرکال: بې زړه، ډارن: ضعیف، بې شیمې، تت

n. پرکالتوب، بې هوښی.

v.i. پرکاله کېدل، بې هوښه کېدل.

faintly, adv. په ضعیف ډول، په تته بڼه.

faintness, تتوالی، پرکالتوب.

fair, adj. ښکلی، ښایسته یې مخی: بوره، مناسب: روښانه ژړ و ښتان، ژړچك وېښتان: روښان، عادل، خواخوږی: سپېڅلی: روڼ، ښکاره، څرګند: بې خالو، بې کلپې (لکه لوبه): منځنی، ښه هوا، مناسبه هوا: بې طرفه.

fairly, adv. په مناسبه توګه، په منصفانه ډول.

fairness, n. ښکلا: انصاف.

fair, n. بازار، د بازار ورځ: نندارتون.

fairy, n. شاپېری: پېری.

fairy-land, n. شاپېرستان.

fairy-tale, n. د شاپېرو کیسه، خیالي کیسه.

faith, n.: ګروهه، عقیده، ایمان: وفا: ویسا.

faithful وفادار.

faithfully په وفاداری.

faithfulness وفاداری.

faithless بې وفا، جفاکار.

faithlessly په بې وفایی.

faithlessness. جفاکاری، بې وفایی، بې ایمانی.

fake, v.t. (اصط) جعل کاری کول: ځان د بل په بڼه کول، کلپول، غولول.

n. غولونه، کلپی.

falchion, n. یو ډول توره چه په منځنیو پېړیو کی استعمالېده او د لور په شان کوږه تېره یې درلوده.

falcon, n. باز، باښه.

falconer, n. باښه ساتونکی.

falconry, n. د باښو ساتنه.

fall, v.i.: لوېدل ، غورځېدل ، پرځېدل ، وژل کېدل (لکه په جنګ کې) : پرېوتل : پښېدل : برابرېدل : داتلل : اوښتل : اورېدل .

n, اوریا: لوېده ، بربادي : کښېوتنه : (سقوط) : وتنه (له لمبره) : تویېدنه ، منی (خزان) : ټیټېدنه ، لوېدنه : ځوړه : ځړوبی : ځوړ ، د لوېدو واټن .

fallacious, adj. غولوونکی ، تېر ایستونکی .

fallacy, n. درغلي ، تېرایستنه ، ټګي برګي : غولوونکي : منطق او استدلال : سفسطه .

fallen, adj. لوېدلی ، خوار ، نتلی ، برباد : مړ .

fallible, adj. دخطاوتوونکی ، د تېروتوونکی ، دوکه خوړونکی ، تېروتونکی .

fallow, adj. شود یاره ، سادین ، شاره (یوې سوې ځمکه) .

false, adj. غلط ، خائن ، درغل ، بې وفا ، کلپ ، کوټه ، بدل ، مصنوعي : موقتي : امانت : بې اعتباره .

falsely, aév په غلطه توګه .

falseness, n. غلطي .

falsification, n. غلط ښودنه ، غلطي ثابتونه ، تحریف .

falsify, v.t.i. غلط ختل ، غلط ایستل .

falsity, n. غلطي ، ناسموالی ، دروغ .

falter, v.i. دوه زړه کېدل ، زړه نازړه کېدل ، تلوالی کېدل : ژېژ ایسدل ، لړزېدل : ترېدل .

fame, n. نوم ، شهرت ، عزت ، جلال .

famed, adj. مشهور ، نامتو .

familiar, adj. روږد ، اشنا ، بلد ، پېژندوی : نږدې .

familiarity, n. اشنايي ، ملګرتیا : پېژندګلوي ، بلدتیا .

familiarize, v.t.: مشهورول ، اشنا کول : روږدی کول .

family, n. فامیل ، کورنۍ ، کهول ، خېلخانه ، پرګه ، پرګنه : توکم ، سټوه ، پښه .

famine, n.: وچکالي ، کاختي ، سوکړه : لوږه .

famish, v.t.i. په لوږه اخته کېدل ، وږی کېدل : له لوږې ستړېدل .

famous, adj. مشهور ، نامتو ، نومیالی .

fan, n. بېوزی ، پېك ، پکه .

v.t. بېوزی وهل : لمن وهل .

v.i. غوړېدل ، خپرېدل (لکه بېوزی) .

fanatic, adj. توغمه ناك ، متعصب : ټینګ (لکه پر مذهب) .

fanatical, adj. د تعصب .

fanaticism, n. تعصب .

fancier, n. د څارویو ، ګیالګیو یا بوټو درو زلی شوقی .

fanciful, adj. په خیال مین ، خیال پرست ، خیالي ، هوسي (هوسناك) .

fancifully, adv. په خیال پرستۍ .

fancy, n. مینه : خیال : تخیل : تلون : نظریه : چورت .

v.t. : خوښول په خیال کې ګرځول : انګېرل .

adj. خیالی ، گلالی ، ښکلی : نخره گر :
تجملی .

fane, n. نمزدک ، معبد .

fang, n. داړه ، نیښ .

fantastic, adj. خیالی ، اریانوونکی ،
هک پک کوونکی : شخېل : عجیب .

fantastical, adj.

fantastically, adv.

fantasy, phantasy, n. فانتزی ، خیال ،
چرت ، خیال پلو ، د فکر له قیده خلاص :
تړپدلی ، وحشی : عجیبه : سودا .

far, adv. لیرې .

faraway, adj. لیرې : خوبولی (خوب وړی) .

farce, n لوبه (ډرامه) چه د ملنډو او
مسخرو څخه ډکه وی ، خندوونکې لوبه

fare, v.i په سفر تلل : سړي ته ودې گالل
پېښېدل : ختل داوتل : برخه اخیستل ،
مړېدل ، شومل : شومه کول .

n. باړه ، کرایه : شومه ، خواړه .

farewell, n. خدای پاماني ، په مخه ښه

adj. پېلتون : وداع .

farina, n: چڼلی اوړه ، سپېرووني ، برڅه :
نشایسته .

farm, n. فارم (کرونده او د کور لیوژویو د
روزلو ځای) ، کښت ، کرونده ،
اریانه ، ارین (کرونده) .

v.t. کرل : کرونده کول ، یوې کول .

farmer, n. بزگر ، کرونده گر ،
ښکاروز .

farm-house, n. د بزگر ، استوگنځی .

farming, n. کرنه .

farmstead, n. د بزگر استوگنځی چه
په کرونده کی وی .

farmyard, n. د (فارم) انگړ .

far-off, adj. لیرې ، پورې خوا .

farrier, n. نال بند .

farriery, n. نال بندی .

farrow, n. د خوگ چیچیان ، د خنزیر
بچیان ، د خوگ زامنگی .

v.t. د خوگې لنگېدل یا خوگان زېږول

farsighted, adj دوراندیش ، لیرې
لیدوونکی ، هوښیار ، پوه .

farsightiedness, n. لیې لیدنه ،
هوښیاری .

farther, adj. وړاندې ، لیری (تر) :
لاوړاندې : خورا بشپړ .

farthest, adj. تر ټولو لیرې تر ټولو وړاندې

برتانوی سکه چه د penny څلورمه
برخه کېږی . farthing, n.

fascinate, v.t.i. جلبول ،
لیوال کول ، تر اوده لاندې کول منتر کول

fascination, n.

fascist, n. فاشیست ، د هغه سیاسی گوند
غړی چه په ۱۹۲۲ کی د سوسیالیزم
او کمونیزم د مقابلې د پاره د یوه عملی
عکس العمل په بڼه تاسیس او په ۱۹۴۳
کی ړنگ شو .

fascisti, n. فاشیست .

fascism, n. فاشستی .

fascist, adj.

fashion, n. فیشن ، ډول ، قسم ، راز :
دود ، چم ، سبك ، طرز ، وړ : دود او
دستور : سینگار .

v.t. جوړول، رغول: لګول، نصبول،
ودرول .

fashionable, adj. فیشني، ډولي، پرموده
برابر ، رواجي ، د دود سره سم :
دسینګار دډول .

fashionably, adv د دود له مخې، د دود
سره سم .

fast, v.i. روژه نیول ، لوږه ګالل .

n. روژه .

fast, adj. درواند (لکه خوب) : پوخ
(لکه رنګ) ټینګ کلک : ګړندی ،
توند ، چټک، متی ، زغرد: خوشاله ورین

fasten, v.t. کلکول ، تړل ، نښلول،
کولپول .

fastener, n. تړونکی ، نښلوونکی ،
چنګک .

fastening, n. کنجک ، چنګک، جندری
کیړه ، کلپ .

fastidious, adj. ځیر، ځیرک : کبرجن،
غره ؛ زرزری .

fastidiousness, n. ځیرکی ، کبر ،
غرور ، لوبی .

fastness, n. کلا ، کوټ ، حصار، چټکی ،
استحکام ، ثبات .

fat, adj. څورب ، مزی ، تیار ، چاغ :
غوړ : ګټور (اصطـ) غوړه مړی ، غوړ
غړی ؛ څربه ، مسته (لکه مچکه) :
شته من ، بډای ، موړ .

n. وازګه ، سپینه ، لم ، غوړی .

fatal, adj. مهلك ، وژونکی .

fatally, adv. په نارضیدونکی توګه،
په وژونکی ډول ، په هلاك کوونکی توګ

fatalism, n. دجبر عقیده ، جبری مذهب
داسی عقیده چه وایی ددنیا پیښی په ازل
کی ټاکل شوې دی او د انسان زیار او
اراده کوم ځای نه نیسی .

fatalist, n. دجبر پرخوا

ftalistic, adj. جبری .

fatality, n. ویرناکه پېښه (فاجعه) :
تقدیر : مړینه (غیرطبیعی).

fate, n. قسمت ، تقدیر ، مرغ ، بخت ،
طالع : بدمرغی ، بدبختی ، اجل، تباهی

fated, adj. په تقدیر کی ، په ازل کی،
خدایی .

fateful, adj. ویرجن ، بدمرغه،

father, n. پلار ، نیکه، منشاء : پادری .

fatherhood, n. پلارولی .

fatherland, n. وطن ، هیواد .

fatherless, adj. یتیم، بی پلاره .

fatherly, adj. دپلارولی، دمهربانی .

father-in-law, n. خسر ، سخر .

fathom, n. (لر) وازه (قلاچ) : داوبو
ژوروالی میچ چه شپږ فټه کیږی، او بیچ .

v.t. حل کول، پوهېدل، پته لګول ،
(اصطـ) تل ته رسېدل .

fathomless, adj. بې پایه، بې پایانه .

fatigue, n. ستړیا، ستوماني، ستونزه .

v.t. ستړی کېدل، ستومانه کېدل.

fatness, n. چاغوالی، څوربوالی ،
مزی توب، غوړوالی ، شته منی ، بډایی.

fatten, v.t.i. څربول، تیارول، ساتل ،
چاغول، مزی کول : څربېدل ، تیارېدل،
چاغېدل .

fatty, adj. غوړین، غوړ لرونکی،
غوړ، شحمي.

fatuous, aéj. احمق، بې تمیزه، ساده،
fatuously, adv.

faucet, n. اوبشپې، شیردان (شیردهن)،
چوښکه، نلکه.

fault, n. غلطي، سهوه، قصور، کمی،
نقصان، کمزوري: ملامتي: (جیالوجي)
د ځمکې د طبقو راښویېدنه.

faultless, adj. بې عیبه، بې نقصه.

faultlessly, adv. په صحیح توګه
په بې عیبه توګه.

faulty, adj. عیبي، عیبجن، غلطي
لرونکی.

faun, n. د رومیانو په عقیده کلیوالي
رب النوع چه نیمایي وزګړی او نیمایي
سړی وي.

fauna, n. هغه ژوي چه په یوه محال
یا یوه سیمه کې پیدا کیږي.

favor, favour, n. مینه، علاقه، خوښونه:
زیاتي، پاندیوالی، برتري: مرسته:
لیک: مهرباني: پرخواوالی.

v.t. مینه لرل (سره): ښه ګڼل، غوره
ګڼل: ملاتړ کول.

favorable, adj. غوره، منلی، ګټور
مساعد.

favourable, adj.

favorably, adv. په مینه، د طرفداری
په توګه، په ګټه (د چا).

favourably, adv.

favorite, favourite, n. غوره، انتخابي،
په زړه پورې، د خوښې.

favoritism, favouritism, n. طرفداري،
غرض، پرخواتوب، لحاظ ساتنه.

fawn, n. کبلی، وری (د غرڅې): پېکه
ژېړچنکه نسواري رنګ.

fay, n. شاپیری، پیری.

fealty, n. وفا، درېدنه
(لکه په وعده او ملګرتوب).

fear, n. ډار، وېره، بېره.

v.t. ډارلرل، بېره لرل.

v.i. وېرېدل، ډارېدل.

fearful, adj. ډاروونکی: ډارېدونکی

fearfully, adv. په ډاروونکي ډول.

fearless, adj. بې ډاره، زړور.

fearlessly, adv. په زړوره توګه.

fearlessness, n. نه ډارېدنه، نه وېرېدنه

fearsome, adj. ډاروونکی، بېروونکی،
کړکېچن.

feasible, adj. کېدونکی، ممکن، عملي.

feasibility, n. امکان، کېدنه.

feast, n. مذهبي میله: مېلمستیا، ناری:

v.t. ناری کول، مېلمستیا کول،
خوشالول.

feat, n. عمل: بری، کارنامه.

feather, n. بڼه بڼکه، پر.

v.t. بڼکې تړل (لکه په غشي
پورې)، په بڼو سینګارول، په بڼو پوښل.

featherless, adj. بې بڼکو، بې پرو.

feathery, adj. په بڼکو پټ، بڼکین.

feature, n. بڼه، څېره، مخ، شکل،
بېلوونکې نښه، فارقه علامه: اندازه،
ښوونه.

featureless, adj. بې بڼې، بې څېرې .

febrile, adj. تبجن، د تبې تود
(د تبې له کبله) .

February, n. فبروري د عیسوي کال
دوهمه میاشت .

fecund, adj. ګټور، ځورب، مثمر،
مؤلد، بثمر ناك .

fecundity, n. بثمرناك توب .

fed. د feed ماضي او دریم حالت .

federal, adj. فدرالي، د تړون، اتحادي

n. متحد، یولاس .

federalism, n. د فدرالي حکومت پلوي
(طرفداري) .

federalist, Federalist, n. د فدرالي
حکومت طرفدار .

federation, n. فدراسیون، اتحادیه .

federative, adj. اتحادي .

fee, n. مزد، فیس، اجوره: میراثي
جایداد: ښېګڼه، ښه، احسان .

feeble, adj. بې سېکه، کمزوری، ناتوان
بې دمه، بې هڅوې: نیمګړی، بې ثمره

feebleness, n. کمزورتیا: نیمګړتیا .

feebly, adv. په کمزوري: په نیمګړې
توګه .

feed, v. څړول، تغذیه کول: خوراك
ورکول .

n. بوس، پروړه، بېده: درس، خواړه .

feeder, n.

feel, v.t. احساسول: رسېدل: لاس پرې وهل
درك کول، په زړه کې تېرول، زړه
ته را تلل، ګومان کول: زغمل: خوا
خوږي لرل، زړه سوی لرل، احساس
حس، لاس تېرونه: رسېدنه .

feeler, n. ښکرکی (لکه چه د حشراتو
په سرو باندې وي او د حس آله وي)
احساسوونکې آله: شاخص، مشعر
هغه پېشنهاد چه د خلکو د نظر پوا ودا
یو د معلوموولو لپاره وړاندې کېږي .

feeling, n. احساس، د لامسې حس:
مشاهده، ادراك: احساس: هیجان:
احساساتي نظریه، بې دلیله نظریه .

feet, n. د foot جمع پښې .

feign, v.t.i. بهانه کول، ځان ښودل،
ځان ښکاره کول، تش په خوله منل،
تظاهر کول (په عقیده یا خبره) .

feint, n. چلول، ټګي برګي، اغفال
تېرایستنه، غولونه .

feint, v.i چلول کول: په حمله کې
تېر ایستل .

felicitate, v.t. مبارکي ویل .

felicitation, n. مبارکي .

felicitous, adj مناسب، پرځای (اصط)
ټك پټوری: خوشاله، وړ .

felicity, n. بری، کامیابي، بریالیتوب
خوښي، نیکمرغي، برکت: غوره وینا،
فصیحه وینا، مناسبه خبره .

feline, adj. د پیشو د کورنۍ، پیشو وزمه
دوه مخی چلی، درغل، دوه ژبی .

fell, v.t. وهل: پرې کول: ړنګول
پرې ایستل (لکه دونې) .

fell, adj. ظالم، خونخور، وژونکی .

fell, past tense of fall. د fall ماضي
ولوېد .

felloe, n. کړۍ، د پاټډینی کړۍ (لکه د څرخ) .

fellow, n. ملګری، مل، انډیوال .

fellowship, n. فیلوشیپ، ملګرتوب، ملګرتیا، ملتوب: د ملګرو ډله: د یوې کلیسا د غړو تر بله اړه یکی: د یوه پوهنځی د زده کوونکو ډله، هغه پیسې چه د شاګردانو د روزلو دپاره راټولیږی

felly, n. felloe ته مراجعه وکړئ

felon, n. جانی، جنایتکار، مجرم.

felony, n. جنایت، جرم .

felonious, adj. د جرم، د جنایت.

felt, د feel ماضی او دریم حالت.

felt, n. لمڅی، لمڅی، کراسته.

female, adj. ښځینه، مؤنث .

female, n. ښځه، مؤنث.

feminine, adj. ښځینه، د ښځې: (ګر) مؤنث .

femur, n. د ورانه غټ هډوکی .

fen, n. جبه، ژوره مځکه، اوبجنه مځکه.

fence, n. د توری د جنګړې فن: کټاره، چغ کلا: هغه څوک چه د غلامال ساتی.

v.t. کټاره، چاپیرول: ساتل، مدافعه کول.

fencer, n.

fencing, n.

fend, v.t. بچول، څنګته کول، چپول، ساتل، (له ګوزار څخه)، ژغورل (له وهلو څخه).

fender, n. سپر، ډال، حفاظوی اله، د موټر د پایڅې هغه برخه چه تایر تر لاندې وی.

fennel, n. یو ډول بوټی دی چه دانی یې ښه بوی لری او په دواوو کی هم استعمالیږی. (ځیره)

ferment, n. تومنه، خمیره، مایه، موره: پاریدنه، الیشیدنه .

v.i. کولېدنه، موره کیدل، خمیریدل: پاریدل، الیشیدل، کولیدل .

fermentation, n. موره کېدنه، تخمر، خمیره کېدنه، رسېدنه: پاریدنه، ناکراری.

fern, n. ښډوکی، سرخس (هغه بوټی چه ګلان او تخم نه لری او ښد ښد ځنهر لری).

ferocity, n. توندخویی، توندمزاجی: بیرحمی، خروړوالی .

ferocious, adj. توندخوی، خروړی، ظالم، توغمناک .

ferociously, adj. په توغمناکۍ، په ظلم

ferret, n. تولی، موش خرما، موږك پړانګ.

v.t. له سوړی دایستل، سوړه راسپړل (لکه تولی) .

ferrous, adj. د اوسپنی، اوسپنیز .

ferrule, n. وښی، ګوتی، کړۍ (لکه چه د لکړی (امسا) یا بل شی د کلکوالو او ټینګیدلو دپاره استعمال کیږی .

ferry, v.t.i. پوری وتل (په ماکو یا جاله کی) .

n. یو ډول ماکو یا جاله.

ferryboat, n. وړوکی ماکو یا جاله.

ferryman, n. جاله وان.

fertile, adj. زېږنده: برکتی، ایېره ور (حاصل خیز)، ښېراز .

fertility, n. حاصل خیزی، ښېرازوالی .

fertilize, v.t. ښېرازه کول، مستول، سره ور کول : بلاربول

fertilization, n. بلاربونه، القاح، سره ورکونه.

fertilizer, n. سره (پارو)، انبار.

ferule, n. پلن خط کش، لښته.

fervent, adj. تود، لېوال، مشتاق.

fervency, n. تلوسه، مینه، شوق

fervently, adv. په تلوسه، په مینه، په شوق .

fervid, adj. شرقمن، لېوال، مین.

fervor, fervour, n. لېوالتیا، تلوسه .

festal, adj. د خوشحالۍ، دخوښۍ .

fester, v.i. ورستېدل، خوږ نېدل، زوه نیول، خوسا کېدل، او نیول (دانه چه له زووږ کېږي) : پمن کېدل.

festival, n. فستیوال، جشن، میله : موسمی ساتیری .

festive, adj. دخوشحالۍ، دجشن.

festivity, n. جشن، خوښي، خوشحالي.

festoon, n. امیل، هار .

festoon, v.t.i. امیل یا هار جوړول .

fetch, v.t. په یوشي پسې تلل، د هغه راخیستل او راوړل، بودول، پسې تلل، راګرځول، راستنول : خرڅول، پلورل : ایستل : وهل : اجرا کول .

fetching, adj. (اصط) زړه راکښونکی، په زړه پورې، ګلالی .

fete, fête, n. جشن، مېله .

v.t. نمانځل، جشن نیول .

fetid, adj. بد بویه، بدوږمه .

fetish, fetich, n. طلسم، تعویذ، بلا بند : نامعقوله نمانځنه : زیاته مینه .

fetishism or fetichism, n. هغه عقیده چه بې روحه شیانو ته په روح قایلوي او نمانځنه یې کوي : خرافات، په جادو باندې عقیده .

fetlock n. ښنګری (د آس) : د آس د ښنګري وېښته .

fetter, n. v.t. ښکېل یا شکېل، ځنځیر، ځولانه، دوربل : ځولانه کول، ښکېل کول، د وربلول .

fettle, n. وضع، حالت : څېره، بڼه .

fetus, foetus, n. جنین .

fetal, foetal, adj.

feud, n. تربګني، دښمني، بدي .

feudal, adj. فیوډالي، خاني، خانخاني، ملوک الطوایفي .

feudal system فیوډالي حکومت، فیوډالي سیستم .

feudalism, n. ملوک الطوایفي، خاني .

feudatory, n. & adj.

fever, n. تبه : ګېڼې، هیجان .

feverish, adj. تبجن .

feverishly, adv. په ګېڼو، په شوق، په تبجن ډول .

few, adj. څو، لږ .

fewness, n. لږوالی .

fez, n. ترکي خولۍ، رومي خولۍ، سره زوالۍ وره خولۍ چه پخوا به ترکانو د پرسر کولې .

fiance, n. نامزاد (سړی) .

fiance n. کوژده شوې نجلۍ ، ورکړې نجلۍ ، په نامه شوې .

fiasco, n. ماته، ماتې ، د خندا وړ ناکامي

fiat, n. امر ، حکم ، فرمان .

fib, n. وړه اشتباه، وړه غلطي، لږ شانته دروغ ، (اصط) دوړې سوړې .

v.i. لږ شانته دروغ ویل ، وړه غلطي کول ، دوړې وهل .

fibber, n دوړن، لږ شانته دروغجن

fiber, fibre, n. رېښکی ، تار ، سپڼسی

fibroid, adj. د تار ، د سپڼسي ، د رېښکي .

fibrous, adj. تارين ، رېښکي ډېر ، سپڼسين .

fickle, adj. بوالهوس، دوه زړی ؛ زړه نازړه ، بې ثباته، ناکراره .

fickleness, n. ناکراري، دوه زړه توب

fiction, n. خيالي کيسه ، ناول ، افسانه .

fictional, adj. خيالي ، د خيالي کيسې .

fictitious, adj. کوته، ناچله، خيالي ، د دروغو : ناولي ، افسانوي ، د نه منلو .

fiddle, n. (اصط) وايلون .

v.t.i. وايلون ږغول ، وايلون وهل ، ښکېرل ، ګوتې او لاس خوځول .

fiddler, n. (لکه وايلون چه وهي) .

fidelity, n. وفا ، وفاداري ، صداقت : امانت (لکه د يوه شي په نقلولو کې) .

fidget, v.i. ناکراره کېدل ، ناارامه کېدل ، ټپېدل ، کړېدل ، لاس او پښې وهل .

n. ناکراري ، لاس او پښې وهنه ، عصباني حالت .

fidgety, adj. ناکراره ، ناارامه ، ګېږوک .

fiduciary, adj. اعتباري ، اماني ، دراز: د خلکو په ځای ېښه .

n. امانت کار ، امين .

fief, n. جاګير ، فيس (اجوره) .

field, n. ميدان ، ډګر : د باندې ، بهر ، بېديا : ورشو ، محکمه : سيمه ، ساحه .

v.t. نيول ، درول ، اچول (پنډوسکی يا ګېنډ په لوبه کې) : ميدان ته کول .

fielder, n. ميداني لوبغاړی (لکه په تېنس او بېسبال کې) .

field glass, n. دوربين .

field marshal, n. فيلډ مارشال (ډګر مارشال) .

fiend, n. شيطان ، ابليس ، بلا : ظالم سړی ، شرير سړی ، بدسړی : (اصط) هغه سړی چه ځان يې يوه کار ته وقف کړی وي .

fiendish, adj. شيطان وزمه ، شيطان ډوله .

fierce, adj. شديد ، کلک : ظالم : خونخوار .

fiercely, adv. په کلکه ، په شدت : په ظالمانه توګه ، په وحشيانه ډول .

fierceness, n. کلکوالی ، شدت ، ظلم .

fiery, adj. اورين (آتشين) ، تاوجن ، پرکنده : مينه ناک ، تود .

fife, n. دروی ، يو ډول وړه شپېلۍ ، تولکه

fifteen, n. & adj. پنځلس .

fifteenth, n. &adj. پنځلسم .

fifth, n.& adj. پنځم .

fifty, n. &adj. پنځوس.

fiftieth, n. adj. پنځوسم .

fig, n. اینځر، د اینځر ونه .

fight, n. جګړه .

v.i. جګړه کول، جنګېدل: مخه نیول: مخې ته درېدل .

v.t. جنګ کول، د دښمن د ماتولو د پاره هڅه کول .

fighter, n. جنګی، جنګی الوتکه : تالندوالوتکه .

figurative, adj. نمونه یي، رمزی (سمبولیك)، مجازی، کنایی، ترسیمی، صنعت لرونکی .

figuratively, adv. د نمونې په ډول، په مجازی توګه .

figure, n. شکل، څېره، بڼه: رقم، نمونه: شخصیت: (اصط) قیمت: خیال، تمثیل: انځور، نقش .

v.t. شمېرل، اټکلول، پته لګول: څېره جوړول، سکښل: سینګارول (په څېرو): په شمېر ښودل .

figurehead, n. هغه انځور چه د بېړۍ په مخکینۍ خوا ښکل شوی وي: تش په نامه مشر، بې اختیاره مشر .

filagree, n. د filigree بله بڼه.

filament, n. ریښکی، تار: ډکی، مېو یا ډنډر (لکه د ګلانو).

filbert, n. یو ډول امریکایی ځنګلی زڼی چه خوړل کېږی .

filch, v.t. په چالاکی غلا کول، ټك وهل، ټپتول .

file, n. دوسیه، فهرست، لیکه، کتار (قطار)، ردیف .

v.t. روڼ کول، کتارول، لیکه کول ځنګ په ځنګ اېښودل، اوډل .

v.i. په لیکه تلل، کتارېدل، روڼ کېدل

file, n. سوان، سپڅور، اوسپنتوږی.

v.t. توږل، سوانول، سولول .

filer, n.

filial, adj. د اولاد، د زمبځی، د لور او زوی

filibuster, n. (اصط) د ترو و (شلومبو) مچ: (امر) په بې ځایه خبرو د شورا وخت تالول، تالوونکی .

filibuster, v.i. بې ځایه مداخله کول .

filibusterer, n. وخت ضایع کوونکی، لاره وهونکی: (لبن) هغه څوك چه بې له صلاحیته جنګ شروع کوی .

filigree, filagree, n. ول کاری، کښېده، انځور (نقش او نګار) .

fill, v.t.i. ډکول: ډکېدل: بشپړول .

n. پریمانه، بسیا، تر بسو .

filler, n.

fillet, n. تړانګه، ریتاړه، ریښکی: نری ټوټه: غوښه (په پښلی کې).

fillet, v.t. ریښکی ریښکی کول، ریتاړی کول .

filling, n. د ډکولو مواد، هغه مواد چه یو شی ډك کړی، سوری بندوونکی مواد.

fillip, n. ګوتهك، د ګوتې تهك : پاروونکی، توشوونکی .

v.i. پارېدل، توشېدل .

v.t. توشول، پارول .

filly, n. بیانه (بیانۍ) .

film, n. فلم ، پرده .

v.t.i. په پرده پوښل : فلم اخیستل ، فلم جوړول .

filmy, adj. د پردې ، پرده ییز ، د فلم ، فلمي .

filter, n. & v.t.i. نیڅوونی ، فلټر : نیڅول ، فلټر کول ، رڼول : نیڅېدل ، څڅېدل ، څڅول .

filtration, n. نیڅونه ، فلټرونه ، څڅونه .

filth, n خیره ، چټلی ، مرداری .

filthy, adj . خیرن ، چټلی ، مردار

fin,n. د کب وزر ، د کب شاپر ، پره .

final, adj. وروستنی ، اخرنی ، د پای .

finality, n. قطعیت ، اخر ، پای .

finally, adv. په پای کې ، په اخره کی

finale, n. (م) د کمپوز اخیري برخه .

finance, n. د (جمعی) په حال کې د پیسو درکونه : شته ، جایداد ، مالیه .

financial, adj. مالی ، د شتو .

financially, adv. د مالیې له پلوه ، د شتو له نظره ، د پیسو له مخې .

financier, n. سرمایه دار ، د مالی چارو متخصص .

finch, n. ساپره ، سارکه ، هره وړه مرغۍ چه غاړه کوی .

find, v.t. موندل ، پیدا کول ، لاس ته کول ، احساسول ، درک کول ، ګڼل ، بلل : تیارول : سپمول .

n. بوده ، پیدا شوی شی .

finder, n. مشعر ، موندونکې اله ، څرګندونکې اله (لکه د کمرې یا دوربین) .

finding, n. موندنه ، پیدا کونه ، کشفونه ، کشف : (حق) کشف الحال د قضایی ګروېږنې نتیجه .

fine, adj. ښه ، ښکلی ، سپېڅلی ، سوچه ، پېچو : نرم ، پوست ، میده : حساس ، ژور .

fineness, n نازکي ، پوستوالی ، ښه والی ، ښکلا لیتوب .

fine, n. ناغه ، جریمه .

finesse, n. تېزفکري ، څېرکي ، چالاکي .

finesse, v.t.i. څېرکي کول ، تېز فکر کول ، چالاکي لرل .

finger, n. ګوته .

v.t.i. ګوته وهل (پر) ، ګوته ایښودل (پر) ، په ګوتو کې ایول ، په لاس کې ایول ، اداره کول .

fingernail, n. نوک .

fingerprint, n. & v.t. د ګوتې نښه ، د ګوتې نښان : ګوته لګول .

finger tip, n. د ګوتې سر .

finis, n. اخیر ، پای ، خلاصون .

finish, v.t.i. خلاصول ، سرته رسول ، پای ته رسول : پوره کول ، بشپړول ، تر سره کول .

n. پای ، خلاصون ، نتیجه : پوره کوونکی (شی) : پټ : مخ ، اخیري مخ ؛ اخیري کار چه د یو شي په مخ باندی کېږی ، رنګ او روغن .

finisher, n. خلاصوونکی ، پای ته رسوونکی .

finite, adj. محدود .

finny, adj. پرلرونکی : کب لرونکی ، له کب نه ډک (سیند) .

fiord, fjord, n. تنګی ، تنګنا ، د بحیرې
او به‌چه د دوو غونډیو ترمنځ تیری شوی
وی .

fir, n. نښتر ، د کاج ونه ، د صنوبر ونه .

fire, v.t.i. & n. اور : لمبو لګیا ، تودوالی
وار : ډز : لګول ، بلول : ژوندی کول
ویشتل : پخول (لکه خښتې په داش کې) .

fireless, adj. بې اوره .

firelight, n. د اور رڼا .

fireplace, n. نغری .

fireproof, adj. نه سوځېدونکی .

fireside, n. چرګۍ ، د نغری شاوخوا :
کور یا د کور یا د کور ژوند .

firewood, n. د سونګ لرګی .

firearm, n. ګولۍ ویشتونکې وسله ،
ناریه وسله .

firebrand, n. سوکی یا سیوکی ،
سکوی : (اصط) اور لګوونکی ، جنګ
تودوونکی .

firecracker, n. پټاکی ، ټک ، پټاخی
بلنډې ، د ښادۍ په شپو کې اور بلونه

firefly, n. اورکی ، اور بلکی ، یوه
حشره ده چه د شپې رڼا کوی .

fireman, n. د اوروژنی عملې غړی ،
د اطفائیې غړی .

firework, n. اورلوبه ، آتشبازی .

firm, adj. کلک ، ټینګ ، محکم : ځای
ټینګ ولاړ ، ټینګ ایښی ، ثابت ،
نه بدلیدونکی (لکه نرخ) .

v.t.i. کلکول : کلکېدل .

firmly, adv. په ټینګه ، په کلکه .

firmness, n. ټینګوالی ، کلکوالی ،
استقامت .

firm, n. شرکت ، تجارتخانه ، چارځی .

firmament, n. فلک ، اسمان ، هغه
ګومبزی سطحه چه خلکو ته ګومان کاوه
چه ستوری پکښې ښخ دی .

firman, n. فرمان .

first, adj. لومړی : (ګر) متکلم ، ړومبی .

adv. په لومړي سر کې ، په سر کې .

first aid, n. لومړنۍ مرسته (د عاجلو
ناروغانو سره).

firstaid, adj.

first-born, adj. لومړنی اولاد ، لومړی
زوکړه ، مشر اولاد .

first-class, adj. لومړنۍ درجه ، تر ټولو
غوره ، تر ټولو جګ .

firstling, n. لومړنی اولاد ، لومړۍ
نتیجه .

first-rate, adj. د لومړۍ درجې ، د لومړۍ
ارزښت ، د جګې پایې .

firth, n. شپېله ، د سیند خوله پلنه شوی
لویه ویاله .

fiscal, adj. مالی ، پولی .

fish, n. کب ، ماهی ، د کب غوښه .

v.t.i. کب نیول ، د کب ښکار کول :
دورکی لټول ، د پټې لټول : را ایستل
راکښل ، را برسېره کول .

fisher, n. کب نیوونکی .

fisherman, n. کب نیوونکی ، د کب
نیولو بېړی .

fishery, n. کب نیونه : د کب نیونې ځای ،
د کب روزنې ځای .

fish hook, n. د کب نیوله ، چنګک .

fishing, n. کب نیونه، ماهی ګیری .

fishwife, n. کب خرخوونکی ښځه ، لچره ښځه .

fission, n. سوری کېدنه، ماتېدنه ، ټوټې کېدنه ، دړې وړې کېدنه .

fissure, n. چاود ، درز ، چوله .

fist,n. موټی ، سوک .

fisticuffs, n. pl. سوک وهنه ، د سوکانو جنګ (بوکسنګ) .

fistula, n. ددانی سیم (سوری) ، هغه لاره چه زوی او نور څخنی رابهیږی : نری مجرا .

fit, adj. مناسب، وړ ، لایق، جوړېدونکی (سره) : چمتو تیار : روغ تندرست .

v.t.i. وړ ګرځول ، برابرول ، چمتو کول، وړتوب لرل .

gladiator, n. ګلادیاتور، غښتلی، پهلوان، په پخوانۍ روم کې هغه سړی چه د خلکو د ساتیرۍ د پاره به یې به توره له حیوان او یا بل انسان سره جنګړه کاوه .

gladiatoral, adj. غښتلوالی، پهلوانی توب .

gladiolus, n. زنبق، د زنبق بوټی .

gladiola, n. زنبق .

glamour, glamor, n. کوډې، زړه وړنه، زړه راښکونه، جذابیت .

glamorous, glamourous, adj. راښکوونکی، زړه وړونکی .

glance, v.i. کتل (په یوه نظر) اشاره کول، لنډ کتل .

n.

gland, n. مرغړۍ، پړګی .

glandular, adj. مرغیړیز، مرغیړۍ ډوله .

glare, v.i. ځلېدل (ډېر) رڼا کېدل ؛ ځلبل کېدل : ځیر کتل :

n. ځلا، بریښ، تیز نظر .

glaring, adj. ځلېدونکی، بې ادبه، شوخ .

glass, n. ګیلاس، ښیښه .

glass, adj. ښیښه یي .

glassful, adj. یو ډک ګیلاس .

glassware, n. ښیښه یي لوښي .

glassy, adj. ښیښه یي (د جمع په حالت کې) عینکي .

glaze, v.t. ځلول (په ښیښه)، په ښیښه پوښل، د ښیښې استر ورکول، ځلانده استر (چه خاورین لوښو ته یې ورکوي) .

gleam, n. & v.t.i. ځلول، ځلېدل، بریښول، بریښېدل .

glean, v.t.i. وږی ټولول، وږی اوښتل .

gleaner, n. وږی ټولوونکی .

glebe, n. ځمکه، خاوره : لوټه، پټی (کلیسا ته وقف شوې ځمکه) .

glee, n. خوشالي، يوډول بدله چه په
دروغاړو ويله کيږي .

gleeful, adj. خوشاله .

gleeman, n. سازنده .

gleemaiden, n. سازنده (ښځه)
هنرمنده .

glen, n. وت، تنګه ناوه (ددوو غرو په
مينځ کې) .

glib, adj. روان او سليس، فصيح، اسان،
خوږ ژبی .

glide, v.i. ښوېدل، (اصط) دالوتکی
سوکه کوزېدنه .

glider, n. ښوېدونکی : يوه الوتکه چه
ماشين نه لري، ددې الوتکی پيلوټ

glimmer. n. لږ رڼا، سپکه رڼا، تته
رڼا، ابرك .

glimmer, v.i. رڼا کېدل

glimpse, n. لنډ نظر، سرسري کتنه سپکه
رڼا، کمه رڼا، لږ رڼا .

glimpse, v.i.t. لنډ نظر اچول، سرسری
کتل . تته رڼا کول .

glint, n. & v.i.t. ځلا : ځلول : ځلېدل،
برېښول، رڼا اچول : منعکس کول
سرسري کتل .

glisten, v.i. ځلېدل، برېښېدل .

n.

glister, v.i. ځلېدل (د رڼا په اثر) برېښېد

n.

glitter, v.i. ځلېدل (د رڼا په اثر) برېښېدل

gloaming, n. تره غولی (ماښام)، شفق

gloat, v.i. سترګې خړول، سترګو ته او به
ور کول : په حسرت کتل .

globe, n. توپ : مځکه : سيمه، کره
ګردی شی : ګروپ (د برق) .

globule, n. ګردی ذره : د مځکې کمکی
کره، څانګی، کوچنی ګولی

globular, adj. ګردی، کروی .

gloom, n. تياره : دذهن توروالی :
خپه کوونکی : تياره : غمجن والی، خپګان

gloomy, adj. غمجن، تت .

glorify, v.t. سرلوړی کول، غټول،
درنول، ستايل، تمانځل .

glorification, n. سرلوړی .

glorious, adj. لوړ، دستايلو وړ، درنه
شريف، مجلل، پرتمين .

gloriously, adv. په لوړ والی، په
مجلله توګه .

glory, n. لوړ تيا، درناوی، وياړنه
درلبنت . بری، سوبه، پرم .

gloss, n. ځلا، رڼا، برېښنا، ظاهری
ښکلا .

glossy, adj. ځلانده، رون، روښانه .

gloss, n لمن ليك، توضيحی ياد داشت
تفسير .

glossary, n. د مشکلو لغاتو او اصطلاحاتو
کوچنی ډکشنری چه اکثراً د کتاب
په پای کی راځی .

glove, n. لاس ماغو، دسکله .

glow, v.i. ځلېدل، ځوړانجی کول .

n. ځلا، برېښ، رنګ، دتودوخی
حس نه (لکه تر لوبو وروسته) .

glower, v.i. & n. په قار کتل : تېز
نظر، تهديد وونکی نظر .

glowworm, n ځلېدونکی چینجی ، هغه چینجی چه د شپې ځلېږي ، اور بلکی ، غوړه مالی کول، چاپلوسي کول: په خوږو خبرو غولول یا تېرایستل

glucose, n. ګلوکوز ، د مېوو قندي مواد

glue, n. سرېښ .

glue, v.t سرېښول .

gluey, adj. سرېښناک .

glum, adj. بې سېک ، بې وس ، خواشینی ، خوابدی ـ

glut, v.t. په مړه ګېډه خوړل ، مړېدل ، تر پزې ډک کېدل .

n. تر حد زیات

gluten, n. د غنمو نشا یسته

glutinous, adj. سرېښناکه

glutton, n. ګېډو ، خېټو

gluttonous, adj. ګېډور ، نسور ، خوړی

gluttony, n. خوړی توب ، ډېر . خوړنه ، حرص

glycerin, glycerine, n. ګلسرین

gnarl, n. زخه ، غوټه (د لرګي یا ونې) .

gnarled, adj. زخه ور ، زخن .

gnash, v.t. غاښ چیچل .

gnat, n. یوه کوچنۍ حشره چه دوه وزرونه لري .

gnaw, v.t.i. شکول (په غاښو)، ژوول ، بېلول (په غاښو) ، غاښونه په لګول ځنې خوړل .

gneiss, n. پربڼه

gnome, n. هغه پیری چه وایي د ځمکې خزانې ساتي .

go, v.i. تلل ، روانېدل ، تېرېدل ، ځغستل ، چلا کېدل : کار کول ، رواج لرل .

goad, n. چوکه ، هغه تېره چوکی اله یا لښته چه ژوی په هې کېږي: محرك .

goad, v.t. چوکه کول .

goal, n. ګول ، هغه نښه چه د لوبو په مسابقه کي ټاکل کېږي: مقصد ، دروازه.

goalkeeper, n. ګول کیپر ، ګول ساتونکی.

goat, n. بزه ، وزه ، وزګړی: شپوانی سړی .

goatskin, n. دوزی پوست .

goatherd, n. دوزو شپون ، شپه .

gob, n. د کښتي عمله (په امریکا کي) : خوله : ګوګ: توکدانی (تفدانی) : ټوټه .

gobble, v.t. نغړل ، اېلل ، په حرص خوړل ، ژر ژر خوړل .

gobble, v.i. کړېږه کول ، چیغه وهل ، ګړ غړي وهل ، د فیل مرغ ګړ کی (ګړ یکی) .

gobbler, n. نر طوطی چرګ ، نر فیل مرغ : نغروونکی .

goblet, n. ګیلاس ، قدح ، پیاله ، ګډوه (ګډوی) .

goblin, n. پیری ، دیب .

God, n. خدای تعالی ، څښتن .

godchild, هغه کوچنی چه بل چا په زوی توب منلی وي .

goddaughter, n. هغه نجلی چه بل چا په لوروالی منلی وي .

godson, n. هغه هلك چه بل چا په زوى والى نيولى وى .

godfather, n. هغه څوك چه د كوچني مذهبي روزنه ئې په غاړه وى .

godmother, n. هغه ښځه چه د كوچني مذهبي روزنه ور په غاړه وى .

godhead, n. خدائي ، خداى .

godly, adj. هغه سړى چه د خداى عبادت په جدي توگه كوى ، ديندار .

godliness, n. ديندارى .

godsend, n. په هغه وخت كې د يوه شى پيدا كول چه سړى ډېر هغه ته اړ وى يعني لكه چه خداى وركړى وى .

goggle, v.i. په خلاصو سترگو يو شى ته حير حير كتل ، غټ غټ كتل ، سترگې رغړول .

goggles, n. داسې عينكې چه د سترگو د ساتنې د پاره په مخصوصو حالاتو كې استفاده ځني كېږي لكه هغه چه د لامبو او والي ټنگ او داسې نورو كارو كې استعماليږى .

gold, n. سره ، سره زر ، طلا .

goldbeater, n. زر كوټونكى . زرگر .

golden, adj. د سرو ، د سرو زرو ، طلائي ، قيمتي ، نيكمرغه ، لائي رنگ .

goldenrod, n. يو ډول بوټى چه ژېړ گلان لري او په پسرلي كې غوړېږي .

goldfinch, n. سايره (يو ډول مرغه) .

goldfish, n. سور كب ، طلائي كب .

golf, n. يو ډول لوبه ده ، گالف .

gondola, n. يو ډول اوږده بېړۍ چه د (وينس) په سيندونو كې د خوځنې په توگه استعماليږى : جاله .

gondolier, n. جاله وان ، د gondola چلوونكى .

gone, past part of Go. د go. ماضي .

gong, n. يو ډول غټ فلزى زنگ .

good, adj. ښه ، سپېڅلى ، پاك ، مهربان ؛ خوا خوږى ، زړه سواند : گټه ، مناسب د قناعت وړ .

goodhearted, adj. د ښه زړه څښتن .

goodish, adj. نسبتاً ښه .

good-looking, adj. ښكلى .

good-hatured, adj. مهربانه ، د ښه طبيعت څښتن .

goodness, n. ښه والى .

good-tempersd, adj. خوږ ، د ښه خوى څښتن .

good-by, good-bye, n. د خداى په امان

goodly, adj. نسبتاً زياد ، ښكلى .

goodliness, n. ښكلا .

goodman, n. د كاله مشر (دا لغت په پخوا وختو كې د mister يعني ښاغلى پر ځاى استعماليده) .

goodwife, n. د كاله مشره (دا لغت په پخوا وختو كې د mistress يعني مېرمنې په ځاى استعماليده) .

goodwill, n. ښه نيت ، پېرزوينه .

goody, n. خوږه ، شيريني : ښه ښځه په زړه پورې ماينه .

goose, n. قازه ، بته .

gooseberry, n. ازغن توت ، یو ډول توت چه مربا ځنی جوړوی .

gopher, n. موږه ، یو ډول غټ موږك .

gore, n. وینه چه پر زخم باندی وچه شوی وی ، خټیږه وینه .

gore, n. د ټوکر دری کنجې ټوټه چه د لمنی بادبان یا نورو دار تولو د پاره استعمالیږی ، دری کونجه ټکړه .

gore, v.t. څیرل ، بیږه کول .

gorge, n. ستونی ، مری : تنګی .

v.t.i.t. په حرص خوړل ، اېلل ، ډیر خوړل .

gorgeous, adj. برم ناك ، مجلل .

gorilla, n. ګوریلا ، یو ډول غټه انسان ډوله بیزو .

gormandize v.i.t. اېلل ، په بېړه خوړل ، ژرژر خوړل .

gormandizer, n. اېلونکی ، ژرژر خوړونکی ، نسور ، خوری .

gorse, n. یو ډول ازغن اروپایی بوټی

gory, adj. له وینو ډك خونړی ، په وینو لړند .

gosling, n. د بتی چیچی ، بېړا ، بې عقله سړی .

gospel, n. د حضرت عیسی او حواریونو تعلیمات په غټ (G) د انجیل د اولو څلورو کتابو څخه هر ټوك مطلق حقیقت

gossamer, n. د غنی ځاله ، تار ، د ګاچ په شان ټوکر .

gossip, n. بې اساسه خبری ، اوازه ، انګازه :

v.t. بې اساسه شایعات خپرول ، انګازې اچول .

gossipy, adj. هغه خبری چه واقعیت یی معلوم نه وی ، د اډول خبری کونکی ، چغولګر .

got, past tense andpast part. of get

Goth, n. ګات ، د ګات قبیله ، وحشی سړی

Gothic, adj. د ګات قبیلی یا ژبی ته منسوب وحشی : د معماری یو سبك چه ۱۲ - ۱٦ پیړی پوری په غربی اروپا کی رواج و

gotten, past part. of Get.

د get دریم حالت .

gouge, n. څولی (سکنه) .

gourd, n. یو کدو چه د کاسی ، بوتل ، او نورو شیانو په حیث کار ځنی اخلی ، د آبیاری کدو .

gourmand, n. نسور ، خیټور ، خوری عیاش .

gourmet, n. خواړه پیژندونکی ، خوراك پیژندوی ، شراب پیژندونکی

gout, n. نقرس ، ګوټ ، یو ډول د بندو خوږ

gouty, adj. نقرسی .

goutily, adv. په نقرسی توګه .

govern, v.t. حکومت کول ، سنبالول .

governance, n. حکومت ، کنټرول ، اداره ، حکمرانی ، څارنه .

governess, n. والی (ښځه) ، حکمه ، ښوونکې ، روزونکې (د کوچنیانو) ، هغه ښځه چه د کوچنیانو روزنه او ښوونه پر غاړه لری .

government, n. حکومت ، دولت .

governmental, adj. حکومتی ، دولتی .

governor, n. والي .

governorship, n. . ولايت (مقام)

gown, n. ګون، اوږده کالي (د ښځو)، دقاضيانو کالي، چپنه، چوغه .

grab, v.t. . نيول، لاس وراچول : تښتول

grace, n. ناز، رحم، شفقت: ملاتړ، توفيق دعا (چه دډوډۍ د مخه اوورو سته وېله کېږي) نزاکت وقار لطافت .

graceful, adj ، زړه سوانده، رحيم، شفيق، بانزاکته .

gracefully, adv. په نزاکت، په لطافت

gracefulness, n. نزاکت، لطافت.

graceless, adj. بې نزاکته، بې ظرافته، فاسد .

v.t. ښېنګارول، ښکلى کول، لطافت وربښل

gracious, adj. مهربانه، ادب ناکه، زړه وړونکى، صميمى.

graciously, adv. په مهربانه توګه . په نزاکت .

grackle, n. سارکه، توره مرغۍ، يوډول توره امريکائى چوغکه .

gradation. n. درجه، تدريج، دمراتبو سلسله .

grade, n. درجه، رتبه، مرحله، امره : ټوله: سويه .

gradient, n. شيوه، ځوړى، شوه .

gradual, adj. تدريجى .

gradually, adv. په تدريج سره

graduate, n. فارغ التحصيل، د درجې خښتن، درجه لرونکى شى .

graduation, n. فراغت (د تحصيل څخه) درجه بندي .

graft, n. پيوند، کوشير، رشوت .

grafter, n. پيوندوونکى .

graham, adj. غلمين، د غنمو .

grail, n. پياله، کټوری، ويل کېږي چه دا کټوری د حضرت عيسى له خوا دده په وروستۍ ډوډۍ خوړلو کښې استعمال شو .

Holygrail, n. مقدس کټوری .

grain, n. غله، دانه، حب.

gram,n. ګرام، په متريك سيستم کې دوزن واحد، دکيلو ګرام زرمه برخه.

grammar, n. ګرام، صرف او نحو .

grammarian, n. ګرامر پوه .

gammatical, adj. دګرامر د اصولو سره سم .

grammar school,n. په انګلستان کې دليسې په سويه ښوونځى، په امريکا کښې متوسطه ښوونځى .

granary, n. ګودام (د غلې دپاره) تراقه .

grand, adj. مهم، مجلل: ستر: لومړى (په رتبه کې)، مشر .

grandchild, n. لمسى، يا لمسۍ .

granddaughter, n. لمسۍ .

grandson, n. لمسى (هلك) .

grandparent, n. (نيکه او انا) .

grandfather. n. نيکه .

grandmother, n. انا.

grandly, adv. په مجلله توګه .

grandam, n.	سپین سرې ښځه، بوډۍ .
grandee, n.	دلوړې رتبې څښتن (لکه په اسپانیه او پورتګال کې) .
grandeur, n.	ستر توب، لوی والی، برم، شان او شوکت، دبدبه .
grandiloquence, n.	لفاظ، بې بې ډ ډېدنه،
grandiloquent, adj.	ټټ ټټ ویونکی .
grandiose, adj.	ستر یا د برم څښتن، د نامه څښتن، مغرور .
grange, n.	کرونده، د کروندې ودانۍ .
granite, n.	ګرانیټ، یو ډول کلکه ډبره چه د ودانیو په جوړولو او نورو چارو کی استعمالیږی .
grant, v.t.	ور کول، بخښل: منل .
grantee, n.	هغه سړی چه بخښش ور ته کیږی .
grantor, n.	بخښونکی، منونکی .
granulate, v.t.i.	دانه دانه کول، دانه دانه کېدل.
granular, adj.	دانه دانه .
granulated, adj.	دانه دانه شوی.
granulation, n.	دانه، دانه کول .
granule, n.	دانه، زره.
grape, n.	تور انګور، میوه .
grapefruit, n	یو ډول تروه میوه: چکوتره
graph, n.	ګراف: د ټکو او کرښو په واسطه د شیانو د رابطې ښودلو شکل: خط
graphic, adj.	ګرافیك: په خطوطو ښودل شوی .
graphic arts, n.	ګرافیك هنرونه.
graphically, adv.	په ګرافیك ډول.
graphite, n.	ګرافیټ، یو ډول نرم کاربن چه په پنسل جوړولو او نورو شیانو کی استعمالیږی .
grapnel, n.	د بېړۍ وړوکی لنګر چه ٤-٥ چنګکونه لری، چنګک .
grapple, n.	نیونه: ځپکه، لاس اچونه .
grasp, v.t.	نیول، په لاس کی نیول: درك کول .
grass, n.	واښه .
grassy, adj.	وښیانه، هغه ځای چه ډیر واښه لری .
grasshopper, n.	ملخ .
grate, n.	هغه کړکۍ چه د اوسپنې سیخونه پر ټکو هل شوی وی : دیوالی بخاری، نغری .
grate, v.t.	توزل، کرول، په قارول .
grateful, adj.	خوښ، ممنون، منونکی .
gratefully, adv.	په خوښۍ: په مننه .
gratify, v.t.	خوشالول، د چا زړه ښه کول، ممنونول، اقناع کول .
gratification, n.	خوشالونه، ممنونه .
grating, n.	په سیخو نیونه (د کړکۍ) د سیخو چوکاټ .
grating, adj.	ناوړه ږغ، زیږ ږغ .
gratis, adv.	خوشی، مفت، بې پیسې .
gratitude, n.	امتنان، مننه، کورودانی، تشکر، خوښی .
gratuitous, adj.	خوشی، وړ، یا مفت .
gratuity, n.	بخښش، انعام .
grave, a.d.j	ټټ، مهم، درواند، جدی .
gravely, adv.	په جدی ډول .

graveness, n.	سخت والی ، دروند والی ، اهمیت .
grave, v.t.	کیندل ، دقبر کیندل ، حکاکی کول : ښخول .
graver, n.	کیندونکی .
grave, n.	گور ، قبر ، مړی یستون .
grave, n.	کیندنه ، انځورونه .
gravedigger, n.	قبر کیندونکی .
gravestone, n.	خازه (دقبر)، تیږه .
graveyard, n.	ادیره ، هدیره ، مړی یستونونه .
gravel, n.	کوږه ، وړی وړی ډبری ، چغله .
graven, adj.	کیښل شوی ، کیندل‌شوی .
gravitation, n.	جاذبه ، دجاذبې قوه .
gravitate, v.i.	جذب کېدل .
gravity, n.	درنښت ، اهمیت ، جدیت : تول (وزن) : دجاذبې قوه .
gravy, n.	دغوښی لعاب ، ټینگه ښوروا .
gray, grey, adj.	خړ ، ایرن ، ایری رنگه ، هغه رنگ چه دتور او سپین دگډولو په اثر لاس ته راشی .
grayish, greyish, adj.	ایرن ، خړ .
graybeard, greybeard, n.	زوړ سړی : هوښیار سړی .
grayling, n.	یو ډول کب .
graze, v.t.	پوول (دڅاروی) : څرل .
graze, v.t.i.	سپک تماس کول ، لگېدل ، په سرسری توگه کرېدل .
grease, n.	غوړی : حیوانی غوړی ، موږ ، گریس .
greasy, adj.	غوړ .
great, adj.	ستر ، لوی ، غټ : ډېر : غوره زیاته (اندازه فاصله) .
great-grandfather, n.	ورنیکه .
great-grandchild,	کړوسی .
greatly, adv.	ډېر : دلویی او شرافت له مخی .
greatness, n.	غټ والی .
Grecian, adj.	یونانی .
greed, n.	سراښتوب ، حرص
greedily,	په سراښتوب .
greediness, n.	سراښتوب .
greedy, adj.	سراښ ، حریص .
Greek, n.	یونانی ، دیونان .
green, adj.	شین (زرغون) : تاند ، تنکی اوم : نوی ، تازه : بې تجربې : سمسور : بڼه الوتی .
greenish, adj.	شین وبره ، شین بخون .
greenness, n.	شین والی .
greenback, n.	هغه امریکایی نوټونه چه پرشایی په شنه خط لیکل‌شوی وی .
greenery, n.	شنه ساښه ، سبزیجات .
geenhouse, n.	د ښیښې خونه چه هلته ساښه او گلان کرل کیږی .
greensward, n.	وښیاڼه ، چمن .
greenwood, n.	شین ځنگل .
greet, v.t.	سلام اچول ، ښه راغلی ویل ; درناوی کول ، احترام کول ، مبارکی ورکول .
greeting, n.	سلام ، ښه راغلی ، درناوی احترام ، مبارکی .
gregarious, adj.	غونډېدونکی ، راټولیدونکی (درمی غوندی) : اجتماعی .
grenade, n.	بم ، لاسی بم .

grenadier, n. هغه عسکر چه پخوا يې لاسي بمونه اچول : يو څوک چه ټاکلي وظيفې تر سره کوي .

grew, د grow تېره زمانه .

grey, n. & v. خړ : ايرن ، هغه رنګ چه د تور او سپين د ګډېدو په اثر لاس ته راځي : خړ رنګ ور کول .

greyhound, n. تازي سپى .

grid, n. سيخونه (د اوسپنې) : د اوسپنې چوکاټ چه پښې يې د ترسيم د پاره پکې ايښې .

griddle, n. ارکاره ، يو ډول فلزي لوښى چه خواړه پکې پخوي .

griddlecakes, n. هغه کيک چه په ارکاره کې پخېږي .

gridiron, n. د کباب سيخونه .

grief, n. غم ، وير ، خواشيني ، لول .

grievance, n. د وير سبب ، د غم علت ، د خپګان منشاء ، د شکايت دليل .

grieve, v.t. غمجنول ، خواشيني کول ، خپه کول .

v.i. خواشيني کېدل ، غمجنېدل ، خپه کېدل .

grievous, adj. غمجن ، ويرناک .

grievously, adv. په غمناکه ډول .

grill, n. د کباب سيخ : هغه خونه چه هلته ورېت شوي خواړه خوړل کېږي .

grim, adj. بې زړه سوېه ، بې رحمه ، په زړه سخت ، وېروونکى .

grimly, adv. په بې رحمي .

grimness, n. بې رحمي .

grimace, n. بڼ وستوب ، بڼ وسکتوب ، د تندي تريووالى ، ګونځلتوب .

grimace, v.i. بڼ وسپېدل ، تريو کېدل ، د تندي تريوول .

grime, n. چټلتوب ، خيرنتوب ، ناولتوب .

grimy, anj. چټل ، خيرن ، ناولى .

grin, v.t.i. مسل : مسکېدل : پسخندو هل .

n.

grind, v.t. اوړه کول ، ميدول ، وړه دول ، اوقل : چيچل .

grinder, n. وړه وونکى ، اوړه کوونکى .

grindstone, n. د ژرندې پل ، د تېره کولو خرخ .

grip, n. په منګول کې نيونه . کلک نيونه .

gripe, v.t. کلک نيول ، قينګنيول : ټنګول .

gripe, n. نيونه (قينګک) .

grippe, n. والګي ، ګريپ ، انفلو ينزا (يو ډول ناروغي) .

grisly, adj. وېروونکى ، ډاروونکى ، خطرناکه .

grist, n. غوړه ، د ژرندې غنم يا اوربشې چه په يوه وخت کې اوړه کېږي .

gristmill, n. ژرنده .

gristle, n. کړپندوکى (غضروف) پاسته هډوکى ، ټنګى هډوکى .

grit, n. شګه ، شګلنه ډبره : متانت ، زړه ورتوب .

gritty, adj. شګلنه .

grits, n. pl. اوړه اوړه ، زېړه اوړه .

grizzled, adj. خړ رنګ ، ايرن (رنګه) : د سپينو ويښتانو لرونکى .

grizzly, adj. خړ ، ايرن (رنګى) .

grizzly bear, n. د شمالي امريکې يو ډول يږ .

groan, v.i.t. زګیروی کول: ویر کول : خواشینی کول ، غمول .

groat, n. پخوانی انګریزی سکه(٤ پنسه)

grocer, n. دخوراکی شیانو خرڅوونکی

grocery, n. هټۍ (دخوراکی شیانو)

grog, n. شراب (دسړو اوبو اوالکولو مخلوط) .

groin, n. هغه ځای چه ورون له بدن سره نښلوی او مجوف (تش) وی .

groom, n. مهتر ، داسانوروزونکی : زوم

groove, n. کښله ، کرښه ، درز ، کنده ، دیوې خط .

grope, v.t.i. په تیاره کی لاس اوپښی وهل لاس وپښی ټپول (په تیاره کی).

gross, adj. زیږ ، شخل ، ډیره ، ټول واده : بېړا : بدورګی ، بدخوئی پټیخ

grossly, adv. پەزیږوالی

grossness, n. ټولوالی .

grot, n. سمڅ ، غار .

grotesque, adj عجیب ، بې ډوله ، خندوونکی بې تناسبه .

grotesquely, adv. په عجیبه توګه .

grotto, n. سمڅ ، سوړه ، غار ، کوګاره کوګټ .

grouch, v.i. زومېدل ، غورېدل ، چړنګېدل ، ګیله کول ، نارضایتی ښودل .

grouch, n. ډوانګېدنه

grouchy, adj. غورېدونکی .

ground, n. مځکه ، دمځکی مخ . خاوره . ډګر .

groundless, adj بې اساسه ، بې بنیاده .

groundwork, n. بنسټ ، سټه ، ډبره .

groundling, n. دسینددتل کب : دتیاتر له ژور ځای نه ننداره کوونکی .

group, n. & v.t.i. ډله ، ګروپ : ډله کېدل ، ګروپ کېدل : ډله کول ، خپلول .

grouse, n. یو ډول مرغه .

grove, n. یوه غېروسکه ونی ، ګڼې ونې .

grovel, v.i. ښویېدل ، ښکېدل (پرسینه) : ښخېدل ، ټیټېدل ، سپېتانه کول .

grow, v.i. لویېدل ، وده کول ، غټېدل شین کېدل .

grower, n. کروونکی ، زرغونوونکی .

growl, n. غرېدنه ، غرېدنه ، غورېدنه (لکه سپی چه یې دقار په حال کی کوی) . غرپول ، غرېدل .

growth, n. لویېدنه ، غټېدنه ، وده پرمختیا (انکشاف) .

grub, v.t. کیندل ، کېندل .

grubby, adj. خیرن ، خچن ، ککړ .

grudge, v.t. ضد کول ، لانجه کول ، کینه کول ، بغض درلودل .

gruel, n. اوماج ، اوماچك .

gruesome, adj. وېروونکی ، ډاروونکی

gruff, adj. زیږ (په خبرو کی) ، بدغږی ، بدورګی ، بدخولی ، بدژبی .

gruffly, adv. په زیږ والی

grumble, v.t.i. & n. غورېدل ، زومېدل ، ډوانګېدل ، نارضایتی ښودل .

grunt, n. دخوګ رمباړه .

grunt, v.t.i. رمباړه کول .

guarantee, n. ضمانت ، تضمین .

guaranty, n. تضمین ، ضمانت .

guard, n. & v.t.i. ساتونکی ، ګارډ ، څارو : ساتل ، خوندي کول ، مدافعه کول .

guardian, n. ساتونکی ، څارونکی : محافظ : وصی .

guardianship, n. ساتنوالی ، محافظت ، وصی توب.

guerdon, n. v.t.i. انعام ، جبیره : انعام ورکول ، جبیره کول ، تلافی کول .

guerrilla, guerilla, n. ګوریلا ، سرتیری ، فدایی : غیر رسمي جنګړه .

guess, v.t.i. & n. اټکلول ، قیاس کول ، ګومان کول ، حدس وهل ، ګڼل (فرض کول) : اټکل ، قیاس ، حدس ، ګومان ، بې سنده نظریه یا قضاوت .

guest, n. مېلمه ، یو حیوان چه د بل حیوان په ځای کې اوسېږي یا چوچ کوي .

guffaw, n. & v.i. کټ کټ خندا ، په زوره خندا ، کټ کټ خندل .

guidance, n. لارښوونه ، مشر توب .

guide, v.t. & n. لارښوونه کول ، لارښوول ، تنظیمول ، تر نفوذ لاندې راوستل : لارښوونکی ، لارښود .

guidepost, n. د لارښودنې نښه (د مسافرو د پاره) .

guild, gild, n. د ګډو ګټو د ساتنې ټولنه ، اتحادیه ، صنف.

Guild Socialism, n. یو ډول سوسیالیزم چه د صنعتي چارو واک د کارګرانو اتحادیو یا اصنافو ته ورکوي .

guile, n. ټګي ، مکر ، حیله ، غولونه تېرایستنه ، ټګمار :

guileful, adj. ټګمار ، غولوونکی ، تېرایستونکی ، خائن .

guiler, guyler, n. خطا ایستونکی ، غولوونکی .

guillotine, n. ګیوټین ، د تور او (مجرمینو) د سر پرې کولو ماشین چه د فرانسوي جوزف ګیوټین له خوا اختراع شوی دی : د ماشین د پرې کولو ماشین ، (په جراحۍ کې) د اډېو د پرې کولو سامان .

guilt, n. ګناه ، جرم ، جنایت .

guiltless, adj. بې ګناه ، بې تقصیره .

guilty, adj. ګناهکار ، مجرم ، شریر .

guinea, n. د انګلستان پخوانۍ طلایي سکه چه ارزښت یې (۲۱) شلنګه و .

guise, n. کړه وړه ، سلوک ، ظاهري بڼه لباس : نقاب ، پوښ .

guitar, n. ګیتار (د موسیقۍ یوه آله).

gulch, n. تنګی ، تنګه دره.

gulf, n. خلیج ، فاصله ، ژور ځای ، چارخاو ، څرخاو (ګرداب).

gull, n. & v.t. ساده (سړی) : غولول ، تېرایستل.

gull, n. یو ډول سمندري مرغه .

gullet, n. مری ، سره غاړه : تنګی .

gully, gulley, n. کوچنی تنګی : مجرا ، کاریز ، د اور ګاډي پټلۍ .

gulp, n. & v.t. غوړپ ، غوړپول ، تېرول (تر ستوني)

gum, n. اوریه .

gum, n. کونډوری ، ګنده : د جمع په حالت کې کلوښې چه پر بوټو سربېره په پښو کېږي

v.t.	په ګڼهورو سره موښلول یا کلکول .
gummy, adj.	د ګڼهورو په شان .
chewing gum, n.	ژاولی .
gum, n.	خچڼی (چوخڼی) .
gumption, n.	ځیرکی ، پوهه ، تشبث ؛ درنګ جوړولو فن .
gun, n.	ټوپک ، توپ ، تومانچه (تمانچه) شیندونکی (آله) .
v.t.i.	ویشتل ، په ټوپک سنبالول ؛ ډزی کول .
gunsmith,	ټوپک جوړوونکی .
gunboat, n.	کوچنۍ توپ لرونکې کښتۍ
gunman, n.	ټوپچی ، مسلح غل ، وسله وال غل .
gunner, n.	توپچی ، ښکاری ؛ هغه صاحب منصب چه په کښتۍ کې د توپ مسئوولیت لری .
gunnery, n.	د ټوپک ویشتلو فن ؛ د انداخت علم .
gunpowder, n.	باروت ، د ټوپک دارو .
gunwale, n	د کښتۍ د اړخ پورتنۍ ژۍ .
gurgle, v.t.i. & n.	شرشر کول ، شڼهار کول ؛ د اوبو د څڅېدلو (شرشر) غږ شڼهار
gush, v.t.i.	په زور را غورځېدل (د اوبو) داري وهل ؛ په هیجان را تلل بهېدل ، بهول .
gusher, n.	خوټېدونکی ، داري وهونکی د تیلو څاه چه بېبې ته اندیانه لری .
gust, n.	سیلۍ ، تند باد ، هیجان
gusty, adj.	توفانی .
gusto, n.	ذوق ، شوق ، خوند ، مزه .
gut, n.	کولمه ، نری لار ، ابنا ، مجرا (په جمع کی) اری او کولمی .
gutter, n.	لښتی (د ناوا او اوبو) .
guttural, adj. & n.	حلقی ، ستونیز .
guy, n.	رسی ، ځنځیر ، موړ ی ، سیخ او نور چه د شیانو د ټینګولو د پاره استعمالیږی .
guy, n.	سړی ، عجیبه قواره :
v.t.	مسخره کول ، څورول .
guzzle, v.t.i.	په سرابشناکه توګه خوړل او څښل ، نغول ، اړپل .
gymnasium, n.	جمنازیوم ، د سپورټ ځای لوبو ځای : په ځینو اروپایی ممالکو کی (په غټ G) د لیسې معادل ښوونځی .
gymnastics, n.	جمناستیک ، ورزش چه د بدن د غړو د قوی کولو د پاره یې کوی
gymnast, n.	ورزشکار .
gypsum, n.	ګچ ، د پاریس پلاستر .
gypsy, gipsy, n.	جت : د جتانو ژبه .
gyrate, v.i	په دایروی ډول څرخېدل ، تاوېدل .
gyration, n.	څرخ ، ګرځېدنه .
gyroscope, n.	جیروسکوپ ، یو آله ده چه د کښتیو ، الوتکو او نورو د حرکت د تعادل د پاره استعمالیږی .
gyve, v.t. & n.	زولانه کول ، په ځنځیر تړل ، زولانه .

H

habeascorpus, n. د قاضي په وړاندې د بندي د راوستلو حکم څو د هغه د حبس علت څرګند شي .

haberdasher, n. (امر) هغه سوداګر چه د نارينه وو د استعمال وړ شيان پلوري ، د دغو شيانو خرڅوونکی .

baberdashery, n. پلورنځی (د نارينه وو د کالو) .

habiliment, n. د اغوستو کالي .

habit, n. کالي ، جامه : خوی ، عادت

habitable, adj. د اوسېدو وړ ، د استوګنې وړ ، د مېشتېدو وړ

habitant, n. اوسېدونکی ، مېشت .

habitat, n. د ژوو او نباتاتو اصلي او طبيعي ځای .

habitation, n. ټاټوبی ، استوګن ځای ، د اوسېدو ځای ، اوسېدنه .

habitual, adj. عادتي ، رواجي ، معمولي : روږد ، اموخته ، معتاد .

habitually, adv. عادتاً ، په رواجي ډول ، په معمولي ډول .

habituate, v.t. روږدول ، عادت ورکول ، اموخته کول .

hack, n. د کرايې آس : زوړ آس : بېکار ليکونکی : ټيکسي (موټر) .

hack, v.t.i. په غير منظم ډول ټوټه کول يا پرې کول ، خوږول : ټوخېدل لغتي وهل .

hackle, n. د چرګ د غاړې بڼې : د سپي د اوږو مېنځ او شا وېښتان .

hackney, n. د کرايې آس ، يابو : د کرايې ګاډی .

hackneyed, adj. عمومي : زوړ : يا بيزه .

had د have. ماضي او دريم حالت.

haddock, n. يو ډول کوچنۍ غوړه ين کب .

Hades, n. دوږخ .

haft, n. لاستی (لکه چړی) .

hag, n. روی ، غوروی ، شيشکه ، بلا ، شيخۍ ، کوډګره ، بدشکله بوډۍ .

haggard, adj ډنګر چه سترګی يې لويدلی وي : ناايله (نا روزل شوي) باښه ، ناروزل شوی (وحشي) .

haggle, v.t. چنې وهل : غوشول : لېږل ، ټکه ول .

hail, n. ږلۍ (ژلۍ [illegible])

hail, v.t.i. ږلۍ اورېدل : ژلۍ اورول

hailstone, n. ږلۍ (دانه)

hailstorm, n. د ږلۍ او ورېدلو توفان.

hail, v.t. سلام اچول، هرکلی کول

hail, n. سلام، هرکلی: روغتیا.

hair, n. وېښته.

hairdresser, n. سلماني، دلاك، نايي

hairless, adj. بې وېښتانو.

hairy, adj. وېښتن، شخوسن، ببر، ټوشن، چوشن.

hairpin, n د وېښتانو چنګك يا سيخك

hairbreadth, also hairs breadth, د وېښته لپور، ډېره کمه فاصله، ډېره کمه اندازه.

hake, n. يو ډول کب.

halberd, n. تبر، تبرزين.

halcyon, adj. ارام، بې باده:

n. يو ډول مرغه دی چه وايي د بحر پر مخ باندې ځاله جوړوي او د هغه د چرچيانو د زېږېدو په وخت کې د بحر او به ارامې وي.

halcyondays, د سولې او نېکمرغۍ ورځې.

hale, adj. روغ، روغ رمټ، جوړ: غښتلی، پياوړی، قوتناك.

half, n. نيم.

half, adj. نيم.

halfback, n. هاف بيك (د فوټبال په لوبه کې).

half boot, n. نيم بوټی.

half-breed, n. دورګه، بې تربيې.

halfhearted, adj. مذبذب، سوړ، په دوو زړو کې، زړه نازړه.

halfpenny, n. د انګرېزي سکې (پېنۍ) نيمې، نيمه پېنۍ.

halfway, adj. د لارې نيمائي، د لارې مېنځ

halfway, adv. په نيمائي لار کې.

half-witted, adj. بوله، باوله، اهتوګی، لېونحاله، لېونفری، بېځا (اصطـ) له عقله پلی.

halibut, n. يو ډول کب

halitosis, n. بدبويه ساه، د خولې بدبويي

hall, n. سالون، لويه خونه: د پوهنتون ودانۍ، د غونډې خونه: دهلېز انو تحی.

hallelujah, halleluiah, n. مذهبي سرود، حمد و ثنا (د خدای) تهليل.

alleluia, n. خدای بلمنه، خدی ستاينه.

halliard, n. د بېړۍ د بادوان يا بيرغ د اوچتولو رسی.

halloo, v.i. & n., اې، او: بدغ کول، هرکلی کول: بدغ، هرکلی.

hallow, v.t. نمانځل، تقديسول.

hallowed, adj. نمانځل شوی.

Halloween, n (عيسوي) بنه‌شپه، د اولياوو شپه (د اکتوبر د ۳۱ نېټې شپه).

hallucination, n. د ړره (بړره): خيال تصور، وهم.

hallway, n. سابات، دالان، دهلېز.

halo, n. شپول (د سپوږمۍ لمر)، تربل (تلبر)، هاله.

halt, n. & v.t.i. درول، درېدل، توقف کول.

halt, adj. ګوډ، نګوږېدونکی.

halter, n.	ترسېرى، اوسار: زنډۍ .
halve, v.t.	دوه ځايه كول، دوه ټوكه كول، نيمول .
halves, n. pl. of half.	د half. جمع.
halyard, n.	halliard. وګورئ .
ham, n.	دخوګ دورانه وچه غوښه چه په مالګه وي .
Hamburg steak orhamburger, n.	دغوائي كوفته .
hamlet, n.	كوچنى كلى .
hammer, n.	څټك، چټك، چكش، سټك .
hammerless, adj.	بې څټكه (بې سټكه)
v.t.	په چكش وهل، وهل، ټكول .
hammock, n.	زانګو ډوله بستره چه په رسيو سره بې پرد هوا لو يا ونو ځړوي .
hamper, n.	لويه ټوكرۍ .
hamper, v.t.	منع كول، مخ نيول .
hand, n.	لاس .
handful, n.	لپه، يو موټ .
handless, adj.	بې لاسه، بې لاستى .
handmade, adj.	په لاس جوړه شوى .
hadnbag, n.	بټولى، دلاس كڅوړه، دلاس بكس
handbill, n.	دباغوانى بيانى: داعلان پاڼه
handcuff, n. & v.t.	ولچك كول، ولچك وراچول .
handicap, n.	مانع، عيب، يو ډول مسابقه چه كمزوري ته يو څه امتياز ور كول كيږي څو دواړو ترمنځ تعادل منځ ته راشي .
handicraft, n.	لاسي صنايع .
handicraftsman, n.	صنعتګر، صانع .
handiwork, n.	لاسي كارونه
handkerchief n.	دسمال .
handle, n. & v.t.	لاستى: په لاس ښورول، په لاس نيول، په لاس وركول، اداره كول
handmaid, n.	چوپړه (ښځه) خدمتګاره (ښځه) .
handmaiden, n.	چوپړه .
handsel, hansel, n.	د نيكمرغۍ نښه .
handsome, adj.	ښكلى، ښايسته، ګلالى .
handsomely, adv.	په ښكلې توګه .
handspike, n.	يو ډول داوسپنې آله چه درافعې په حيث استعماليږي .
handwriting, n.	لاس ليك، لاس خط، هغه ليك چه په لاس ليكل شوى وي .
handy, adj.	نژدې، تر لاس لاندې (نژدې) ماهر، هغه چه په اسانۍ سره استعماليداى شي .
hang, v.t.	ځړول (په دار) وژل، ځړول .
hangman.	جلاد .
hangar, n.	هنګار، دالوتكو ګاراج
hangdog, adj.	ټيټ، كښته، پست (سړى) .
hanging, n.	ځړونه (په دار) .
hank, n.	كلاوه (د سپڼسو) كړۍ (د سپڼسو) .
hanker, v.t.	غوښتل، ليوال كېدل، اشتياق لرل .
hansel.	د handsel, بله بڼه .
hansom, n.	يو ډول بګۍ چه د چلوونكي دناستي ځاى يې ترشاوي .

hap, n. پېښه ، حادثه .

haphazard, n. ناڅاپه ، نابوبره ، اتفاقي

haphazard, adj. ناڅاپي .

hapless, adj. بدبخته ، بې بخته ، بدمرغه

haply, adv. په ناڅاپه توگه ، ښايي .

happen, v.i. ناڅاپي پېښېدل ، پېښېدل ، واقع کېدل .

happily, adv. په نېکمرغۍ : د ښه مرغه ؛ په خوشالۍ سره .

happiness, n. خوشالتيا ، خوشالي ، نېکمرغي .

happy, adj. خوشاله ، خوشبخته ، نېکمرغه .

harangue, n. وينا (په لوړ ږغ)

harangue, v.t.i. په لوړ ږغ وينا کول ، په لوړ ږغ ږغېدل .

harass, v.t. ځورول ، خوا بدي کول ، خفه کول.

harbinger, n. کوربه ، ترمخ ځغاستونکی ، شاتر ، لار ښوونکی .

harbor, harbour, n. بندر ، سېو ، پناه گاه .

harborage, harbourage, n. سېو ، پناه گاه . سا تېري.

hard, adj. کلک ، سخت ، مشکل ، گران ، زيږ .

hard, adv. کلکې .

hardly, adv. په کلکه توگه .

hardness, n. کلکوالی .

harden, v.t.i. کلکول ، سختول : کلکېدل ، سختېدل .

hardhearted, adj. په زړه کلک ، په زړه سخت ، بې زړه سوی .

hardihood, n. زړه ورتوب ، سرتېري

hardiness, n. غښتلتوب ، پياوړتوب ، تورزن ، طاقت ، سېک .

hardpan, n. د مځکې کلک پوړ ، کلکه مځکه .

hardship, n. ستونځه ، مشکلات ، ربړه ، سختي .

hardtack, n. يوډول کلچه چه ماڼوگان يې استعمالوي .

hardware, n. د اوسپنې اوزار ، اهن جامه (لکه قلفک ، د ستگير ، چپراس او داسې نور).

hardwood, n. کلک لرگی .

hardy, adj. زړه ور ، سرتېره ، کلک ، بې باکه .

hare, n. سوی .

harebell, n. يوډول بوټی .

harem, n. حرمسرای ، د حرمسرای ښځې

hark, v.t. غوږ نيول ، پام نيول .

harken, v.i. د Hearken, بله بڼه غوږ نيول

harlequin, n. مسخره (سړی) ، پيرو گر ، پېښه گر چه رنگارنگ کالي يې اغوستي وي .

harlot, n. رنډۍ ، کنچنۍ ، بدلمنه ، فاحشه .

harm, n. زيان ، تاوان ، ضرر ، ځور .

harmful, adj. ضررناك ، زيانمن .

harmless, adj. بې ضرره .

harmlessly, adv. په بې ضرره توگه .

harmlessness, n. بې ضررتيا ، بې زياني .

harmonic, adj. هماهنگه ، ساز ، سم ، موافق .

harmonica, n.	ساز، دخولې باجه .
harmonics, n.	دموسیقۍ داوازونو علم، اوازپوهنه .
harmonious, adj.	همغاړی ، سم ، وړ ، برابر ، موافق .
harmonize, v.t.i.	برابرول ، سمول ، همغاړی کول : سمېدل ، برابرېدل همغاړی کېدل .
harmony, n.	سم والی ، برابر والی ، همغاړ توب ، توافق ، هماهنګی .
harness, n.	ملونه ، کېزه او د کېږی مربوط سامان ـ سامان ، تجهیزات .
harness, v.t.	د کار د پاره اماده کول ، استفاده ځنې کول ، په ښمر کول ، کېزه وراچول ، ایسارول .
harp, n.	دموسیقۍ یوه اله .
harper, n.	هارپ وهونکی .
harpist, n.	هارپ وهونکی .
harpoon, n.	داوسپنې ازغنه نېزه چه د نهنګ ښکار په کوی .
harpoon, v.t.	نهنګ ښکارول .
harpsichord, n.	دموسیقۍ یوډول اله .
harpy, n.	سرابښ سړی (په غټ H) هغه حیوان چه سر او تنه یې د ښځې او وزرونه او لکۍ یې دمرغه وي : کرپته قپوس .
harrow, n.	غاښور ، ماله ، هغه اله چه ځمکه په هواروی .
harry, v.t.	یرغل کول ، لوټول ، تالا کول ځورول ، وېجاړول .
harsh, adj.	ځیږ ، بدورګی ، شدید
harshly, adv.	په ځیږوالی ، په شدت .
harshness, n.	ځیږوالی ، شدت .
hart, n.	ګوزن (نر) ،
harvest, n.	درمن (درمند) ، حاصل ، د رېبلو او درمن وخت ، فصل (لکه د غنمو) .
v.t.i.	رېبل ، ټولول ، درمند کول
harvester n.	لوګری .
hash, v.t.	کوټل ، میدول ، وړول ، کوفته کول .
hasp, n.	چپراس او قلفک .
hassock, n.	بالښت (د پښو د پاره) نالی (نیالی) .
haste, n.	چټکتیا ، ګړندی توب ، بېړه .
hasty, adj.	بېړه ناک ، بېړ ګندی .
hastily, adv.	په بېړه .
hasten, v.t.i.	چټکول ، ګړندی کول ، تسریع کول : چټکېدل ، ګړندی کېدل .
hat, n.	خولۍ .
hatband, n.	دخولۍ دشاو خوا پټاړه ربښکی .
hatter, n.	خولۍ ګنډونکی .
hatch, v.t.n.	چا کول (د هګیو) : شاربل چرګوړی ایستل : پخول ، وده ور کول
hatchway, n.	کړکۍ (د بېړۍ په غولی یا بام کی چه د ماتو د کښته پورته د پاره وي) .
hatchery, n.	د شاربلو ځای ، د پخو لو ځای ، د چرګوړو د ایستلو ځای .
hatchet, n.	تبرګی .
hate, n.	کرکه ، نفرت .
hate, v.t.	کرکه کول .
hateful, adj.	هغه چه کرکه ځنې کېږی ، منفور ، مکروه .

hater, n. کرکجن .

hatred, n. کرکه ، تنفر .

hauberk, n. زغرین بالاپوښ ، زغره .

haughty, adj کبرجن ، مغرور ، په ځان غره .

hnaughtily, adv. په مغروري ، په کبر

haughtiness, n. غرور ، کبر .

haul, v.t. ښکول ، کشول .

haulage, n. ښکونه ، کشونه .

haunch, n. کزناقی : د حیوانو رون او پښه .

haunt, v.t. زیاته ناسته و لاړه کول : د ډېر تګ راتګ کول ، د ډېر راشه درشه کول

hautboy, n. سورنا ، سورنی .

have, v.t. درلودل : ګمارل ، مجبورول .

haven, n. کودر ، بندر ، د بېړیو د دریدو ځای ، سیب (پناهګاه).

haversack, n. طبراق ، ځوری .

havoc, n. وېجاړونه ، ورانونه ، لوټونه .

haw, n. ها (داسې اوغوږې د پاره ږغ) یو ډول اغزن بوټی چه سره میوه کوی ، د دغه بوټی میوه .

hawk, n. باز .

hawker, n. ګرځنده پلورونکی .

hawser, n. هغه سیمی پړی چه په ګودر کې بېړۍ په تړی ، د بېړۍ را ښکولو او تړلو پنځه رسۍ یا واښکې

hawthorn, n. یو ډول غرنی ونه چه سپین یا ګلابی خوشبویه ګلان لری.

hay, n. پروړه ، پروړ ، وچ واښه ، پولی ، پېړه .

baycock, n. د وښو یا پروړی کوټه .

hayfield, n. څر ځای ، وښیانه .

haystack, n. د وښو یا پروړو کوټه (دلی) .

hazard, n. خطر .

hazardous, adj. خطرناک .

haze, n. خوپ ، غبار : زړه نازړه ، هغه څوک چه د تصمیم قدرت نلری.

hazy, adj. خوپه هوا ، تت .

hazel, n. یو ډول ونه یا بوټی دی .

hepersonalpro. دی ، د دریم سړی ضمیر .

head, n. سر : مشر ، رئیس .

headache, n. سرخوږی ، د سر درد .

headdress, n. پوښاک (د سر) د وېښتانو د جوړ والو ډول .

headless, adj. بې سره .

heading, n. سرلیک ، سرنامه ، عنوان

headland, n. دماغه ، هغه وچه مځکه چه په سیند ننوتلې وي .

headlight, n. د مخ څراغ (د موټر او داسې نورو).

headline, n. سرلیک ، عنوان .

headlong, adj. & adv. بېړه ناک ، تلواری : په بېړه ، په تلوار .

headmaster, n. سر ښوونکی ، سرمعلم ، مدیر .

headpiece, n. خولی : کوپړه ، ککری ، پوهه ، ذهنی قوه .

headquarters, n. دستر کومانډان مرکز ، مرکزی اداره ، مرکز .

headsman, n. سر وهونکی ، سر پرېکوونکی ، جلاد .

headstone, n.	د بښت تیږه : د مړي ستون تیږه، د قبر ډبره .
headstrong, adj.	په خپل سر ، بې جلوه ، بې سره ، خود سره ، بې پروا .
headwater, n.	سر چینه ، سر چشمه ، د اوبو منبع .
headway, n.	پر مختګ، وړاندې تګ .
heady, adj.	نشه اړونکی، سرکښ ، خپل سری ، بې باکه .
heal, v.t.	روغول ، جوړول .
healer, n.	روغوونکی دارو ، درمل .
health, n.	روغتیا ، جوړتیا ، تندرستي .
healthy, adj.	روغ ، جوړ .
heap, n. & v.t.	کوټه ، کوډه : کوټه کول: کوډه کول، ډېری کول، امبارول
hear, v.t.	اورېدل ، منل ، اورول : توجه کول .
hearer, n.	اورېدونکی .
hearing, n.	اورېدنه .
hearken, v.i.	اورېدل : غوږ نیول .
hearsay, n.	بول ، ډنډوره ، آوازه، انګازه ، خبر .
hearse, n.	تابوت ، د مړي وړلو عراده .
heart, n.	زړه ، منځ ، مرکز .
heartache, n.	خوابدي ، غم ، د زړه خوږ .
heartbeat, n.	زړه غورځېدنه .
heartbreak, n.	زړه ماتېدنه ، خوا توري ، غم .
heartbroken, adj.	زړه ماتی ، زړه توری .
hearten, v.t.	زړه ورکول ، تشویقول .
heartfelt, adj.	صمیمي ، د زړه د کومي .
hearth, n.	دېوالي بخاري ، نغری دېګدان (کور)
hearthstone, n.	د نغري ډبره : یو ډول د نغري د سپینولو ښته ډبره ، چرګي .
heartsick, adj.	غمجن ، غمځپلی ، زړه ماتی .
hearty, adj.	صمیمي ، د زړه د کومي ، سالم ، پرېمانه .
heartily, adv.	په زړه ورتوب .
heartiness, n.	رښتیا ګڼوي ، صمیمیت .
heat, n	تودوخه ، ګرمي ، حرارت .
heater, n.	تودوونکی ، حرارت ښوونکی اورغالی ، منقل ، بخاري .
heath, n.	ځوږیانه ، هغه ارته ځمکه چې ازغن او ځیني نور بوټي لري .
heathy, adj.	ځوږیانه
heathen, n.	کافر ، بې دینه ، وحش .
heathen, adj.	کافر ، بې دینه .
heathendom, n.	بې دیني .
heathenism, adj.	کافر ، بې دینه
heathenism, n.	کفر ، بې دیني .
heather, n.	یو ډول بوټی چې همیشه شین وي او ګلابي رنګ ګلان لري .
heave, v.t.i.	هسکول ، جګول ، پورته کول ، لوړول ، پړسول ، غټول . هسکېدل ، جګېدل ، پړسېدل ، ډډېدل ، غټېدل .
heaven, n.	هسک ، آسمان : جنت .
heavenly, adv.	آسماني
heavenward, adj.	د آسمان په لور ، د فضا په لور .

heavy, adj. دروند، تیاره، جدي، سخت

heavily, adv. په درنښت.

heaviness, n. دروندوالی .

heavyweight, n. دروند وزنی (په بوکسنگ او پهلوانی کی) .

Hebrew, n. عبری، عبرانی، یهودی سامی ژبې (د پخوانیو عبرانیو عبرانیانو ژبه)

hecatomb, n. په پخوانی یونان کی یو عمل د سلو غوایانو یا اوښانو قربانی .

heckle, v.t. ږمنځول : پوښتنې کول (پرله پسې) ځورول (د مسلسلو پوښتنو په واسطه) .

hectic, adj. تبجن ، ناراحته ، اندېښناك

hedge, n. د بوټو او کوچنیو ونو کېږ چارگی

hedgehog, n زږگی ، جږگی : یو ډول میوه چه پوست یې زیږ دی : بدخوئی سړی ، بدخوی سړی .

heed, v.t.i. پام کول ، توجه کول : خبرېدل .

heedful, adj. څارو ، څېرلی ، متوجه .

heedless, adj. بې پروا .

heedlessness, n. بې پروایی ، بې توجهی ، بې پامی .

heel, n. پونده .

heel, v.t.i. اړخېز کول ، کږول ، کږېدل اړخېز کېدل : شیوه کول : شیوه کېدل .

heifer, n. کسټره .

height, n. لوړوالی ، اوچتوالی ، هسکوالی ، قد ، ارتفاع .

heighten, v.t.i. لوړول ، اوچتول ، اوچتېدل ، زیاتېدل ، پرمخ تلل .

heinous, adj. ډېر شپېلی ، خورا بدخونی ، ظالم ، ناروا ، تېری کوونکی تېرونی .

heir, n. میراثخور ، وارث ، میراثخور

heirloom, n. میراث ، میراث ، هغه مال چه چاته په میراث ورسېږی ، ترکه .

held, د held, ماضی او دریم حالت .

helicopter, n. هیلې کوپتر .

heliotrope, n. یو ډول بوټی دی چه ارغوانی یا سپین گلان لری .

helium, n. هیلیوم ، د نجیبه غازاتو له جملې څخه یو ډول سپک غاز دی .

hell, n. دوږخ .

hellfire, n. د دوږخ اور

hellish, adj. دوږخ ډوله.

hellebore, n. یو ډول بوټی چه ریښې یې په دوا جوړولو کی استعمالېږی .

Hellenic, adj. یونانی .

Hellenism, n. یونانی مدنیت .

Hellenistic, adj. یونانی کلچر .

hello, interj . د hallo بله بڼه .

helm, n. د کښتۍ د اداره کولو کړۍ (لکه د موټر سټیرینگ)

helmsman, n. لار ښوونکی ، اداره کوونکی.

helmet, n. د اوسپنې خولی ، خول (د اوسپنې).

helot, n. مریی.

help, v.t.i. مرسته کول ، کومك کول : کومك کېدل .

helpful, adj. کومکی ، گټور .

helpless, adj. بې وسه ، بې وزلی ، بې مرستی .

helplessly, adv. بې وسی .

helplessness, n. بې وس توب .

helpmate, n. کومکی، مرسته کوونکی، ملګری (په تېره ماينه).

helter-skelter, adv. په وار خطا يی، په ګډه وډه توګه .

helve, n. لاستی (د تبر، تېشې او نورو)

hem, n. ژی، څنډه، موړګه، څنډه . باژی ورجوړول، ايسارول، رانغاړل.

hemisphere, n. (په ترکيبی حالت کی) نيم، د ځمکی نيمه کره .

hemispherical, adj. نيم کروی.

hemlock, n. يوډول ونه چه تل شنه وی: يوډول زهرناکه بوټی او دهغه زهر، شوکران .

hemoglobin, n. هيموګلوبين، د وينو په سرو کريو ياتوکی د رنګه سره ماده .

hemorrhage,haemorrhage, n. وينی کېدنه، دوينی بهېدنه (دزخم څخه) .

hemp, n. د يوډول بوټی، کنف.

hempen, adj. سنډی .

hemstitch, v.t. تار کښی کول، بوخيه کول، مړ ټکئ کول، کښيېده کول ګلدوزی .

hen, n. چرګه، د کور نيو مرغانو ښځينه جنس .

hencoop, n. د چرګو قفس .

henhouse, n. د چرګو کوډل.

hence, adv ځکه نو، په دي دليل، له دي امله، په نتيجه کی، وروسته له دي

henceforth, adv. وروسته له دي .

henceforward, adv. وروسته له دي، په اينده کی .

henchman, n. مزدور، پيرو، مربی، تر لاس لاندی، (سپی) .

henna, n. نکريزی، حنا، نوکر ځی، نوکريزی .

henpeck, v.t. پرمېړه بېچ وهل، مېړه تر انګر ايل، پر مېړه امرونه کول .

hepcat, n. سازنده .

her, pron. دمفرد مئونث غايب مفعولی او اضافی ضمير (دی ته، ددي) .

herald, n. جارچی : زيری کوونکی : څری، زيری .

v.t. اعلان کول، زيری ور کول، جار وهل، پيش ګويی کول .

heraldry, n. نسب پېژندنه.

heraldic, adj. د نسب نامې .

herbs, n. کوچنی بوټی چه نرمه ساقه لری، داسی بوټی چه په دواو کی استعماليږی.

herbaceous, adj. بوټی وزمه، واښه ډوله .

herbage, n. واښه .

herbivorous, adj. واښه خور، شړيدونکی .

herculean, adj. ګران، سخت، خطرناك، پياوړی، ځښتلی .

herd, n. رمه، ګودم، ګله .

herder, n. شپه، شوبه.

herdsman, مالوالا، ګودم والا، مالدار ګله دار .

here, adv. دلته، په دي ځای کی: اوس

hereabout, hereabouts, adv. په دې شاؤ خوا کې، په دې سیمه کې .

hereditary, adj. وروسته له دې، پس له دې

hereby, adv. په دې ډول، پدې توګه په دې وسیله: دلته نژدې

hereaitary, adj. موروثي، میراثي، ارثي

heredity, n. میراث، وراثت .

herein, adv. په دې کې .

hereof, adv. ددغه، ددې پهدې باره کې

heresy, n. کفر، د عقیدې خرابوالی .

heretic, n. کفر .

heretical, adj. کفري .

heretofore, adv. تردې د مخه، پخوا، ډو مخې .

hereunto, adv. تراوسه، تر دې و خته

hereupon, adv لهدې کبله: وروسته لدې، د دې په نتیجه کې .

herewith, adv. له دې سره، لهدې سره مل

heritage, n. میراث، ترکه .

hermetic, n. داسې تړل شوی چه هوا ورداخله نشي: کیمیا یي، جادو یي .

hermetical, adj. کیمیا ګري: کوډ ګري .

hermetically, adv په کیمیا یي ډول، دکوډو په توګه .

hermit, n زاهد، صوفي، دنیا تارک .

hermitage, n. ځله (د عبادت دپاره ګوښه ځای)، دزاهد دعبادت ځای .

hero·n اتل، هیرو، پالوان، قهرمان

heroic, adj. داتلتوب، دزړه ورتوب .

heroine, n. اتله، زړه وره، پالوانه، هیروئین (په فلم کې) .

heroism, n. اتلتوب، زړه ورتوب، غښتلوالی .

heron, n. ماهي خوړونکی (مرغه) .

herring, n. یو ډول کب .

hers, possessive case of She. ددې .

herself, pron. داپخپله، دې پخپله

hesitate, v.i. زړه نازړه کېدل، متردد کېدل

hesitation, n. تردد، تذبذب .

heter (o)— په ترکیبي حالت کې، بېل، مختلف .

heterodox, adj له وارو عقایدو سره مخالف له عمومي عقایدو سره مخالف .

heterodoxy, n. له وارو عقایدو سره مخالفت، بدعت .

heterogeneous, adj ډول ډول، غیر متجانس، مختلف

hew, v.t. پرې کول، څو څول، ټوټول، ماتول .

hewer, n پرې کوونکی، څوڅوونکی، ټوټوونکی .

hex (hexa) شپږ (په ترکیبي حالت کې)

hexagon, n. مسدس، شپږ ضلعي .

hexagonal, adj. مسدس .

hexameter, n. مسدس (شعر) .

heyday, n. نیکمرغي، خوشحالي .

hiatus, n. چوله، چوړګه، نښکې ښا وقفه (ددوو توروتر مینځ)، خلا، چاود .

hibernate, v.i. ژمی په استراحت تېرول (لکه ځینې ژوي چه یې تېروي) .

hibernation, n. ژمی په استراحت تېرول، ژمنی خوب (دځینو ژوو) .

hiccup, hiccough, n. سوګلی ، سلګۍ ، اېټکۍ .

hickory, n. یو ډول ونه چې په شمالي امریکا کې ډېره پیدا کېږي : ددې ونې لرګی چې ډېر کلک او ښه دی .

hid, v.t.i. د hide ماضي .

hidalgo, n. ښاغلی (په اسپانوي ژبه) .

hidden, adj. پټ ، پټ شوی د hide دریم حالت.

hide, v.t.i. پټول : مخ اړول ، له نظره پټول : پټېدل .

n. پوست ، پوستکی ، د پټېدو ځای .

hidebound, adj. بې ځایه محتاط ، لنډ فکره : په بدن پورې انښتی پوست .

hideous, adj. وېرونکی ، بدرنګه ، بد ورګی ، بدغونی .

hideously, adv. په وېرونکي توګه .

hideousness, n. بدرنګوالی .

hie, v.i. په بېړه تلل ، مخ ته تلل ، ژر ژر تلل ، تر پلل .

hierarchy, n. د مراتبو سلسله ، د روحانیونو سلسله ، د روحانیونو حکومت ، هغه حکومت چې د مراتبو سلسله د حاکمیت له مخې پکې کلکه وي .

hieroglyphic, n. هیرو غلیف لیک .

high, adj. لوړ ، اوچت ، هسک ، جګ .

highborn, adj. اصیل ، د لوی کور ، د درنې کورنۍ .

highhanded, adj. تحمیلي : اختیاري ، امرانه ، ظالمانه .

highland, n. غرنۍ سیمه ، لوړه ځمکه .

the Highlands, n. د سکاټلېنډ شمال لوېدیځه برخه .

Highlander, n. پاسنی ، غرنی ، د غرو اوسېدونکی .

highness, n. ستروالی ، هسکوالی ، جګوالی : لوړوالی .

highroad, n. لویه لار ، لوی سړک ، عمومي سړک .

high school, n. لیسه ، عالي ښوونځی

high sea, n. د بحر هغه برخه چې پر هغه باندې د چا تسلط نه وي ، بین المللي اوبه .

highway, n. لویه لار ، عمومي لار ، عمومي سړک .

highwayman, n. غل ، هغه سړی چې لویه لار یې نیولې وي او غلا کوي ، لار وهونکی .

hike, n. & v.t. تګ ، چکر : تلل ، تګ کول ، چکر وهل ، پر پښو تلل .

hiker, n.

hilarious, adj. خوښ ، خوشاله ، ښاد ، ورین

hilarity, n. خوښي ، خوشالي ، ښادي

hill, n. غونډۍ ، ټټه ، د خاورو کوټه .

hillside, n. د غونډۍ لمن ، د غونډۍ اړخ

hilltop, n. د غونډۍ سر

hilly, adj. هغه سیمه چې ډېرې غونډۍ لري .

hillock, n. کوچنۍ غونډۍ ، وړه غونډۍ ، غونډۍ .

hilt, n. لاستی ، موټه ، مخصوصاً د توري (خنجر) .

him, pron. د مفرد مذکر غایب مفعولي ضمیر (دده) .

himself, pron.	ده پخپله ، دی پخپله .
hind, n.	بزگر ، کلیوال .
hind, n.	گاوزه ، گوزنه .
hind, adj.	شاتنۍ برخه ، وروستنۍ خوا ، ترشا ، شا .
hinder, v.t.i.	درول ، مخه نیول ، ممانعت کول ، د ودې او انکشاف مخه نیول : خنډي کېدل .
hindmost, adj.	بېرته ، خورا بېرته ، ټر وروسته .
hindrance, n.	ممانعت ، مخنیوی .
hinge, n.	چپراس
hint, n.	اشاره ، شیبه ، غیر مستقیمه اشاره
hint, v.t.i.	اشاره کول .
hip, n.	کوناټی .
hip, n.	د نسرین د گل مېوه ، د سره گل مېوه : په لوبو کی د خوشالی ناره (اواز) مالخولیا .
hippodrome, n.	د اسانو د ځغلولو ځای ، د اس د زغلولو د ایروی میدان : سرکس .
hippopotamus, n.	داو بو اس چه په افریقا کی پیدا کېږی .
hire, v.t.	مزدورول ، اجاره کول ، باډه کول ، اجیرول .
hireling,	اجیر ، مزدور : رشوت ور کول
hirsute, adj.	ویښتن ، وډبن ، ببر ویښتن .
his, pron.	دده ، د ده (د مفرد مذکر غایب اضافی ضمیر) .
hiss, n.	پوښکی ، پوښهار ، پوسهار (لکه مار ، د باد ، داو بو او داسی نورو)
historian, n.	تاریخ پوه ، تاریخ لیکونکی مؤرخ .
history, n.	تاریخ .
historic, adj.	تاریخی ، مشهور .
historical, adj.	تاریخي .
historically, adv.	په تاریخی توگه ، د تاریخ له مخی (د مخه) .
histrionic, adj.	صحنه یی ، صحنې ، د سټیج د لوبغاړو د ډېره گرو .
hit, v.t.i.	وهل ، گوزار ور کول : توافق کول ، موندل
hitch, v.t.i.	ښچول ، ټکان ور کول : ټړل اچول ، غورځول : درول ، گېر ندی کول .
hither, adv.	دلته : دې خواته ، دې لورته ، نږدې .
hitherto, adv	تر دې وخته ، تر اوسه ، تر دې ځایه .
Hitlerism, n. ,	هټلري لاره ، هټلری اصول .
Hitlerite, n.& adj.	هټلری .
hive, n.	د شاتو کندو ، د مچیو کور ، د مچیو ځاله ، ډېر بنت ، ټولنه ، ټمبوکه .
hive, v.t.	په کندو کی ټولول .
hoar, adj.	سپین ، سپین بخن ، سپین ږیری ، زوړ .
hoard, n.	پاسره : ذخیره ، خزانه .
hoard, v.t.i.	پاسره کول ، ټولول .
hoarfrost, n.	پرخه .
hoarse, adj.	زیږ ، بوږغاړی ، زیږ ږغ ، ډډ ږاغ .
hoarsely, adv.	په بوږ غاړ توب .
hoary, adj.	زوړ ، سپین ږیری : سپین بخوالی .

hoax, v.t. ټوکې، مسخري، ملنډې، تېرایستنه، غولونه (د ټوکو د پاره).
ټوکې کول، مسخري کول، ملنډې وهل، غولول (په ټوکو).

hobble, v.t.i. لنګښتیا، لنګېدل، ګوډ ګوډ تلل، لنګوښل (لنګوښېدل): دربلول، دربل کېدل، ښکېلول.

hobby, n. ذوقي کار (په وزګار وخت کې)

hobgoblin, n. بلا، روی.

hobnail, n. پیټ سری: میخ چه د بوټ پر تلې او د اس پر نال باندې وهل کېږي.

hobnailed, adj.

hobo, n. خهره، ګرزنده، کارپګر، سوالګر.

hock, n. د څارو یو د شاد پښو منځنی بند (لکه د اس، غوا، سپي او نورو).

hockey, n. هاکي، یو ډول لوبه.

hocus-pocus, n. ټګي، انترمنتر، جنتر

hod, n. د ختو د خښتو او نورو تعمیراتي موادو د وړلو لوښه: د سکرو لوښی.

hoe, n. رمبی.

hog, n. خوګ: ناولی، خېټور سړی، ځان منونی، خودخواه.

hoggish, adj. خوګ ډوله، ظالم، چټل، خودخواه.

hogshead, n. یو ډول لوښی چه ۶۳ ګېلنه پټرول پکې ځایېږي (لکه بېلر چېلک).

hoist, v.t. اوچتول، پورته کول، لوړول، هسکول.

hold, v.t. نیول، ساتل، خوندي کول: تم کول، په یاد لرل، درلودل، لرل.

holder, n. نیوونکی.

hold, n. د بېړۍ یو لاندنۍ برخه چه هلته مال او سامان ایښودل کېږي.

holding, n. شته، شتمني، مال، جایداد.

hole, n. سوری، ګوګ، ژوره ځای، غار.

holiday, n. رخصتي، د رخصتۍ ورځ

holiness, n. سپېڅلتوب، تقدس، د پاپ لقب.

hollow, adj. ګوګ، مېنځ خالي

hollowness, n. ګوګ والی

holly, n. یو بوټی چه تل شین وي او سره مېوه کوي.

hollyhock, n. د خیرو ګل، د خطمي ګل

holm oak, n. څېړه.

holo- (په ترکیبي حالت کې) کلي، ټول.

holocaust. n. په اور سوځونه، په اور وژنه، په اور تباه کول، قتل عام، ستره خونړۍ ژوبله.

holster, n. د تومانچې د ایښودلو ځای چه په کمربند یا زین پورې تړلی وي، کاش،

holy, adj. سپېڅلی، مقدس.

homage, n. درناوی، احترام.

home, n. کور، هېواد، خپل وطن، مېنه، ټاټوبی.

home, adj. وطني، د کور، د وطن، د مېنې، د هېواد.

homeland, n. هېواد، ټاټوبی

homeless, adj. بې کوره.

homelike, adj شناخته: د کور په شان، مستریح.

homework, n. د کور کار، کورنۍ وظیفه.

homely, adj. بدرنګه، ساده: کورنی.

homemade, adj. کورنی، د وطن، په هیواد کی جوړ شوی، په کور کی جوړ شوی، ساده.

Homeric, adj.: د هومر سبك ته ورته: د یونان د نامتو شاعر (هومر) غوندی.

homesick, adj.. په وطن پسی خواشینی.

homesickness, n. په وطن (کور) پسی خواشینی.

homespun, adj. په کور کی اوبدل شوی کالی، وطنی ټوټه.

homestead, n. کور او د هغه شاو خوا مځکه: اوربوی.

homesteader, n. هغه څوك چه تر ټاکلی قانون لاندی دولتی مځکه یا کور واخلی.

homeward, adj. د کور په لوری، د کور لورته، د وطن په خوا.

homicide, n. د انسان وژنه: قاتل، خونی

homicidal, adj. د خون د قتل.

homily, n. وعظ موعظه، وینا: د موعظی وینا، ستړی کوونکی نصیحت.

hominy, n. ورغستلی، دل، اتوب، ګیری، ګیر ګیره شوی، جواری.

homo, n. سړی، بنیادم، وګړی، انسان

homo-adj. (په ترکیبی حالت کی) سره ورته، هم (لکه همجنس).

homogeneous, adj. یوډول، همجنسه، سره ورته، یوشان، متجانس.

hone, v.t. تېره کول، پهل کول (لکه د چاقو چړی او داسی نورو).

hone, n. د برچو کانی، پهلو، باټ، نوسی، هغه کانی چه چاقو چاړه او داسی نور باندی تېره کوی.

honest, adj. سپېڅلی، رښتینی، رښتونی، پاك، امین، صادق.

honestly, ady. په سپېڅلوالی، په رښتینوالی، په رښتیا.

honesty, n. صداقت، امانتکاری، سپېڅلوالی، بی غشتوب، پاك والی، پېچوتوب، سوچه والی.

honey, n. عسل، شات، ګبینی.

honey bee, n. د عسلو مچی

honeycomb, n. هغه ساختمان چه مچی یی د شاتو د ذخیره کولو د پاره جوړوی، شکر ګنی.

honey comb, adj.

honeydew, n. د بوټو شات، ګوړی، هغه خوږی غوټی چه ځینی بوټی یی له ځانه راباسی او پر هغه وچ پاته شی (دوښا).

honeymoon, n. چه تر واده وروسته یی ناوی له مېړه سره په یوه ځای کی تیروی.

v.t. د عسلو میاشت تېرول.

honeysuckle, n. چمبه ګل، الی بسکن

honor, honour, n. درنښت، شرافت، شهرت، سرلوړی، عزت.

hnorable, honourable, adj. عزتمن، وړ، دروند، شریف، سرلوړی.

honorably, ady. په درنه توګه، په شریفانه ډول.

honorary, adj. ویاړنی، اعزازی، افتخاری.

hood, n. یو ډول خولی ده چه سر او مغزی دواړه په پټیږی او په بالاپوښ موښتی وی.

hooded, adj.	پوښتل شوی .
hoodwink, v.t.	غولول ، تېر ایستل ، غلطول .
hoof, n.	سوه ، کوډمه .
hoofed, adj.	سوه وال ، کوډمه وال .
hook, n.	چنګک ، نخښ ، نکو ښاري ، کړۍ .
hookup, n.	رابطه ، کړۍ .
hookworm, n.	یو ډول د ګېډې چنجی .
hoop, n.	کړۍ ، حلقه .
hoot, v.i.	کریږې کول ، چیغه وهل ، په زوره بدغ کول ، کوکې وهل ، ناری وهل ، د بوم په شان بدغ کول ، د موټر هارن وهل .
hop, n.	ټوپ ، دانګنه ، غورځنګ ، په خوسی ټکګ ، چنداک .
hope, n.	هیله ، امید .
hopeful, adj.	هیله من .
hopefully, adv.	په هیله .
hopefulness, n.	هیله من توب .
hopeless, adj.	نه هیله ، نا امیده ، مایوس .
hopelessly, adv.	په نا امیدی .
hopper, n.	ملخ ، غورځېدونکی خزنده ، ټوپ وهونکی خزنده : ناوه ، ترۍ .
horde, n. v.i.	ډله ، ډلګی ، ټولګی ، غدیه ، ډله کېدل ، ټولګی کېدل .
horizon, n.	داسمان څنډه ، داسمان لمن ، افق .
horizontal, adj.	افقی .
horizontally, adv.	په افقی ډول .
horn, n.	بوغندوکی ، ارن : ښکر .
horny, adj.	ښکر ور .
hornet, n.	بمبره ، غالبوزه ، غومبسه ، ډنبره .
hornpipe, n.	سورنا : یو ډول خوندور نڅا .
horoscope, n.	تالی کتنه ، د منجم له خود تالی د کتلو په نیت د ستورو د موقعیت معلومونه د سړی د زېږیدو په وخت کی .
horrible, adj.	ویروونکی ، بېروونکی ، ډاروونکی .
horribly, adv.	په ډاروونکی توګه .
horrid, adj.	بېروونکی ، ډاروونکی ، لړزوونکی ، رېږدونکی ، ترهوونکی ، بې خونده ، زېږ .
horrify, v.t.	ویرول ، ډارول ، بېرول .
horror, n.	ویره ، ډار : کرکه .
horse, n.	اس .
horseback, n.	داس شا .
horsecar, n.	داس ګاډی .
horseflesh, n.	داس غوښی .
horsehair, n.	داس ویښتان .
horseless, adj.	بې اسه .
horsewhip, n. & v. t.	متروکه : په متروکه وهل .
horséman, n.	سوارکار ، چاپ انداز : داس روزونکی .
horsemanship, n.	اس پالنه ، میتری ، اس روزنه : اس سواری .
horseplay, n.	غویمنی ، ګډه وډه لوبه ، بې انتظامه لوبه .
horsepower, n.	هارس پاور ، یو ډول د قوت واحد ، داس قوت (لکه د یوه انجن)
horse-radish, n.	دغره مولی .

horseshoe, n.	نال ، نعل .
horseshoer, n.	نالبند ، نعلبند .
horticulture, n.	کرن پوهنه .
horticultural, adj.	د کرن پوهنې .
horticulturist, n.	باغوان ، ملیار (کرن پوه) .
hosanna, n.	اشکې ، د تحسین چغ ، شاباس ، آفرین .
hose, n.	اوږدې جرابې : د ربړې یا پلاستکي نل .
hosiery, n.	اوږدې جرابې ، د جرابو او نورو اودلو شیانو پلورنځی .
hospice, n.	د پردېسانو د شپې تېرولو ځای (مسافر خانه) .
hospitable, adj.	ډوډۍ مار ، مېلمه پال ، مهمان نواز ، مېړه سړی .
hospitably, adv.	د مېلمه پالنې له مخې .
hospital, n.	روغتون ، شفاخانه .
hospitality.	مېلمه پالنه ، ډوډۍ ماري
host, n.	کوربه .
hostess, n.	کوربنه (مېرمن) .
host, n.	د خلکو ډله .
hostage, n.	یرغمل .
hostel, n.	لیلیه ، مسافرخانه ، هوټل .
hostelry, n.	مسافرخانه .
hostile, adj.	دښمن ، مخالف : د دښمنۍ
hostility, n.	دښمني .
hostler, n.	اسپکر ، مېتر (مهتر) .
hot, adj.	سور (گرم)، سوځند ، ایشند ، ډېر تود .
hotly, adv.	په گرمۍ ، په تودوالي .
hotbed, n.	تودبټۍ (هغه ځای چې په سیښو پوښل شوی وي او په ژمي گلان او سابه پکښې کرې): منبع ، سرچینه .
hotel, n.	هوټل ، مېلمستون .
hotheaded, adj.	قارجن ، تند خویه .
hothouse,	تود کور ، تودبټۍ (هغه ځای چې په ژمي گلان یا سابه پکښې کرې)
hound, n.	تازي ، ښکاري سپی .
hour, n.	گړۍ ، ساعت ، د شپې او ورځې ۲٤ برخه : وخت ، درسي ساعت .
hourly, adv.	هر ساعت .
houri, n.	حوره ، د جنت حوره .
house, n.	کور ، ټاټوبی ، مېنه ، ځای کورنۍ : مقننه جرگه : صحنه .
houseless, adj.	بې کوره ، بې مېنې ، بې ځایه .
housetop, n.	بام ، بلی .
housework, n.	د کور کار ، د کال کار
household, n.	کهول ، کورنۍ ، خېلخانه ، د یوه کاله غړي .
housekeeper, n.	د کور خاوند ، د کورنۍ مشر .
housekeeping, n	د کور ساتونکی . کور ساتنه .
housewife, n.	د کاله مېرمن ، د ستنو سنجاقو غوټو او تار کڅوړه .
housewifery, n.	مېرمنتوب .
housing, n.	کور جوړونه : سهب (سپو) چرگی (د زین چکن شوی پوښ) .
hove, v.t.	د **how** ماضي .
hovel, n.	کوډله ، جونگړه .
hover, v.i.	وزرو هل (په هوا کې)، ځړېدل ، ځړېدل (په هوا کې) .

how, adv. څه ډول ، څه راز ، څرنګه څومره .

however, adv. په هر حال، خو بيا هم ، سره له دې .

howitzer, n. يو ډول لنډکی توپ چه له مرچل څخه ګوزار ولی .

howl n. انګولا (لکه د چغال، لېوه او داسې نورو) .

howl, v.i.t. انګولل .

howsoever, adv. په هر حال، په هر ترتيب، هر څومره، په په هر ډول، سره له دې .

hub, n. هب ، د ټیر منځنی برخه دويل منځنی برخه .

hubbub, n. شور بګت، کوکې ناري ، غالمغال، غوبز، ډوډ .

huckleberry, n. د توت يو ډول ونه چه په شمالي امريکا کې کېږي

huckster, n. ګرځنده پلورونکی (په تيره بيا د سابو او ميوو) .

huddle, v.t.i. پر له کوټه کول ، پر له اچول: پر له کوټه کېدل: پر له کوټه کول

hue, n. رنګ .

hue, n. کوکې ، کريږې ، چيغې ، ناري سوري

hue and cry. ناري سوري .

huff, n. تر له وتنه ، توغما ، قهر ، بد غنتوب .

hug, n. & v.t. په غېږ کې نيول .

huge, adj. خورا ستر ، ډېر لوی ، ډېر غټ .

hugely, adv. په ستروالی ، په غټوالی

hulk, n. درنه بېړه بېړۍ ، زړه بېړۍ ، ډېر غټ کالډي والډي سړی .

hulking, adj. غټ، پنډ، ټنډو: بې ډوله .

hull, n. د مېوو او دانو پوستکی: د بېړۍ بدنه

hum, v.i. زمېدل ، بونګېدل، زمزمه کول .

hum, n. هم (د پتې خولې بړغ) زمېدنه

human, adj. بشر، انسان ، انساني ، بشري .

humanly, adj. د انسانيت، د سړيتوب

humane, adj. خواخوږی، زړه سواند، مهربانه، مهذب، انساني .

humanely, adv. د سړيتوب په توګه

humanism, n. هيومنزم ، بشريت ، غوښتنه، بشردوستی : ، د تفصيل د پاره دلاندې کلمې معنی وګورئ .

humanitarian. د کلاسيك ادب او ژبو زده کونکی په تيره بيا د ۱۵ او ۱٦ پېړۍ د هغه نهضت غړی چه لرغونی يونان او روم د کلاسيك ادبياتو پيروي يې کوله

humanitarian, n. بشر او ع پرست ، بشر دوست .

humanity, n. بشر، بشريت، سړيتوب ، انسانيت: خواخوږی ، زړه سواندتوب (د جمع په حال کې)د کلاسيك ادب او ژبې د څېړنې څانګې .

humanize, v.t. سړی کول، انسانول، مدني کول .

humankind, n. بشر .

humble, adj. کمينه، متواضع، خاکسار

humbleness, n. کمينه والی، تواضع .

humbly, adv. په تواضع، په خاکساری.

humblebee, n. ډنبره، غالبوزه، بمبره.

humbug, n. چلول، ټګی بړګی .

humdrum, adj. : باییزه، سپک، مبتذل
یکنواخته .

humid, adj. لوند ، مرطوب، نمجن .

humidity, n. لندبل ، رطوبت .

humidify, v.t. لندول ، مرطوبول.

humiliate, v.t. سپکول ، ټیټول ،
تحقیرول

humiliation, n. سپکاوی ، تحقیر .

humility, n. : ټیټوالی ، سپکوالی :
تواضع .

hummingbird, n. مچ خورکه (یوډول
امریکائی مرغی).

hummock, n. غونډی .

humor, humour, n. خوش طبعی ،
ظرافت، خوی، طبیعت .

humorist, humourist, n. ټوکمار ،
طبیعتی، ظریف .

humorous, adj. ټوکی .

humorously, adv. په ټوکو .

hump, n. بوك، ډډی (کوهان) .

humus, n. توره مځکه، توره خاوره،
دبوټواودعضوی موادو دور ستېدو څخه
جوړه شوې دی .

Hun, n. هون، دهون نژاد، وراننکار .

hunch, v.t. & n. غونډول ، کوږه
کول : کږول: غونډه ، کوږه، راوتلی:
کوږمان .

hunchback, n. also hump- back.
شاکوبی، شاکږوبی .

hunchbacked, adj. شاکوبی ،
ملاکږو بی .

humpbacked, adj. ډډو تلی .

hundred, n. سل .

hundred, adj. سل .

hundredth, adj. & n. سلم .

hundredfold, adj. é n. سل چنده ،
سل واره .

hundredweight, n. سل پونډه. کانی ،
هغه واحد چه سل پونډه دی (په
امریکا ای) .

hung, pa. tense, of Hang.
د hang. ماضی اودریم حالت .

hunger, n. لوږه ، هیله ، اشتیاق ،
لیوالتیا .

hungrily, adv. په لوږه.

hungry, adj. وږی .

hunt, v.t. ښکار کول ، لټول، پلټل،
تعقیبول .

hunter, n. ښکاری .

hunting, n. ښکار .

huntress, n. ښکاری ښځه .

huntsman, n. ښکاری سړی .

hurdle, n. څپری ، شپول ، کېږی ،
جار : دلرګو هغه چوکاټ چه په منډه
ټوپ تری وهی .

hurdle race, n. اس زغلونه چه
دلرګو ترچوکاټ ټوپ یې په منډه اخلوی.

hurdle v.t. کېږ کول ، په کېږ کی
راایسارول .

hurl, v.t. غورځول ، اچول، ارتاوول ،
تړیل .

huly-brly, n.	غالمغال، شور ربګت، شور ماشور .
hurrah, n. & v.t.i.	واوا، اشکی، شاباس، افرین .
hurricane, n.	توپان، شدید باد .
hurry, v.t.i.	بیړه کول، تلوار کول .
hurried, adj.	بیړه ناک .
hurriedly, adv.	په بیړه، په تلوار .
hurt, v.t.	خوږول، ژوبلول، ترټل، اذیت کول، ضرر رسول، زخمی کول.
hurtful, adj.	مضر .
hurtle v.i.t.	په زوره خوځول، ښورول، بېول، شړل : غورځول .
husband, n.	مېړه، څښتن، خاوند .
husbandman, n.	بزګر، کرونکی، کروندګر .
husbandry, n.	کرنه، بزګری.
hush, v.t.i.	کراروول، غلی کول : کرارېدل غلی کېدل .
husk, n.	پوستکی، پوټکی، سبوس .
husky, adj.	پوستو، پوستوالا : شډل : بې ځېه، زیږ (لکه ږغ) : قوی .
huskiness, n.	زیږوالی، شډل توب قوی توب .
hussar, n.	رساله یی (په اروپا کی) .
hustle, v.t.	دلی کول، پر لها چول، سره غونډول : ، خوځول چټخول، ښورول: په قوت سره کار کول .
hut, n.	کوډله، جونګړه، کوډخی .
hutch, n.	صندوخ، صندوق : قفس : کوډلی، کوچنی خونه .
huzza, v.t.i.	واوا کول، اشکی ویل، افرین ویل .
hyacinth, n.	یو ډول سنبل .
hybrid, n.	دورګه .
hybridize, v.t.i.	دورګه کول : دورګه کېدل، پیوندول .
hydrangea, n.	یو ډول بوټی چه سپین ګلان کوی .
hydrant,	داوبو نل، داطفایي نل .
hydrate, n	داوبو او ځینو نورو موادو مرکب .
hydraulic, adj.	هغه شی چه داوبو په قوه کار کوی : داوبو په اثر کلک شوی (لکه دسمنت ځینی ډولونه) .
hydraulics, n	د بهاندو اوبو او نورو مایعاتو دحرکت یا فعالیت څخه دګټې اخیستلو علم .
hydro.	په ترکیبی حالت کی اوبه .
hydrochloric acid, n.	په کیمیا کی دهایدروجن دموجودیت مفهوم افاده کو ی : دمالګی تیزاب (کلوریك اسیډیې هم بولی) .
hydroelectric, adj	داوبو برېښنا .
hydrogen, n.	هایدروجن .
hydrometer, n.	هایدرومیټر یو اله ده چه داوبو په مقایسه د نورو مایعاتو مخصوص وزن ښکاره کوی .
hydrophobia, n.	داوبو څخه وېره : دلیونی سپي ناروغي .
hydroponics, n.	دنباتاتو وده چه رېښې یې په داسی مایعاتو کی وی چه ضروری معدنی مالګې ولري .

hyena, hyaena, n.	کوږ، کفتار .
hygiene, n.	دروغتیاساتنې پوهه
hygienic, adj.	صحي .
hygienist, n.	دروغتیا متخصص .
hymeneal, adj	دواده، د نکاح د کوزدې
hymn, n.	مذهبي سندرې .
hyperbole, n.	مبالغه .
hyphen, n.	د اتصال نخښه لکه (-) .
hyphenate, v.t.	د اتصال په نخښه سره مښلول، د کلماتو سره مښلول (د نخښې په واسطه)
hypnosis, n.	مصنوعي خوب .
hypnotic, adj.	مصنوعي خوب راوستونکی .
hypnotism, n.	په مصنوعي ډول ویدونه . (هپنوټیزم) .
hypnotist, n.	په مصنوعي ډول خوب راوستونکی .
hypnotize, v.t.	په مصنوعي ډول بیدول .
hypochondriac, n.	د صحت په باره کې د تشویش کولو په ناروغۍ اخته .
hypocrisy, n.	دوه مخي، ریاکاري
hypocrite, n.	دوه مخې، ریاکار .
hypocritical, adj.	دومخی .
hypotenuse, n.	وتر (په قایم الزاویه مثلث کې) .
hypothesis, n.	گڼنه، فرضیه .
hypothetical, adj.	فرضي .
hyssop, n.	شین شوبی، ویلني .
hysteria, n.	بېسدي، هغه ناروغي چه څوک پر خپلو احساساتو کنټرول بایلي، اختناق الرحم، وحشیانه هیجان .
hysteric, adj.	بېسده .
hysterical, adj.	د بېسدتیا .
hysterically, adv.	په بېسدتوب .
hysterics, n.	تشنج، حمله .

* * *

I

I, (pron) زه .

iamb , یا (iambus) n. هغه وتد چه لومړی هجایی لنډ او دوهمه هجایی اوږد خج ولري .

iambic, adj.

ibex, n. د غره مږه

ibis, n. کوتان ، کوتانه ، د زانو د کورنۍ یو ډول مرغه .

ice, n.v. t. یخی ، یخ ، کنګل ؛ یخ کېدل کنګل کېدل ، یخ کول . (په عامیانه ژبه) الماس .

icebound, adj. په یخی کې احاطه شوی ، یخی شوی ، کنګل شوی .

iceberg, n. د یخی یوه لویه ټوټه چه د یخچال څخه جدا شوی او د اوبو پر مخ ګرځي .

ise cream, n. شیر یخ .

icicle, n. د یخ ګېنګړی ، یخی چه د راڅوېدنکو اوبو څخه د یخ په اثر جوړه شوې وي .

icing, n. د کېک پر مخ باندې یوه خوږه طبقه .

icon, n. تمثال ، یادګاري مجسمه ، تصویر .

iconoclast, n. بت ماتوونکی ، د بتانو جوړولو مخالف : هغه سړی چه د داسې عقایدو مخالف وي چه خلکو یې دایله منلي وي .

icy, adj. یخی وزمه ، ډېر سوړ ، یخ لرونکی .

icily, adj.

idea, n. مفکوره ، عقیده ، نقشه ، پروژه

ideal, adj, n. ایډیالی ، خیالی ، تصوری ، عقلی : د ژوند هدف ، نصب العین ، وروستی هیله ، ارمان .

idealize, v.t. خپل وروستی مطلب ته رسېدل کمال مطلوب ته رسول .

ideally, adv. د هیلې سره سم ، د فکر له مخې .

idealism, n. ایډیالیزم ، د تصور د اصالت فلسفه (هغه فلسفی مکتب چه فکر تر مادې مقدم بولي) .

idealist, n. د ایډیالیزم د فلسفې پرخوا

idealistic, adj. فکری ، معنوی ، تصوری

identical, adj. کټ مټ ، عینی ، یوشان

identify, v.t. تشخیصول ، هویت څرګندول : یوشان ثابتول یو ډول کول .

identification, n. تشخیص ، د هویت تعیین

identity, n. هویت، اصلیت، شخصیت پوشانته والی (د اصلی خواصو)، عینیت.

ideology, n. ایدیالوژی، د مفکورو علم (مخصوصاً د مفکورو د منشأ څرگندونه) د تفکر طریقه.

ides, n. د زاړه روم په کلیزه کې د مارچ، می جولای او اکتوبر ۱۵ ورځ او د نورو میاشتو ۱۳ ورځ

idiocy, n. فکری کمزوری چه د دماغ د نیمگړی او غیر طبیعی ودې په اثر پیدا شوی وی، حماقت، پڅوالی (د فکر).

idiom, n. اصطلاح، لهجه، د افادې خاص ډول.

idiomtic, adj. اصطلاحی، لهجوی

idiosyncrasy, n. فردی خصوصیت، د فردی طبیعت جوړښت.

idiot, n. احمق، بی عقل، پڅ (د ذهن له مخې).

idiotic, adj. احمقانه.

idiotically, adj. په احمقانه ډول، په بی عقلی.

idle, adj.: تنبل، بی کاره، بی فعالیته بی ارزښته.

v.t. بی اساسه وخت بی کاره تیرول وخت بی فایدې تېرول.

idleness, n. بی کاری، تنبلی

idler, n. بی کاره، تنبل.

idly, adv. په بیکاری.

idol, n. بت، مجسمه.

idolater, n. بت پرست، لمانځونکی

idolatry, n. بت پرستی، افراطی مینه.

idolatrous, adj. بت پرست، د بت پرستۍ

idolize, v.t. د بت لمانځل، بت ځنې جوړول د لمانځنې د پاره.

idyl یا idyll, n. د کلیوالی ژوند په باره کې لنډه کیسه یا نظم: هغه موضوع چه دا ډول کیسه یا نظم پاندې ویل کیږی.

idyllic, adj. ساده، بسیط (لکه کلیوالی ژوند)، په زړه پوری.

if, conj. که؛ که چیری.

ignite, v.t. سوځل، سیځل، لگول، اور اخیستل، ډیر تودیدل.

ignition, n. بلونه، سوځیدنه، لگونه، تودونه، احتراق: دداخلی احتراق داینجن د لگولو سیستم.

ignoble,adj. کچه، ټیټ، کم اصل، بی پته

ignominious adj. رسوا، بدنامه، اشوا

ignominiousy, adv. په رسوایی، په بد نامی

ignominy, n. رسوایی، بد نامی، اشوا توب، شرم.

ignorance, n.: جهل، بې خبری، ناپوهی: په عربستان کې تر اسلام د مخه زمانه.

ignorant, adj. ناپوه، جاهل، بی خبره.

ignorantly, adv. په ناپوهی، جهالت سره.

ignore, v.t. سترگې پرېټول، اغماض کول، له نظره غورځول، یوه خنگ ته کول.

ill, adj, بد، ناوړه، شریر، مضر، بدبخته، ناروغ غلط، گران (مشکل).

ill, adv. په ناوړه توگه.

ill, n. ناروغی، درد، بلا، مصیبت

ill—bred, adj. بی تربیې (سړی).

ill—fated, adj. بد مرغه، بد بخته، شوم

ill—favored (favoured) بدرنګه، بدشکله
illness,n. ناروغی.
illegal, adj. غیرقانونی، دقانون مخالف
illegitimate, adj. نامشروع، غیرقانونی،
ارمونی، مقونکی.
illegitimacy, n. نارواتوب.
illiberal, adj. تنګک نظری، متعصب،
قیټ، بی تهذیبه.
illicit, adj. ناروا، نامشروع، ناجائز
illimitable, adj. بی پایه، بی حده، نامحدود
illiterate,adj نالوستی (بی سواده)
illiteracy, n. نالوستیا (بې سوادی)
ill—mannertd, adj. بی تهذیبه، بی تربیی،
بی ظرافته.
ill—natured, adj. بدخویه، بدمزاجه
illogical, adj. بی منطقه، غیر منطقی
بی دلیله.
ill—treat, v. t. بدسلوک ورسره کول،
ناوړه چلند کول.
ill—treatmtnt, n. ناوړه چلند
illume, v. t. روښانه کول، تنویرول،
تمثیل کول، بصیرت وربخښل.
illuminate, v. t. روښانه کول، رڼا کول
illumination, n. رڼا، تنویر، جلا.
illumine, v.t. رڼا کول، روښانه کول
ځلول.
ill—usage, n. ناوړه استعمال، ناوړه چلند
ill—use, v.t. ناوړه استعمالول،
ناوړه سلوک کول.
ill—use, n. ناوړه استعمال، ناوړه چلند
illusion, n. وهم، خیال، غولوونکی
نظر.
illusive, adj. غلط ادراک، غلطه انطباع:
illusory, adj. وهمی، خیالی، غولوونکی
اغفالوونکی، موهوم.
illustrate, v.t. څرګندول، تمثیلول،
تشریح کول، سنګارول، مصور کول.
illustrator, n. تصویروونکی، رسام،
انځورګر، څرګندوونکی.
illustration, n. څرګندونه، توضیح،
شرح، تصویر، عکس، شکل، مثل.
illustrative, adj. تصویری، تمثیلی
توضیحی، مصور، څرګندوونکی
تمثیلوونکی.
illustrious, adj. څرګند، روښانه،
مشهور، نامی.
image, n. تصویر، مجسمه، بت، شکل
خیال، مفکوره، نمونه، مثال.
imagery, n. تخیل، تصورات: شکلونه
او مجسمې.
imaginable, adj. د تصور وړ.
imaginary, adj. تصوری، خیالی، غیرواقعی
imagination, n. خیال، تصور، د تصور قوه
imaginative, adj. تخیلی، تصوری.
imagine, v.t. تصور کول، ګڼل، ګمان
کول، فکر کول.
imago, n. د حشری د پوخوالی مرحله
imbecile, adj, n. احمق، کم عقل.
imbecility, n. کم عقلی، حماقت.
imbed, v.t. د (embed) بله بڼه.
imbibe, v. t. چښل، جذبول، درک کول
imbroglio, n. پیچلی، ګډه وډه، سوء
تفاهم، ګرانه مساله.

imbrue, v.t. لړل ، ککړول (په وینو)، لندول، خیشول .

imbue, v.t. مشبوع کول، ډک کول ، لړل، ککړول: الهام اخیستل.

imitate, v.t. پېښی کول ، تقلید کول ، پیروی کول، ورته کول (مشابه کول)، د ماډل یا نمونې په توګه تعقیبول .

imitation, n. پېښی ، تقلید ، پیروی ، ورته‌والی ، کوټه‌والی ، بدل شی، ماډل نمونه .

imitative مقلد، پېښه‌ګر ، پېښی کوونکی، تقلید، کوټه .

imaculate, adj. سپېڅلی، سوچه ، پاک ، بوب، بې داغه (بې لکې)

immaterial, adj . غیرمادي، معنوي: بې اهمیته .

immature, adj. تر طبیعي وخت د مخه پیداشوی. اوم، نیمګړی ، نامکمل

immaturity, n. اوموالی نیمګړتیا

immeasurable, adj. نه اندازه کېدونکی ، ناپایه ، بې‌حده.

immeasurably, adv. غیر محدود دپه بې‌حده اندازه .

immediate, adj. ژر، په بېړه ، اوږدې ، مستقیم، بې ډیله، جوخت، ورپسې .

immediately, adv. په بېړه بلا فاصله

immediacy, n.

immedicable, adj. نه رغېدونکی ، نه جوړېدونکی ناسور .

immemorial, adj. لرغونی، ډېر پخوانی، نه په یاد یدونکی .

immense, adj. ډېر غټ، ستر، ډېر پراخ

immensity, n. غټوالی ، ستروالی

immensely, adv. په زیاته اندازه

immerse, v.t. غوټه کول، ډوبول: په خیال یا لوستلو کښې ډوبېدل.

immersion. n. ډوبېدنه، غوټه

immigrant, n. لېږدېدونکی کوچی.

immigrate, v.i. مهاجرت کېدل ، کډه کېدل ، لېږدېدل .

immigration, n. مهاجرت ، کوچ، لېږد ، کډه.

imminent, adj. ژر پېښېدونکی ، تهدیدوونکی .

immobile, adj. ولاړ، نه خوځېدونکی، بې حرکته .

immobility, n. بې حرکتی .

immoderate, adj. تر حد وتلی، غیرمعتدل، افراطی .

immodest, adj. بې شرمه بې ، بې حیا ، عیاش افراطی، سپین‌سترګی .

immolate, v.t. نذر کول ، قربانول

immolation, n. قربانی : نذر .

immoral, adj. بداخلاقه، ګیټ .

immorality, n. بداخلاقی، ګیټوالی ، شرارت.

immortal, adj. نه فنا کېدونکی ، نه مړ کېدونکی ، تل ژوندی .

immortality, n. نه مړ کېدنه ، تل ژوندیتوب .

immovable, adj. نه خوځېدونکی ، نه بدلېدونکی، نه تسلیمېدونکی ، ثابت.

immune, adj. ساتل شوی ، مصئون ، خوندی .

immunity, n. مصئونیت، خوندیوالی، ممانعت.

immunize, v.t. مصئول کول، خوندی کول.

immure, v.t. دیوال، بورا گرزول، ایسارول، بندی کول.

immutable, adj. نه اوښتونی، نه بدلیدونکی.

imp, n. کوچنی شیطان، ښیلی کوچنی، پری.

impact, v.t. ټخته کول، سیخل، د حجم لږول.

impact, n. تماس، تصادم، ټکر: اثر، تأثیر.

impair, v.t. لږول، لږ، کمول (د کمیت او کیفیت په لحاظ)، خوږول: ضعیفول، کمزوری کول: خرابیدل، خوسا کیدل.

impairment, n. تاوان، صدمه، ضرر، زیان.

impale, v.t. سوری کول، میخ کول، سېچل (په تېره شی) اخاطه کول.

impalpable, adj. خوراپوست، نامحسوس هغه شی چه لرهٔ درک کیږی.

impart, v.t. ور کول، ښېل، څرګندول: په ډاګه کول.

impartial, adj. بی تعصبه، بی طرفه، منصف.

impartiality, n. بی تعصبی، بی طرفی

impartially, adv. په بی طرفی.

impassable, adj. هغه ځه چه د تیریدو یا اوښتو ړه نه وی (لکه رود د بوال موانع او داسی نور).

impasse, fr. بی لاری ځای، هغه ځای چه د وتو یا تېښتی لاره و نلری: معضله.

impassible, adj. بی عاطفی، هغه چه درد نشی حسولای، بی احساسه، هغه شی چه اثر نه پر کیږی.

impassioned, adj لمسول شوی، پاریدلی، احساساتی شوی.

impassive, adj. بی زړه سوی، بی حسه، سوړ (سړی).

impatient, adj. بی صبره، بی حوصلی،

impatiently, adv. په بی صبری

impatience, n. بی صبری

impeach, v.t. مخه نیول، تورول، پوښتنه ځنی کول، عیب پلټل، محکمی ته کشول.

impeachment, n. (اتهام)

impeccable, adj. بی عیبه، بی ګناه.

impede, v.t. مخه نیول، مخ نیوی کول، ممانعت کول.

impediment, n. مخ نیوی، ممانعت.

impedimenta, n. خرړی، سامان، بګاژ (لکه بکس و بستره او نور)

impel, v.t. لمسول، تشویقول، په کار اچول، اړ کول، ګومارل.

impend, v.t. په لنډ وخت کی پیښیدل، تهدیدول (لکه د کومی واقعی)

impending, adj پیښیدونکی

impenetrable, adj. کلک، ټینګ (هغه شی چه نفوذ نه پکښی کیږی)، غیر قابل نفوذ، نه سوری کیدونکی.

impenitent, adj. توبه نه ایستونکی، په پښیمانه نه کیدونکی.

imperative, adj امرانه، حاکمانه: سخت ضروری، عمل ته را بلونکی (گرامر) د امر صیغه.

imperceptible, adj. هغه چه د درك وړ نه وی، نه لیدل کیدونکی.

imperceptibly, adv. په نه درکیدونکی توگه.

imperfect, adj. نیمگړی، نیمکله، نامکمله، معیوب.

imperfectly, adv.: په نیمگړی توگه (گرامر) استمراری ماضی.

imperfection, n. نیمگړتیا، عیب.

imperial, adj. قولواکمنی، شاهنشاهی، امپراطوری: ستر، مجلل.

imperialism, n. د انحصار او نورو لارو څخه هیوادونه تر اثر لاندی راوستل، امپریالیزم.

imperialist, adj. امپریالست.

imperil, په خطر کښی اچول، له ناوړی پیښی سره مخامخ کول.

imperious, adj. امرانه، حاکمانه.

imperiously په حاکمانه ډول.

imperishable, adj. نه خرابیدونکی، نه ورستیدونکی، نه تباه کیدونکی، تل تر تله.

impersonal, adj. غیر مشخص، بی طرفه، آفاقی.

impersonally, adv. په بی طرفانه توگه د گټی د پاره ځان د بل چا په بڼه یا نامه تیرول،

impersonate, v.t. شخصیت ور کول، بڼه ور کول، ښکارول، څرگندول، نمایش ور کول.

impersonation, n. شخصیت ور کونه

impersonator, n. ځان ته د بل چا شخصیت ور کوونکی، نمایش ور کونکی.

impertinent, adj. بی ربطه، بی مورده، بی ځایه: بد خوئی.

impertinence n. سپین سترگی، بی ربطی

imperturbable, adj. کرار، چوپ، ارام، پټه خوله، نه اخلالیدونکی.

impervious, adj. هغه چه د نفوذ وړ نه وی، نه ځبیښوونکی هغه شی چه او به نم او داسی نور نه په ننوزی.

impetuous, adj په شدت سره خوځیدونکی، تند، جدی: بی پروا.

impetuosity, n. تندی.

imptuously, adv. په تندی سره، په بی پروائی سره.

impetus, n. د حرکت قوه، محرك، انگیزه.

impiety, n. بی دینی، د مقدساتو سره بی احترامی.

impinge, v.t. گوزار ور کول، په شدت سره وهل، د بل چا پر حق خیټه اچول تیری کول.

impious, adj. بی دینه، کافر.

implacable, adj. نه پخلا کیدونکی تن نه ایښیدونکی، نه ارامیدونکی (نه غلی کیدونکی)

implant, v.t. کرل: ایښوول (لکه د نیالگیانو) ځای ور کول، کښینول، تلقین کول.

implement, n, v.t د کار وسیله، اوزار، آله: تطبیق کول اجرا کول، بشپړول.

implicate, v.t ښوول ، دلالت کول ، ګېرول ، سره اخښل ، شاملول ، ښکېل کول .

implication, n. ښوونه ، دلالت کېدون

implicit, v.t. په ضمني ډول .

implicitly, adv. ضمني ، بې اعتراضه .

implore, v.t. غوښتل ، خواهش کول ، زارۍ کول .

imply ضمن مفهوم ، استنباط .

impolite, adj. بې ادبه ، بې تهذیبه .

impolitic, adj. بې سنجشه ، غیر سیاسي ، غیر عاقلانه .

import, v.t. راوړل ، واردول ، (لکه د بل مملکت څخه د مال) : معنی لرل ، پوهول (په) : اهمیت درلودل .

importation, n. راوړنه ، واردونه

importer n. وارد شوی (شی) : معنی راوړونکی ، واردونکی اهمیت ، تمایل

important, غټ ، ستر ، مهم .

importance, n. اهمیت .

importantly, adv. په مهمه توګه .

importunate, adj. بې وخته ، مزاحم ، اصرار کوونکی .

importune, adj ابروونکی ، پخوا له وخته .

importunity, n. ابر ، تکلیف ، ټینګار (اصرار)

impose, v.t.i. پر اچول (بار) ، مسؤولیت ور ته ټاکل ، تحمیلول : بې لارې کول غولول ، ناوړه استفاده ځنی کول .

imposition, n. بارونه ، اچونه ، تحمیل بار ، پېټی ، دروهه .

impossible, adj. ناشونی (ناممکن) ، نه کېدونکی .

impossibility, n. نه کېدونکی کار ، ناشونی کار .

impost, n. ټکس مالیه په تېره په وارداتو

impostor, n. غولوونکی ، تېرایستونکی هغه سړی چه خلک خطا باسي : باروونکی ، تحمیلوونکی .

imposture, n. غولونه ، تېرایستنه ، تحمیلونه .

impotent, adj. بې ارادې ، بې زوره ، بې سېکه ، سست (د جنسي لحاظ)

impotency, n. جنسي کمزورتیا .

impotence, n.

impoverish, v.t. خوارول بې پنګی کول بې توښی کول ، فقیرول ، تش لاس کول .

impoverishment, n. خواري ، بې پنګي

impracticable, adj. نه عملي کېدونکی ، نه اجرا کېدونکی ، نه اداره کېدونکی .

impractical, adj. غیر عملي ، نه کېدونکی : بې فایده ، بې ثمره .

imprecate, v.t.i. ښېرا کول ، بد غوښتل (د چا د پاره) .

imprecation, n. ښېرا ، بد غوښتنه .

impregnable, adj. نه نیول کېدونکی ، نه اثر نه قبلوونکی ، نه لاندې کېدونکی .

impregnate, v.t. ورڅ کول ، ټنډول ، ډک کول ، بلاربول ، حامله کول .

impregnation, n. بلاربونه .

impresario, n. د اوپېرا مشر ، د کنسرټ مشر ، هغه سړی چه کنسرټ ته اشاره یا بولۍ ورکوي .

impress, v.t.n. نښه کول، مهرول: اثر پر
کول، مهر پر لګول، ټاپه کول، انطباع
ځنې اخیستل، اغیزه کول، په مغزو کې
کښېنول: ممیزه نښه، ځانګړی نښه،
مهر، ټاپه.

impressible, adj.

impress, v.t. بېګارول، په زوره خدمت
ته ګمارل (لکه د عسکرو): له چا څخه
مرسته غوښتل.

impressment, n. بېګار، په زوره
خدمت ته ګمارنه.

impression, n. ټاپه، نښه، مهر، اثر،
انطباع، خیال، فکر، عقیده.

impressionable, adj. اثر منونکی.

impressive, adj. اثرناک.

impressively, adv. په مؤثر ډول.

imprint, v.t. نښانی کول، مهرول، چاپول
(لکه په ټایپ باندې د کاغذ)، چاپ،
مهر (لکه د کتاب سر یا پای چه د خپرونکی
یا د ناشر له خوا مهر کېږل شی.)

imprison, v.t. بندی کول

imprisonment, n. بند، حبس.

improbable, adj. لیری، غیر محتمل.

improbability, n. بې احتمالی.

impromptu, adj. ناڅاپه، وار له واره،
بالبدیهه، بې تیارۍ، نابېره.

improper, adj. ناوړه، نامناسبه.

improperly adv . په ناوړه توګه

impropriety, n. ناوړه توب، نامناسب
والی.

improve, v.t. سمول، اصلاح کول،
ښېګول.

improvement, n. سمون، اصلاح، ترقی،
پرمختګ، ښه والی.

improvident, adj. لنډ فکره، بې فکره،
بې احتیاطه، بې سنجشه.

improvidence, n. لنډ فکری، بې فکری

improvise, v.t. بې تیارۍ ویل، اجرا کول
ناڅاپه منځ ته راوړل.

improvisation, n. بې تیارۍ د یو
کار اجرا کونه.

imprudent, adj. بې تمیزه، ناپوه، بې
ادبه، سپین سترګی، بې احتیاطه.

imprudence, n. ناپوهي، بې تدبیری،
بې باکی.

impudent, adj سپین سترګی، بې وابی،
بې حیا: بې باکه.

impudence, n. سپین سترګی

impugn, v.t. مخالفت کول، اعتراض
کول، ګوته ورته نیول، خوله ور اچول،
په الفاظو او دلایلو پرغل ور باندې
کول، ردول.

impulse, n. پوری وهنه، ټکان،
خوځونه: د فکر خوځونه یا تحریک:
طبیعی میلان، ناڅاپی میلان.

impulsion, n. خوځونه: پوری وهنه:
ټکان: هڅه، میلان. پارېدنه، تلوسه،
لمسون.

impulsive, adj. خوځوونکی، پوری وهو
نکی، ټکان ورکوونکی، پاروونکی.

impulsively, adv. د خوځونی په ډول،
په پارولو.

impunity, n. له جزا خلاصون، له مسؤولیته
یا ضرره خوندیتوب، معافیت.

impure, adj. ګډوډ، ناپاک، ګډ: ککړ، ناولی .

impute, v.t. تورول، تومتی کول، نسبت ورکول، اړه‌ور کول، تړل (پوری).

imputation, n. نسبت ورکونه .

in, adv. دننه، پکښی، د ربط توری (in, prep.) په مېنځ کی .

inability, n. بی کفایتی، نالایقی .

inaccessible, adj. د نه رسېدو وړ، په لاس نه راتلونکی .

inaccurate, adj. غلط، ناسم .

inaccuracy, n. غلطی .

inaction, n. لټی، سستی، بېکاری .

inactive, adj. لټ، سست، بېکاره .

inactivity, n. لټی، غی تدوالی .

inadequate, adj. لږ، کم، نامناسب، ناوړه، نابسیا (غیر کافی) .

inadequacy, n. لږوالی، کموالی

inadmissible, adj. د نه منلو وړ، د نه پرېښودلو وړ، د ردولو وړ، ناروا، د نه منلو .

inadvertent, adj. بی فکره، بی توجه، ناپامه .

inadvertently, adv. په بی فکری

inadvisable, adj. هغه شه چه د مصلحت وړ نه وی، بی مصلحته، بی سلا، ناوړه، نه ښایېدونکی .

inalienable, adj. نه بېلېدونکی، هغه چه د وړلو یا بېلولو وړ نه وی، نه تلونکی .

inane, adj. تش، خالی، ګوګ، بی معنی، بی مغزه .

inanity, n. تشوالی

inanimate, adj. بی حرکته، بی ساه، ولاړ، بی ژونده، مړ، یخ .

inanition, n. ډنګروالی (د لوږی په اثر)

inapplicable, adj. نه عملی کېدونکی، نه اجرا کېدونکی .

inappropriate, adj. نامناسبه، ناوړه

inaptitude, n. ناوړتیا، نالایقی .

inarticulate, adj. د نه پوهېدو وړ، بی ربطه، ګونګی .

inartistic, adj. بی هنره، بی ډبه .

inasmuch as, adv. له دی کبله، له دی جهته، تر هغه ځایه چه . .

inattention, n. بی پامی، بی توجهی، بی پروائی .

inattentive, n. بی پامه، بی توجه، بی پروا .

inaudible, adj. نه اورېدل کېدونکی، د نه اورېدو .

inaugural, adj. د پرانستلو مراسمو ته منسوب، افتتاحی .

inaugurate, v.t. پرانستل، افتتاح کول

inauguration, n. پرانسته (افتتاح)

inauspicious, adj. بدمرغه، بدبخته، سوی، شوم .

inboard, adv. &adj. دننه (په بېړی کې)، د مرکز په لور .

inborn, adj. د ځایه، طبیعی، ذاتی

inbred, adj. له ځایه، ذاتی .

incalculable, adj، نه شمېرل کېدونکی، نه اټکل کېدونکی .

incalculably, adv.

incandescent, adj. روڼ، ځلاند، برېښند.

incandescence, n. روڼوالی، ځلا

incantation, n. کوډې، طلسم، جادوګری.

incapable, adj. ناوړه، نامناسب، نالایق

incapacitate, v.t. ناوړه کول، نامناسب کول، نالایقول.

incapacity, n. کمزورتیا، ناتوانی، بې واکی (صلاحیت نه درلودل)، ناوړتوب، نامناسب والی.

incarcerate, v.t. بندی کول.

incarceration, n. بند، قید.

incarnate, v. t. د سړی بڼه ور کول، مجسم کول.

incarnation, n. بڼه ورکونه، تجسم.

incautious, adj. بې احتیاطه، بې پروا، بېړګندی، تلواری.

incendiary, adj. اور اچوونکی، اورغورځوونکی، بساتی سړی، سرکښه.

incense, v. t. لمسول، په توغمه کول، زړه وربړسول، په قهر کول.

incense, n. یوډول خوش بویه مواد (لکه عود او داسې نور) چې د ځینو مذهبی مراسمو پر ځای کولو په وخت کې استعمالېږی.

incentive, n. مشوق، انګیزه، لمسوونکی، پاروونکی.

inception, n. پیل، شروع: منشأ، منبع، ریښه.

incessant, adj. پرله پسې، نه قطع کېدونکی، دایمی.

incessantly, adv. په پرله پسې ډول.

incest, n. زنا د هغو خپلوانو سره چې نکاح یې نه دی روا.

incestuous, adj خپل غودی.

inch, n. انچ، د اوږدوالی یو واحد چې ۱۲ انچه یو فټ کېږی.

incidence, n. پېښه، تصادف، راتګ: د یوې واقعې د اثر ساحه.

incident, adj. پېښېدونکی.

n. پېښه، حادثه، واقعه.

incidental, adj. ضمنی فرعی، په دوهمه درجه د اهمیت وړ: پېښېدونکی.

incidentally, adv. په ناڅاپی توګه، په ضمنی ډول.

incinerate, v.t.i. سوځل، د سوځلو په اثر ایری کول: سوځېدل.

incipient, adj. نوی، لومړی: پیل کوونکی، څرګندېدونکی.

incise, v.t. پرې کول، غوڅول، کېندل

incision, n. غوڅه، درز.

incisive, adj. غوڅوونکی، پرېکوونکی، لیشه وهونکی، روکه (لکه خبره)

incisor, n. د مخې غاښونه (ثنایا)

incite, v.t. لمسول، پارول.

incivility, n. بې ادبی، بې ډبی، بې تهذیبی

inclement, adj. توپانی (باد)، کلک، شدید.

inclemency, n. شدت، سختی

inclination, n. هڅه، غوښتنه، تمایل، میل، کږوالی، سرخوځونه، ټیټېدنه ځوړدی، ځوړه.

incline, v.t.i. ټیټېدل، کږېدل، راغب کېدل، کږول، ځوړه کول.

inclose, v.t. ایسارول، پکښې اچول (لکه کاغذ په پاکټ کښې)، دننه کول، په مینځ کښې وراچول، چاپېرول.

include, v.t. په غېږ کې نیول (احتوا کول) شاملول.

inclusion شمول.

inclusive. شامل، جامع، احتوا کوونکی

incognito, adj.&adv. نه پېژندل کېدونکی بڼه، د پردي یا اډولي نوم تحت.

incoherent, adj. بې نظمه، بې ترتیبه، بې ربطه.

incoherence, n. بې ربطي.

incombustible, adj. نه سوځېدونکی، ناسوځی.

income, n. گټه عایدات (جمع)، دخل

incommode, v. t. بې ځایه کول: په عذاب ول، ناهوسا کول، زورول، ناارامه کول.

incommunicable, adj. نه مخابره کېدونکی نه ویل کېدونکی، نه نقل کېدونکی.

incomparable, adj. بې ساري، نه پرتله کېدونکی، بې جوړی.

incompatible, adj. نه جوړېدونکی متضاد، ناموافق.

incompatibility, n. تضاد، نه سره جوړېدنه.

incompetent, adj. ناوړه، نالایقه، بې کفایته.

incompetence, n. ناوړتوب، بې کفایتي.

incompetency, n. بې کفایتي، ناوړتوب.

incomplete, adj. نیمگړی، ناقص، معیوب، نامکمل.

incomprehensible, adj. نه درک کېدونکی، هغه چه څوک نه په پوهېږي.

incompressible, adj. نه ټختېدونکی، فشار نه منونکی.

inconceivable, adj. تر تصور د باندی، نه تصور کېدونکی، نه منل کېدونکی.

incongruous, adj. ناوړه، سره، مخالف، متضاد.

incongruity, n. ناوړتوب، تضاد، مخالفت.

inconsiderable, adj. لږ، بې اهمیته، د نه توجه وړ.

inconsiderate, adj. بې توجه، هغه چه د چا حق او احساساتو ته احترام نه کوي.

inconsistent, adj. ناموافق، نامنسجم، بې ثباته، هغه سړی چه ژر ژر له خپلې نظریې څخه اوړي.

inconsistency, n. بې ثباتي، بې نظمي، بې ربطي.

inconsolable, adj. نه پخلا کېدونکی، نه راضي کېدونکی، نه تسلي کېدونکی.

inconspicuous, adj. بې اهمیته، کوچنی، وړوکی، ناڅرگند.

inconstant, adj. گرځېدونکی (له خپلې نظریې) اوښتونکی، متلون، بې ثباته

inconstancy, n. گرځېدنه، بې ثباتي

incontinent, adj. بشېلی، لېلی، بې ارادې.

incontinence, n. (ناپاکه)، سپک ورک (سړی)، هرزه، بشېلتوب.

incontrovertible, adj. منلی، باورشوی،

د نه جګړې وړ ، کره ، هغه چه د بحث وړ نه وی .

inconvenient, adj. ناراحته کوونکی ، نا ارامه کوونکی ، ناهوسا .

inconvenience, n.&v.t. ناراحی ، زحمت : ناارامه کول ، زحمت ورکول ، ایرول .

incorporate, v.t. یوځای کول ، اخښل (سره) یو په بل کښې سره ګډول .

incorporated, adj.. یوځای شوی

incorporation, n. اتحاد ، یووالی ، متحد شرکت .

incorrect, adj. ناسم ، غلط

incorrigible, adj. نه سمیدونکی ، نه اصلاح کیدونکی .

incorruptible, adj. نه خوسا کیدونکی ، نه خرابیدونکی ، نه فاسدیدونکی ، سم ، وړ ، پاك

increase, v.i.t ډیریدل : ډیرول ، زیاتول لویول ، زیاتول .

incredible, adj. نه منل کیدونکی

incredibly, adv. په نه منل کیدونکی توګه

incredulous, adj. نه منونکی ، شکمن ، هغه سړی چه خبره یې ژر زړه ته نه لویږی .

incredulity, n. شکمن توب

incredulously, adv. په شکمنه توګه ، د نه منلو په ډول .

increment, n. ډیروالی ، زیاتوالی

incriminate, v.t. تورول ، تومتی کول ، په ګناه کولو تومتی کول ، په جرم کې شاملول .

incrust, v.t. پوښل ، پرهوارول (لکه د پردې) نری قشر یا لای ور کول .

incrustation, encrustation, n. پوښنه ، قشر ورکونه .

incubate, v.t. پر پریوتل (لکه پر هګیو) شاربل (لکه د هګیو) ، چوچیان ایستل (له هګیو څخه)

incubation, n. شاربنه (د هګیو)

incubator, n هغه ماشین چه هګۍ شاربی .

incubus, n دروند والی (لکه د خپسکی) : خپسکه ، بار .

inculcate, v.t. تلقین کول ، په مغزو کښې ټینګې ور کښینول .

inculcation, n. په مغزو کښې ور کیښنونه تلقین .

inculpate, v.t. تومتی کول ، ګناه ګار شمیرل ، په جرم کې شریك ګڼل .

incumbent, adj. متصدی ، په غاړه اخیستونکی : (فرض ، واجب).

incumber, v.t. (encumber,) وګوری .

incumbrance, n. مخنیوی ، بار ، دخوارۍ یا زحمت سبب : بی اولاده .

incur, v.t. ګالل ، زغمل ، ورسره مخامخ کیدل .

incurable, نه جوړیدونکی ، نه معالجه کیدونکی .

incurious, adj. بی اعتنا ، بی فکره ، بی مزې ، بی خونده .

incursion, n. یرغل : لوټ : ناببره یرغل .

indebted, adj. پوروړی .

indebtedness, n. پوروړیتوب ، احسان لاندی ، منت بار .

indecent, adj. نامناسب، ناوړه، بی حیا، بښېلی: اخلاقاً معترض .

indecency, n. بښېلوالی .

indecision, n. هغه څوك چه ژر پریکړه یا فیصله نشی کولای .

indecisive, adj. شکمن، زړه نازړه، هغه سړی چه ژر فیصله نشی کولای. مذبذب، غیر قاطع.

indecorous, adj. ناوړه، بی سلیقی، بی ډبه

indeed, adv. په رشتیا، واقعاً .

indefatigable, adj. نه ستړی کیدونکی، نه ستو مانیدونکی.

indefeasible, adj. ضروری، هغه شی چه له هغه څخه سترګی نه شی پټیدای، نه باطلیدونکی .

indefensible, نه مدافعه کیدونکی

indefinable, adj. نه محدود کیدونکی، نه تعریف کیدونکی .

indefinite, adj. نا ټاکلی، نا محدود، مبهم .

د تنکیر توری لکه په (a book) کی د (a)
indefinite article, توری .

indelible, adj. نه پاکیدونکی، نه محو کیدونکی، نه زایل کیدونکی .

indelicate, daj. بی نزاکته، بی خونده، بی ډبه.

indelicacy, n. بی خوندی، زیږوالی

indemnify, v.t. تاوان ورکول، معاوضه ورکول .

indemnification, n. تاوان ورکونه

indemnity, n. بیمه، تاوان، تاوان ورکونه، تضمین .

indent, v.t. &i. کوږ ووږ پریکول، غاښی غاښی کول، غاښی غاښی کېدل.

indentation, n. کوږ ووږ والی

indenture, n. لیکلی تړون، نوی کرښه (په لیك کې)

independence, n. خپلواکی، استقلال

independent, adj. خپلواك، مستقل، بی احتیاجه .

independently, adv. په ازاد ډول، په ازاده توګه.

indescribable, adj نه توصیف کیدونکی، نه تشریح کیدونکی، نه بیان کیدونکی.

indestructible, adj. نه ویجاړیدونکی، نه تباه کیدونکی.

indestructibility, n. نه تباه کیدنه

indeterminate, adj ناڅرګند، ناټاکلی، غیر ثابت، هغه چه ارزښت یی نه وی ټاکل شوی .

index, n. په ګوته اشاره، اشاره، شاخص: د نومو او موضوعګانو فهرست چه د کتاب په پای کې راځی .

index finger, n. د شهادت ګوته، د اشاری ګوته .

Indian, adj. هندی: د امریکی بومی یا هندی خلکو ته منسوب، هندی (ژبه یا سړی)

Indian corn, n. زورت، بوډول امریکایی جوار .

indicate, v.t. څرګندول، ښودل، دلالت کول .

indication, n. نښه ، اثار .

indicator په نښه کوونکی ، ښوودونکی ، معرف : شاخص .

indicative, adj. په نښه کوونکی ، اشاره کوونکی .

indicative mood, n. (گر) اخباري وجه

indict, v.t. تومتی کول ، تورول .

indictment, n. تورونه .

indifferent, adj. بې تفاوت ، بې طرفه ، متوسط ، بې علاقې ، غیر مربوط .

indifference, n. بې طرفي ، بې اهمیتي ، بې علاقګي .

indifferently, adv. په بې علاقګۍ سره

indigenous, adj. ذاتي ، اصلي ، ځائي ، طبیعي .

indigent, adj. اړ ، خوار ، بې وزلی .

indigence, n. خواري ، غریبي ،

indigestible, adj. نه هضمیدونکی ، دروند .

indigestion, n دهاضمې خرابوالی .

indignation, n. خوابدي ، خپګان ، قار

indignant, adj. خوابدی ، په قار شوی په غضب شوی ، ، په تاو .

indignantly, adv. خواشیني .

indignity, n. سپکاوی ، سپکوالی ، توهین .

indigo, n. نیل ، نیلي رنګ .

indirect, adj. غیر مستقیم ، ناسم ، منافق ، په واسطه .

indiretcly, adv. په غیر مستقیم ډول

indiscreet, adj. بې پروا ، بې احتیاطه بې پامه .

indiscriminate, adj. ګډوډ ، بې تشخیصه بې تبعیضه ، بې تمیزه .

indiscriminately, adv. په بې توپیري

indispensable, adj ضرور ، حتمي ، هغه شی چه چاره نه ځنې کیږي .

indisposed, adj . ناروغه ، ناجوړه ، کسل

indisposition, n. ناروغتیا ، ناجوړتیا کسالت ، بې میلي .

indisputable, adj. مسلم ، منلی ، هغه څه چه د بحث او دعوی وړ نه وي .

indissoluble, adj. نه ماتیدونکی ، نه جلا کیدونکی ، نه ویلي کیدونکی ، نه حل کیدونکی .

indistinct adj. ګډوډ ، تت ، نامعلومه ناڅرګنده ، مجهول ، مغشوش .

indistinctness, n. ګډوډوالی : نامعلومتیا .

indistinguishable, adj. نه تشخیص کیدونکی ، نه بیلیدونکی .

indite, v.t. لیکل : بلنه ور کونه .

individual, n. فرد ، د ټولنې یو غړی ، یو ټاکلی سړی ، ژوی یا بوټی .

individually, adv. په انفرادي توګه

individualism, n. انفرادیت ، هغه نظریه چه په فردي چارو کې د دولت د مداخلې سره مخالفت کوي .

individualist, n. د فردي ګټو غوښتونکی .

individuality, n فردیت ، شخصیت ، جلا یا ځانته موجودیت .

indivisible, adj. نه ویشل کیدونکی ، نه تجزیه کیدونکی .

indivisibility, n. نه ویشل کېدنه .

Indo—European, adj. هند واروپایي هندو جرمني .

indolent, adj. لټ ، پرکاله ، سست .

indolence, n. لټي ، پرکالي .

indomitable, adj. نه لاندې کېدونکی نه مغلوبېدونکی ، نه ټیټېدونکی ، نه ایلېدونکی .

indoors, adv. دننه (لکه په خونه یا کور کښې)

indorse, v.t. منل ، تصدیقول .

indubitable, بې شکه ، یقیني ، مسلم .

induce, v.t. په استقرایي توګه استدلال کول ، لمسول ، پارول : پر برېدل ، ترلاس لاندې راوستل ، منځ ته راوړل ، راوړل .

inducement, n. لمسونه ، پارونه .

induct, v.t. ځای کول ، مقررول (په دفتر کښې) ، ور پېژندل ، معرفي کول شیره کول (لکه په عسکري کښې) .

inductance, n. د برېښنا دوران هغه خاصیت چه د هغه په واسطه یو متغیر جریان په هغه دوران یا بل نژدې دوران کښې یوه الکترو موټیف قوه تولیدوي .

induction, n. ځای کېنه ، مقررونه (په دفتر کښې) د جزء دلالت په کل : نتیجه اخیستنه استقرا ، استقرایي استدلال : په عسکري خدمت کښې شمول .

inductive, adj استقرایي ، تشویقي .

indue, endue, v.t. ورپوښل ، وراغوستل (لکه د کالیو) ، بخښل ، تحلیل کول هضمول ، پورا برول .

indulge, v.t. غوښتنو ته غاړه ایښوول پر خپل حال پرېښوول ، آزاد پرېښوول مخه نه نیول : مراعات کول د عیاشۍ په لومه نښتل ، پکښې لوېدل ، کښېوتل .

indulgence, n. غاړه ایښوونه (د چا غوښتنو ته) : په حال پرېښوونه ، په عیاشۍ کښې لوېدنه ، مذهبي آزادي ورکونه

indulgent, adj. غوښتنو ته غاړه ایښوونکی ، سترګې پټوونکی .

indulgently, adv. د اغماض په ډول

industrial, adj. صنعتي .

industrialist, n. صنعت ګر ، هغه څوک چه په صنعتي چارو لګیاوي .

industrious, adj. کوښښي ، زیارکښ ، خواري کښ .

industriously adv. په زیار کښۍ ، په کوښښ ، په زیار .

industry, n. صنعت: کسب ، خواري ، زیار

inebriate, n. شرابي ، شرابخور .

inebriate, v.t. نشه کول ، مستول .

ineffable, adj نه څرګندېدونکی ، نه تعریف کېدونکی ، نه افاده کېدونکی نه ویل کېدونکی .

ineffective, adj. بې اغېزې ، بې تاثیره ، بې کفایته ، بې ګټې .

ineffectual, adj. بې کاره ، بې اثره ، بې اغېزې ، بې ګټې ، بې نتیجې .

inefficient, adj. ناوړه ، بې کفایته ، نالایقه .

inefficiency, n. ناوړه توب ، بې کفایتي .

inelegant, adj. بدخونی، بې ظرافته، بې نزاکته، بې سلیقې، بې ذوقه .

inept, adj. ناوړه، ناپوه، احمق، بې ځایه، نامناسبه .

inequality, n. نابرابری، عدم مساوات، توپیر، لوړه ژوره، نه ورته والی .

inequitable, adj. نه برابریدونکی، غیر منصفانه، غیرعادلانه .

inert, adj. نه خوځیدونکی، بې حرکته، هغه څوک چه د خوځیدو وسه نلری، لټ، بیکاره .

inertia, n. جبر، د جبر قوت یا خاصیت، لټی، بې کاری، عطالت، انرشیا .

inestimable, adj. نه اټکلیدونکی، خورا ډیر، خورا جګه بیه لرونکی، ګران .

inevitable, adj. پېښیدونکی، واقع کیدونکی، هرومرو پېښیدونکی، خامخا (کیدونکی) .

inevitably, adv. خامخا .

inexcusable, adj. نه بښل کیدونکی .

inexhaustible, adj. نه تمامیدونکی : نه ستړی کیدونکی .

inexorable, adj. په زړه کلک، بې زړه سویه، بې رحمه : تن نه ایښودونکی

inexorably, adv. په بې رحمی

inexpedient, adj. ناوړه، نامناسبه : هغه چه د سلاوړ نه وی، بې ځایه .

inexpensive, adj. ارزانه، د کښتې بیې والا.

inexperience, n. بې تجربه توب

inexperienced, adj. بې تجربې، اوم

inexpert, adj. بې مهارته .

inexpiable, adj. نه ږغیدونکې، نه پیوند کیدونکی، نه جبران کیدونکی .

inexplicable, adj. نه توضیح کیدونکی، نه تشریح کیدونکی .

inexperessible, adj. نه ویل کیدونکی، نه پیژندل کېدونکی .

inextinguishable, adj. نه وژل کیدونکی، نه محوه کیدونکی، نه ورکېدونکی .

inextricable, adj. له منځه نه تلونکی، نه حل کیدونکی : نه بېرا ایستل کیدونکی.

infallible, adj. نه تېروتونکی، نه سهو کوونکی : هرومرو.

infallibility, n. نه تېروتنه .

infanous, adj. ناوړه، بنیلی، بد نامه .

infamy, n. رسوایی، بدنامی .

infancy, n. ووړوکوالی، ماشوم توب، کوچنی توب .

infant, n. ووړوکی، ماشوم، کمکی .

infantile, adj. دووړو، د ماشوم توب، طفلانه .

infantry, n. پلی، عسکر .

infatuate, v.t. احمق کول، بې تمیزه کول

infatuation, n. ناپوهی، نادانی، احمقی.

infect, v.t. لړل، په مکروبو یا چټلی لړل، په ساری ناروغی اخته کول : فاسدول،

infection, n. خپریدونکی ناروغی، مصاب کیدنه، په ناروغی اخته کیدنه .

infectious, adj ساری، اخیستونی.

infer, v.t. & i. نتیجه اخیستل .

in ference, n. نتیجه، استنباط.

inferior, adj. ټیټ، کښته (په مقام، درجه، خوی او نورو کې)

inferiority, n. adv. ټیټوالی.

infernal, adj. دوزخی: شیطان ډول ، دیب خوندی .

inferno, n. دوزخ ،دوزخ وږمه .

infertil, adj. وچ، بې ثمره، شنډ .

infest, v.t. اېرول، څورول، ناآرامه کول ور باندې پښېدل (هجوم راوړل).

infidel, n. کافر، بې دینه، بې وفا .

infidelity, n. کفر، بې دینی: بې وفائی .

infinite, adj. بې حده ، لامحدوده، بې پایه ، لایتناهی

infinitely, adv. په بې حده اندازه

infinitesimal, adj. بې حده ووړ ، ډېر کوچنی: ډېر دقیق .

infinitive, n. مصدر ، مصدری وجه .

infinitude, n. نامحدود والی.

infinity, n. بې حدی، نامحدود والی ، بې انتهایی .

infirm, adj. کمزوری ،ضعیف ،سست، بې ثباته.

infirmary, n. روغتون ، کتنځی.

infirmity, n. کمزورتیا ، ناروغی ، سستی ، ضعف .

inflame, v.t. & i. بلول ، لمبه کول : بلېدل، لمبه کېدل :لمبېدل ،لمسول .

inflammable, adj. سوځېدونکی ، بلېدونکی: ژر په قهر کېدونکی.

inflammation, n. بلونه، لمبه کونه : لمسونه : پاړسوب ، التهاب .

inflate, v.t. پړسول (په باد) ، تورم (پړسو) : باټول

inflation, n. انفلاسیون (د نرخونو جګوالی) .

inflection, inflexion, n. انحنا ، انعطاف، تصریف کېدنه ،اوښتنه، یوې بلې خوا ته کږېدنه.

inflexible, adj. نه کږېدونکی ، نه بلېدونکی ، غیر ارتجاعی .

inflexibility, n. ثبات ، متانت ، نه کږېدنه .

inflict, v.t. ګوزار ور کول ، وهل ، تحمیلول ، پرا چول .

infliction, n. تحمیل .

influence, n. نفوذ، اثر ،

influential, adj. نفوذ والا ،متنفذ.

influenza, n. انفلوینزا ، ګریپ.

influx, n. ننوتېدنه (پکښې)، ور ننوتېدنه.

infold, v.t. پېچل ، نغښتل : غېږ ګول ، په غېږ کول .

inform, v.t. خبرول، خبرور کول، ویل .

informer, n. خبر وونکی .

informal adj. ساده ،غیر رسمی ، بېله تشریفاتو .

informality, n. غیر رسمی توب .

informally, adv. په غیر رسمی ډول .

informant, n. خبر وونکی ، خبر ورکوونکی، رپوټ چی .

information, n. خبرتیا ،اطلاع، خبر

informative, adj. له معلوماتو ډک ، معلوماتی .

infraction, n. تیری ماتونه (لکه د قانون).

infrequent, adj. اتفاقي، نادر، لږ، کله کله (واقع کېدونکی) پر ټاکلی ځای یا وخت کېدونکی .

infre quently, adv. کله کله، لږ، لږ لږ .

infringe, v.t. تېری کول، ماتول، تشدد کول .

infringement, n. ماتونه، تېری .

infuriate, v.t.i. په قار کول، په قار کېدل .

infuse, v.t. تلقین کول، تزریق کول . ژوندی کول، الهام ورکول .

infusion, n. تویېدنه، تزریق، الهام، القاح .

ingenious, adj. ماهر، په مهارت سره جوړ شوی . ځیرک، هوښیار .

ingeniously, adv. په ځیرکۍ، په هوښیارۍ .

ingentuity, . هوښیارتوب، ځیرکي .

ingenous, adj. څرګند، ساده، طبیعي، اوم، شهل .

inglorous, adj. سپک، شرموونکی، سپین سترګی، ټیټ .

ingot, n. دفلزاتو خښته (په تېره د سرو یا سپینو زرو خښتې) .

ingraft, v.t. پیوندول، کوشیرول، سره نښلول .

ingrate, adj. ناشکره، نه منونکی، هغه څوک چه ښېګڼه ورباندې نه معلومېږي .

ingratate, v.t. ګرانول؛ توجه اړول، پام ور ګرځول : د بل ګټې د پاره کار کول .

ingratitude, n. ناشکري، نه منښه .

ingredient, n. توکی، جز، (د نسخې)

ingress, n. ننوتنه؛ رسېدنه : ور (ننوتو ځی) : د ننوتو عمل یا حق .

ingulf, v.t. د engulf بله بڼه

inhabit, v.i.t. اوسېدل، مېشتېدل استوګنه کول (پکښې) : نیول (ځای) .

inhabitant, n. اوسېدونکی .

inhale, v.t. ساه ننه ایستل : سېلوی څکول

inhalation, n. ساه ننه ایستنه .

inharmonious, adj. ګډوډ، شوپه‌شو؛ نامنظم : مخالف .

inhrent, adj. ځایي، ارثي، ذاتي، طبیعي .

inherit, v.t. & i. په میراث وړل، له پلار او نیکه ورته په میراث پاتې کېدل .

inheritance, n. میراث .

inheritor, n. میراث خور .

inhibit, v.t. مخ نیول، منع کول، ایسارول

inhibition, n. مخ نیوی، ممانعت، ایسارونه .

inhospitable, adj سخت، بخیل، کنجوس، مېلمه نه پالونکی .

inhuman, adj. کلکزړی، سخت زړی، ناانسانه، بې زړه سوی .

inhumanity, n. بې رحمي .

inhumane, adj. بې زړه سوی : سارایی، وحشي .

inimical, adj. د دښمنۍ له مخې، د کینې له مخې، دښمنانه .

inimitable, adj. بې ساري، وتل .

iniquity, n. بېلتوب، ناوړه توب : بې عدالتي : بدوالی : جرم : ګناه .

inquitous, adj. بدو، بخیلی، بی انصافه .

initial, adj. لومړی : اصلی : د نامه یا کلمې لومړی توری .

initially, adv. اصلا : په سر کې .

initiate, v.t. پیل کول ، شروع کول تشبث کول : په ډله کښی ګډول (په ټاکلو مراسمو)

init.iate, n. پیل .

initiation, n. پیل ، تشبث .

initiateive, n. لومړی قدم، لار ښوونه تشبث ، ابتکار: د پیل کولو وسه او قوت.

inject, v.t. ننه ایستل ، پکښی ننویول ، پیچکاری کول ، ستن وهل .

injection, n. پیچکاری .

injudicious, adj. ناپوه ، بی تمیزه : بی نیاوه (هغه څوک چه سم قضاوت نشی کولای) .

injunction, n. حکم ، امر .

injure, v.t. خوږول ، ژوبلول ، ټپی کول ، زیانمن کول .

injury, n. ژوبله ، ټپ (زخم) ، ژوبلونه .

injurious, adj. ژوبلوونکی ، زیانمن .

injustice, n. بی نیاوی (بی عدالتی) ، بی انصافی ، تیری ، ظلم .

ink, n. رنګ (د لیکلو) .

inkhorm, n. مشوانۍ چه له ښکر څخه جوړه شوې وی .

inkstand, n. مشوانۍ .

inkling, n. اشاره ، اشارت ، په غوږ کښی پسپسی : مبهم فکر .

inky, adj. په رنګ لړلی : تور : تت.

inlaid, adj. د inlay ماضی ، دریم حالت

inland, n. دننه (د مملکت) ، داخلی ، د مملکت د ننی برخه : له سیند یا ویش (سرحد) څخه لیرې .

inlay, v.t. ښکلی کول ، سینګارول ، ورق شانی کول : چینجی وهل . غابښ په سمټو ډکول .

inlet, n. خوله ، ننوتو ځی ، مدخل : د سیند د او بو هغه برخه چه په وچه کښی ننوتلی وی ، اوب ته لاره (آبنا) .

inmate, n. انډیوال ، ملګری ، هغه څوک چه له بل چا سره په یوه کور یا خونه کښی یوځای اوسی .

inmost, adj. په منځ کې ، دننه ، ډیر زیات دننه باطنی .

inn, n. هوټل ، مسافرخانه ، د مسافرو د شپې تیرولو ځای ، کاروانسرای .

innkeeper, n. هوټلی ، هغه څوک چه مسافر خانه ساتی .

innate, adj. ځاتی ، طبیعی ، ذاتی .

inner, adj. داخلی ، دننه .

innermost, adj. د ټولو دننه ، د ټولو په منځ کې .

innings, n. وار ، دوړ .

innocent, adj. سپیڅلی ، بی ګناه ، پاک ، معصوم .

innocence, n. بی ګناهی ، معصومیت

innocently, adv. پاکوالی .

inocently, adv. په سپیڅلتوب .

innocuous, adj. بی ضرره ، بی ازاره .

innovation, n. نوی را ایستنه، ابداع، ابتکاره

innvator, n. مبتکر.

innuendo, n. اشاره، ټوانګے ور رسونه، په کنایې ډول د چا اعمالو ته ګوته نیونه.

innumerable, adj. بې شمېره، خوراډېر.

inoculation, n. ستنې وهنه، خال وهنه.

inoculate, v.t. ستنې وهل.

inoffensive, adj. بې ازاره، تېری نه کوونکی، بې بدو: نه ربړوونکی، اعتراض نه منوونکی.

inoperative, adj. لټ، بې کاره، سست، غېر لد، بې چاو (بارچاو).

inopportune, adj. بې ځایه، بې وخته، نادود، ناوړه.

inordinate, adj. بې ترتیبه، افراطي: نا برابر، غیر معتدل، بې اندازې.

inordinately, adv. په افراطي ډول

inorganic, adj. غیر عضوي، بې حسه، جامد، غیر ذیروح، ساه نه لرونکی.

inquest, n. څېړنه، لټونه، تحقیقات (د قتل په فقره کښې)

inquire, v.t. پوښتنه کول، څېړنه کول، تحقیقات کول.

inquirer, enquirrer, n. څېړونکی.

inquiry, n. پوښتنه، ګروېږنه، پلټنه، تحقیقات.

inquisittion, n. پلټنه، تحقیقات (په رسمي ډول): د عیسوي مذهب هغه څانګه چه له دین څخه د اوښتو کسانو پلټنه کوي.

inquisitor, n. پلټونکی، شنونکی

inquisitive, adj. بې ځایه پلټونکی، لټوونکی یا پوښتونکی متجسس.

inroad, n. یرغل، چپاو، تاړاک، تېری، په زوره ننوتنه.

inrush, n. یکښې توییدنه (د حملې په ډول) یرغل پر کونه، دزړه اچونه پری توګیدل.

insane, adj. لېونی، بې چتی.

insanity, n. لېونتوب.

insatiable, adj. نه مړېدونکی، کېدو، نسور: نه قانع کېدونکی.

insatiate, adj نه مړېدونکی: نه قانع کېدونکی، نسور، خېټور، اړو بوی (اړو ویډی).

inscribe, v.t. کښل، لیکل، کینډل (په ډبره کښې)، په کتاب کښې شاملول، وقف کول، اثر پاندې پرېښودل.

inscription, n. لیکنه، کینډنه، کتیبه، نقش، ثبت.

inscrutable, adj. پټ، نه ښکاره کېدونکی، نه درک کېدونکی، نه پلټل کېدونکی، څېړل کېدونکی.

insect, n. حشره.

insecticide, n حشره وژونکی، دارو یا محلول.

insectivorous, adj. خوګۍ خور، حشره خوړونکی.

insecure, adj. نا خوندي، ناساتلی، نامحفوظ.

insecureity, n. نا خوندیتوب، بې اطمینانی.

insensate, adj. بې زړه سویه، په زړه کلک، بې عاطفې، بې حسه.

insensible, adj. بې سده، نامحسوسه، بې علاقې، بې خواډې: نه درک کېدونکی.

iusensibility, n. بې سدی، بې حسی.

inseperable, adj. نه بېلېدونکی، نه جلا کېدونکی.

insert, v.t. وراچول، ننه ایستل، ځایول، د دوو شیانو په مېنځ کښې د بل شی ایښودل.

insertion, n. ننه ایستنه، ځایونه، د دوو شیانو په مېنځ کښې د بل شی ایښودنه.

inside, n. دننه، پکښې، دننه لوری، خوا، دننه، داخلی.

insidious, adj. ټګ، دوره ګر، چلی، بې ایمانه، خائن.

insight, n. څېرکی، پوهه، بصیرت.

insignia, n. نښه، نښانه، نښان.

insignificant, adj. بې اهمیته، بې ارزښته، جزئی، کم بې معنی.

insignificance, n. بې اهمیتی. بې ارزښتوب.

insincere, adj. ټګ، دوه مخی، بې مینې، ریاکاره، غولوونکی، منافق.

insincerity, n. ټګی، ټرګی؛ منافق.

insinuate, v.t.i. اشاره کول (په مستقیم ډول)، په رمازه پوهول: سوکه ننوتل.

insinuation, n. اشاره: ننوتنه.

inispid, adj. بې خونده، بې مزی: لټ، یخ، بې ذوقه.

insip idily, n., بې خوندی: لټوالی.

insisit, v.i.t ټینګ درېدل، کلک درېدل، ټینګار کول.

insist ence, n. ټینګار، اصرار.

insistent adj. ټینګار یا اصرار کوونکی.

insistently, adv. په ټینګار.

insnate, v.t. د ensnare بله بڼه

insole, n. د بوټ د تلی دننه برخه.

insolent, adj. بدغونی، سپک خولی، سپین سترګی، ظالم (په ژبه یا عمل کې)

insolence, n. بې ادبوالی.

insoluble, adj. نه ویلی کېدونکی، نه حل کېدونکی.

insolvent, adj. تنګ لاسی، هغه چه پور نشی ادا کولای.

insolvency, n. تنګ لاسی

insomnia, n. بې خوبی.

insomuch. adv. تر هغه ځایه چه، تر، لکه چه.

inspect, v.t. څېړل، پلټل، کتل، تفتیش کول.

inspection, n. کتنه، پلټنه.

inspector, n. پلټوونکی.

inspiration, n. ساه ننه ایستنه، پاروونه، الهام.

inspire, v.t. ساه ننه ایستل، الهام ورکول: لمسول، زړه ورکول.

inspirer, n. لمسوونکی: الهام ورکوونکی.

inspirit, v.t. ژوندی کول، روح پکښې پوکل، پیاوړی کول، پرغیرت راوستل.

instability, n. ناکراري، بې ثباتي، هردم خيالي، سستي.

install, v.t. مقررول، درول، نيغول.

installation, n. درونه، لګونه، ځاکښنه.

installment, n. کښت (قسط)، برخه

instance, n. مثال، نمونه، مرحله، موقع.

instant, adj. سمدلاسه، فوري: جاري، ناڅاپه، اوس.

n. شېبه، دغه (جاري)، مياشت

instantaneous, adj. سمدلاسه، آني.

instantaneously adv. په چټکۍ، په بېړه.

instantly, adv. په بېړه، په تلوار، په چټکتيا، ناڅاپه.

instead, adv. پر ځای، په عوض، په بدل.

instep, n. د پښې د ننه برخه چه د پوندې او ګوتو تر مينځ ده، د بوټ هغه برخه چه د پښې دغه برخه پټوي.

instigate, v.t. پارول، لمسول، قارول، تحريکول.

instigation, n. پارونه، لمسون.

instigator, n. پاروونکی، لمسوونکی.

instil, instil, v.t. څڅول، په غوږ کښې ورکول، په دماغ کښې ور کښېنول، تلقين کول، ورو ورو پوهول.

insinct, n. غريزه شعور.

instinctive, adj. غريزي.

institivly, adv. په غريزي توګه

institute, v.t. & n. بنسټ اېښودل تاسيسول: ټولنه، موسسه.

institution, n. بنسټ اېښودنه، منل شوی قانون يا رواج، تعامل تاسيونه، ټولنه، موسسه.

institutional adj. بنيادي.

instruct, v.t. ښوول، لار ښوونه کول، پوهول، خبرول.

instructtor, n. ښوونکی، خبروونکی

instruction, n ښوونه، لار ښودنه، پوهونه، خبرونه: د درس موضوع، حکم امر.

instructive, adj پوهوونکی، هوښياروونکی، تعليمي.

instrument, n. اسباب، آله، افزار سامان، وسيله: رسمي سند (لکه وصيت نامه.)

instrumental adj. د آلې يا اسباب په ډول استعماليدونکی آلې: مفيد.

instrumentality, n. اسباب، وسيله

insubordinate, adj. په خپل سر، نا تابع، نافرمانه، سرکش.

insubordination, n. په خپل سروالی، غاړه غړونه.

insubstantal, adj. بې اساسه، بې بنسټه، بې نتيجه: غير حقيقي.

insufferable, adj. نه ګالل کيدونکی، نه زغمل کيدونکی.

insufficient, adj. نيمګړی، غير کافي، بې وسه، بې کفايته، ناوړه.

insuffic iency, n. نيمګړتيا، کموالی، بې کفايتي.

insular, adj. ټاپو (جزيره) يا د هغه اوسيدونکی ته منسوب، تنګ نظره.

insulate, v.t. جلا کول ، بېلول ، پوښول : قاپوځنی جوړول .

insulation, n. جلاوالی ، بېلوالی .

instuator, n. بېلوونکی (برېښنا) ، عایق ، هغه چه برېښنا نه ځنې تېرېږی .

insult, v.t. سپکول ، ښکنځل ، رټل ، توهین کول ، تېری کول .

n. ښکنځا ، سپکاوی ، توهین .

insuperable, adj نه لاندې کېدونکی ، نه مغلوبېدونکی .

insupportable, adj نه زغمل کېدونکی ، سخت .

insurance, n. بیمه ، په غاړه اخیستنه ، د سر او مال ذمه واری (د تاوان په مقابل کښې) ، د بیمې پیسې .

insure, v.t. متیقن کول غاړه ، اخیستل ضمانت کول ، ذمه وهل ، بیمه کول .

insurgent, n. یاغی ، غاړه غړوونکی (له قانونی حکومته) .

insurgynce, n. یاغی توب

insurgnce, n. بغاوت ، سرکښی

insurgent, adj. یاغی

insurmountable, adj. نه لاندې کېدونکی ، نه مغلوبېدونکی ، له منځه نه وړل کېدونکی

insurrection, n. اړو دوړ ، اله ګو له ، یاغی توب ، بغاوت ، طغیان .

insurrectionist, n. د بغاوت د اصول طرفدار .

intact, adj. روغ رمټ ، بشپړ ، هغه شی چه لاس نه وی په لګېدلی .

intake, n. اوبه خوړ ، ورخ ، د لوګی موری ، دودکښ ، د هوا کشوونه (په کان کښې

intangible, adj. نه لمس کېدونکی ، نه حس کېدونکی : نفیښتی ، پېچلی .

integer, n. صحیح عدد ، بشپړ عدد ، هغه عدد چه کسر نه لری .

integral, adj. ټولی ، جامع ، مکمل ، صحیح ، بی کسره ، بشپړونکی .

integrate, v.t.i. یولاس کول ، یوځای کول ، ټولول ، بشپړول ، متحد کول .

inttgration, n. بشپړونه .

integrity, n. بشپړتیا ، تمامیت : سپېڅلتوب ، سپین توب (د زړه) ، صداقت ، ایمانداری .

integument, n. خور ، پوښ ، پوستکی ، پوټکی .

intellect, n. پوهه ، هوښیار توب ، عقل ، د درک قوه .

intellectual, adj. پوه ، هوښیار ، منور ، عاقل ، هیرك ، متفکر ، روښنفکر .

intellectually, adv. په هوښیاری .

intelligence, n. هیرکی ، پوهه ، خبرتیا ، استخبارېه .

intelligent, adj. هیرك ، ذکی .

intligently, adv په هیرکی ، په ذکاوت .

intlligible, adj. د پوهېدو وړ ، څرګند ، ښکاره ، واضح .

intemprance, n. بی ادارګی ، بی پرهېزی ، بی اعتدالی : افراط .

intemperate, adj. افراط کوونکی ، بی اعتداله .

intend, v.t. همت کول ، تکل کول ، نیت کول ، اراده کول ، توجه کول ، په نظر کی نیول ، خیال در لودل .

intendant, n. څارو، ناظر، په خارج کې د حکومت نماینده.

intense, adj. ډېر سخت، متمرکز، شدید، پیاوړی، قوي، جدي، ډېر زیات.

intensely, adv. په کلکه، په شدت

intensify, v.t.i ډېرول، سختول، شدیدول، پیاوړی کول، قوي کول: سختېدل.

intensification, n. شدت، سختي، جدیت.

intensity, n. سختي، زیاتوالی.

intensive, adj ډېرونکی، تشدیدوونکی، پیاوړی کوونکی: متمرکز (ګړ) تاکیدي.

intensively, adv په سختۍ په شدت په تندۍ.

intent, adj. ځیر متوجه: چوپړ، نوکر، بوخت، مشغول.

intentness, n.. پام، توجه، نوکري.

intent, n. پاملرنه، توجه، مقصد، مرام مطلوب.

intention, n. تصمیم، مقصد، غایه، پای پاملرنه، منظور.

intentionally, adj. قصداً عمداً، ارادةً

inter, v.t. ښخول، خښول.

interaction, n. متقابل عمل، معامله، متقابله اغېزه.

intercede, v.t. مېنځګړی توب کول، سره پخلا کول، ګوانښ کول.

intercept, v.t. پرې کول، په لار کښې راګرځول، لارې ځوځول، مخه نیول

interception. پرېکونه، مخه نیونه ځوځونه.

intercession, n. مېنځګړی توب، ګوانښ، شفاعت.

intercessor, n. مېنځګړی، ګوانښ کوونکی.

interchange, v.t بدلول، الیشول، مبادله کول.

interchangeable, adj. د مبادلې وړ.

intercollegiate, adj. د پوهنځیو ترمینځ چارې، هغه تعاملات چه د پوهنځیو ترمینځ موجودوي.

intercolonial, adj. د مستعمراتو ترمینځ چارې.

intercourse, n. راکړه ورکړه (د دوو تنو یا مملکتو ترمینځ).

interdependent, adj. تله راتله، ګډون، امیزش، یو پر بل ولاړ، یو په بل تکیه، یو په بل تړلی.

interdependence, n. یو په بل باندې تکیه

interdict, v.t. منع کول، مخه نیول نه پرېښودل.

interdiction, n. ممانعت.

interest, n. ګټه، سود: مینه، برخه زیاتوالی، علاقه، دلچسپي.

interesting, په زړه پورې، خوندور، د توجه وړ، دلچسپ.

interfere, v.i.t. مداخله کول، یو په بل کې ننوتل (تداخل).

interference مداخله.

interfuse, v.t. وراچول، ورتویول، ډکول، یوځای کول، ګډول.

interim, n. ترخ، ضمن، د دوو وختو ترمینځ فاصله، انتقالي.

interior, adj. دننی ، پټ ، داخلی کورنی (چاری) .

interjection, n. (گر) د ندا توری ، د تعجب توری ، د خوښۍ د څرگندولو توری منځ ته اچونه ، معترضه (جمله)

interlace, v.t. سره اودل ، سره گنډل سره نغښتل .

interlock, v.t.i. یو ځای کېدل ، اړه درلودل ، سره نښتل ، سره نغښتل .

inerloper, n. مداخله کوونکی ، هغه څوک چه بې ځایه د بل چا په چارو کښې گوتې وهی .

interlude, n. ځنډ ، ټال ، ډيل ، وقفه .

interlunar, adj پټه (د میاشتې) ، سکښته (د میاشتې) ، هغه موده چه میاشت پکښې پټه وی .

intermarry, v.t.i. ښځې کول ، : د پردو قومو نژادو او مختلفو عقیدو و خلکو یا خپلوانو ترمنځ د ښځو سره ورکول .

intermarriage, n. واده سره کونه

intermeddle, v.t.i. گډېدل (سره) گډول (سره) : بې ځایه مداخله کول ، د نورو په کارو کې لاس وهل .

intermediary, adj. منځنې ، منځگړی .

intermediate, adj. مینځنې پړه ، مینځ کښې ، منځگړی .

interment, n. ښخونه ، تدفین .

interminable, adj. بې پایه ، ناپایه ، له تمامیدونکې ، بې شمېره ، ځوراوېد

interminably, adv., په بې پایه ډول ، ناپایه .

intermingle, v.t.i. گډول (سره) ، گډېدل (سره) .

intermission, n. ټال ، ډيل ، ځنډ ، وقفه

intermit, v.t.i. ځنډول ، ځنډېدل ، درول (موقتي) .

inermittent, adj په ورون ، په نوبت ، په وار

intermittently, adj. په وار سره

loss, n. : ویجاړ توب ، وران توب : ضایعه ، ورکه ، کمېدنه : (لبن) مرګ او ژوبله ، تلفات .

lost . د lose ماضی او دریم حالت . ورك ، ضایع شوی .

lot , n. : پچه ، قرعه : کوټه ، ډېری ، ډلی : مرغ ، بخت ، طالع .

loth, adj. زړه نا زړه ، بی مینې د (loath,) بل شکل .

lotion, n. دوایی ، محلول (د مینځلو د پاره)

lottery, n. لاټری ، پچه اچونه ، د پچې اچولو په ذریعه د جایزې ګټنه .

lotus, lotos, n. نیلوفر (د اوبو)

loud, adj. لوړ ، هسك (ږغ) .

loudness, n.

lounge, v.i.n. ، ستړی یا کاهل و دمه ایستل ، هغه خونه چه هلته دمه نیوله کیږی .

lour, v.i. د ټنډی یاد تندی تریوېدل .

د lower, بله بڼه

louse, n. شپږه یا سپږه .

lousy, adj. شپږن .

lout, n. بی عقل یا بی لاس و بی پښو (کاڼی وادی سړی) .

v.i. سرټیټول ، تعظیم کول .

love, n. مینه ، محبت ، عشق ، معشوقه

lovable, د مینی وړ lover, n مین

lovesick, adj د مینی ناروغه.

loveless, adj. بی مینی .

lovingly, adv. په مینه

lovely, adj. زړه وړونکی ، ښکلی

loveliness, ښکلا .

low, v.i. رمباړه کول (لکه د غوائی)

low, n. رمباړه .

low, adj. کښته ، ټیټ : ضعیفه ، کمزوری

lower, v.i. تریو ، په قار بر پښېدل ، د ټنډی تریوېدل .

lower, v.t. : کښته کول ، ټیټول ، کمول : د بیی لږول : خوا بدی کول ، سپکول.

lowland, کښته اواره ځمکه .

lowly, adj. کمینه ، خاکساره ، بی کبره ، متواضع.

lowliness, n. خاکسار توب .

loyal, adj. وفاداره .

loyalty, n. وفاداری.

loyally, adv.	په وفادارۍ
loyalist, n.	وفادار، هغه سړی چه د اغتشاش په وخت کښې د خپل حکومت وفادار پاته شي .
lozenge, n.	الماس ډوله یو ډول خوږه چه د الماس په بڼه وي .
lubber, n.	ناپوه سړی ، بی لاس و بی پښو سړی .
lubricant, n.	غوړ ، تېل لکه گریس ، مبل ایل او داسې نور .
lubricate,	غوړول ، تېل ور کول .
lubricator, n.	غوړوونکی ، تېل ور کوونکی .
lubrication, n.	غوړونه ، تېل ور کونه .
lucent, adj.	ځلاند ، روڼ
lucerne, n.	رشقه ، شپشتی .
lucid, adj.	ځلاند څرگند . ښکاره ، واضح
lucidity, n.	ښکاره توب ، څرگندوالی
Lucifer, n.	داور لگیدانه.
lucifer,	شیطان ، د سهار ستر گه ، د سهار ستوری .
luck, n.	بخت ، طالع .
luckless, adj.	
lucky, adj.	بختور ، طالع من .
luckily, adv.	په نیکمرغه ډول ، په نیکمرغی .
lucrative, adj.	گټور .
lucre, n.	گټه ، پیدایی ، سود .
lucubration, n.	ژوره مطالعه ، ژور تفکر : ریاضت .
ludicrous, adj.	د خندا وړ ، د ملنډو وړ ، مسخره (شی).
luff, v.i.	د بیړۍ او بوز یا شونډه د باد خوا ته گرځول .
luff, n.	
lug, v.t.i.	ښکول ، کشول .
luggage, n.	پنډه ، پلن پېټی ، د مسافرو کالی او سامان .
lugubrious, adj.	غمجن ، ویرجن .
lukewarm, adj.	تومن ، معتدل ، تود : زړه ، نازړه ، تېم ، شیر گرم .
lull, v.t.i.	غلی کول ، چپول : دلاسا کول ویډول .
lullaby, n.	للو ، د کوچنیانو د ویدولو بدله
lumbago, n.	د ملا خوږ .
lumber, n.	تنبی (چار تراش) ، د کاله زاړه لوښی کپړی ، د کاله زوړ سامان ، له کاره وتلی ، ، ټک ټوک .
lumberman, n.	د چار تراش جوړوونکی یا کارگر .
lumberyard, n.	د چار تراش د ساتلو ځای
lumberjack, n.	هغه سړی چه د تیرانو کار کوی
luminary, n.	رڼاور کوونکی جسم : نومیالی مشر ، مېر ، ځلاند شی .
luminous, adj.	ځلاند ، روڼ ، څرگند
luminosity, n.	
lump, n.	کوټه ، ډیری ، ډلی ، ټوټه ، پاړسوب
lumpish, adj.	
Luna, n.	د سپوږمۍ رب النوع (د پخوانی روم په مذهب کی) ، سپوږمۍ .

lunacy, n.	لیونتوب ۔
lunar, adj.	دسپوږمۍ، قمري ۔
lunatic, adj.	لیوني ۔
lunch, n.	دغرمې ډوډۍ
luncheon, n.	دغرمې ډوډۍ ۔
lung, n.	سږی، پپوس :
lunge, n.	منډه، ننه ایستنه (لکه د توري)
lunge, v.i.t.	منډل، ننه ایستل ۔
lupine, n.	یو ډول باغلی ۔
lurch, n.	یو ډول لوبه : په کمین کې کښېناستل، په پټ ځای کې کښېنستل
v.i.	څو پر دښمن حمله وکړي
lurch,	یوې خوا ته رغړېدل ۔
lure, n.	لمسونه، غولونه
v.t.	
lurid, ad.	پیکه، خپ، تت رنګ
lurk, v.i.	پټ کښېناستل، چا ته غلی کېدل پټېدل ۔
luscious, adj.	خوندور، مزه ناک، خوشبویه
lust, n.	غوښتنه، (په تېره شهواني)، شهوت
lustful, adj.	شهواني
lust, v.i.	شهوت لرل ۔
luster, lustre, n.	روڼوالی : برم، لوبی
lustrous, adj.	ځلاند، روڼ
lusty, adj.	پیاوړی، روغ رمټ، تندرست، تکړه ۔
lustily, adv.	په پیاوړتوب ۔
lute, n.	عود، د موسیقۍ یو ډول تار لرونکې اله
Lutheran, adj.	د پروتستان مذهب چه د لوتر له خوا مینځ ته راغلی دی ۔
n.	
luxuriant, adj.	پریماني : غړوسکه، ګڼ (لکه واښه)
luxuriance, n.	غړوسکه والی ګڼ والی ۔
luxury, n.	تجمل، خوش ګذراني، عیاشي
luxuriously, adv.	دعیاشي په ډول
luxurious, adj.	
lyceum, n.	دریځ یا دوینا کولو ځای : هغه ټولنه چه لکچرونه ور کوي ۔
lye, n.	شخار (اشقار)
lying, adj. n.	دروغجن، درواغ، غلط،
lying-in, n	لنګون
lymph, n.	یو ډول شفافه او بېرنګه یا زېړ بخنه مایع چه د بدن په لمفاتیک رګونو کښې بهېږي ۔
lynch, v.t.	بې د محاکمې له حکمه د چا وژل، مړ کول (په تېره په غرغره ۔)
lynx, n.	یو ډول بېدیايي یا سارایي پیشو لیمچی (صحرائي پشو)
lyre, n.	د لرغوني یونان یو ډول د موسیقۍ اله ۔
lyric, adj.	بزمي، بزمي اشعار، غنائي
lyrical, adj.	

M

macadam, n. وړې تيږې چه د سړك د جوړولو د پاره استعمال ليږي : په تيږو پوخ شوی سړك .

macadamize, v.t. په ډبرو فرش كول

macaroni, n. مكرونی ، ماچې : ډولی ، فيشنی

macaroon, n. له هګيو ، بورې او بادامو او نورو څخه جوړشوی وړوکی کيك يا کولچه

macaw, n. اوږد لکۍ توتی (په مركزی او جنوبی امريکا کی) .

mace, n. دافسرانو دلاس لرګی ، د صلاحيت او اقتدار لښه (امسا) : د بلياړد لکړه .

machete, n. اوږده چاړه چه ګڼی په بري كوي .

machination, n. دسيسه ، توطئه ، تړون ، خوځه (په بد نيت) .

machine, n. ماشين ، څرخ : چلوونكی ډله (لکه د ګوند) .

v.t. په ماشين جوړول .

machinery, n. ماشين الات ، د ماشين اسباب ، دستګاه .

machinist, n. ماشين كار .

mackerel, n. د شمالی اتلانتيك يو ډول خوراکی کب .

Mackinaw coat, n. وړين کوټ (د امر- يكايی هنديانو) .

mackintosh, n. بارانی كوټ .

mad, adj. ليونی : غضبناك : ساده ، بيړا كبجنو ، تلولی : مست ليونی ، سپی داهلی

madly, adv. په ليونتوب ، په ليونۍ توګه .

madman, n. ليونی سړی .

madness, n. ليونتوب .

madam, n. ميرمن .

madame, n. ميرمن ، د ميرمنې د پاره

mesdames, pl. فرانسوی لقب ، ميرمنې

madcap, adj. وحشی ، تراينند ، بې باكه ليوای

madden, v.t. & i ليونی كول ، ليونی كېدل

made, adj. جوړ شوی د make, ماضی او دريم حالت .

Madeira, n د مديرا دټاپو شراب .

mademoiselle, n. ماد موزل ، پيغله (فرانسوی لقب) .

mesdemoisellcs, Pl· پيغلې .

madhouse, n. لیونتون: ګډوډي: غوبل

Madonna, n. د بي بي مريمې ايټالوي نوم

madras, n. ململ، چاکه، خاسه.

madrigal, n. عشقي غزل چه د ساز سره
ويل کيږي، د مينې سندرې.

maelstrom, n. خطرناک، ګرزوبی
(ګرداب).

maestro, n. استاذ، په تېره د موسيقۍ.

magazine, n. مغازه، ميخزين، درويږه،
انبار، تحويلخانه: ججوره (لکه د ټوپك):
خانه، جبه: مجله: موقوته اخبار.

magdalen, n. توبه کښلې کاسیره (فاحشه)

mage, n. جادوګر، سحرګر،

magenta, n. قرمزي، شيرچايي رنګه

maggot, n. حشره چه د چنجي توب په مرحله
کې وي.

magic, n. د لاس چالاکي، جادو، سحر،
مداري توب، دراکښلو قوه.

magical, adj.

magically, adv.

magician, n. جادوګر، سحرګر، مداري.

magistrate, n. د قضايي يا اجرائيې قوې
امر: قاضي.

magisterial, adj. اجرايي: قضايي.

magistracy, n. قضاء.

magnanimous, adj. لوړ فکري، درنښت
(وقار).

magnanimity, n. لوړ فکري،

magnate, n. وتلی سړی، نامتو، مخور:
لوړ رتبه، يا ډېرې هستۍ خاوند.

magnesia, n. يوه سپينه مسهله ماده.

magnesium, n منګنيز يا مګنيزيم، يوه سپين
نقره يي رنګه فلزي سپك عنصر.

magnet, n. آهن ربا، مقناطيس.

magnetic, adj. مقناطيسي، د مقناطيس کېدو
وړ، جذاب، راکښوونکی.

magnetism, n. د جاذبې قوه، کشش.

magnetize, v.t. مقناطيسي کول، تر دم
لاندې راوستل، جذب کول، مسحور کول

magnetization, n.

magneto, n. يو جنريټر چه د سونګ د
موادو د اور اخيستو د پاره برق توليدوي
(په داخلي احتراقي انجنو کې).

magnificent, adj. د ښکلا او برم خاوند،
پرتمين (مجلل).

magnificence, n.

magnificently, adv.

magnify, v.t. لويول: لوی ښودل،
(د خدای) لمانځل.

magnifier, n. غټ ښوودونکی (لکه عدسيه):

magnitude, n. پراخوالی، لوی والی،
د اهميت اندازه، ونه: په نجوم کې
ستوري د ځلا درجه.

magnolia, n. يو ډول بوټی يا ونه چه لوی
خوشبو يه سپين يا بنفش ګلان لري.

magpie, n. ګېږ که، يا کيږ که،
کيشکره، وګوبی.

mahatma, n. ډېر هوښيار او روحاني
سړی (په هند کښې).

mahogany, n. شيشم، سور نسواري رنګه
ډېر کلك او قيمتي لرګی يا د دې لرګي ونه

maid, n. پېغله: مزدوره ښځه، خدمه

maiden, n. پېغله: د پېغلتوب:

maidenly, adv. تانده، تازه، باکره .

maidenhairfern, n. یو ډول نازک فرن (هغه بوټی چه ریښې ډډ او پاڼې لري مگر گل نه لري) .

maidenhood, n. پېغلتوب، باکره توب.

mail, n. زغره: ډاگ، پوسته

v.t. په ډاک کښې استول .

mailman, n. ډاکي، پوسته رسوونکی .

maim, v.t. لاس او پښې ځنې پرې کول کاري زخمي کول، کلک زخمي کول

main, n. اصلي: مهم، غټ: زور

adj. لومړنی، اساسي: بېخی، سراسر: (گر)، د جملې اصلي فقره یا خبر

mainly, adv. اساساً، زیاتره.

mainland, n. اصلي خاوره، اصلي وچه، قاره .

mainmast, n. د بېړۍ اساسي ستنه (د بادوان)

mainsail, n. هغه ستر بادوان چه په لوی ستون (مټه) تړل کیږي

mainspring, n. اصلي فنر (لکه د گړۍ): شاپېچ (لکه د موټر): اصلي عامل، سایق .

mainstay, n. هغه پړی چه د بېړۍ لویه مټه باندې تړل کیږي: تکیه ځای .

maintain, v.t. ساتل، پاملرنه کول: لرل: چلول: عقیده لرل، نظریه لرل: د فاع کول: لگښت په غاړه اخیستل، بوج منل.

maintenance, n : څارنه، مراقبت: چلونه .

maize, n. ذرت (یو ډول جوار)

majesty, n. لويي، پرم: جلال .

majestic, adj. پرم لرونکی .

majestical, adj.

majestically, adv. په پرم .

major, adj. ستر، لوی (مو)تر

تورن (لښ) n. اوږد گام ټیم minor

v.i. د تخصص د پاره انتخابول، د اساسي مضمون (څانگې) په توگه لوستل

majon-domo,n ناظر (د یوې لويي. کورنۍ) .

majorgeneral, n. تورن جنرال .

majority, n. اکثریت: ځوانی، مکلفیت، قانوني عمر، بلوغ .

make, v.t.i جوړول، رغول، ودانول تیارول: پوهېدل: لاس ته برېدل: اټ ایستل: زیاتول. n. جوړونه، رغونه، بڼه، شکل، ډول: عادت، خوی: کم°وړه:

maker, n. جوړوونکی، رغوونکی. جوړښت .

make-believe, n. بهانه کول، وانمود کول، انگېرنه، گڼه.

adj. انگېرل شوی، گڼل شوی.

makeshift, n. د کار چلېدلی شی، کارروا جي شی، په موقتي ډول د یوه شي څخه کار اخیستنه .

makeshift, adj.

make-up, n. سینگار، ډول: جوړونه، سمبالونه: ترکیب، ساخت .

mal-,Pre. خراب، ناوړه، وران، بد

maladjustment, n. لکه ناوړه تطابق نه جوړېدنه .

maladroit, adj. نالایقه، بې مهارته، شواړه.

malady, n. ناروغي ، مرض ، رنځ .

malapert, adj. زړور ، سرتیر : رټوونکی .

malaria, n. ملاریا ، سړه لوی یا سړه لړې (تبه) ، زېړه تبه .

malarial, adj. د سړه لړې ، زېړه تبې .

malcontent, n ناخوښ ، ناراض (په تېره په سیاسي مورد کې)

male, adj. نر ، مذکر ، نارینه .

malediction, n. ښېرا : لعنت .

malefactor, n. ګناهکار ، جاني ، بدکار .

malevolent, adj. بدخواه ، بد غوښتونکی ، بې لوري ، بدنیتي .

malevolence, n. بې لوري ، ناپېرزوینه .

malfeasance, n. ناوړه چلند یا خطا (په تېره په رسمي چارو کې) : بده رویه .

malice, n دښمني ، ناپېرزوینه : رخه : بدنیتي ، کینه .

malicious, adj. بدنیته : بې لوره ، بدخواه ، کسه من .

maliciously, adv. په رخه ، په بدنیتي .

malign, adj. بدنیتي : رخه ګر : بخیل ، بې لوره .

v.t. نوم بدول ، رنګ بدول .

malignant, adj. مضر ، خطرناک : شوم

malignancy, n.

malignity, n.

mall, n. د چکر ځای (په تېره چه سیوری ولري) .

mallard, n. هیلۍ (سارالۍ)

malleable, adj. د تورق وړ (لکه فلز چه په راز راز شکلو اوښتلای شي) ، د توافق وړ .

malleability, n. د پلنېدو قابلیت .

mallet, n. لنډ لاستی څټک : (سوټک) یو غوځار سری اوږده لکړه چه د کراکیټ په لوبه کښې په کار راځي : د پولو د لوبې ډنډه .

mallow, n. یو بوټی چه پستې او پلنې پاڼې او بنفش سپین او شیر چاپي ګلان ولري (پنیرک) .

mallow rose, n. د خطمي ګل .

malmsey, n. یو ډول خوږه شراب .

malnutrition, n. ناوړه تغذیه ، نیمګړې تغذیه ،

malodorous, adj ، بدوږم ، بدبوی ، بوین ، بوېناک .

malt, n. دانه ، لیښکی په تېره چه نیش ووهي ، په اوبو کښې خیشتې شوی .

malt, adj. اوربشي چه الکولي څښاک ترې جوړېږي : (اصط) بیر .

maltster, n.

maltreat, v.t. ناوړه رویه کول ، خراب استعمالول ، سخته رویه کول .

maltreatment, n. (سره) ناوړه رویه ، ناخوالی .

mamma, n. ادې ، ابې ، مورکه .

m.

mammal, n. تي لرونکی ژوی ، د ژوو هغه ډله چه بچیانو ته شیدې ورکوي

mammalian, adj..

Mammon, n. د حرص بلا ، نفس ، سرابښتوب .

mammoth, n. ماموت پیل

adj. لوی ، ستر ، دیووزمه ، غټه بلا

man, n. سړی ، بنیادم ، انسان ، وګړی ، مېړه سړی ، مزدور سړی ، داڼه ، ګوټ (لکه د شطرنج) .

v.t. سړی ورکول ، نفرور کول : په نفرو سمبالول : ټینګول ، کلکول ، غښتور کول .

manacle, n. اتکړی ، ولچک . ځینځیر .

manage, v.t اداره کول ، سمول ، برابرول ، په کار اچول ، وړاندې بیول : تابع کول ، روزل : لاس برېدل ، بریالی کېدل

manageable, adj د ادارې وړ ، د سمون وړ .

manager, n. اداره کوونکی ، مدیر ، منتظم ، مېنېجر .

management, n. تنظیم ، اداره ، وړاندې بیونه : اداري لیاقت : مدیره ټولنه (مدیره هئیت) .

man-at-arms, n. عسکر .

mandarin, n. دپخواني چین ستر رتبه افسر .

mandarin, دچین اساسي لهجه .

mandate, n. قومانده ، بولنه ، امر : قیمومیت .

mandatory, adj. دقیمومیت ، د امر ، جبري .

mandible, n. زامه ، ونښکی ، مښو که .

mandolin, n. ماندولین (دموسیقۍ آله)

mandrake, n. مېره غوني ، مره ټوټۍ .

mane, n. وږې ، یال .

maneuver, n. مانوره ، لښکري تمرین چه د یو ټاکل شوي پلان له مخې وي : ماهرانه اداره کول .

manful, adj. زړه ور ، مېړنی .

manganese, n. منګانیز : خړ بخون فلز چه اوسپنې ته ورته دی .

mange, درب (یو ډول جلدي ناروغي)

mangy, adj. پمن .

manger, n. اخور .

mangle, v.t. غوڅول ، زخمي کول ، ټوټه کول : له کاره ایستل ، خرابول (په تېره د جوړولو په وخت کښې)

mangle, n. دټوکرانو داوتو کولو او اوړولو ماشین .

mango, n. ام ، امب (یو ډول مېوه)

mangrove, n. داستوایي سیمو یو ډول ګڼه ونه .

manhandle, v.t. پوري وهل (په بې احترامانه وضع) .

manhrood, n مېړانه ، ناریتوب ، سړیتوب

mania, n. شدید لېونتوب ، بې سدي : لېوالتیا ، کبڅي .

maniac, n. لېوني ، عقلي ناروغ

manicure, n. دلاسو او نوکانو سینګار دلاسو او نوکانو سمبالوونکی .

manicurist, دلاسو او نوکانو سینګار وونکی .

manifest, adj ښکاره ، څرګند

v.t. څرګندول ، ښکاره کول .

n. بارنامه

manifestly, adv. په ښکاره ډول ، په ډانګ پېلي ، په څرګند ډول

manifestation, n. څرګندونه ، رابرسېرونه ، ښکارونه : ښودنه .

manifesto, n. څرګندونې، اعلاميه، اظهارنامه، ښکاروندوی (لکه دسياسی ګوندونو دهدفو)

manifold, adj. ډېر، زيات، څواړخيزه څوکته (قاته)، ګڼ، عمومی.

v.t. کاپی کول، ډېرې کاپې را ايستل

n. يو ال چه څو سوری لری او نور نلونه ورسره وصل کېږی.

manikin, mannikin .n سړوټ، لوېشتکی: لوېشتوکی: مانکن (يوه نجلۍ چه دموډل په حيث جامې اغوندی څو رواج ومومی)

Manilahemp, n. مزری، لوخی (چه له هغو څخه رسۍ جوړېږی)

manipulate, v.t. په مهارت اداره کول او سنبالول، په ښه توګه استعمالول، تنظيمول

manipulation, n.

manipulative, adj.

manipulator, n.

mankind, n. انسان، بنی ادم، وګړی، بشر

man—kind, n. نارينه

manly, adj. مېړنی، زړه ور، شريف

adv. په مېړانه، په نارينتوب

manliness, n. نارينتوب، مېړانه، ښه ځوانتوب.

manna, n. من او سلوا (چه بنی اسرائيلو ته راتله) اسمانی مايده، نعمت، خدايی ورکړه: يو شی چه ډېر ضرورت ورته ليده کېږی او په خوشالی سره و منل شی، خوند وره غذا.

mannequin, n هغه نجلۍ چه دموډل په حيث جامې اغوندی څو رواج ومومی.

manner, n. دود، عادت: رواج: کړه وړه: خوی: ډول، توګه، طريقه، روش

mannerism, n. خاص روش، عادت يا شيوه.

mannerly, adj. درونه، شريف، مؤدب مهذب.

mannish, adj دسړی سره مناسب، دسړی په شان.

manoeuvre, n. مانوره، مانور.

man-of-war, n. جنګی بېړۍ.

manor, n. جايداد، دخان محکمې او جايداد.

manorial, adj.

manse, n. حجره، دمذهبی مشر کور، دکليسا د ملا استوګنځی.

mansion, n. ماڼۍ، بنګله، قصر.

manslaughter, n. بې ارادې وژنه، سهواً وژنه.

mantel, n. ددېوالی بخارۍ پر سر رف

mantelpiece, n. د دېوالی بخارۍ پرسر رف.

mantle, n. بې لستوڼو اوږد کوټ، ردا، نه سوځېدونکې جالۍ (لکه دګېس).

v.i. سور کېدل، شرمېدل.

manual, adj. لاسی، د لاس،

n. لاسی کتاب، وړوکی کتاب: (لبن) دوسله ښودنې تمرين، د وسلې داستعمال شق، انداخت.

manufactory, n. کار ځای، فابريکه.

manufacture, v.t. جوړول، جعل کول، اختراع کول، تولیدول.
n. جوړونه، رغونه، تولید.
manufacturere, n. جوړونکی، تولیدوونکی.
manumit, v.t آزادول (له مریتوب څخه)
manumission, n. آزادونه، آزادی.
manure, v.t سره ور کول.
n. سره، انبار.
manuscript, adj. نسخه (لیکل شوی یا چاپی).
many, adj ډېر (دشمارېدونکو شیانو لپاره) لکه ډېری مخې.
n. پریمانه، زیات
pron, زیاتره، ډېر کسان، زیات خلك.
v.t نقشه، نخشه.
map, n نقشه کښل.
maple, n. یوډول ونه ده.
mar, v.t بد رنګه کول، ویجاړول، تاوانی کول، بېکاره کول، ژوبلول، زخمی کول.
marathon, n. دځغاستې مسابقه، داوږده واټن دځغاستی مسابقه (۲۶ میله ۳۸۵ یارډه)
marauder n. لوټمار، چوروونکی، غدی.
marauding, adj چوروونکی، لوټمار، شوکمار.
marble, n. مرمر، دمرمر ډبره، یخ شی: مردکی یاتینډکی (چه ماشومان لوبی په کوی)
marble, adj مرمری.

marcel, n. هغه ټیټی چینګی او موجونه چه داوتو په واسطه دسر په ویښتانو کی جوړېږی.
March, n. د عیسوی کال دریمه میاشت چه یو دیرش ورځې لری.
march n. سرحد، ټاك، برید.
march, v.i. مارش کول، په عسکری زور ورتلل: پرمخ تلل، مخ په وړاندی تلل
marcher, n. وړاندی مارش، پرمختګ، وړاندی تګ، هغه واټن چه په یوه مارش وهل کیږی.
n. لښکری موزیك.
marchioness, n. د marquis, ښځه یا کونډه
mare, n اسپه، مادیانه، ګوره خره.
margarine, n. مارګرین، نباتی غوړی، هرډول غوړی چه له تر کودیو او بوټو څخه لاس ته راځی او دکوچو پرځای استعمالیږی.
خنډه، ژی، حاشیه.
marge, n. خنډه، ژی
margin, n سرحد، برید، خنډه، ژی، ټاپی، حد، سرباری، ذخیره، اضافګی پیسې داحتمالی زیان په خاطر.
marginal, adj. د ژی، د خنډې، حاشیوی.
marigold, n. جعفری (ګل)
marinate, v.t دماهی غوښې اخته کول، په مالګوبی، سرکه او مرچو کښې خیشتول
marine, adj سمندری، بحری، د سیند د تجارت بحری عسکر.
Marine Corps,
mariner, n. ماڼو.
marionette, n. نانځکه، لاوکی.

marital adj.	د واده، ازدواجي .
maritime, adj	سمندري بحر ته اړ دي : په بېړۍ چلونې پورې مربوط .
mark,	د پخواني المان دامپراطورۍ د پیسو واحد .
mark, n.	نښه، نښانه، داغ، هدف، امتیاز، درجه، نومره، معیار، حد، سرحد
v.t.	نښه کول، کتل، پاملرنه کول، جدا کول، مشخص کول .
Mark, n. :	لښی (د ډانک د یوموډل نښه) د انجیل د نوي عهد دوهم ټوک چه د عیسی (ع) کیسه پکښې راغلې ده .
marked, adj	د لیدو وړ، د پام وړ، څرګند .
markedly, adv	په څرګند ډول، اوچت .
market, n	مارکیټ، منډوی، بازار، پلورنځی، سرای، ګنج .
v.t.	خرڅول، پلورل .
marketable, adj.	د پلورلو وړ .
marketplace, n.	پلورنځی .
marksman,	نښه ویشتونکی، ټک لاسی .
marksmanship, n.	د نښې ویشتلو مهارت .
marl, n.	سره لرونکي خاوره، څوربه خاوره .
marlinespike, n.	د پړو خلاصولو چنګک، هغه سیخ چه رسۍ ور باندې پړانیزي .
marmalade, n.	مربا (په تېره بیا د نارنج)
marmoset, n.	یو ډول امریکایي وړه بیزو چه ببره لکۍ لري .
marmot, n.	د سوي او مږي کورنۍ ته منسوب ژوی .
maroon, v.t.	په وچه پرېښودل، په وچه پلې کول، له بېړۍ څخه شړل (یو ټاپو یا وچې ته)
marquee, n.	خرګاه، تمبو : یوه لویه خیمه چه د تفریح دپاره درول شوې وي
marquetry, n	نقش و نګار، انځور کېندنه .
marquis, n.	یو اشرافي لقب یا رتبه چه تر ډیوک کښته او تر ارل یا aerl count, جګ وي .
marquise, n.	د مارکز ښځه یا کونډه
marquisate, n.	
marquisette, n.	جالۍ، یا ځنځیرنه ټکه
marriage, n.	واده، واده کول، ودېدنه .
marriageable, adj.	د ودېدو وړ، د واده کولو وړ .
marrow, n.	ماغزه، مغز زړی، نغر .
marry, v.t.	واده کول .
married, adj.	مېړه وښه، نکاح شکلی
Mars, n.	د رومیانو د جنګ رب النوع : مریخ
marsh, n.	جبه، زیمناکه، مچکه .
marshy, adj.	
marshal, n.	مارشال، لوی رتبه افسر
v.t.	په عسکري تنظیم برابرول، روښول سمول، لار ښودل .
marshmallow, n.	ژاولني خوږي (شریني) پسته، غځېدونکی : خوږه .
mart, n	بازار، منډوی، مارکیټ .
marten, n.	سمور : تورلمی .
martial, adj.	جنګي، پوځي : جنګیالی زړور، سرتېره .

martin, n. يو ډول کوچنی اروپايي توتکی

martinet, n. سخت گير، انضباطي (عسکري)

martyr, v.t. ځان شهيدول ، سربښندل ، (د مسلك او عقيدې د پاره)

martyr, n. شهيد ، سربښندونکی ، سرتېر ، ځوري ، رېړ گالونکی .

martyrdom, n. شهادت ، سربښندنه .

marvel, n. معجزه ، اريانتيا .

v.i. اريانېدل ، حك پك كېدل

marvellous, adj. عجيبه ، اريانوونکی

marvelously, adv. په عجيبه ډول ، اريانوونکی .

mascara, n. د باڼو رنگې د باڼو د رنگې لوړ نگې .

mascot, n. د ښه شگون نښه : د نېکمرغۍ راوړونکی .

masculine, adj. نر ، ناريينه ، مذکر

masculinity, n. ناريينتوب، د ناريينتوب نښه .

mash, v.i. يو ډول او بلن پاسته خواړه چه څاروي او چرگانو ته ور کول کېږي

mashie, n د گلف د لوبې ډنډه چه سر ئې د اوسپنې وي .

mask, v.t. پوښل ، پټول

mask, n. پوښ ، مخ پټوونی ، نقاب ، ماسك .

masker, n. پټوونکی، پوښوونکی ، ماسك اغوستونکی .

mason, n. ختگر ، معمار ، بنايي .

Masonic, adj. د فري ماسون ډلې ته منسوب

masonry, n. ختگري ، معماري، بنايي ابادي (بنا)

masque, n. د mask بله بڼه .

masquerade, n. يو دعوت يا رقص چه په هغه کې برخه اخيستونکی ماسك او عجيبې غريبې جامې اغوندي : ددې ډول رقص کالي او بڼې بڼه، بدله بڼه.

Mass, n. د عشاء رباني دود .

mass, n. کتله، ډله، غټی، ټول، غونډاري، کوټه، حجم، اکثريت ، مجموعه .

massy, adj. سره غونډ شوی ، سره کوټه شوی .

massacre, n. مترو، عام قتل .

massacre, v.t. سټول ، ټول وژل ، پوپنا کول .

massage, v.t. مساژ، چاپي کول .

massage, n. چاپي ، کښېښکښېښنه .

masseur, n. چاپي کوونکی .

masseuse, n.. چاپي کوونکې ښځه .

massive, adj. لوی، خوراغټ .

mast, n. خاده، ستنه، مټه .

master, n. خاوند، څښتن، واکمن، استاد ، ماهر ښوونکی .

v.t. لاس موندل ، ماهر کېدل .

masterful, adj. استاد : بادار .

masterfully, adv. په استادۍ، په ماهرانه ډول .

masterly, adj. استادانه، ماهرانه .

mastership, n. استادي ، ماهري، واکمني .

masterpiece, n. شاهکار، وتلی اثر .

mastery, n. استادي، مهارت ، تسلط، لاس موندنه .

masthead, n. د ستنې (څادې) سر (لکه د بېړۍ د بادوان) دورځپاڼې هغه برخه چه د ناشر، پتې او داسې نورو په باره کې معلومات ورکوي .

masticate, v.t. ژوول، نرمول .

mastication, n. ژوونه .

mastiff, n. یو ډول غټ قوي سپی چه اوږده غوږونه او ځوړندې شونډې لري .

mastodon, n. یو ډول پیل دی چه اوس یې نسل ورک شوی دی .

mat, adj. تت، پیکه، خپ (رنګ) بخ .

mat, n. بوریا، بوزی، کرېړ، شړل : اودل شوی پای پاک، غالېڅکی، نالېچکه د پهلوانۍ د لوبې توشکه .

mat, v.t. اودل (د بوزی پېډول)، پېړل چوکات (د عکس) .

matador, n. ماتادور، سخوندر وژوونکی (غویانو په لوبه کی .)

match, n. اورلګیت، د اورلګیت خاشه، ګوګړ، تیلی، خلی .

match, n. انډول، ساری، ورته، سیال، جوړه، مسابقه، ودول، جوړه کول .

matchless, adj. بې ساری، بې جوړې

matchmaker, n.

matchlock, n. ماشه یې ټوپک .

mate, n. جوړه : (لکه د مېړه د پاره ښځه)، د مرغانو جوړه او نور د ماڅو مرستیال، د بېړۍ هغه افسر چه رتبه یې له کپتان نه کښته وي : ملګری، مل، مرستیال .

v.i. جوړه کېدل، یوځای کېدل، جوتېدل .

material, n. مواد، جنس

adj. مادي، جسمي، مهم

materially, adv. مادتاً .

materialism, n. ماتریالیزم، د مادي اصالت، مادي فلسفه، د مادیت عقیده. هغه عقیده چه ماده اصل بولي .

materialist, n. د مادي عقیدې خاوند، مادي .

materialistic, adj. مادي، مادي پرست .

materialize, v.t.i. شته کول، هست کول، رښتیا کول : صورت ورکول : شته کېدل، هست کېدل، رښتیا کېدل .

materialization, n.

maternal, adj. مورنی، د مورله خوا

maternity, n. مورلی : مورلی خوی یا صفت .

mathematics, n. ریاضیات، د ریاضي علوم .

mathematically, adv. د ریاضي له مخې .

mathematical, n. د ریاضي .

mathematician, n. د ریاضي عالم .

matinee, n. ترغرمې وروسته د ډرام یا فلم نمایش،

matins, n. سهارنۍ عبادت .

matriculate, v.t.i. په عالي او لوړ ښوونځي کښې شاملول، په لوړو تعلیماتو لګیا کول .

matriculation, n. په عالي ښوونځي کښې شاملونه : بکلوریا پاس .

matrimony, n. واده، کوژده .

matrimonial, adj. دواده .

matrix, n. ځاله : زیلانځه، رحم ، نس، د یوه شي د پیدا کیدو یا روزنې ځای.

matron, n. مېرمن ، مېړه و ښه ښځه ، د روزنتون ، روغتون یا بندیخانې مشره.

matronly, adj. د کور ښځې په ډول ، د مېرمنې په توګه .

matted, adj. اودلی : یا او بدل، وران او ویجاړ، ګډوډ .

matter, n. مواد : ماده : جوهر : اندازه، جسم ، موضوع ، خبره، پېښه، پوښتنه .

v.i. اهمیت لرل .

matter—of—fact, adj. رښتینی ، بې ټوکو، واقعی ، ساده ، بې خونده ، بې ذوقه، .

matting, n. بوریا، مزری، کېږی ، بوزی، د بوزی اودل او په بوزی پوښل

mattock, n. کښی ، مېتی ، دوه سره کلنګ .

mattress, n. نهالی، توشکه .

mature, adj. رسېدلی ، پوخ ، پوره ، ټاکلی وخت، بالغ ،

maturity, n. پوخوالی ، پوره والی ، رسېدنه، بلوغ .

maudlin, adj. احمق ، لوده ، غول ، شوده: نیم مست : د نری زړه خاوند .

Man, mall, n· دلرګو ډبی یا سټك

v.t. ډبول : ژبلول : ویجاړول .

maunder, v.i. په بې حالی سره پر لار تلل ، کاږی واږی ګرځېدل : ژوولی خبری کول .

mausoleum, n. پرمنا که مقبره، ښکلی مقبره .

mauve, n. روښانه ارغوانی رنګ .

mavis, n. یو ډول بلبله .

maw, n. د ځینو حیواناتو معده ، نس ، ګېډه : جاجوره (ججوری) ستونی .

mawkish, adj. نری زړه، نرم زړی ، ډېر احساساتی .

maxim, n. متل، د لویانو خبری، مقوله، پند، وجیزه .

maximum, n. اعظمی حد، وروستی حد، تر ټولو لوړټکی یا مقدار .

maximum, adj.

may, adv. نمایش ، امکان ، هیله، اجازه.

He may enter

He may inter,

May, n. د عیسوی کال پنځمه میاشت چه یو دېرش ورځې لری ·

maybe, adv. ښایی، البته ، ګوندی .

May Day, n. د مې لومړۍ ورځ چه عیسویان یې تجلیلوی او په سوسیالستی او نورو هیوادو کې د کارګرو ورځ تلقی کیږی·

May Day, aoj.

Mayflower, n. یو ډول ګل چه په پسرلی کې (د مې په میاشت کې) غوړیږی ·

mayhem, n. لاس او پښې پرېکوونه .

mayonnaise, n. چټکه، چکنی یا چاشنی چه پر سلاتې او ماهی باندې اچول کیږی·

mayor, n. ښاروال ·

mayoralty, n. ښاروالی .

Maypole, n. هغه منار یا ستون چه د بهار
په منځ کی ولاړ وی او د مې دوړمې
سپورټونه یې گرد چاپیره اجرا کیږی .

maze, n. کږې وږې لارې ، انځر پنځر
لارې ، کږې وږې لارې ، پیچومې ،
کږووږی .

mazy, adj.

me, pron, ما ته ، زه .

mead, n. ورشو ، چمن ، مرغیاڼه .

mead, n. یو څښاك چه د اوبو او شاتو
د تخمر څخه لاس ته راځی .

meadow, n. وښیاله ، چمن .

medowy, adj, د چمن

meager, adj. نری ، ډنگر : خوار ،
لغړ : مړژواندی : لږ .

meal, n. جواری ، د جوارو اوړه : اوړه
(بې غنمو د هرشی) .

mealy, adj. د اوړو .

meal, n. مړیه ، ډوډۍ ، خواړه ، خوراك .

mealtime, n. د خوراك وخت .

mean, v.t.i. معنا کول ، معنا ور کول :
معنا لرل : په زړه کی لرل ، قصد لرل :
خاص کرل : اهمیت لرل .

mean, adj. معمولی : ټیټ : بی ارزښته ،
سپك ټیټ : موذی ، خسیس ، عادی .

meanly, adv.

meanness, n.

mean, adj. منځنی : منځلی ، اوسط .

n. منځنی ټکی .

pl. اسباب ، وسیلې : سرچینې : پانگه
شته : (ریاضی) اوسط حد ، منځنی حد .

meander, n. کږلیچی : کوږ وږ ،
گرځنی .

meander, v.i. کوږ وږ ، کږېدل ،
کوږ و وږ تلل .

meaning, n. معنا ، مقصد ، هدف ، اهمیت .

meaningful, adj. له معنا ډك .

meaningless, adj. بی معنا ، چټی

meant, p.t. د mean ماضی او دریم حالت .

meantime, adv. په ترځ کی ، په عین حال
کی ، په ضمن کی .

n. وقفه (د دوو پیښو ترمنځ)

meanwhile, adv. & n. په عین حال کی ،
هماغه وخت : په ترځ کی .

measles, n. شری .

measure, n. میچ ، اندازه : پیمانه ، مقیاس
کچ کونه : اقدام : وسیله (چه د مقصد لاس
ته راوستلو د پاره وی) : قانونی لایحه ،
حد ، ټاپی ، درجه .

v.t. : تلل : اندازه کول ، حد ټاکل
کچ کول : پر تلل .

measurable, adj. د اندازه کولو وړ

measureless, adj. بېحده ، بې پایه ،
بې اندازې .

measurement, n. اندازه ، میچه .

meat, n. غوښه (خاص د خوراك) ، خواړه .

meaty, adj. غوښن .

Mecca, n. مکه شریفه .

mechanic, adj. د کسبگرو ، میخانیکی ،
کسبکار .

mechanical, adj. میخانیکی ، ماشینی ،
صنعتی ، هغه شیان چه په ماشینی ډول او
په خپله کار کوی .

mechanically, adv. په ماشینی ډول

mechanics, n.	د میخانیک هغه پوهه چه په اجسامو باندی د قوتو عمل څیړی، تخنیکی شرحه.
mechanism, n	ماشینی دستګاه، ماشینی پرزی، د پرزو ترتیب او د ماشین د کار ډول
mechanize, v.t.	ماشینی کول، د حیوانی طاقت پر ځای ماشینی طاقت درول.
mechanization, n.	ماشینی کول.
medal, n.	میډال، نښان (لکه د ستوری)
medallion, n.	لوی نښان، لوی میډان.
meddle, v.i.	بې ځایه لاس وهل (د بل په چارو کښی) ګوتی وهل
meddler, n.	لاس وهونکی مداخله کوونکی.
meddlesome, adj.	وسیلی، واسطی، شرایط.
media, pl.	د medium جمع
mediaeval, adj.	د منځنیو پیړیو.
medial, adj.	منځنی، اوسط.
median, adj.	منځ، منځنی، د منځ، منځنی معیار.
median, n.	
mediate, v.i.	منځګړی توب کول، روغه کول، جوړه کول.
mediation, n.	منځګړی توب، جوړه، روغه،
mediator, n.	منځګړی، جوړه راوستونکی.
medical, adj.	طبی.
medicament, n.	دارو درمل دوا
medicinal, adj.	ګټور (د طب له مخی) شفا بخښونکی درملګر درملی،
medicine, n.	طب طبابت دارو علاج
medieval, adj.	د منځنیو پیړیو (٥٠٠ ١٤٠٠ ع).
mediocre, adj	عادی، معمولی
mediocrity, n.	معمولیتوب، منځنی حالت
meditate, v.t.	پلان طرح کول، پلان جوړول، فکر کول، تامل کول.
meditation, n.	تفکر، تامل
meditative, adj.	تاملی.
medium, n.	منځنی حالت، منځنۍ درجه وسیله، وسط: چاپیریال: د ژوند شرایط: هغه سړی چه د مړو څخه احوال اخیستلای شی.
adj.	منځنی (حد، اندازه، حالت).
medley, n.	ګډوډ، رنګ رنګ، قوقه قوقه (لکه د ملنګانو ګنج او ګودړی).
meed, n.	بخشش، جایزه، انعام
meek, adj.	پوست، نرم خویه، عاجز خاکسار.
meekly, adv.	په نرمی، په عاجزی
meekness, n.	عاجزی، نرمی.
meet, v.t	مخامخ کېدل (سره)، برابرېدل لیدل، ملاقات کول نښتل، جنګ کول لګېدل: سره پېښېدل، تېرول: په ځای کول، تجربه کول.
v.i.	لګېدل، غونډېدل یو ځای کېدل مل کېدل.
n.	سره ورتلنه.
met	د meet, ماضی او دریم حالت.
meet, adj.	وړ، مناسب.
meeting, n.	تن په تن جنګ: غونډه مجلس، پیوند، تلاقی.
megaphone, n.	د بږغ جګولو اله، لکه لوډ سپیکر.

melancholy, n. مالیخولیا، خپګان، وسواس، سودا

melancholy, adj. وسواسي، سودايي.

melee, n. اخ او ډب، شخړه

mellifluous, adj. خوږ، روان، بهانده، فصیح، سلیس.

mellow, adj. پوخ، رسیدلی: نرم، پسته (لکه مڼکه)، روڼ، روښانه، خالص، پوب (لکه رنګ یا ږغ).

v.t.i. پخول: پخېدل، رسېدل: رسول خالصول.

mellowness, n.

melodious, adj. خوږ، ښکلی (اواز)، سور لرونکی.

melodrama احساساتي یا رومانتیک ډرام چه په خوشالۍ سره پای ته ورسېږي.

melodramatic, adj.

melody, n. خوږه نغمه، غاړه (لکه تیرايي)، اهنګ.

melodic, adj.

melon, n. خټکی.

melt, v.t.i. ویلی کېدل، اوبه کېدل، پستېدل، رنګېدل: ویلی کېدل، اوبه کول، پستول، ړنګول.

member, n. غړی، اندام، عضو.

membership, n. غړیتوب، عضویت.

membrane, n. پرده، غشا

membranous, adj. د پردې، غشايي

memento, n. یادګار، د یادونې نښه.

memoir, n. (د جمعې په حالت کې) یادداښتونه، خاطرې.

memborable, adj د یادونې وړ، د یادلونی وړ.

memorandum, n. یادداشت.

memorial, یادګار، د یادونې نښه یا ځلی.

memorialize v.t د یادګار په ډول ساتل.

memorize, v.t. په یادول، حفظ کول.

memory, n. حافظه: یادونه، یادګیرنه، یاد، خاطره.

men, pl د man جمع سړي، وګړي، خلک.

menace, n. وېره، ډار، خطره.

menagerie, n. د ژوو د ننداري ځای، د ټیول شویو ژویو ډله، یوه ډله ژوي چه په کېس کې اچول شوي وي.

mend, v.t رغول، افو کول، ترمیمول: پیوندول، اصلاح کول.

mender, n. جوړوونکی.

mendacious, adj. درواغجن، د دروغو، غلط.

mendacity, n. دروغ، غلطي، درواغجني.

mendicant, adj. درویزګر، ګدا، سوالګر.

menial, adj. ټیټ، خوار (لکه کار یا کالي): د مزدورانو، د خوارې کښو.

n. مزدور.

meningitis, n. د مغزو د پردې د پاړسوب، ناروغي.

men—of — war, n. pl. جنګي بېړۍ

mensuration. n میچ اندازه کول

mental, adj. ذهني ، دماغي ، فکري : کم فکره ، بې فکره .

mentality, n. ذهنيت ، فکري استعداد

menthol, n. منتول (د نعناع جوهر) ، يو د درد کراروونکی دوا چه له ويلني څخه لاس ته راځي او په روماتزم او والګۍ کې کار ځني اخيستل کيږي .

mention, v.t. ذکر کول ، اشاره ورته کول ، يادول ، را برسيره کول ، په ګوته کول .

n. يادونه ، په خوله راوړنه .

mentor, n. سلاګر ، ناصح ، پند ورکوونکی ، مصلح ، مشاور (هوښيار او وفادار) .

menu, n. دخوړاکي شيانو لست (لکه په هوټل کې) .

mephitic, adj. بدوزمه ، بدبويه .

mercantile, adj تجارتي ، دسوداګرۍ ،

mercenary, adj د پيسو ، د پيسو ، مزدور اجير ، کرايي .

n. په پيسو نيول شوی عسکر .

mercer, n. اهار ورکول ، بات ورکول

mercerize, v.t. د ټوکرو تاجر ، بزاز

merchandise, n. د تجارت مال .

merchant, n. سوداګر ، تاجر : دکاندار

merchantable, adj. دسوداوړ ، دبازار وړ ، دخرڅلاو وړ .

merchantman, n. تجارتي بېړۍ .

mercurial, adj. خوځند ، په حرکت کښې ، بدليدونکی .

mercury, n. پاره ، سيماب .

Mercury, n. عطارد .

mercy, n. زړه سوی ، رحم : مهرباني .

merciful, adj. زړه سواند .

mercifully, adv. په زړه سوي

merciless, adj. بې رحمه ، شول

mercilessly, adv. په بې رحمي

mere, adj. مازې (محض) ، فقط .

merely, adv. مازې ، دومره چه ، فقط

meretricious, adj. غولوونکی ، تيرايستونکی ، ځلاند (ظاهراً)

merge, v.t. & i. ضم کېدل ، ګډېدل يوځای کېدل : ګډول ، يوځای کول ډوبېدل (لکه په اوبو کې) .

merger, n. يوځای کېدنه ، ګډېدنه اتحاديه (تجارتي)

meridian, n. لوړه څوکه ، سر ، د نصف النهار ليکه ، هغه فرضي ليکې چه شمالاً او جنوباً تر مځکې راګرځيدلې دي .

meridian, adj.

merino, n. يو ډول پسه چه نرمې وړۍ لري (ماريڼوس) نرم وړين ټوکر ياسني

merit, n. وړوالی ، استحقاق : مزيت ارزښت : غوره کار ، دستاينې وړ کار

v.t. وړ کېدل ، وړ ګرځېدل ، استحقاق موندل .

meritorious, adj. وړ ، غوره ، دستاينې وړ ، ممتاز .

mermaid, n. (خيالي) بحري ښځه چه تر نامه لاندې ماهي وي .

merman, n. بحري سړی چه تر نامه لاندې ماهي دی .

merry, adj. خوښ ، خوشاله ، بختور
خوشالی او خندا .

merrily, adv. په خوښۍ .

merriment, n. خوشالی .

merrymaker, n. خوشالی راوستونکی

merrymaking, adj. & n. خوشالی
جوړونه ، عیش وعشرت .

merry—go—round, n. څرخنده زانگو
چه په میلو کښې کوچنیان پرې زانگیږي :
څرخ، هرڅر خنده شي .

mesa, n. نیغه غونډۍ چه سر یې اواروي

mesdames, n. pl. د madam جمع ، میرمنې

mesdemoiselles, n. pl. د Mademoilselle
جمع ، پیغلې.

mesh, n. سوري (د جال) ، جال ، جالۍ

v.t. په جال کې اچول .

v.i. په جال کې لوېدل، سره جار و تل

mesmerize, v.t. & i. تر دم لاندې کول ،
او ده کول، را کښل ، هك پك كول
ویده کول (په مصنوعی خوب): کوډې کول

mesmeric, adj. داودي ، ددم .

mesmerism, n. د دم لاندې راوستلو
فن ، کوډې ، میسمیریزم .

mesquite, n. دمکسیکو او اتازونې یو
ډول اغزن بوټی .

mess, n. خواړه شومه ، پېښه ، دخوراك
انډیوالان : انډیوالی (په خوراك کی)
گډوډی،

v.t. وراندوراني .

v.i. خواړه برابرول، خواړه ورکول ،
گډوډول ، انډیوال کېدل (په خوراك کی)

messmate, n. انډیوال ، شریك
(په خوراك کی) .

messy, adj.

message, n. خبر، پیغام. زیری ، رسالت .

messeigneurs, n. pl. د monseigneur, جمع
زما جنابانو ، جلالت مابانو : د(مسیو) =
ښاغلی جمع .

messenger, n. استازی ، پیغام وړونکی :
پیاده ، زری .

Messiah, n. مسیحا، مسیح .

Messianic, adj. مسیحی .

messieurs, n. pl. د monsieur, جمع ،
ښاغلو، د مسیو جمع .

mestizo, n. نیم چه، ارجل (په نژاد کی)

met, د meet ماضی او دریم حالت

metabolism, n. میتابلزم : په حیواناتو
او نباتاتو کی د غذا بدلون په نویو حجرو ،
انرژی او فاضله مواد .

metabolict, adj.

metal, n. فلز ، مواد ، ماده : ژغل یا جغل

metallic, adj. فلزی .

metalliferous, adj. دفلزاو مه مواد .

metalloid, adj. & n. شبه فلز ، فلزوزمه

metallurgy, n. دفلزاتو علم ، دفلزاتو را
ایستنه او استعمال یې .

metallurgical, adj. دفلزرا ایستنې .

metallurgist, n. فلزرا ایستونکی ،
دفلز جوړونی عالم .

metamorphosis, n. استحاله ، دخواصو
څیري او شرایطو بدلون .

metamorphose, v.t.

metaphor, n. استعاره، دالفاظو مجازی
استعمال .

metaphorical, adj. د استعارې، مجازي

metaphysics, n. د ما وراء الطبيعه، ميتافزيك.

metaphysical, adj. ماوراء الطبيعي

metaphysician, n. د ماوراء الطبيعه عالم.

mete, v.t.n. مېچول، اندازه کول، کچ کول: ټاکل، برېده.

meteor, n. اسماني کاڼی، لوېدونکی ستوری.

meteoric, adj. د شهاب، شهابي، د اسماني کاڼي: ځلانده او چټک (د شهاب په شان)

meteorite, n. شهاب ثاقب، اسماني کاڼی: ياغونډاري چه له خارجي فضا نه ځمکې ته را لوېږي.

mteonology, n. متر لوجي، هغه علم چه د جوي اوضاعو (هوا) بدلون او څرګندوالي څخه بحث کوي.

metroeorological, adj. د متر لوجي علم ته منسوب.

meteorologist, n. د متر لوجي عالم

meter, n. وزن (په شعر او موسيقي کې) د ميټريک سيستم د اندازې واحد چه (۳۷-۳۹) انچه کېږي.

meter, n. ميټر (هغه آله چه د شيانو اندازه ښيي لکه د برق او پټرول ميټر).

methane, n. ميتين (يو ډول طبيعي ګاز دی چه د کاربن او هايدروجن څخه ترکيب شوی دی) د هايدرو کاربنو د کورنۍ لومړی ګاز

method, n. طرز، قاعده، نظم، ترتيب لار، طريقه.

methodical, adj. د طريقې، د علمي طريقې په اساس.

methodically, adv. په نظم او طريقه برابر.

Methodist, n. د عيسوي دين يوه څانګه چه په ۱۷۲۹ - کې د جان او چارلز ويسلي له خوا مېنځ ته راغله.

Methodist, adj. ور اوښتونکی.

Methodism, n.

meticulous, adj. ډېر يا تر حده زيات احتياط کاره (د جزئياتو په مورد کې)، وسواسي.

metric, adj د ميټر، ميټر ته منسوب، د ميټر سيستم، هغه سيستم چه اعشاريه پکښې پکار يږي، اعشاري سيستم: وزني (په شعر او موسيقي کښې کې)

metric system, n. ميټريک سيستم

metrical, adj. اعشاري، ميټري.

metropolis, n. د يوه ولايت، مملکت يا يوې منطقې لوی ښار، لوی ښار (پايتخت).

metropolitan, adj. د پايتخت: د پايتخت اوسېدونکی يا د لوی ښار اوسېدونکی: سر اسقف.

mettle, n. جرأت، زړه ورتوب، غيرت، مېړانه: خټه، ذات، فطرت

mew, n د بازانو ساتلو پنجره: د جمعې په حالت کې څو جلو نه.

v.i. په کپس کې اچول: په کښې لوېدل.

Mexican, adj. مکسیکی ، د مکسیکو ، د مکسیکو اوسیدونکی .

mica, n. کانی ښیښه ، ابرك .

mice, مږکان ، د (mouse,) جمع

Michaelmas, n. د میکائیل اختر چه د سپټامبر په ۲۹ دی .

microbe, n میکروب ، هغه ډېر واړه ژوندی موجودات (حیوانات او نباتات) چه په سترگو نه لیدل کېږی لکه ، باکتریا چه یو ډول میکروب دی .

microcosm, n. وړوکی دنیا : انسان چه د پخوانیو فیلسوفانو په عقیده د کائناتو مظهر گڼل کېده : ټولنه ، ښار او مؤسسه چه د نړی د کوچنی مظهر په حیث پېژندل کېږی .

micrometer, n. د وړو شیانو او مسافو د اندازې اله .

microorganism, n. وړوکی عضویت په تیره بکتریا .

microphone, n. ږغ لوړونکی ، میکروفون

microscope, n. میکروسکوپ ، ووړلید (ذره بین) .

microscopic, adj. ذره بینی ، هغه څه چه یوازی په میکروسکوپ سره لیدل کېدای شی ، میکروسکوپی .

microscopical, adj. میکروسکوپی

mid, adj. مینځ ، وسط .

midday, adj. غرمه ، څاښت ، بر ابحر

middle, adj. منځنی ، منځوی ، منځ : برابر : ملا .

middleman, n. منځگړی ، دلال .

middling, adj. برابر (نه ټیټ نه لوړ) : عادی ، مامولی (معمولی) .

middy, n. د بحری چارو زده کوونکی : یوارت بلوز (بالاتنه) چه ښځی او کوچنیان یې اغوندی او پراخ کالر (غاړه) لری .

midge, n. میچ : لوېشتکی (سړی)

midget, n. لوېشتکی : لنډی .

midland, n. د یوه هیواد منځنی برخه چه د سرحد او سیند څخه لیری وی .

midmost, adj. په سم منځ کی ، په وچ منځ کی

midnight, n. نیمه شپه (د شپی ۱۲ بجی)

midriff, n. پړ ین ، حجاب حاجز ، هغه پرده چه د نس او کوگل په منځ کی ده .

midshipman, n. د بحری افسری زده - کوونکی .

midst, n. منځ ، منځنی برخه : منځنی ټکی

prep په منځ کی .

midsummer, n. اهاړ ، د دوبی منځ ، پشه کال .

midway, adj, & adv په منځ کی ، نیمایی ، سم نیمایی ، په نیمایی .

midwife, n. دایی ، قابله .

midwifery, n. دایيتوب ، قابلگی

midwinter, n. لویه چله ، د ژمی منځ ، سپېره کی چله ، وړه چله .

mien, n . بڼه ، څېره : سلوك ، کړه وړه .

might, د may ماضی

He might have come شاید چه هغه به راغلی وی .

might, n.. وس ، توان ، زور ، قدرت

mighty, adj. زورور ، پیاوړی .

mightily, adv. په زور، په پیاوړتوب په غښتلتوب .

mignonette, n. یو ډول بوټی چه خوشبو یه پیکه زرغونه ګلان لري .

migraine, n. یو ډیر شدید درد چه عموماً د سر په یوه خواوي، نیم سري .

migrant, adj. n. کوچی، لیږدېدونکی، مهاجر (ژوی یا بوټی)

migrate, v.i. امېښل، لیږدېدل، مهاجرت کول، کوچېدل، کډه کېدل .

migration, n. لیږد، کوچ، مهاجرت

migratory, adj. لیږدېدونکی، کوچی، مهاجر .

mikado, n. دجاپان دامپراتور لقب چه خارجیان یې ورته استعمالوي .

milch, adj. پیور، پۍ ورکونکی، شېدهور

mild, adj. ملایم، حلیم، معتدل، پوست نرم .

mildly, adv. په نرمه، په پسته .

mildness, adj. نرمي، پوستوالی

mildew, n. v.t.i یو ډول فنجی چه په مرطوبو شیانو پیدا کیږي : دنباتاتو یو ډول ناروغي ده چه په عضوي موادو باندې دفنجي په واسطه پیدا کیږي : په دې مرض اخته کېدل .

mile, n. میل چه ۱۷٦۰ - یارډه یا (۱٦۰۹،۳) متره کیږي.

mileage, n. واټن (دمیل په حساب) ګړندی توب (په ساعت کې د میل په حساب) : پایښت (دمیل په حساب دموټر او ټایر) : په یوه ګیلن تیلو باندې د یوه موټر دمسافې وهلو اوسط اندازه .

milestone, n. پړاو، څلی، نښه چه یو واټن دمیل په حساب ویشي : مهمه پېښه .

militant, adj جنګیالی، بریدکوونکی، تېری کوونکی : مبارز .

militarism, n. دجنګی سیاست طرفداري، جنګی سیاست، دتیري سیاست، دتعرض سیاست .

militarist, n. د جنګی سیاست پرخوا، جنګی سیاست چلوونکی .

miltaristic, adj. دتیري د سیاست .

military, adj. لښکري، نظامي، عسکري

n. لښکر، اردو .

militate, v.i. اغېزه لرل، اثر لرل، د عسکر په حیث خدمت کول .

militia, n. هغه وطنوال چه د منظمو عسکرو په شان روزل کیږي خو یوازې په اضطراري حالت کې خدمت ته رابلل کیږي .

militiaman, n. ملیشایی .

milk, n. v.t. شیدې، پۍ، شیره : لوشل، لویشل .

milkmaid, n. لوشونکې ښځه .

milkman, n. شیدې خرخوونکی

milk—white, شید وو زمه، شیدې رنګه، لکه شیدې داسې سپین .

milky, adj. د شیدو، د پیو : پیه ور

milksop, n. ښځنوکی : په شیدو کې خیشته ډوډۍ .

milkweed, n. خمزوري، خمور زوره، ښېپیا نګه .

mill, n. دسنځ اسمه برخه .

mill, n. ژرنده، شرخ، میچن، ماشین چه د میده کولو، ټاپه کولو او نغښتلو او نورو کارو د پاره استعمالیږي، کارخانه.

v.t.i. دل کول، اوړل، ژرنده گرځول (بر)، تر ماشین لاندې کول: چورلېدل، شرخېدل.

miller, n. ژرنده گری.

millennium, n. زرکاله، په تېره هغه زرکاله چه په انجیل کې یې د خوشالۍ زیری راغلی دی: د نیکمرغۍ دوره، هغه دوره چه خوشالي او عدالت پکښې وي، طلایي عصر.

millet, n. ږدن، دږد او بوټی

millimeter, n. ملي میټر، د متر زرمه برخه.

milliner, n. د ښځو خولۍ خرڅوونکی او گنډونکی.

millinery, n. د ښځینه خولیو پلورنځی، د ښځینه سامانو پلورنځی.

million, n. ملیون (۱ر۰۰۰ر۰۰۰)

millionth, n. ملیونمه برخه.

millionaire, n. ملیونر، هغه څوک چه یو ملیون یا په ملیونو روپۍ ولري.

millstone, n. د ژرندی پل.

mime, n(سړی) پېښې کوونکی، مسخره

mimic,n پېښې کوونکی، خندوونکی، مسخره، مچله.

mimicry, n. تقلید، پېښې

mimosa, n. د گرمو (پښتوالی) سیمو یوه ونه چه سپین ژړ او گلابي گلان لري.

minaret, مناره په تېره د جومات.

mince, v.t. ورول، میده کول، ټوټه کول: په ژوبلي لهجه ویل، په نخرو ادا کول، په خیال تلل.

mincemeat, n. کوټلي غوښه، ټکېدلی غوښه، په تېره چه نور شیان لکه مڼې او مېوز ور سره گډوي.

mince pie, n. سمبوسه.

mind, n. دماغ: حافظه، فکر، عقل، پام، هوښ، اداره، میل، ذوق.

v.t. یادول، پام کول (ته): په فکر کې ساتل، یاد لرل، پروا لرل: چورت خرابول، رای وهل: بوختېدل، په نظر کې لرل: پام کول (باندې څرل، پاملرنه کول).

mindless, adj. بې فکره. بې مغزه.

mindful, aqj. متوجه، پام لروونکی

mine, pron, زما، د ما، لکه:

That pen ismine, هغه قلم زما دی.

mine, n. کان (لغم) له چاودونکو موادو ډک شوی نغم یا تونل، د چاودونکو موادو کڅوړه چه تر اوبو لاندې کښېښودل کیږي او د دښمن بېړۍ پرې ډوبوي.

v.t. کان کیندل: چاودونکي مواد ښخول.

miner, n. د کان کارگر.

mining, n. کان کیندنه: کان را ایستنه، استخراج.

mineral, n. معدني مواد، کاني مواد، طبیعي مواد: معدني اوبه.

adj.	کانی، معدنی .
mineralogy, n.	کان پوهنه، د کان پېژندنې علم .
mineralogist, n..	کان پېژندونکی
minera water,	کانی اوبه، هغه اوبه چه معدنی مالګې ولري .
mingle, v.ti.	ګډول، ګډېدل : یوځای کېدل : یوځای کول .
miniature, n.	میناتور، نقاشي، وړوکی انځور، هغه نقاشي چه واړه واړه انځورونه ولري .
miniature, adj.	وړوکی، وړ .
minimize, v.t.	لږول، کمول، وړول، کوچنی کول .
minimum, n.	خورا لږ، بېخي وړ، تر تر ټولو لږ، اقل حد، اصغری حد .
minimum, adj	. اصغري، اقل، بېخي لږ
minion, n. :	ملګری، انډیوال : شاتر خاص ناظر .
minister, n.	عیسوي ملا : وزیر : مختار وزیر، استاځی .
v.i.	په غاړه اخیستل، چلول، اداره کول .
ministerial, adj.	د وزیرانو په سویه، د وزارت .
ministrant, n. & adj.	
ministration, n.	
ministry, n.	وزارت، وزارتخانه ؛ د کشیشانو ډله : کابینه : مرسته .
mink, n.	سګ لاهو : د سګ لاهو پوستکی داو پوستی .
minnow, n.	یو ډول وړوکی کب .
minor, adj.	جزئي نابالغ (قانوني عمر ته نه وي رسېدلی)، لږ (په مقدار کې) : ټیټ (په رتبه او اهمیت کې) : (موسیقي) تر major, نیمه پرده ټیټ .
n.	ټیټ رتبه سړی، معمولي سړی .
minority, n.	لږوالی، کموالی، لږه کې، اقلیت .
minster, n.	لویه کلیسا : راهبانو پورې تړلې کلیسا : هغه عیسوي کلیساچه یو وخت په صومعه پورې مربوطه وه .
minstrel, n.	سازنده : شاعر، سندرغاړی په تېره بیا په منځنیو پېړیو کې مطرب
minstrelsy, n.	د دغو خلکو هنر یا ډله
mint, n.	ویلنی، هر بوټی چه د ویلنی غوندې پخ خوند لري ،
mint, v.t.	سکه وهل، د پیسو جوړولو ځای (ضرابخانه)، د سکې وهلو ځای : کوټه، ډلې : زیاته اندازه .
mintage, n.	سکه وهنه، ضرب، د پیسو جوړونه .
minuend, n.	مفروق منه .
minuet, n.	د اتلسمې پېړۍ یو ډول ورو او د نخرو ډکه نڅا .
minus, prep.	لږ : منفي : بې له، پرته له .
minute, n.	شېبه، دقیقه، د جمعې په حالت کې د یوې غونډې د اجراآتو رسمي ثبتونه، د مجلس یادداښت : پروتو کول .
minute, adj	: وړ، وړوکی، بې ارزښته : جزئي : دقیق : ځیر .
minutely, adv.	په ځیر، په پاملرنه .
minuteness, n.	وړوالی، ځیر کتنه، دقت .
minutia, n.	جزئي ټکی .

minutia, n, pl. جزئیات ، غیر مهم تفصیلات .

minx, n. بې ادبه نجلۍ ، بې باکه نجلۍ

miracle, n. خارق العاده ، عجیبه پېښه ، اریانوونکې پېښه .

miraculous, adj. معجزه ډوله ، اریانوونکی ، خارق العاده .

miraculously, adv. په اریانوونکې توګه ، د معجزې په ډول .

mirage, n. سراب

mire, ژورې پستې خټې ، چکړې .

v.t.i. په خټو کې ښښتل ، په چکړ کې ډوبېدل ، په خټو کې مښل

miry, adj. خټین ، چکړن .

mirror, هنداره .

v.t. ښکاره کول ، منعکسول ، ښودل .

mirth, n. خوښی ، خوشالی ، مسته خندا .

mirthful, adj. خندان ، له خندا ډک

misadventure, n. بد مرغی ، ناوړه پېښه ، تصادفی وژنه .

misanthrope, n. بشر ته بد بین ، هغه څوک چه د بشر څخه کرکه کوی.

misanthropist, n. هغه څوک چه انسان بې بدا یسی .

misanthropic, adj. د انسانانو د بد ایسیدنی ، د کرکې .

misanthropy, n. د انسانانو څخه کرکه .

misapply, v.t. ناوړه استعمالول ، بې ځایه استعمالول ، بې ځایه لګول ، د غلط مقصد دپاره استعمالول .

misapprehend, v.t. ناوړه تعبیر کول ، بې ځایه حکم کول ، غلط پوهېدل .

misapprehension, n. خطا وتنه . غلط فهمی .

misbehave, v.t. ناوړه چلاو (چلند) کول بدسلوکي کول ، بدوضع کول .

misbehavior, n. بدسلوک ، بې ځایه رویه .

misbelieve, v.i غلطه عقیده کول ، په غلطه تلل ، په خرافاتو ګرو هېدل .

misbeliever, n. خرافاتی ، بې عقیدې بدعقیده ، بې دینه .

miscalculate, v.t غلط شمېرل ، په شمېر کې تېروتل ، غلطاټکلول .

miscalculation, n غلطه شمېر ، غلطاټکل ، خطاوتنه .

miscall, v.t. په غلط نامه بلل ، په بدیا غلط نوم یادول ، ښکنځل

miscarry, v.i. بې نتیجې پاته کېدل ، ناکامه کېدل : نخسااول (د اولاد) تر ټاکلی وخت د مخه زېږېدل یا منع ته را تلل .

miscellaneous, adj. راز راز ، ګډ ، ګډ ، متفرقه ، ارجل ، ګډ وډ .

miscellany, n د راز راز شیانو یا لیکنو مجموعه ، ګډوله .

mischance, n. بدمرغ ، بدچانس ، بد پېښه .

mischief, n. ځور ، ربړ ، ناوران ، ضرر تکلیف ، شیطانی ، شوخی .

mischief—maker, n. شوخ ، شیطان ، مفتن .

mischievous, adj. شیطان ، فتنه گر شوخ .

mischievously, adv. په شیطانی ، په شوخی .

misconceive, v.t.i. غلط پوهیدل ، غلطېدل تېروتل ، خطا وتل .

misconception, n. غلطه انګیرنه غلطه ګڼنه ، خطا ، غلط ادراک .

misconduct, n. بده رویه ، بدچلاو (چلند) بدسلوک : بداخلاق ، ناوړه عمل

misconstrue, v.t غلط تعبیر ول ، غلط پوهېدل ، غلطه معنا اخیستل .

misconstruction, n غلط تعبیر ، غلط تعبیر .

miscreant, adj. بد عمله .

misdeed, n. بد عمل ، ناوړه چاره ، ګناه : جرم ، ناوړه عمل .

misdemeanor, n. بد سلوک ، (حق) جنحه ، وړوکی جرم .

misdirect, v.t غلطه لار ورته ښودل ، په غلطه لار بیول ، بې لارې کول ، دلارې ایستل

miser, n خسیس : دځا کیندنی برمه .

miserable, adj. خوار ، ننلی ، اسکېرلی کړکېچن ، د کړکې وړ ، بې وزلی ، خوار سړی .

misery, n. خواری ، بدمرغی ، تیستی .

misfit, n نابرابر (لکه کالی چه د سړی په ځان جوړنه وی)

misfit, v.t.i نه برابرېدل ، نه جوړېدل نه برابرول ، نه جوړول .

misfortune, n بدمرغی ، بد بختی ، کمبختی ناوړه طالع ، ناوړه پېښه .

misgiving, n. اندېښنه ، شکمنتوب ، شکمنی اشتباه : ډار .

misgovern, v.t. ناوړه حکومت کول ، په غلط ډول اداره کول .

misgovernment, n. بدحکومت ، بده اداره ، بې نظمی .

misguidance, n. غلطه لارښوونه .

misguide, v.t. بې لارې کول ، دلارې ایستل : غلطه لارښوونه کول .

mishap, n. بده پېښه ، بد مرغی .

misinform, v.t.i. غلطه خبر ول ، غلط خبر ور کول .

misinformation, n. غلطه خبر ، غلط معلومات ، غلط ویل .

misinterpret, v.t. غلط تعبیر ول ، غلطه معنا اخیستل ، په بله بڼه څرګندول .

misjudge, v.t. غلط قضاوت کول ، غلطه پرېکړه کول ، بې ځایه حکم کول .

mislay, v.t. په غلط ځای کی ایښودل ، بې ځایه ایښودل : ورک کول .

mislead, v.t بې لارې کول ، پل غلطول ، تېر ایستل .

misleading adj. تېر ایستونکی ، له لارې ایستونکی ، غولوونکی .

mislike, v.t. کرکه کول ، نه خوښول ، بد ایسېدل .

v.i. بدوړل ، بدرا تلل .

mismanage, v.t. په ناوړه توګه اداره کول ، بې پروایی کول .

mismanagement, n. بې پروایی ، بده اداره .

misname, v.t. په غلط نامه یادول ، په بد نامه بلل ، په سپکه نامه یادول.

misnomer, n. غلط نوم ، بد نوم .

misplace, v.t. په غلط ځای کې اېښودل ، بې ځایه اېښودل .

mispronounce, v.t. غلط ویل ، غلط ادا کول ، غلط تلفظ کول .

mispronunciation, n. غلط تلفظ

misquote, v.t. غلط نقلول (وینا یا لیکنه) ، بې ځایه راوړل (د چا قول) .

misread, v.t. غلط لوستل : غلط پوهېدل ، غلط تعبیرول .

misrepresent, v.t. په غلطه توګه نمایندګي کول ، غلط تعبیرول ، غلط ښودل ، په ناوړه بڼه ښودل.

misrepresentation, n غلطه ښودنه ، په ناوړه بڼه څرګندونه ، غلطه نمایندګي.

misrule, v.t. ناوړه اداره کول ، ناوړه حکومت کول .

misrule, n. ناوړه اداره ، ناوړه حکمراني ، بې نظمي .

Miss, n. پېغله ، د نامېړو ښځې لقب .

miss, v.t.i. نه پوهېدل ، نه رسېدل ، ناکامه کېدل ، د لاسه ورکول ، ځان ځنې ګوښه کول ، خطا کول : خطا کېدل : یادول یا دېدل : ووبه لرل : تلوسه لرل .

n. خطا کېدنه : خطا : پاتې کېدنه : ووبه لرنه .

missal, n. (عیسوي) هغه کتاب چه د ټول کال خطبې او مذهبي وینا وې پکښې وي .

misshape, v.t. بد شکله کول ، بڼه ورخراپول ، لنډ او پوچ کول .

missile, adj. ویشتل کېدونکې : ګولۍ

missing, adj. ورک ، له لاسه وتلی .

mission, n. د استازو ډله ، هیأت : د مبلغینو ډله (په تېره مذهبي) رسالت ، دنده (په تېره تبلیغي) .

missionary, n مذهبي مبلغان ، د مذهبي مبلغانو ډله .

adj. تبلیغي ، مذهبي .

missive, n.. لیک ، مکتوب ، یادداښت

misspell, vi.t. په غلطه املا لیکل ، غلط کښل

misstate, v.t. غلط بیانول ، غلط څرګندول ، غلط تشریح کول

misstatement, n. غلطه وینا ، غلطه بیانیه .

misstep, v.t. غلط ګام ، خطا قدم : بې ځایه قوپ ، ښویېدنه ، تېروتنه .

mist, n. لړه ، خوپ ، دوب ، بخار : نری باران (پشمک) .

mistake, v.t.n. سهو کول ، غلطي کول ، خطا وتل .

n. خطا ، سهوه ، غلطي .

mistaken, adj. . خطا وتلی ، غلط شوی

mistakenly, adv. . په خطا ، په غلطي

Mister, n. ښاغلی .

mistletoe, n. یو ډول بوټی دی چه سپین نی دانې کوي او په طفیلي ډول پر ټاکلو ونو باندې راشین کېږي .

mistook, د mistake ماضي .

mistreat, v.t. بدرویه کول ، ترټل .

mistress, n. مېرمن : معشوقه ، هغه ښځه چه خلک یې د معاشقې لپاره ساتي : ښوونکې Mistress مېرمن چه د Mrs. په شکل لیکل کېږي

mistrial, n. (حق) بې نتیجې محاکمه، دغه محاکمه چه سهو پکښې شوې وي .

mistrust, v.t.i. اعتماد نه په کول، ویسا نه کول، چاته نه پراړل .

n. بې اعتباري، نا باوري .

mistrustful, adj. بې اعتباره، بدگمانه .

misty, adj. تت، خړ، پېکه .

misunderstand, v.t. غلط پوهېدل، غلط تعبیرول .

misunderstanding, n. غلط فهمي: سوء تفاهم .

misuse, v.t. n. غلط استعمالول، ناوړه په کار وړل، ناوړه استفاده کول، ناوړه استفاده .

mite, n. د غڼې د کورنۍ کوچنی حشره چه طفیلي ژوند لري: سپږه: وړه سکه، لږې پیسې: ذره (اصط) .

miter, n. د عیسوي ملایانو خولۍ چه مخروطي بڼه لري: په ترکاڼۍ کښې هغه گوټ چه د دوو لرگو یوځای کولو څخه پیدا کیږي .

mitigate, v.t. لږول (اغیزه)، نری کول، پستول .

mitigation, n. لږونه، پستونه .

mitten, n. لاس ماغو (هغه چه گوتو ته د گوتو په شان ځای ونه لري) .

mix . گډول، یوځای کول، سره اخښل

mixer, n.

mixture, n. گډوله، مخلوط، گډ کالی، گډ توکر (لکه د وړیو او وریښمو) .

mizzen, n. وروستنی بادوان، په درې ستنې وال بېړۍ کې وروستنی بادوان .

moan, n. زگیروی .

v.i. زگیروی کول .

moat, n. منډ، خندق (چه د مدافعې لپاره له کلا را گرځول کیږي) .

mob, n. پارېدلې ډله: عوام: جنایتکاران .

v.t. په ډله ور تلل، هجوم وروړل .

mobile, adj. خوځنده، گرځنده، ښورنده، ژر بدلېدونکی .

mobility, n. خوځېدنه، فعالیت .

mobilize, v.t. چمتو کول: برابرول، سمبالول (په تېره په پوځي چارو کې) .

mobilization, n. سمبالونه، تیارونه، برابرونه .

moccasin, n. سوگلی، چموشی، د امریکایي هندیانو چاروغې: یو ډول زهرلرونکی منگور .

mock, v.t. ملنډې وهل، مسخره کول: پېښې کول،

adj. کلپ (قلب)، بدل، د دروغو

mocker, n. ملنډې وهونکی، مسخره .

mockery, n. ملنډې، مسخرې .

mockingbird, n. قبغکه، کله‌خورکه، قیغلك .

mode, n. دود، دستور، طریقه، سبك، موډ، باب، رواج .

model, n. نمونه، موډل، کاپي: سر مشق: ورته (مشابه): جوړښت، رغښت: هغه سړی یا ښځه چه نقاش یې له مخې څېره کاږي، نمونه یې .

moderate, adj. n. برابر، نرم، معتدل: اعتدال خوښوونکی سړی (په تېره په سیاسي چارو کې) .

moderately, adv.	په نرمه او معتدله لهجه یا توګه .
moderate, v.t.i.	معتدلول ، برابرول : د مباحثې ریاست په غاړه اخیستل : معتدل کېدل .
moderation, n.	اعتدال .
moderator, n.	کنټرولوونکی مشر (دغونډې) .
modern, adj.	اوسنی ، نني معاصر ، نوی
modernize, v.t.i.	عصري کول : عصري کېدل
modest, adj.	حیاناك ، شرمندوکی ، محجوب : معتدل ، نرم ، متواضع ، برابر (نه ډېر نه لږ) .
modestly, adv	په نرمۍ ، په تواضع
modesty, n.	نرمي ، تواضع ، حیا .
modicum, n.	لږ کوټی ، لږکی ، لږشان ، لږ
modify, v.t.	بدلول ، بدلون راوستل سمون راوستل (ګر) محدودول ، حد ټاکل
modification, n	بدلون ، سمون ، تعدیل .
modish, adj.	فیشني ، عصري ، ددود او رواج سره سم .
modiste, n.	کالي ګنډونکی ، درزي ، خیاط .
modulate, v.t.i.	برابرول ، عیارول : غاړه یا لهجه بدلول ، د غږ او آهنګ برابرول .
modulation, n.	عیاروونه ، برابروونه .
mohair, n.	دا تګورا په نامه د یو ډول وزې ویښتان (وړغونی) د دې ډول ویښتانو څخه جوړ شوی ټوکر .
Mohammedan, n.	مسلمان
Monhammedanism, n	اسلام ، د محمد دین
moiety, n.	نیم ، نیمایی : ټوټه : برخه
moist, adj.	لمجن ، لوند ، مرطوب .
moisten, v.t.	لندول ، لمجنول .
moisture, n.	لندبل . رطوبت ، نم (نو)
molar, adj.	دژامې دغاښو . دژامې غاښ (طواحن) .
molasses, n.	ګوړه .
mold, n.	چڼاسکی ، چڼیاسی ، شومړی
moldy, mouldy, adj.	چڼیاسن ، چڼاسك .
mold, n.	ځربه مځکه ، تورخاوري مځکه پسته خاوره .
mold, n.	قالب : ځانګړې (خاصیت ، ډول)
v.t.i.	قالبول ، په قالب کې اچول ټاکلی شکل ورکول .
molder, (moulder) v.i.	ټوټه کېدل ، خاورې کېدل .
molding, moulding, n.	په قالب کې اچونه ، خاص شکل ورکونه . خرادي شوې اشکال (د لرګي یا فلز) چه د دیوال دروازې یا کړکۍ د ښکلا د پاره استعمالیږي .
mole, n.	خال ، ټکی .
mole, n.	خاڼی ، یو ډول ساړایي موږك .
mole, n.	سد ، پټم ، بند .
molecule, n.	مالیکیول ، د یوې مادې ډېره کوچنۍ ذره چه په کیمیاوي لحاظ خپل اصلي مادي خواص ولري .
molecular, adj.	مالیکیولي .
molest, v.t.	ځورول او په غرض لاس وراچول ازارول ، تکلیف ورکول .

molestation, n. ځور، ازار.

mollify, v.t. غلی کول، کرارول، چوپول

mollusk, n. تنپوستی (هغه ژوی چه بدن یې نرم وی لکه حلزون).

mollycoddle, n. نازولی سړی یا هلک.

molt, v.i. کریز کول، پڼی اچول، وېښته تویول، لڅې بدل، ور گاډی (ور گڼې) اچول (لکه د پسه).

molten, د melt دریم حالت.

adj. ویلی شوی، اوبه شوی (د زیاتی تودوخی په اثر).

moment, n. شیبه، ډېر لږ وخت: اهمیت.

momentary, adj. لنډ، تېرېدونکی، د لنډې شیبې.

momentarily, adv. د لږ وخت دپاره.

momentous, adj. ستر، مهم، غټ.

momentum, n. د حرکت اندازه، هغه قوه چه یو خوځېدونکی جسم یې د وزن او حرکت له مخې لری.

monarch, n. پاچا

monarchical, adj. پاچهی

monarchist, n. د پاچهی حکومت پلوی (طرفدار)

monarchy, n. پاچاهی، شاهی دولت.

monastery, n. د عیسوی روحانیونو استوگنځی، هغه ماڼۍ چه روحانیون پکی اوسی، صومعه.

monastic, adj. د روحانیونو، مذهبی، روحانی.

monasticism ,n. روحانی ژوند.

Monday, n. دوشنبه

monetary, adj. د پیسو، پولی، مالی.

money, n. پیسې، سکه: شته‌دولت، پانگه

money maker, n. پیسې گټونکی

monger, n. سوداگر، تاجر.

Mongolian, n. مغولی، منگولیایی.

Mongolian, adj. مغول.

mongrel, n. دگډ نسل، دوه‌رگه یا څو رگه، گډ نسل، دوه‌رگ.

monition, n. اخطار، ویرونه، خبرونه

monitor, n. د ټولگی مشر، مبصر، حکم (ریفری): یو ډول جنگی بېړۍ.

monk, n. څیله کښی، راهب، مذهبی سړی چه په صومعه کی ژوند کوی.

monkish, adj.

monkey, n. بیزو، شادی، بیزوگی: لوبی ور سره کول، تېرایستل: تقلید کول

monkshood, n. یو ډول زهرناکه بوټی دی.

monocle, n. سترگی (د یوې سترگې)، عینکه (د یوې سترگې).

monogamy, n. په یوه وخت کی د یوې ښځې سره واده.

monogamous, adj. هغه سړی چه د یوې ښځې سره د واده کولو پرخوا وی.

monogram, n. هغه شکل چه د څو تورو د گډولو او یو ځای کولو څخه لاسته راځی (لکه د یوه سړی د نامه لومړنی توری چه په یوه هنری ډول سره ولیکل شی)

monologue, n. د یوه سړی خبری، په ډرام کی د یوه سړی د خبرو برخه.

monopoly, n. انحصار، ځانته کول.

monopolist, n. ځانته کوونکی، انحصاروونکی.

monopolistic, adj. انحصاری ، ځانته .

monopolize, v.t. ځانته کول ، انحصارول .

monosyllable, n. یوه څپه ایز لغت ، یو سیلابی لغت ، یوهیجائی .

monosyllabic, adj. یوڅپه ییز ، یو سیلابیزه .

monotone, n. یو رنگه ، یو ترا ، یو خیل ، یوه غاړه : یکنواخته .

monotony, n. یوشی والی ، یکنواختی ، بېخوندي .

monotonous, adj. یوډول ، یو خیل : یو رنگ ، بېخونده ، یکنواخته ، بې تنوع

monseigneur, n. عالی جنابه ، مشره ، واکمنه ! .

Monseigneur, n. په فرانسه کی د لویانو لقب ، جلالتمآب .

monsieur, n. ښاغلی ، جناب .

Monsieur, n. ښاغلی .

monsoon, n. موسمی باد (دهند او د اسیا دجنوبی بحر) : برسات ، بارانی موسم چه ددې باد سره مل وی .

monster, n. (اصطـ) غټه بلا ، بده بلا ، لویه بلا ، غټ شی ، دیو .

monstrosity, n. ستروالی ، غټوالی

monstrous, adj د دیو په شان ، ډېر لوی بی رحمه ، ظالم ، شریر .

month, n. میاشت

monthly, adj. & n. میاشتنی .

monument, n.. ځلی ، منار ، یادگار

monumental, adj. د ځلی ، د منار : لوی ، ستر ، مهم ، جگ ، لوړ ، تاریخی

mood, mode, n. (گر) حالت (لکه د فعل).

mood, n. حال ، وضع ، طبیعت .

moody, adj. بدخلقه ، بدخویه ، توغمه ناك ، غوسه ناك (غصه ناك) : په لږ شی خپه کېدونکی .

moodily, adv. په خپگان ، په خواشینی سره .

moodiness, n. خپگان ، خواشینی

moon, n. v.i. سپوږمی : نامعلومی خواته کتل ، بې هدفه گرځېدل .

moonbeam, n. دسپوږمی شغلې .

moon light, n . دسپوږمی رڼا

moonlit, adj. دسپوږمی په رڼا روښانه .

moonshine, n. دسپوږمی ځلا .

moon—struck, adj لیونی ، گیج .

moor, n. شاړه ځمکه ، بیدیا .

moor, v.t.i . لنگر اچول ، تړل (د بېړۍ)

Moor, مراکشی سړی ، دالمغرب سړی دشمالی افریقې اوسېدونکی (په تېره بیا هغه چه په هسپانیه یې یرغل وروړی وی)

Moorish, n. مراکشی .

moorings, n. دلنگر اچولو بېړی ځای دبېړی تناوونه .

moose, n. لکه ښوی ، گاوزه .

moot, adj. دبحث وړ ، دخبرو وړ ، دڅېړلی وړ ،

mop, n. دلوتو او سپنسو هغه غونډ اری چه غولی په پاکیږی .

mope, v.i. مړاوی اوسېدل ، جنجېړ اوسېدل ، خواشینی اوسېدل ، مړ ژواندی اوسېدل .

moral, adj. اخلاقي ، داخلاقو ، اخلاقي روېه ، پند ، وجيزه ، تګ لار .

morally, adv. داخلاقو له پلوه ، داخلاقو له مخې .

morale, n. روحي او اخلاقي حالت ، روحيه ، معنويات ، مورال .

morality, n. تقوى ، اخلاق ، فضيلت .

moralize, v.i. اخلاقي پند ور کول ، داخلاقو له نظره کتل ، اخلاق په نظر کې نيول .

moralist, n. اخلاقي .

morass, n. خوسا ځمکه ، جبه .

morbid, adj. رنځور ، ناروغ .

morbidity, n. ناروغتيا ، رنځ .

more, n. ډېر زيات ، لا ډېر ، لوړ (تر) ، ډېر (تر) ، زيات (تر) .

moreover, adv. برسېره پر دې ، بله دا چه .

morgue, n. مړ ځاى چه بې هويته او بې پتې مړي د پېژندنې د پاره پکښې ايښودل کېږي .

moribund, adj مړ ژواندى ، دمرګ په حال کې .

morn, n. سهار ، ګهيځ .

morning, n. سهار ، ګهيځ .

morose, adj. بدغوني ، خواشيني ، خپه .

morphine, morphia, n. مورفين : يو ډول مخدره دوا چه له اپينو څخه لاس ته راځي ، دترياکو جوهر . مورفين : يوه دوا چه په سړي باندې خوب راولي او داپين څخه جوړېږي .

morrow, سبا ته ، سبا ورځ . د Tomorrow, بله بڼه .

morsel, n. لږ ، خوړه ور خواړه ، ګوله ، مړۍ ، کپ : يوه مزه داره ګوله : وړوکى سړى : وړه ټوټه .

mortal, adj. تلونى (فانى) : مړ ونى : کاري (لکه ټپ) ، وژونکى : انساني .

mortality, n. مړينه ، مرګ ، فنا .

mortally, adv. په وژونکي توګه ، په کاري ډول .

mortar, n هاوان توپ ، چاودېدونکې ګولۍ : تعميراتي مساله ، دچونې ، شګو او سمنټو ګډوله : اونګه .

mortgage, n. ګروي ، ګرو .

mortgagee, n. ګرو ور کوونکى ، ګرووونکى .

mortgagor, n. ګرو اخستونکى .

mortice , د mortise, بله بڼه .

mortician, n. دمړي غم خوړونکى ، دمړي سمبالوونکى ، مړ ښخوونکى .

mortify, v.t. وژل ، شنډول ، خوړول ، ځپل ، ترټل ، سپکول ، شرمول .

mortification, n. : وژنه ، شنډونه ، ترټنه ، شرمونه .

mortise, n. دلرګي سوري چه بل لرګي په کښې ننه باسي : سره وروستنه (د لرګيو) .

mortuary, morgue, ته مراجعه وکړې .

mosaic, n. موزائيك : په وړو وړو رنګه ټوټو جوړوله .

Moslem, n. مسلمان ، مسلم .

mosque, n. جومات ، مسجد .

mosquito, n. غوماشه ، مياشى ، ماشى .

moss, n. خزه، ډېر نازک نباتات چه بانفی
گلان او ریښه نه لری او پر لندو شیانو
راشنه کېږی .
mossy, adj.
most, adj. adv. n. تر ټولو ډېر، زښت
ډېر، خورا ډېر .
mostly, adv. زیاتره، اکثره .
mot, n. لطیفه، خوندوره نکته یا خبره
mote, n. بخری، ذره (لکه د خاوری): پخه
moth, n. پیاو (کویه)، اوبزه : پتنگ
mother, n. مور : آر، اصل، بنسټ
motherhood, n. مورولی .
motherland, n. وطن، هیواد .
motherless, adj. بې موره، یتیم .
motherly, adj. مورنی، د مور
mother—of—pearl, n صدف (چه تڼۍ
ورڅخه جوړېږی) .
motif, n. اساسی ټکی (د هنر، ادب، موسیقی)
تومنه (د هنر) اصلی بڼه (په هنر کښی) .
motile, adj. (ب) خوځند، خوځېدونکی .
motion, n. حرکت، خوځېدا، خوځېدنه :
پیشنهاد : د جمعی په حالت کی اشاري
v.t.i. اشاره کول .
motionless, adj. بې حرکته، بې دمه،
ولاړ، درېدلی .
motion picture, n. خوځنده تصویر،
د سینما فیلم .
motive, n توخه (انگیزه) سایق، محرك
خوځنده، د خوځېدو .
motiveless, adj بې توخې، بې انگیزی
motley, adj. رنگین، رنگ رنگ : له
له ډېرو برخو څخه جوړ شوی، گډ .

motor, n. خوځېدونکی، موټر .
motor boat, n. ماشینی بېړی،
motor bus, n. بس .
mtor car, n. گړندی موټر .
motorist, n. موټروان یا په موټر
کی تلونکی .
mottle, v.t. برگول، داغل، خالوهل،
خال خال کول .
motto, n. شعار، هغه لنډه وینا چه د یوي
موضوع خطمشي تعین کړی، وجیزه، پند
mould, n. د mold بله بڼه (قالب) .
moulder, v.i.
moulding, n.
mouldy, adj.
moult, n. د molt, بله بڼه، بڼی تویونه،
بڼی تویونه، ورک اچونه، کویز .
mound, n. ډېری (د خاورو) جوړ، شوي
غونډی، ډلی، انبار : درم، پټم .
mount, n. غر : غونډی .
mount, v.i. ختل، سپرېدل، مجهز کول،
پورته کېدل، زیاتېدل، سپرول : درول،
لگول .
n. د سپرلی شی .
mountain, n. غر .
mountoineer, n. غرنی، غرختونکی .
mountainous, adj. غرنی .
mountebank, n. باټی، لاپی، پرډو،
چالاك، ټگ .
mourn, v.t.i. ویر کول، نولهدل .
mourner, n. ویر کوونکی .
mournful, adj. جن .

mournfully, adv.	له ویره ډک .
mouse, n. **mice**	موږک (جمع) .
mousetrap, n.	کړکۍ ، د موږک تلکه یا دام .
mouth, n.	خوله .
mouthful, n.	ګوله ، مړی (لقمه) .
mouth, v.t.	په خوله کی نیول ، په خوله کول ، پېښې کول : د ملولی سره رویدول (لکه داس) .
mouthpiece, n.	ژبه ، د شپیلۍ یا پایپ هغه برخه چه په خوله کی نیول کیږی : (اصط) نطاق .
move, v.t	ښورول ، خوځول : ځای بدلول : اغیزه کول (پر) : پارول ، وړاندی کول ، پیشنهاد کول .
v.i.	خوځېدل ، ښوریدل ، پرمخ تلل : لیږدل ، لیږدیدل ، اقدام کول .
movable, adj.	د خوځیدو وړ .
mover, n	
movement, n.	حرکت ، خوځیدنه ، جنبش ، پون ، تګ : تشیدنه (لکه د کولمو) : غاړه ، اهنګ : د موسیقی د یوه اوږده کمپوز یوه برخه .
mow, n.	د پروړو ډلۍ ، د پروړو خره ، بوس خانه .
mow, v.t.	ریبل ، سر کپول .
mower, n.	د ریبلو ماشین .
much, adj, adv.	ډیر (د نه شمیریدونکو شیانو د پاره لکه اوبه او بوره) ، پریمانه ، ډیر .
mucilage, n.	سریښ .
mucilaginous, adj.	سریښناک ، ژاوړن .
muck, n.	سره ، خوشایی ، توره خاوره ، چه د سری په حیث استعمالیږی : چټلی .
mucus, n.	چوخړی ، خراشکی (بلغم) ، ګړنګے .
mucous, adj.	د چوخړو ، د ګړنګو .
mud, n.	خټه .
muddy, adj.	د خټو ، خټین .
muddle, v.t.	ګډول (سره) ګډوډول : په خټو لړل : تتول .
muddle, n.	ګډوډی .
muff, n.	یو ډول لاس ماغو چه دواړه لاسونه د دواړو خوا او یو ځای پکښی ننه ایستل کیږی .
muff, v.t.i.	
muffin, n.	یو ډول وړه پسته کولچه چه په وړو پیالو کی پخیږی .
muffle, v.t.	نغاړل ، نغښتل ، پیچل : ږغ خپول ، پټول ، خواړی کول .
muffler, n.	د غاړی دسمال .
mufti, n.	مفتی : ملکی کالی .
mug, n.	کیړوی ، سړوبی ، یو ډول غټ ګیلاس چه لاستی لری .
muggy, adj.	توده ، لنده او دوبه (خوپه) هوا .
mulatto, n.	دورګے ، د سپین پوستی او تور پوستی د یوه ځای کیدلو څخه پیدا شوی اولاد ، غنم رنګی .
mulberry, n.	توت .
mulch, v.t.	په پاڼو او وښو پټول (لکه د نیالګیو) ، په خزلو پټول (لکه د بوټو) .
mulch, n.	پاڼی ، پنجغی ، واښه .
mulct, n.	جریمه ، ناغه .

mulct, v.t.	ناغه کول، ناغه اچول، جریمه کول، محرومول .
mule, n.	کچر، غاتره : سرټمبه سړی، سرزوری.
muleteer, n.	کچروالا، غاتروالا .
mule, n	څپلی، چوقی .
mull, v.i.	غور پر کول، فکر پر کول، اړول را اړول (په ذهن کی).
n.	ململ .
mullein, n.	یو جګک بوټی چه زیږي پاڼی او ډول ډول ګلان لری، سپین بڼګک.
mullet, n.	سپین کب.
gray mullet, n.	خړ کب .
red mullet, n.	د استوایی سیمو یو ډول خوراکی کب .
multifarious, adj.	راز راز، ډول ډول، څو څو ډوله .
multiform, adj.	د ډیرو شکلو لرونکی .
multiple, adj.	څو ځلیز (مضاعف)، متعدد، په ریاضی کی د ضرب حاصل.
multiplication, n.	ضرب، زیاتښت (افزایش) .
multiplicity, n.	زیاتوب، ډیر والی، پرېمانی، رازدازوالی .
multiply, v.t.	ضربول: زیاتول : زیاتېدل : ضربېدل .
multiplier, n.	ضربوونکی، مضروب فیه: زیاتوونکی، د زیاتولو آله .
multitude, n.	ډله، ولس، ډیری، ګڼ خلک .
multitudinous, adj.	زیات، ډیر : ډله ییز : ډک .
mum, adj. n.	چوپ، غلی، بې غږه، چوپه، چوپیا، (اصط) سه مسنا .
mumble, n.	بڼګېدنه، زومېدنه .
mumble, v.i.	بڼګېدل، زومېدل : ژوولی خبری کول .
mummer, n.	مسخره، لوبغاړی ماسك په مخ چه په چوپه خوله پیښی یا پیري کوی .
mummery, n.	پیري، لوبه، په چوپه خوله او پټ مخ مسخري کول .
mummy, n.	مومیایی شوی، مومیایی شوی مړی (لکه د لرغونی مصر) مومیایی کول .
mumify v.t.i.	مومیایی کول .
mumps, n.	ټټو غومبوزی مرض، سرپاړی، ډډ بغوني .
munch, v.t.i.	چیچل، غرنجول .
mundane, adj.	جهانی، د مځکی، دنیایی
municipal, adj.	د ښاروالی، د ښار د حکومت .
municipality, n.	ښاروالی.
munificent, adj.	سخی، لاس خلاص .
munificence, n.	سخیتوب، سخاوت،
munitions, n. pl.	تجهیزات، لوازم، وسلې (جنګی) (دانبکر) .
mural, adj.	دیوالی
n.	دیوالی انځور (نقش) .
murder, v.t.	وژل، قتلول .
murder, n.	وژنه، قتل.
murderer, n.	وژونکی، قاتل .
murderess, n.	وژونکې .

murderous, adj. وژونکی : د قتل، بی رحمانه .

murk, n. تیاره، تورتم ، تپه تیاره ، خواشینی .

murky, adj. تیاره، خواشینی : غمجن .

murmur, v.t.i. بنګېدل، ګونګسی کول، زومېدل ، زمزمه کول، پس پسی کول .

murmur, n. پس پسی .

murrain, n. مرګو، وبا.

muscle, n. عضله، غړی : نسج (لکه د غړی): زور، توان، غښتلتوب .

muscular, adj. دغړی، دعضلی : قوی

muse, v.t.i. اندیښنه کول، فکر کول ، حیر کېدل .

Muse, n. د لرغونی یونان په کیسو کی د هنر او ساینس د نهو آلهو څخه یوه آلهه .

museum, n. موزیم.

mush, n. اوماچ، ډوز .

mushroom, مرخېړی ، پوڅکی ، د مځکی ستوری ، ګوبلکه.

v.i. ژر لوېدل : تښتېدل ، خپرېدل .

music, n. موسیقی ، ساز ، موزیك .

musical, adj. د موسیقی ، د ساز .

musician, n. سازنده .

musk, n. مشك ، مسك ، مښکنکی .

musky, adj. د مشکو .

musket, n. پلیتکښ توپك ، پلته ییز توپك

musketeer, n. توپك وال .

musketry, n. توپکان ډزی ، و یشتنی ، وارونه .

muskrat, n. د شمالی امریکا او کاناډا دا یو مږه .

muslin, n. تاری ټوکر ، ململ ، ډاکه ، خاصه .

muss, n. ګډوډی ، ګډبړی ، بې نظمی

v.t. ګډوډ کول ، خرابول

mussy, adj. ګډوډ .

mussel, n. د ترو او بو یو ډول تنی لرونکی ژوی چه په اروپا کی د خوړلو دپاره استعمالېږی ، د مرکزی امریکی یو ډول صدف لرونکی ژوی چه تڼۍ ور څخه جوړېږی

Mussulman, n. مسلمان ، مسلم .

must, باید ، خامخا ، هرومرو ، ضرور

mustache, moustache, n. برېت .

mustard, n. اوری ، داوری دانه .

muster, n. راټولول (لښکر د حاضری دپاره) غونډول .

n. حاضرونه ، بلنه ، رابلنه ، غونډېده ، ډله

musty, adj. وروست ، خوسا ، بوینی ، بویناك

mutable, adj. بدلېدونکی ، تغییرمنونکی ، وسواسی .

mutability, n. تغییر منښه.

mutation, n. تحول ، بدلون : (ب) ناڅاپی بدلون په وراثت کی .

mute, adj. ګونګی ، بې ژبی ، چوپ ، غلی کول ، کمزوری کول (لکه دموسیقی) .

mutely, adv. په ګونګه ژبه .

mutilate, v.t. لنډاو بوچ کول ، شل شوټ کول ، له پښو غورځول .

mutilation, .n

mutiny, n. یورته کېدنه ، شورش ، الهګوله

mutineer, n. یاغی .

mutinous, adj. د یاغیتوب.

mutter, v.t.i. ړونګېدل ، زومېدل ، ترشنډو لاندې خبرې کول ، ژوولې خبرې کول ، غم غم کول .

mutter, n. بنګېدل ، ړونګېدل ، غم غم

mutton, n. مېږې غوښه ، د پسه غوښه

mutual, adj . دوه اړخېزه ، دوه پلويېزه ، ګډ .

mutually, adv. له دواړو خواوو

muzzle, n. وربوز ، ورسك : کڅپوز خولبوری ، خولپوری : د ټوپك خوله .

v.t. . کڅپوز وراچول ، خوله ورتړل

my, pron زما .

myriad, n. پرېمانه ، بې شماره .

myrmidon, n. مټوڼکی مزدور ، يو مامور چه د آمر امرونه د زړه له کومې اجرا کوي

myrrh, n. يو ډول خوشبويه ژاوله چه له نباتاتو څخه لاس ته راځي .

myrtle, n. يو اروپائي تل شين بوټی چه تورې دانې اوخوشبويه ګلان لري .

myself, pron,. زه په خپله ، ما په خپله

mystery, n. سر ، رمز ، راز ، پټه خبره

mysterious, adj له سره ډك ، له رمزه ډك

mysteriously, adv. په نامعلومه او مرموزه توګه .

mystic, adj. له سره ډك ، نامعلوم ، مرموز ، مبهم : د کوډو ، د جادو .

n. صوفي ، بزرګ .

mystical, adj تصوفي ، روحاني ، مجازي رمزي .

mysticism, n. تصوف .

mystify, v.t. پټول ، د يوه شي پوهه مشکلول ، په تعجب کې اچول .

mystification, n.

myth, n. کيسه ، موهومه کيسه ، اتکل ، عنعنوي کيسه ، خرافاتي کيسه ، مذهبي روايت

mythical, adj . د موهوماتو ، د کيسو

mythology, n.. د افسانو پوهه يا تاريخ

mythological, adj. د موهوماتو

mythologist, n د موهوماتو پېژندونکی د روايتي کيسو مؤرخ .

N

nab, v.t.	نیول (په تېره بندي کول) .
nabob, n.	بډای ، شتمن ، نواب .
nadir, n.	د اروا ښکته برخه : (نجوم) نظیر السمت .
nag,n.	آس (په تېره ټټو) .
nag, v.t.i	ځورول ، بکو کول ، ترور کول .
naiad, n.	په پخوانی یونان کی د رودو ، ځنګلو او چینو ښکلې رب النوعه.
nail, n.	نوك : مېخ .
nainsook, n.	نری سپین ټوکر .
naive, adj.	ساده ، طبیعی (په تېره په خوی او خاصیت کی).
naivete, n.	ساده والی .
naked, adj	لوڅ ، لغړ ، بربنډ ، څرګند ښکاره .
nakedness, n.	لغړ والی ، بربنډ توب .
name, n.	نوم
nameless, adj.	بې نومه .
namely, adv.	یعنی .
namesake, n.	همنوم ، امیده .
nankeen, n.	له ژړو مالو چونه جوړه شوی ټوټه ، دا ډول ټوټه په پخوانیو وختو کی په نانکین (د چین یو ښار) کی جوړیده : هغه پتلون چه له دی ټوکر څخه جوړ شوی وی .
nap. n.	پړ مېښی ، سترګه پټوله ، (د لږ وخت د پاره بیده پدنه)، یو سترګه خوب .
nap, n.	ورېښین استر ، هغه ټوټه چه مخ یې دوړ یو پټ والوی .
nape, n.	څټ ، مغزی ، اور مېږ .
naphtha, n.	نفت، پټرول ، ډول ډول تیل چه له نفتو څخه لاس ته راځی
napthalene, n.	نفتالین ، یو ډول ماده چه د ډبری له سکروټو لاس ته راځی .
napkin, n.	دسمال .
narcissus, n.	نرګس .
narcotic, adj.	بې سده کوونکې دوا ، مخدره دوا.
nard, n.	یو ډول خوشبو یه ملهم .
nares, n.	سږمې ، تو میزی .
narrate, v.t.i.	ویل ، کیسه کول، روایت کول ، حکایت کول .
narration, n.	نکل ، کیسه .
narrator, n.	کیسه کوونکی .
narrow adj	نری ، کمسوری ، بې پسوره، تنګ، محدود ، نږدې .

narrowly, adv. په ځیر : له نږدې څخه : په محدود ډول .

narrowness, تنګوالی ، نریوالی .

narrow—minded, adj. تنګ نظره ، متعصب ، ناپېرزوینی ، لنډ فکری .

nasal, adj. د پزې ، پزې ته منسوب .

nascent, adj مېنځ ته را تلونکی ، زېږېدونکی ، پیدا کېدونکی ، تازه ، نوی .

nasturtium, n. د بهروتي د کورنۍ بوټی چه سره ، ژېړ ، یا نارنجي ګلان لري .

nasty, adj. ناولی ، ککړ ، چټل ، بدخوی ، بد طبیعته .

natal, adj. د لنګون (مودې) ، د زېږېدو (وخت) .

nation, n. اولس ، ملت .

national, adj. ملی .

nationally, adv. په ملی توګه .

nationalism, n. ملت پالنه ، دخپل اولس سره ژوره مینه .

nationalist, adj. & n. ملت خوښونکی .

nationalistic, adj. ملت خوښتنه ، پر ملی احساساتو بنا

nationality, n. ملیت : تابعیت .

nationalize, v.t. ملی کول ، د ملت تر واک او اختیار لاندی راوستل .

nationalization, n. ملی کول ، د ملت تر واك او اختیار لاندی راوستنه .

native, adj. ځائی ، وطنی ، هېوادنی ، اصلی ، ذاتی ، طبیعی .

native—born, adj. په خپل هېواد کی زوکړی .

nativity, n. زېږېدنه ، پیدا کېدنه ، د زېږېدنی ځای ، وخت او څرنګوالی .

natty, adj. سوتره ، پاك ، سپېڅلی ، ښکلی .

natural, adj. طبیعی ، ذاتی ، عادی ، ساده .

naturally, adv. په طبیعی ډول .

naturalism, n. طبیعی فلسفه ، د طبیعت فلسفه .

naturalist, n. طبیعت پوه : طبیعت پرست .

naturalize, v.t. طبیعی کول : د تابعیت حق ورکول .

naturalization, n. د تابعیت حق ورکونه : خپل تابعیت ته را اړونه .

nature, n. طبیعت ، فطرت ، ماهیت ، خوی او خاصیت .

naught, n. هیڅ ، صفر ، بې ارزښته : بله نښه .

naughty, adj. شوخ ، غاړه غړوونکی ، نامنونی .

nausea, n. خواګرځی (خواګرځېدنه) ، قی ، زړه بدېدنه .

nauseate, v.t.i. خواګرځېدل ، خواګرځول .

nauseous, adj. خوا ګرځوونکی .

nautical, adj. سمندری : په بېړۍ چلولو پوری مربوط .

nautilus, n. بوډول غواګی (حلزون) : دلامبو بوډول سامان .

naval, adj. سمندری (بېړۍ ، افراد ، او نور) .

nave, n. غولی (د کلیسا) .

navel, n. نوم ، د نامه غوټی .

navigable, adj.	د بېړيو چلولو وړ .
navigability, n.	بېړۍ چلونه .
navigate, v.i.	چلول (د بېړۍ) ، بيول (د الوتکې) .
navigation, n.	چلېدنه (د بېړۍ)
navigator, n.	چلوونکی (د بېړيو) .
navy, n.	د جنګي بېړيو ټولګی (د يوه مملکت) ، بحريه ، سمندري قوه .
nay, n.	يه ، نه ، (د ترديد توری) : مخالفه رايه .
Nazi, n.	په جرمني کې د نازي د ګوند غړی جرمني فاشيست .
neap, adj.	د جزر ډېره ټيټه څپه
near, adv.	نږدې (د وخت او ځای په لحاظ)
near—by, adj.	ګاونډی ، څنګ ته
nearly, adv.	نږدې ، تقريباً .
nearness, n.	نږدې توب .
nearsighted, adj.	نږدې ليدونکی ، لنډ فکره ، نابوه .
nearsightedness, n.	بې فکري .
neat, adj.	سوتره ، پاک ، سپېڅلی ، وتلی ، ماهر .
neat, adj.	
neatly, adv.	په سوتره توګه .
neatness, n.	پاکي .
neath, prep. beneath,	لاندې ، تر لاندې .
nebula, n.	يو ټت ځلاندی ګېز (خوپ ، لړه) چه د شپې له خوا په صاف آسمان کې ليدل کېږي .
nebular, adj.	اووره ډوله .
necessary, adj.	ضروري ، لازم ، هرومرو ، خامخا .
necessarily,	په ضروري توګه ، قطعي .
necessitate, v.t.	اړ ايستل (مجبورول) ، اړول يا اړ کول : ضرورول ، لازمول .
necessity, n.	ضرورت ، اړتيا ، تشلاسي ، ليسقې ، خواري : بد ليدونکي شرايط .
necessitous, adj.	اړ ، بې وسه .
neck, n.	اورمېږ ، مغزی ، غاړه .
neckband, n.	غاړه (د کميس) .
neckcloth, n.	د غاړې دسمال .
neckerchief, n.	د غاړې دسمال .
necklace, n.	غاړه ګۍ ، اوږۍ .
necktie, n.	نکټايي .
necromancy, n.	سحر ، د مړو د ارواو احضار .
necrosis, n.	وروستوالی ، مړاوی توب ، (د بدن د انساجو) .
nectar, n.	يو ډول چښاک چه وايي سړي ته تل تر تله ژوند او ښکلا ور کوي (د يونان په پخوانيو کيسو کې) ، د ژوند اوبه .
nectarine, n.	ټنکی شفتالو ، نازک شفتالو
nee, adj.	د پېغلې فاميلي نوم .
need, n.	اړه ، ضرورت : اړتيا ، احتياج بايد ، لازم .
needful, adj.	ډېر ضروري
needy, adj.	اړ ، محتاج .
needle, n.	ستن .
needlewoman, n.	ګنډونکې
needlework, n.	دستني کار .
needle—point, adj.	څوکه (د ستنې)
needle-point lace,	په ستن جوړه شوې
needle point, n.	ګنډل ، ګريوان ، مړتک خامک دوزي

needless n, adj. بې ضرورته ، بې لزومه .

needlessly, adv. په بې ضرورته ډول

ne'er, adv. د never لنډ بڼه .

ne'er—do—well, n. & adj. بې کاره ، بې کفايته .

nefarious, adj. بښېلی ، ناوړه ، بدغوني ، شرير .

negation, n. نفي . د نفي ځواب ، رد .

negate, v.t. نفي کول .

negative, adj. منفي ، نفي کوونکی ، ترديدوونکی .

neglect, v.t. بې پروايي کول ، غفلت کول ، غوږ نه په ابستل ، هېرول ، پرېښودل .

neglectful, adj . هېرجن ، بې پروا .

negligee, n. انګرې ، اوږده کميس (چه ښځې يې په کور کې اغوندي) .

negligent, بې پروا ، بې احتياطه ، بې پامه

negligence, بې احتياطي .

negligently, adv. په بې پروايي .

negligible, adj بې اهميته ، بې ارزښته .

negotiate, v.t. کښېدل ، بوڅېدل (د پرېکړې يا فيصلې دپاره) خبرې اترې کول (د تجارتي راکړې ورکړې دپاره) مباحثه کول .

Negro, n . تور پوستی ، زنګي (نژاد) .

Negress, n. . تور پوستې (ښځه ، انجلۍ) .

neigh, v.i . شيشنېدل (د آس)

neigh, n. شيشنى .

neighbour, neighbour, n. ګاونډی ، څنګلوری ، همسايه .

neighborhood, n. ګاونډيتوب : ښه احساسات : سيمه : نږدې والی ، څرمه والی .

neighboring, adi نږدې (اوسېدونکی) ، په څنګ کې اوسېدونکی ، څرمه .

neighborly, adj. د ګاونډيتوب وړ ، د ملګرتيا وړ .

neighborliness, n. ګاونډيتوب .

neither, adj. نه ، هيڅ ، يو ، او هم نه

nemesis, n. کسات اخيستنه ، د کسات اخيستلو قوه : (په لرغوني يونان کې) د غچ اخيستلو الهه

neon, n نيون (يو ډول ګاز چه په ۱۸۵۲ کال کې په اتموسفير کې کشف شوی دی) .

neophyte, n هغه څوك چه نوی ايمان يې راوړی دی : مبتدي ، نوی زده کوونکی

nephew, n. وراره ، وريره ، خوريی ، خورزه .

nepotism, n. دخپلوانو طرفداري ، له خپل قوت څخه دخپلوانو په ګټه ناوړه استفاده ، واسطه .

Neptune, n. نيپټون (په لمريز نظام کې دريم خورا لوی ستوری) د سيند ورب النوع (په پخواني روم کې) .

neptunium, n نيپټونيوم ، يو ډول مصنوعي راډيو اکټيف عنصر .

Nereid, n. د سيند د رب النوع لور (په پخواني يونان کې) ، د سيند حوره .

nerve, n. پلمه ، عصب .

nerveless, adj. بې پلمې .

nervous, adj	عصبي: د اعصابو: پیاوړی: ژر خپه کېدونکی یا هیجاني کېدونکی: ډارن
nervously, adv.	په عصبي ډول .
nervousness, n.	عصبانیت .
nest, n.	ځاله ، منځوله .
nestle, v.t.i.	ځاله جوړول ، په ځاله کې پرېوتل ، نازول ، په غېږ کې نیول .
nestling, n.	د مرغۍ بچی ، د مرغه چوچی چه الوتی نشي .
Nestor, n.	هغه یو سپین ږیری چه یونانیانو ته یې د (ټروجان) په جګړه کښې مشوره ور کوله: یو سپین ږیری ، داوږده عمر خښتن .
net, adj.	سوچه ، خالص (لکه خالص وزن خالص مفاد) .
n.	جال ، تور ، د غڼۍ ځاله .
nether, adj.	لاندېنی ، لاندې ، کښته .
nettle, n.	یو ډول ازغن (اغزن) بوټی
network, n.	جال : شبکه (لکه د تلیفون ، برېښنا او داسې نور) .
neuralgia, n .	د اعصابو خوږ .
neurasthenia, n.	د اعصابو ضعف او بې انتظامي .
neurasthenic, n.	هغه سړی چه اعصاب یې ضعیف وي .
neuritis, n.	د اعصابو التهاب .
neuron, n.	عصبي حجره .
neurosis, n.	عصبي ناروغتیا .
neurotic, adj	عصبي ، عصباني .
neuter, adj.	(گر) هغه نوم یا صفت چه مذکر او مؤنث ونه لري ، بې جنسه نوم : خصي .
neurtral, adj	بې طرفه .
neutrality, n.	بې طرفي .
neutralize, v.t.	بې طرفه کول ، خنثی کول .
neutralization, n.	بې طرفي ، خنثی توب .
never, adv.	هیڅکله نه
nevermore, adv.	بیا نه (مثلاً دیو کار بیا نه کول) ، بیا هیڅکله نه
nevertheless, adv.	سره له دې .
new, adj.	نوی .
newcomer, n.	نوی راغلی .
newly, adv.	نوي .
newel, n.	د زینو ستن ، مټه .
news, n.	خبر .
newsboy, n.	ورځپاڼه خرڅوونکی ، هغه هلک چه اخبار خرڅوي .
newspaper, n.	ورځپاڼه ، اخبار .
newsprint, n.	اخباري کاغذ .
newsreel, n.	د خبرو څرخ ، یو خوځېدونکی څرخ چه ورځنۍ پېښې ښیي .
newsstand, n	د اخبارو او مجلو پلور ځای
newt, n.	یو ډول سمسا ره (سنگسا ره) چه په وچه او اوبو کې ژوند کولی .
next, adj.	بل : نژدې ، راتلونکی .
nibble, v.t. & i.	په غاښو شکول ، وړه کپوله کول ، په وړو وړو گولو خوړل
niblick, n.	گلف ډنډه .
nice, adj.	ښه ، ګلالی ، ښکلی : خوشاله وړین : مؤدب : ځیر ، حساس ، ساده ، ښه ا
nicely, adv.	په ښه ډول .
nicety, n.	سموالی ، درستوالی : غوره خبره : ځیروالی : نازکوالی .
niche, n.	تاخچه ، تاک ، شیلگی ، قالب : وړتیا .

nick, v.t.	غوڅول ، پریکول : سوری کول ، چاودول (چول) : په مناسبه موقع کی نیول یا وهل
n.	تنګی ، دره .
nickel, n.	نکل ، یو ډول فلز
nickname, n	لقب ، کنیه : د ناز نوم ، د ملنډو نوم .
nicotine, n.	نکوتین .
niece, n.	وریره ، خورزه .
niggard, n.	بدنیتی : بخیل ، سخت .
niggardliness, n.	بد نیتی .
niggardly, adv.	په بخیلی .
nigger, n	تور پوستی ، تور پوټکی ، زنګی
nigh, n.	نژدې ، څرمه .
night, n.	شپه ، تروږمی ، تیاره .
nightly, adv.	په شپه ، هره شپه ، په تروږمی .
nighttime, n.	د شپې مهال .
nightcap, n.	هغه خولۍ چه د خوب په وخت کی پر سر کیږی ، شو کلا : یو ډول مشروب چه د ویده کیدو څخه مخکی څښل کیږی
nightdress, n.	د خوب کالی ، د شپې کالی
nightfall, n.	تره غونی ، لومړی ماښام
nightgown, n	د خوب کالی (د ښځو او ماشومانو) .
nighthawk, n.	یو ډول غوماشخور مارغه : نا وخته بیدیدونکی .
nightingale, n	چوڼی ، بلبل ، خاچوڼی .
nightmare:, n.	خپسکه ، خپسه ، خپسی
nightshade, n.	سپینګور ، کرویڅه ، ګیدړ کور .
nightshirt, n.	د شپې کمیس (د سړی یا هلك) .
nil, n.	هیڅ .
nimble, adj.	ګړندي ، چټك ، چالاك : ځیرك .
nimbly, adv.	په ګړندیتوب .
nimbus, n.	شپول (د میاشتې) : باراڼی وریځ .
nincompoop, n.	بیړا ، ناپوه ، بی عقل .
nine, n.	نه .
ninth, n. & adj.	نهم .
ninepins, n.	یو ډول لوبه چه په نهو میږو یې کوی .
nineteen, n.	نونس .
adj.	نونس .
nineteenth, adj. & n.	نونسم .
ninety, n. & adj.	نوی .
ninetieth, n. & adj.	نوییم .
ninny, n.	بیړا ، ناپوه .
nip, v.t.	کښېکښل ، نښتیځل ، موښل ، لتاړول : درول ، نیول .
nipper, n.	کښېکښونکی ، نښتیځونکی موښونکی ، د کوڼی کبر ښښې ، د چنګاښ د ښښو لوکان .
nipple, n.	د تی سر ، د تی څوکه : را وتلی برخه .
Nipponese, n.	جاپانی .
Niponese, adj.	جاپانی .
nirvana, n.	(په بودایی دین کی) د روح ازادی ، د روح خلاصون (له ټولو هغو شیانو څخه چه پکښې بند وی) .
nit, n.	د سپږو هګی ، ربچې ، رقې .
niter, n.	ښوره (ښره) .
nitrous, adj.	ښوره یی ، ښوره ماغه

nitrate, n.	نایتریټ، د ښوري مالګه.
nitric acid, n.	د ښوري تیزاب .
nitrogen, n.	نایتروجن، ازوت .
nitrogenous, adj .	نایتروجني
nitroglycerin, nitroglycerine, n.	نیټروګلیسرین چه د باروتو په جوړولو کې کار ترینه اخلي .
nitwit, n.	بېډا ، ناپوه .
nix, n.	د اوبو شاپېرۍ (په افسانو کې) : هیڅ .
no, adv.	یه ، نه ، هیڅ .
nobility, n.	نجابت ، اشرافیت : اشراف .
noble, adj.	درند ، شریف ، اصیل
nobleness, n.	شرافت .
nobly, adv.	په درنښت .
nobleman, n.	درندسړی ، شریف سړی .
nobody, n.	هیڅوک ، هیڅ یو .
nocturnal, adj.	د شپې ، شپني .
nocturne, n.	خوب راوړونکی ساز آواز .
nod, n.	د (هو کې) او (سلام) په توګه د سر کښته او پورته کول : سر ښورونه ،
v.t.i.	سر ښورول .
noddy, n.	بېډا : د اوبو توتکی .
node, n.	غوټه ، پاړسوب (پړسوب) .
nodule, n	غوټکی ، لږ پاړسوب .
noggin, n.	وړه ګېډوري، کټوري ، کوچنی پیمانه ، تنی .
noise, n.	ځوږ ، غالمغال ، شور ماشور ، غورېز .
noiseless, adj.	بې ږغه ، بې شور ماشوره ، بې غالمغاله .
noiselessly, adv.	په بې ږغوالی
noisome, adj.	زیانمن (روغتیا ته) ، کرکجن : بد بویه ، خوږوسکن .
nomad, n.	پوونده ، کوچی .
nomad, adj.	پوونده .
nomadic, adj.	د پووند ګلوی .
nomenclature, n.	نوم ایښودنه ، د نوم ایښودلو سیستم (په ساینس کې).
nominal, adj.	تش په نامه ، خیالي ، تصوري : بې ارزښته ، جزئي .
nominally, adv.	په خیالي توګه .
nominate, v.t.	نومول کاندیدول ، معرفي کول ، ټاکل
nomination, n.	ټاکنه ، معرفي .
nominee, n.	نامزد .
nominative, adj.	نومولی (نامزد شوی) ، ورپېژندل شوی ، معرفي شوی : (ګر) فاعلي حالت .
non—	غیر ، نه ، هیڅکله .
nonage, n.	قانوني وړوکتوب ، قانوني اقلیت .
nonce, n.	ټاکلی وخت ، خاصه موقع : اوسني حالت ، اوس .
nonchalant, adj.	بې علاقې ، بې میله ، بې شوقه : بې پروا ، بې تفاوته ،
nonchalance, n.	بې پروايي ، بې میلي .
nonchalantly, adv.	په بې انجاتوب
noncombatant, n.	هغه څوک چه په عسکري یا بحریه کې کار کوي مګر په جګړه کې برخه نه اخلي (لکه ډاکټر ، پرستار او داسې نور) : ملکي سړی .
noncommissioned, n.	ټیټ (بریدمن) .

noncommissioned officer, بریدمن .

noncommittal, adj. ځان کښېونکی ، ډډه کوونکی ، ځان ژغورونکی ، په غاړه نه اخیستونکی ، هغه څوک چه د کوم کار د کولو د پاره بې تعهد نه وی کړی ، نه موافق نه مخالف .

nonconductor, n. ستنونی ، عایق (د برېښنا د تودوخی او ډغ) .

nonconformist, n. هغه څوک چه د انګلستان له رسمی کلیسا سره موافق نه وی .

nondescript, adj.: نه تشریح کېدونکی : هغه څوک یا شی چه په ټاکلی ډله او طبقه کی نشی راتلای .

none, pron. هیڅ نه ، هیڅ یو ، هیڅکله .

nonentity, n. نشتوالی ، نیستی ، بې ارزښته .

nonessential, adj. غیر ضروری ، غیر اساسی .

nonexistence, n. نشتوالی ، نیستی ، هغه شه چه وجود نلری : غیر واقعی .

nonmetal, n. غیر فلزی ،

nonmetallic, adj. غیر فلزی .

nonpareil, adj. بې ساری ، بې جوړې ، وتلی ، نامتو ، بې نظیره .

nonpartisan, adj. هغه څوک چه په کومه سیاسی ډله کی نه وی ،

nonplus, v.t. هک پک ، هیښ پېښ کول ، اریانول (حیرانول) ، ګېچول .

nonresident, adj. هغه څوک چه په یوه ځای کی د تل د پاره مېشت نه وی ، موقتی اوسېدونکی .

nonsense, n. بې ځایه ، چټی ، بې معنا (خبری او کارونه) .

nonstop, adj. & adv. بې له ټمپ ، نه درېدونکی ، روان .

nonunion, adj هغه څوک چه د کار کوونکو په اتحادیه کی غړیتوب نلری .

noodles, n. آش ، یو ډول خواړه .

nook, n کونج ، کوټ ، ګوښه : د کوټی ګوټ .

noon, n. غرمه (۱۲ بجی)

noonday, n. نیمه ورځ ، ټکنده یا ټاکنده غرمه .

noontide, n. د غرمی مهال .

noose, n. د رسی کړی ، (حلقه) ، کمند .

nor, conj. نه ، نه .

norm, n. ټاکلی اندازه (معیار) : ډول ، خېل : نمونه .

normal, adj. نورمال : عادی ، طبیعی ، منظم : اوسط .

normally, adv په عادی ډول ، په طبیعی ډول .

north, n. شمال .

north, adj. & adv. شمال .

northeast, n. adj. & adv. شمال ختیځ

northeast, n. adj. & adv. شمال ختیځه خوا .

northeastern, adj. شمال ختیځ

northeastward, adv. adj. & n. شمال ختیځ لوری .

northerly, adj. & adv. شمالی .

northward, adv, adj. & n. شمالي لوري

northwest, n. adj. & **adv.** شمال لويديځ .

north westerly, adj. & adv. شمال لويديځه خوا .

northwestern, adj. شمال لويديځ

norther, n. د شمال باد .

northern, adj. شمالي .

northernmost, adj. بېخي شمالي خوا

northerner, n د شمالي سيمې اوسېدونکی .

North Star, شمالي ستوری، د قطب ستوری

nose, n. پزه ، پوزه ، پېزه .

nosegay, n. د گلو گېډۍ .

nostalgia, n. د وطن او کور يادېدنه ، په هېواد او کور پسې خوږېدنه .

nostril, n. سږمې ، سپږمې .

nostrum, n. هغه کلپه دوا چه په خلکو خرڅېږي : هغه مخصوص پلان چه د خلکو د اجتماعي او سياسي دردونو علاج کوي

nosy, adj. هغه څوك چه ډېري پوښتنې کوي او غواړي چه په هر څه وپوهېږي (اصط) د تروومچ .

not, adv. نه ، نه

notable, adj. د يادونې وړ ، په تېره : محسوس

notably, adv. په تېره بيا .

notary, n. ليکوونکی ، محرر ، هغه څوك چه رسمي اسناد لکه قبالې ، قراردادونه او خطونه تصديقوي .

notation, n. يادونه ، يادگيرنه ، نخښه علامه .

notch, n. و ت ، چوله، تنگي : غاښي ورسك ، گردنه .

notch, v.t. چوله کول ، غاښي کول

note, n. يادونه، يادگېرنه ، يادداښت ، نخښه، علامه : نوټ .

notebbok, n. د يادداشت کتابچه .

noted, adj. په نښه شوی ، يادداشت شوی : نامتو .

noteworthy, adj. د يادونې وړ ، د يادداشت وړ، د يادگېرنې وړ ، مهم .

nothing, n. هيڅ ، بې قيمته ، خوشې ، بې ارزښته .

nothingness, n. هيڅوالی ، بې ارزښتی ، نيستی .

notice, n. خبرتيا، خبرونه، څرگندونه، پام ، توجه .

noticeable, adj. د پام وړ .

noticeably, adv د پاملرنې په توگه

notify, v.t. خبرول، څرگندول ، پام کول ، توجه کول .

notification, n. خبرتيا .

notion, n. مفکوره ، تيوري، عقيده ، نظريه .

notional, adj. خيالي ، تصوري ، موهوم

notorious, adj. مشهور ، بدنام ، رسوا ، بدنامه

notoriety, n. بدنامي ، رسوايي .

notoriously, adv. په بدنامي ، په رسوايي

notwithstanding, adv. conj. سره له دې سربېره پردې .

nought, n.	هیڅ ، صفر .
noun, n.	اسم ، نوم .
nourish, v.t.	پهخوړل، ډوډۍ ور کول ، په چا ډوډۍ خوړل، روزل (تغذیه کول) .
nourishment, n.	ډوډۍ ور کونه ، په چا ډوډۍ خوړنه: خواړه، ډوډۍ .
novel, adj.	ناول ، کیسه، نوی ، عجب ، نااشنا وله ، غیرعادي .
novelette, n.	لنډ ناول، کوچنۍ کیسه ،
novelist, n.	ناول لیکونکی ، کیسه لیکونکی .
novelty, n.	نوی والی، عجب والی ، غیر عادي توب .
November, n.	نومبر ، دعیسوي کال یوولسمه میاشت .
novice, n.	مبتدي، نوی کاره، نا بلده .
now, adv.	اوس .
nowadays, adv.	په دې ورځو کې .
nowhere, adv.	هیچېرې ، هېڅ ځای .
nowise, adv.	په هیڅ توګه، په هیڅ ډول ، هیڅکله .
noxious, adj.	زیان رسوونکی ، مضر ، غیر صحي .
nozzle, n.	نوزل ، نلی ، د نل خوله .
nuance, n.	لږ توپیر ، لږ فرق
nubbin, n.	دجوارې وږی .
nuclear, adj.	هستوي ، ذروي .
nucleus, n.	هسته، زړی ، زړی .
nude, adj.	لوڅ ، لڅ، بربنډ، لغړ .
nudity, n.	بربنډ توب ، لوڅوالی
nudge, v.t.	په نیغه ک وهل ، په څنګل وهل، په څنګل ښورول ، ټکه ور کول (په څنګل).
nudge, n.	په څنګل وهنه .
nudism, n.	هغه مفکوره چه د بربنډ ژوند کولو طرفداري کوي .
nudist, n. & adj.	د بربنډ ژوند کولو طرفدار .
nugget, n.	د سرو زرو کوټه، د سرو زرو ډبره .
nuisance, n.	خوا ګرزاوی ، خوا بدوونی: ربړوونکی، ځوروونکی .
null, adj.	هیڅ ، بې ارزښته ، بې اغېزې
nullify, v.t.	لغو کول (په قانوني ډول) ، بې ارزښته کول .
nullification, n.	لغو ، بې ارزښته .
numb, adj.	ویده ، بیده (د بدن د کومې برخې) بې حسه ، بې خوده .
numb, v.t.	ویدول ، بې حسول .
numbly, adv.	په ویده توګه ، په بې حسه توګه .
numbness, n	ویده والی ، بې حسه والی .
number, n.	شمېره ، ګڼه ، عدد ، ګڼ (= حساب) .
singular number, v.t.	مفرده صیغه
plural number, v.t.	د جمعې صیغه
numberless, adj.	بې حده ، بې شمېره
numeral, n.	عددي ، ګڼېز .
numerator, n.	ګڼوونکی ، شمېروونکی : کسري عدد.
numerical, adj.	د شمېر ، د ګڼلو .
numerous, adj.	ډېر ، زیات : ګڼ شمېر (خلک)

numismatics, n.	سکه پېژندنه، نښان پېژندنه.
numismatist, n.	سکه پېژندونکی
numskull, n.	پخ، کندذهنه، بېړا .
nun, n.	راهبه، هغه ښځه چه د دین د پاره یې دنیا ترك کړې وي.
nunlike, adj.	راهبه ډوله .
nunnery, n.	راهبه توب.
nuncio, n.	د پاپ استازی، په بانديو ملکو کی د پاپ نماینده.
nuptial, adj.	د واده، په واده پوری مربوط.
nurse, n.,	وړوك پاله، رنځور پاله، پرستاره، نرسه.
nursemaid, n.	پېغله نرسه.
nursery, n.	وړ کتون: بوزغلی، قوریه
nursling, n. nurseling, n.	روزل شوی کوچنی (د دایې یا پرستاری په لاس).
nurture, n.	روزنه، پالنه: خواړه تغذیه
nut, n.	منډکه، میندکه، زړی، زنی: خښته، پېچ (فلزی)، نټ.
nutcracker, n.	منډکه ماتوونکی: یو ډول مرغه.
nutshell, n.	د منډکو پوستکی.
nuthatch, n.	شین توپی، شیدو پی شینکی (یو ډول چوغکه).
nutmeg, n.	یو ډول د دیگ مسالې چه په پخلی کی استعمالېږی، یو ډول اغوز
nutrient, adj.	مغذی.
nutriment, n.	خواړه، غذا. خوړونه، تغذیه:
nutrition, n.	خواړه، غذا.
nutritional, adj nutritious, adj. nutritive, adj.	مغذی
nutty, adj.	له زړو ډك، زړی لرونکی (لکه ځینې میوې): د زړوك: خوندور.
nuzzle, v.t.i.	په پزه وهل، په پزی پوری وهل: روزل: تربیه کول.
nylon, n.	نایلون: یو ډول ترکیبی ټوکر چه له سکرو، هوا او اوبو څخه یې جوړوی
nymph, n.	ښاپېری، په یونانی نکلو کی هغه حوره چه په غرو، لښتو او ونو کی اوسېږی: ښکلې، بی مخی او نازکه پېغله

O

oaf, n. پخ (غبي)، احمق .
oak, n. څېړ ی (بلوط)
oaken, adj. د څېړ ی .
oakum, n. زړه رسۍ چه د بېړيو د سوريو
اوچاکو په بندولو کی استعماليږی .
oar, n. د بېړ ی راښېيل (پارو) هغه
چه د کوچنيو بېړيو د بيولو د پاره
استعماليږی .
oarsman, n. راښېيل وهونکی .
oarlock, n. د بېړ ی په څنډه کی هغه کنډ
گی چه پارو پکی ايښودل کېږی .
oasis, n. رغيانه (واحه) شينلی .
oat, n. سارابی اوربشی .
oaten, adj. وربشينه .
oath, n. لوړه (قسم) .
oatmeal, n. هغه خواړه چه له سارابی ور
بشو څخه جوړ شوی وی .
obdurate, adj. ځېلی (لجوج) سرسخت ،
پهزړه کلك ، بې زړه سويه .
obduracy, n. ځېل، لجاجت .
obedient, adj. منونکی ، مطيع ، فرمان
وړونکی .
obedience, n. منڼه ، قبلونه .
obediently, adv.. په منڼه ، په اطاعت

obeisance, n. . ټيټېدنه (د تعظيم د پاره)
obelisk, n. د تيږی څلور کونجه ستنه
(ستون) چه سر يې د هرم په شان وی .
obese, adj. غوړ چاغ : قوی .
obesity, n. مزی توب .
obey, v.t. منل، غاړه ايښودل ، قبلول ،
د چا خبره منل .
obituary, n. د مړينې خبر .
object, v.t. گوته نيول ، اعتراض کول ؛
مخالفت کول .
objection, n.. گوته نيونه ، اعتراض
objectionable, adj. د اعتراض وړ .
objector, n. گوته نيوونکی ، معترض
object, n. شی، ماده ، هغه شی چه ليدل
کېږی . ، موضوع ، مقصد : (گر) مفعول .
obective adj. عينی ، آفاقی ، واقعی ،
هغه شيان چه خارجی وجود ولری او د شخص
نظر پکی دخل ونلری : عدسيه .
objective case. . (گر) مفعولی حالت
oblate, adj. فداکار (په مذهبی چارو کی)
هغه شی چه قطبونه يې ژور وی .
oblation, n. فداکاری (په مذهبی چارو
کی) ، د خدای د پاره وقفونه

obligate, v.t. اړ کول (مجبورول)، گومارل، (موظفول)، متعهد کول، مقید کول.

obligation, n. اړتیا، مجبوریت، قید، تعهد.

obligatory, adj. واجب، جبري

oblige, v.t. اړ کول (مجبورول)، گومارل، مکلف کول: خوشالول.

obliging, adj. خدمت ته چمتو، مرسته کوونکی: مهربان، صمیمي.

oblique, adj. ریونده، کوږ، مایل.

obliquely, adv په ریونده ډول.

obliquity, n. ریونده والی، کوږوالی.

obliterate, v.t تورول، گرول، هېرول، پاکول، کوره کول (محوه کول): له منځه وړل، فسخ کول.

obliteration, n. تورنه، گروونه.

oblivion, n. هېروالی، هېرتیا.

oblivious, adj هېرجن، هېرناك: بې پروا: بې خبره.

oblong, adj. اوږد وزمه، اوږد غزېدلی مستطیل.

oblong, n. اوږد غاړی، مستطیل.

obloquy, n. غندنه، بدوینه، ښکنځنه رسوایي، سپکاوی.

obnoxious, adj. ناوړه، کرغېړن. زیان رسوونکی، مضر.

oboe, n. سورنا، سورنی.

obscene, adj. کرغېړن، بدمرغه، ناولی، ناوړه: احمق.

obscenity, n. ناولتوب، کرغېړن

obscure, adj. تیاره، تت، خړ، پېکه، خپ، نښتی. : پټ مبهم : کم کېچن

obscurely, adv. په تیاره ډول

obscurity تتوالی، خړوالی، خپوالی.

obsequies, n. دخښولودود، دجنازې مراسم.

obsequious, adj. غوړه مال، چاپلوس

obsequiousness, n. چاپلوسي.

observable, adj. دلیدووړ، دکتنې وړ مراعات کوونکی.

observance, n. رعایت، ساتنه (لکه دقانون)، پاملرنه: کتنه: مذهبي دود.

observant, adj. پاملرونکی، ساتونکی (رعایت کوونکی).

observation, n. لیدنه، کتنه (مشاهده): یادونه.

observatory, n. دستورو کتنځی (رصدخانه).

observe, v.t. کتل، ساتل (رعایت کول)، اجرا کول (لکه د مراسمو).

obsess, v.t. څورول، پکو کول، کړول: ځارول.

obsession, n. څور، کړاو، ربړ، اندېښنه، سودا.

obsidian, n. هغه ښیښه چه داور غورځوونکي غره له موادو څخه په طبیعي ډول جوړه بږي.

obsolescent, adj. له موده لوېدلی، له دوده لوېدلی.

obsolescence, n تدریجي زوړوالی، ورو ورو زړېدنه.

obsolete, adj. له موده لوېدلی، له دوده لوېدلی، زوړ، مخ په زوال، متروك.

obstacle, n.	خنډ، مانع .
obstetrics, n.	دايي توب، قابلګي، له ښځې سره د لنګېدو په وخت مرسته .
obstetric, adj.	دقابلګی .
obstetrical, adj.	د دايي توب، د لنګون
obstetrician, n.	ولادي متخصص، د لنګون متخصص .
obstinate, adj.	سرټمبه، سرزوري .
obstinacy, n.	سرټمبه ګي، سرزوري .
obstinately, adv.	په سرټمبه ګی
obstreperous, adj.	سرزوري، سرکښ: چيغن (غالمغالي) .
obstruct, v.t.	خنډ اچول، بنديز اچول، اټکی اچول .
obstruction, n.	خنډ، بنديز، اټکی
obstructive, adj.	خنډ اچوونکی
obtain, v.t.	لاس ته کول، حاصلول، ګټل
obtainable, adj.	د حصول وړ .
obtrude, v.t.i.	ځان وړاندې وړاندې کول، د شړومبو مچ کېدل، نابللی ورتلل .
obtrusion, n.	بېځايه مداخله .
obtrusive, adj.	بېځايه ځان وړاندې کوونکی .
obtuse, adj.	پڅ . ناپوه، بېړا، کم عقل .
obverse, n.	مخ، د سکې مخ، هغه خوا چه نشان يا بت ولري: هغه چه سر يې پلن او بېخ يې نری وي لکه (هګۍ، ناك) .
obverse, adj.	مخني برخه: مخامخ، متقابل
obviate, v.t.	مخه نيول، ايسارول: ځان ترې خلاصول: له مينځه وړل .
obvious, adj.	څرګند، ښکاره، جوت
obviously, adv.	په څرګنده ډول، په ښکاره ډول .
obviousness, n	څرګندوالی، جوتوالی .
occasion, n.	وخت، وار، موقع، ځای .
occasional, adj.	کله کله، ځينې وخت، ضمني .
occasionally, adv.	په ځينو وختو کې .
occident, n.	لويديځ او غرب (اروپا) او امريکا) .
occidental, adj.	غربي .
occlude, v.t.	تړل، بندول، ايسارول .
occlusion, n.	تړنه، بندونه .
occult, adj.	پټ، سري
occupancy, n.	نيونه، لاس ته راوستنه، خپلونه: دنده، پېشه، مسلك .
occupant, n.	نيوونکی، لاس ته کوونکی، لاندې کوونکی .
occupation, n.	نيونه، خپلونه، دنده، حرفه، مسلك .
occupational, adj.	حرفوي، کسبي .
occupy, v.t.	نيول (اشغالول)، خپلول لاس ته کول: لګيا کول، بوختول .
occupier, n.	نيوونکی: بوختوونکی
occur, v.i.	پېښېدل، واقع کېدل: په يادېدل، په زړه کېدل: موندل کېدل: څرګندېدل .
occurence, n.	پېښېدنه، واقع کېدنه، نابوبره، بر پېښېدنه، پېښه .
ocean, n.	سمندر (بحر) .
oceanic, adj.	سمندري، بحري .
ocelot, n.	يو ډول لويه امريکايي پيشو

ocher, n.	هغه خاوره چه د اوسپنې مواد پکښې وي ۔
o'clock n.	بجه ۔
octagon, n.	اته اړخیزه شکل ۔
octagonal, adj	اته اړخیزه، اته گوټي
octave, n.	اتمه ورځ (د اختر): اته ایز ۔
octavo, n.	هغه کتاب چه مخونه یې د کاغذ د تختې له اتمې برخې څخه جوړ شوي وي
October, n.	د عیسوي کال لسمه میاشت چه ۳۱ ورځې لري ۔
octogenarian, adj.	اتیا کلن، هغه څوک چه د اتیا او نوي کلو ترمنځ عمر ولري ۔
octopus, n.	یو ډول سمندي یا بحري ژوی چه اته لاس او پښې ولري ۔
ocular, adj.	د لیدو وړ، عیني ۔
oculist, n.	د سترگو ډاکټر ۔
odd, adj.	تاک (طاق) بې جوړې ۔ هغه عدد چه جوت (جفت) نه وي : اضافه گي، موقتي (کار)، عجیب ۔
oddly, adv.	تماشه یا په عجیب ډول
oddity, n.	عجیب والی، تماشه والی، عجیب سړی یا شی ۔
odds, n. pl. & sing.	توپیر، نا برابري، فرق: ښه والی، د باندېوالی (امتیاز) ۔
ode, n.	بولله، قصیده ۔
odious, adj	خوابدوونکی، د کرکې وړ کرغېړن ۔
odium,	کرکه، نفرت
odor, odour, n.	بوی: ښه بوی : شهرت
odoriferous, adj.	خوشبوی ۔
odorous, adj.	خوشبویه ۔
oesophagus, n.	ستوني، غاړه ۔
of, prep.	(اضافت توری) د، څخه، له، په، پکښې ۔
off, adv.	جلا، لیری، بېل، پرې
offal, n	د حلال شوي څاروي ناکاره غوښې چه نه خوړل کېږي، بې ارزښته بېکاره، اضافي شیان ۔
offend, v.t.	تېری کول، خپه کول، سپکول: گناه کول ۔
offender, n.	گناه کار ۔
offense, n	تېری، تعرض، ازار، سپکاوی
offensive, adj.	تېری کوونکی، یرغل گر، خوابدوونکی ۔
offensiveness, n.	تېری، یرغل، خوابدونه ۔
offer, v.t.	ور کول، فرمایش ور کول، وړاندې کول، بخښل، پیشنهاد کول، : د . داوطلبی ۔
offering, n.	بخښنه، پیشنهاد ۔
offhand, adv.	په بې غورۍ، په بې فکری
offhand, adj.	بې ملاحظې، بې اندیښنې بې غوره ۔
office, n.	دفتر، اداره: خدمت: وظیفه : مقام، دود، دستور ۔
office holder, n.	کاردار ۔
officer, n.	افسر، د دفتر امر، د لوړې رتبې مامور، عسکری منصبدار ۔
official, adj.	مامور: رسمي، اداری
officialdom, n.	ماموریت، رسمیت ۔
officially, adv.	په رسمي توگه ۔

officiate, v.t. لمونځ ور کول، مذهبي دود په ځای کول (د ملا په حيث): ماموريت اجرا کول په رسمي توګه: يو کار کول: کوربه کېدل.

officious, adj. هغه څوک چه لکه د تروو مچ په هر کار کې ځان ګډوي، نابللی، سپک سړی: غير رسمي.

offing, n. د سمندر هغه ژوره برخه چه له ساحل څخه ليدل کېږي: لېري فاصله.

offset, n. ټيالګی، لښته، منځوکی، غوړه ګه، خانبي: فرعي لين (لکه د اساسي نل څخه چه بل نل جلاشي).

offset, v.t. انډولول (متوازن کول)، برابرول

offshoot, n. بچکی، ښاخ، ياشاخ، څانګه: زوزاد، اخلاف: فرعي، مشتق.

offshore, adj. له غاړي لري، له ځمکي لري (د سيند)

offspring, n. زی، زوزاد، اولاد

oft, adv. ډېر ځلي، ډېر واري، اکثر.

often, adv. ډېر ځلي، اکثر، بيا بيا

oftentimes, adv اکثر وختونه، ډېر پلاوي ډېر واري.

ogle, v.t.i. په نازاو نخرو کتل، په مينه کتل، په نازاو نخرو کېدل.

ogle, n. نازاو نخري.

ogre, n. سړی خور، بلا، ادم خوره بلا (په نکلو کی): ظالم: بدرنګه

ohm, n. د برېښنا د مقاومت واحد.

oil, تېل، غوړي.

oil, adj. غوړ.

oily, adj, غوړين.

oilcloth, n. مومجامه.

oilskin, n. موم جامه.

ointment, n. غوړ، ملهم.

O.K, OK, okay, adj. ټيك، صحيح، سم

O.K. v.t. سمول (صحيح کول)، منل (تصويبول) تصديق کول، تاييدول، کره کول.

okra, n. بېنډۍ، باميه، بېنګړی.

old, adj. زوړ.

olden, adj. زوړشوی

old-fashioned adj. پخوانی، لرغونی، زوړ، له موډه لوېدلی.

oldish, adj. زوړ ډوله، زوړ دوزمه

old-world, adj. زړه نړۍ، زړه د نيا پخوانۍ نړۍ (لکه چه امريکا پکې نده شامله).

oleander, n. ګنډېري (يو ډول زهرناك بوټی چه تل تر تله شين وي).

oleo, n. مارګرين، د oleomargarine مخفف

oleomargarine n. مارګرين، يو ډول ګډوله غوړي.

olfactory, adj. په شامه پورې مربوط، د شامې (د بويولو قوه يا حس)

oligarchy, n. اوليګارشي، د څو کسانو حکومت، د بډايانو حکومت، هغه هيواد چه د اوليګارشي په واسطه اداره کېږي.

oligarch, n. د څو کسيز حکومت غړی

oligarchic, adj د مخورو کسانو هغه ډله چه د حکومت واګې يې په لاس کې وي.

oligarchical, adj د مخورو کسانو حکومت.

olive, n. ښون، زيتون.

olive oil, د ښون غوړ.

omega, n. د یونانی الفبا وروستی توری

omelet, omelette, n. خاګینه ، داسی خاګینه چه هګی سره ولړی او بیا یې پخې کړی .

omen, n. مرغ ، فال ، شګون ، نښه .

ominous, adj. بد مرغه .

ominously, adv. په بدمرغی .

omit, v.t غورځول (حذفول)، ګرزول، تېرېدل : پاته کېدل : ناکامول .

omission, حذف ، له نظره غورځونه ، تېروتنه .

omnibus, n. بس ، یو ډول اوږد سرویس موټر چه ډېر خلک سپرولای شی: هغه کتاب چه د زیات شمېر آثارو نمونه پکښې داخلې وی .

ominpotent, adj, قادر مطلق ، پر هر شی بر ، پر هر شی قادر .

omnipotence, n. مطلق قدرت .

omnipresent, adj. هرچېرته حاضر ، هرځای حاضر (په عین وخت کی) .

omnipresence, n. هر چېرته موجود-والی ، هرچېرته حاضر توب (په عین وخت کی).

omniscient, adj. په هرڅه پوه ، په هرڅه خبر (عالم کل).

omniscience, n. په هر څه پوهېدنه

omnivorous, adj. هغه څوک چه هر څه خوری ، هغه څوک چه هر سابه او هم غوښه خوری .

on, prep. پر ، سربېره ، باندی : وړاندی : غوا ، اوری .

once, adv. یوځلی ، یوه پلا ، هر وخت : پخوا

oncoming, adj ، راتلونکی ، راتلونی ، رارسېدونی .

one, adj. و ، ټاکلی (سړی یا شخص): متحد .

one-legged, adj. یو پښی ، یوی خواته کوږ .

onness, n. یووالی .

onerous, adj. ، دروند ، مشکل ، ګران ، سخت ، ستونځور .

oneself, pron. پخپله .

one-sided, adj. کوږ ، یوی خواته ، ریو قده : یواړخیز : نابرابر (په حقوقو کی) .

one-way, adj. یو لار ، یوی خواته ، یو لوریځ (لکه ترافیک چه پر یوه سړک تلای شی خو را تلای نشی) .

onion, n. پیاز ، کك .

onlooker, n. نندارچی ، کتونکی ، ناظر .

only, adj. یوازی ، یوازنی ، وتلی ، تنها : ډېر ښه .

onrush, n. مخ په وړاندی ، ترمخ (یرغل)

onset, n. یرغل ، پیل ، برید .

onslaught, n. کلک یرغل ، چپاو ، کلکه حمله .

onus, n. مسئولیت ، پېټی ، مکلفیت

onward, adj. وړاندی .

onwards, adv. مخ په وړاندی .

onyx, n. یو ډول مرمری تیږه چه څو ډوله ، رنګه رنګونه واری

ooze, v.i. نښېدل ، څڅېدل ، سوکه بهېدل

ooze, n.	خړه ، اومه خټه ، پسته خټه .
oozy,	مټخنه ، مټنه .
opal, n.	يو ډول تيږه چه غمی هم ځلنی جوړيږی او په زړه پوری رنګ لری .
opalescent, adj.	دشنی او زرغونی رڼا ، دشنی او زرغونی رنګونه .
opaque, adj.	خړ (مکدر) : ناڅرګند (مبهم)، تت : پڅ (غبی) .
ope, v.t.i.	پرانيستل ، ښکاره کول ، ښکاره کېدل .
open, adj.	پرانيستی ، واز ، خلاص : څرګند ، ښکاره : بی تعصبه : لاس خلاصی (سخی) .
opener, n.	پرانيستونکی .
openly, adv.	په څرګند ډول .
openness, n.	څرګندوالی .
open door, adj.	پرانيستی ور ، خلاصه دروازه (په ډيپلوماسی کی)
openhanded, adj.	سخی ، لاس خلاصی .
open-hearth, adj.	د پولادو د ويلولو بټی يا داش .
opening, n.	پرانيستنه (خلاصوونه): خوله ، چوداخ ، سوړه ، سوری : پيل ، پرېد ، شروع : خالیګاه .
open shop,	هغه فابريکه چه هلته هر څوك بی له امتيازه كار كولای شی .
openwork, n.	په ټوکرانو او فلزاتو کی د سوريو په جوړولو سينګارونه .
opera, n	اوپيرا ، هغه ننداری چه لويه برخه يی شعر او موسيقی کی اجرا کيږی موزيکال ډرامه .
operatic, adj.	د اوپيرا ، اوپيرايی .
opera glass, or glasses,	يو ډول وړوکی تلسکوب چه د اوپيرا په ليدو کی استعماليږی
operate, v.i.t.	عملی کېدل : عملی کول په کار اچول ، چلول ، اداره کول.
operator, n.	په کار اچوونکی، عمل کوونکی .
operation, n.	عمل ، عمليات : خوځيدا ، حرکت (اوپراسيون په عسکری کی)
operative, adj	عملی ، عمليات کېدونکی عملی کيدونکی (د عملی کيدووړ) .
operetta, n.	اوپيرتا ، کوچنی اوپيرا هغه ننداری چه د سپك موزيك په وسيله د ډيالوګ په څير په نظم يا نثر اجرا کيږی
ophthalmic, adj.	د سترګی ، د سترګو
ophthalmology, n	د سترګو د ناروغيو پوهنه .
ophthalmologist, n.	د سترګو د ناروغيو متخصص .
opiate, n.	په تاريا کو لړلی ګولی چه د استعمال په صورت کی خوب هم راولی
opine, v.t.i.	نظر ورکول ، تصور کول ، عقيده لرل : تصميم نيول .
opinion, n.	نظريه ، مفکوره ، فکر .
opinionated, adj.	سرټمبه ، سرزوری ، په خپل سر ، مستبد .
opium, n.	اپين ، ترياك (افيون) .
opossum, n.	يو ډول امريکايی ژوی چه پاس په ونو کی اوسيږی او شنی ښخن ويښتان لری .
opponent, adj.	مخالف ، چپ (ضد)
opportune, adj.	وړ ، مناسب، په وخت برابر په موقع .

opportunism, n. اوپورتونیسم ، لهوخت له ګټې اخستنه بې له دې چه پرنسیپو ته اهمیت ورکړي ، ابن الوقتي .

opportunist, هغه څوك ، خپل چارو کې چه له وخت نه ګټه اخلي بې له دې چه پرنسیپو ته اهمیت ورکړي .

opportunity, n، فرصت ، وخت ، موقع ، ښه چانس .

oppose, v.t. مخالفت کول ، په لار کې ورته درېدل ، مخته درېدل(دچا) .

opposite, adj مخالف ، مخامخ ، مقابل چپ (ضد) .

oppress, v.t. تیری کول ، ظلم کول ، فشار اچول .

oppressor ظالم ، فشار اچوونکی تېرونی .

oppression, n. ظلم ، فشار ، کښېکښېنه

opprobrious, adj. ناوړه ، سپك ، رسوا .

opprobrium, n. سپکوالی ، ناوړه توب ، رسوایی .

optic, adj. دسترګو ، دلیدو ، دباصری .

optical, adj. په لیدپوهنې (بصری علم) پوری مربوط : دلیدونې : رڼا ته منسوب

optician n, دعینکو سوداګر ، هغه څوك چه دچشمو درانیولو او پلورلو کار کوي ، عینك جوړوونکی .

optics, n. درڼااو لیدو پوهنه .

optimism, n. خوشبیني : خوش باوری .

optimist, n. خوش باور .

optimistic, adj هغه نظر چه پر خوشبینی ولاړدی .

option, n. واك ، دټاکلو واك اختیار .

optional, adj. دواك ، اختیاري .

optometrist, n. دسترګو دڅېړ ټاکلو متخصص(دچشمودورکولو دپاره) .

opulent, adj. بډای ، موړ ، شتمن شته ، ډېر .

opulence, n بډایی ، موړوالی ، شتمني .

or, conj. یا ، لا .

oracle, n غیب وینه ، الهام : ستره پوه .

oracular, adj غیبی ، الهامی .

oral, adj. ویېز (شفاهی) تقریری ، دخولي .

orange, n. نارنج ، مالټه ، سنتره .

adj. نارنجی .

orangeade, n. دمالټوخوږوالی (شربت)

orangutan, n. وحشی سړی ، ځنګلی سړی بوډول بیزوچه او ږده لاسونه لري او په بورنیو او سوماترا کی پیدا کیږي

oration, n. اوږده وینا ، لویه وینا ، خطابه .

orator, n. وینا کر ، خطیب ، ویاند (نطاق) .

oratorio, n دډرامې نظم چه له موسیقی سره ویل کیږي .

oratory, n وینا کری ، نطاقی ، خطابه

oratorical, adj. دخطابې .

orb, n. کړه ، دایره ، ګرد والی ، غونډوالی ، کره ، مدار .

orbicular, adj. غونډ ، کروی

orbit, n. مدار : سترغالی (دسترګو کاسه) .

orbital, adj. د مدار، مدار ته منسوب.

orchard, n د میوو باغ: (میوه لرونکې ونې).

orchardist, n. مالیار.

orchestra, n. ارکسترا، هغه ساز او سندرې چه په هغه کې د ساز ډېرې آلې استعمالیږي: د ساز آلې: د ساز یا او د ناستې ځای (د سټیج مخکې).

orchestral, adj. ارکسترایي.

orchestrate, v.t.i. ارکسترا کول، د ارکسترا په بڼه اړول، په ارکسترا کې راتلل.

orchestration, n. په ارکسترا کې راتلنه.

orchid, n. یو ډول بوټی چه آبي سره ښخن ګلان لري.

ordain, v.t. ټاکل، مقررول.

ordeal, n سخته ازموینه یا تجربه: په لرغوني زمانه کې د سخت جسماني تعذیب په واسطه د ګناه ثابتونه.

order, n. ترتیب: امر، حکم، پرمایښه (فرمایش): سپارښتنه: لار ښوونه: سمون: آرامي: کتار، سنبالونه، نظم، ډول، پروګرام کړنلاره، پرنامه: درجه، طبقه.

orderly, adj. سم، منظم مرتب، برابر

ordinal, adj. پرله پسې شمېر (لکه لومړی، دوهم، دریم) پرله پسې کېنه.

ordinance, n. امر، حکم: لار، قانون.

ordinary, adj عادي، معمولي، متوسط (نه ښه، نه بد): باقاعده.

ordinarily, adv. په عادي ډول.

ordination, n. هغه مراسم چه په هغه کې یو عیسوی ملا مقرریږي.

ordnance, n. توپ، توپخانه: وسله تون جبه خانه.

ordure, n خوشایې، تپې.

ore, n. کانۍ، تیږه، معدني پرښه، فلز لرونکي مواد، فلزوال مواد.

oread, n د غره حوره (په یوناني نکلو کې)

organ, n آله، وسیله: دستګاه، غړی (د بدن) سازمان: ارګان (ارغنون)

organdy, organdie, n ارګندي یو ډول نازک ټوکر.

organic, adj. د غړي، د اندام، عضوي اساسي: سازماني.

organically, adv. وظیفوي، ډول اساساً.

organism, n. ارګانیزم، ژوندی موجود عضویت: رغښت: (ترکیب).

organist, n. ارګان (ارغنون) غږونکی

organization, n. اداره، سازمان، تنظیم، تشکیل.

organize, v.t. رغول، جوړول (تنظیمول) بڼه ورکول، تشکیلول.

organizer, n. جوړوونکی، تنظیموونکی

orgy, n. مستي، عیاشي.

oriel, n. یو ډول دیوالي کړکۍ چه څو اړخونه لري.

Orient, n. ختیځ، ختیځه سیمه.

Oriental, adj. د ختیځ، د لمر خواته، د شرق، شرقي.

orientation, n. اوډونه، ور پېژندنه، د دریځ ټاکنه، د خوا ټاکنه، د موقعیت ټاکنه

orifice, n. وږه، سوری: خوله: مخرج

origin, n سرچینه، اصل، مبدا، منشا

original, adj. لومړنی، پخوانی، ابتدایي ځایي، حقیقي، اصلي: نوی تازه: ذاتي، فطري.

originality, n. لومړی والی: نوی والی: د ابتکار قوت.

originally, adv. په لومړي توګه، په ابتدا کې.

originate, v.t.i. نوی را ایستل، په ابتدایي توګه منځ ته را ویستل: مبدا درلودل: اصلیت درلودل: نوی راتلل، په ابتکاري ډول منځ ته راتلل.

originator, n. نوی را ایستونکی، ایجادوونکی، بنسټ ایښودونکی، مؤسس.

oriole, n. یو ډول امریکایي ژیړ بڼو نه مرغۍ چه ښه چونهار لري.

orison, n. دعا، زاری، لمونځ.

ornament, n. v.: ګڼه، پسول، ګاڼه: سینګار، ډول: سینګارول، پسولل.

ornamental, adj. ډولي، پسولیز.

ornamentation, n. سینګار، ډول، زینت.

ornate, adj. زیات سینګار شوی، ډولي شوی.

ornithology, n. د مرغه پېژندنه، مارغه پوهنه، د مرغانو علم.

ornithological, adj. د مرغه پېژندنې.

ornithologist, n. مرغه پوه، د مرغانو عالم.

orphan, n. یتیم.

orphanage, n. یتیم والی: مرستون.

orthodox, adj. پخپله عقیده ټینګ ولاړ، جزمي.

orthodoxy, n. کلکه عقیده.

Orthodox Church, د عیسوي دین یو شاخ چه په ختیځه اروپا کې عمومیت لري.

sachet, n. د عطرو کڅوړه، د خوشبويي بټکی، هغه کڅوړه چه خوشبويه بوټي پکې اچول کېږي: خوشبويه بوټي .

sack, v.t.n : تالا کول، لوټل، چورول: ولجه، تالاک، لوټ .

sack, n.v.t. سپين اسپانوي شراب .

sack, v.t.n. غونډۍ، بوجۍ، جوال، لنډ کوټ، لنډه لويه کورتۍ : ايستل : رخصتول : په جوال کې اچول .

sacrament, n. ديني دود، مذهبي مراسم، د عيسوي دين ارکان: مقدسات .

sacramental, adj. په ديني دود پورې مربوط .

sacred, adj. سپېڅلی، مقدس: روحاني : درونד: د لمانځنې وړ : واحد: له نظره نه اوړېدونکی .

sacredly, adv. په سپېڅلتيا، په پاکی، په تقدس .

sacredness, n. سپېڅلتيا، پاکي، تقدس .

sacrifice, n. قرباني، حلاله: جارونه، شندنه : تاوان ګالنه، زيانمن کېدنه .

v.t. قرباني کول: جارول : شندل .

sacrificial, adj. د قرباني .

sacrilege, n. د دين سپکاوی، د دين بې عزتي، پر مقدساتو تېری .

sacrilegious, adj. بې حرمته (مذهب ته) ، دمذهب سپکوونکی .

sad, adj. خپه ، خواشینی ، غمجن : خواږوونکی .

sadden, v.t. خپه کول ، خواشینی کول

sadly, adv. په خپګان ، په غمجنه توګه

sadness, n. خپګان ، غمجن توب ، خواشینی .

saddle, n.v.t. زین : دشا تخته ، شمزۍ : زین کول : بارول : باراچول .

saddler, n. زین جوړوونکی ، زین خرڅوونکی .

saddlebow, n. دزین کاڅی ، لینډ کی ، دزین موڅی (قاش) ، اګبی .

sadiron, n. اوتو ، داوتولا ندنی مخ

sadism, n. د ظلمه خوند اخیستنه ، دبل له ځورولو څخه خوند اخیستنه : یوډول شهوانی ناروغی چه دمعشوقې له ځورولو څخه خوند اخلی .

sadist, n. ظالم شهوتی ، ځوروونکی شهوتی .

safe, adj. خوندی ، ساتلی ، ډاډه ، بې خطره : دډاډوړ ، باوری .

safely, adv. بې خطره ، روغ رمټ ، په سلامتی .

safe-conduct, n. اجازه نامه ، امان لیك

safeguard, n. د فاع ، ساتنه ، په غاړه اخیستنه ، حفاظت .

safeguard, v.t. ساتل ، په غاړه اخیستل ، دفاع کول .

safety, n. adj. ساتنه ، خوندی توب ، حفاظت ، امنیت ، دتصادم دمخنیولو آله :

دډاډوړ ، بې خطره ، خوندی .

saffron. n. : کنګو ، زاپران (زعفران) : یوډول رنګ چه دنارنج څخه لاس ته راځی او په پخلی کی کار ځنی اخیستل کیږی : تک ژړ .

sag, v.i.n. ځوړلی کېدل ، ځړېدل : کښېناستل (لکه دبام) ، شلېدل : کږوږېدل : ځوړلی کېدنه ، ځړېدنه ، شلېدنه .

saga, n. داتلانو کیسه ، دمیړنو کیسه ، جنګی کیسه ، دآیسلینډ لرغونی جنګی کیسه .

sagacious, adj. ځیرك ، هوښیار ، پوه .

sagacity, n. ځیرك والی ، هوښیاری ، پوهه .

sagamore, n. دامریکایی سور پوستو مشر ، ملك .

sage, n. دناناد کورنی یو بوټی چه په پخلی کی استعمالیږی .

sage, adj. ځیرك ، هوښیار ، عقلمن .

sagely, adv. په هوښیاری ، په ځیرکتیا

sago, n. څاښکو ، ساګو .

said, د say ماضی او دریم حالت

sail, n.v.t.i. بادوان ، دبېړۍ سفر : په بېړۍ کی تلل ، بېړۍ چلول .

sailboat, n. بادوانی بېړۍ .

sailor, n. ماڼو ، بېړۍوان .

saint, n. پیر ، ولی ، بزرګ ، رسېدلی ، دبرخی څښتن .

saintly, adv. دبزرګی په توګه ، دولایت په توګه .

saith, دیپویل (په لرغونی انګلیسی کی) .

sake, n. : د پاره ، په لحاظ ، مقصد : نیکمرغی : گټه، خوښی .

salad, n. سلاته .

salamander, n. یو ډول شرمښکی ، کربوړی .

salary, n تنخا ، معاش .

sale, n. خرڅلاو ، بازار ، تود بازار ، لیلام .

salable, adj. دخرڅلاو وړ .

salesman, n. دکاندار ، دلال ، دخرڅولو نماینده .

salesgirl, n. دکانداره (نجلی) .

saleslady, n. دکانداره (ښځه)

salesmanship, n. دکانداری ، دلالی ، دخرڅلاو چل .

saleswoman, n. دکانداره .

salient, adj. وتلی ، څرگند ، نامتو .

saline, adj. مالگین ، تریو .

saliva, n. لاړې ، لاړی ، دخولې اوبه ، ناړې .

salivary, adj. لاړجن ، ناړو ، لاړو .

sallow, adj. ژړ بخونه ، ژړ تبښتېدلی ، ژړ زبېښلی .

sally, n. دظلیم پر کرښو یرغل ، پر ایسار شوو خلکو حمله ، پر محاصره خلکو حمله : ټوکې ، ټوکماری ، ظرافت : ژوندی ، خوشال .

salmon, n. یو ډول سور غوښی کب : سور بخن نارنجی رنگ .

salon, n. سالون ، تالار ، دغونډې لویه خونه ، دجرگې تالار ، دژوندیو رسامانو داثارو ښودنه .

saloon, n. سالون ، لویه خونه ، دشرابو دڅښلو او خرڅولو او د انیولو ځای .

saloon keeper, n. دشرابو دکاندار ، دشرابخانې څښتن .

salt, n.adj. v.t. مالگه ، دمهوې مالگه : کیمیایی مالگه : مالگه شوی ، مالگین : مالگه کول ، مالگه وهل ، مالگه دوړول .

salty, adj. مالگین ، تریو .

saltpeter, saltpetre, n. شوره (هغه مالگه چه ددارو (باروتو) او کیمیاوی سری په جوړولو کی کار تری اخیستل کیږی .

salubrious, adj. روغ ، جوړ .

salutary, adj. روغتیا بخښونکی ، گټور (صحت ته) .

salutation, n. سلام ، روغبړ ، درناوی ، نمانځنه .

salute, v.t.n. سلام کول : هرکلی کول ، (په عسکری کی) د قطمې تقدیمول ، سلام ایول .

n. سلام ، روغبړ : سلامی .

salvage, v.t.n. د بېړۍ دمال یا سپرلی د ژغورلو اجوره : دمالو دورکېدو مخنیوی : داور یا ډوبېدو څخه ژغورل شوی سامان : ژغورل ، خوندی کول (له خطره) .

salvation, n. خلاصونه ، ژغورنه ، بخښنه (له گناه یا سزا څخه) : خلاصوونکی ، ساتونکی ، نجات ورکوونکی .

salve, v.t.n. ملهم ، اومه لهقی : ملهم ایښوول ، ملهم کول : په زړه ملهم ایښوول ، کرارول .

salver, n. پتنوس، مجمه، خونچه .

same, adj. ورته، لکه، کټ مټ، هم هغه، همهغسې، مساوي، مشابه: یوشی، یوډول، یوشانته .

sameness, n. ورته والی، مشابهت، یوډول والی.

sample, v.t.n. نمونه، نښه، مثال: کره کول (د نمونې د مخه)، پرتله کول، ازمویل، ازمایل .

sampler, n. دستنی کار، خامک دوزی، گنبیده کاری: یوډول گنډل شوی ټوکر چه د نمونې په ډول پر دیوالو ځړول کیږي .

sanatorium, n. سناتوریم، روغتون (چه په یوه صحي او ښکلې سیمه کی جوړ شوی وي .)

sanctify, v.t. پاکول، سپیڅلی کول، مقدس کول .

sanctification, n. پاکوالی، سپیڅلتوب، تقدس .

sanctimonious, n. adj. ټګ، ریاکار، ځان ښکاروونی، درغل .

sanction, n. v.t. منښه، تصویب، منظوري: بندیز: منل، تصویبول، منظورول .

sanctity, n. پاکوالی، سپیڅلوب، تقدس

sanctuary, n. جومات، مزدک، لمانځن ځای، عبادت ځای: امن ځای، سیب علمه ځای،

sanctum, n. خلوت ځای، مقدس ځای، پاک ځای، گوښه ځای (د عبادت دپاره) .

sand, n.v.t. شګه، ریګ: په شګو ډکول، تر شګو لاندی کول: په ریګو پوښل: ریګمالول، په شګه موښل .

sandy, adj. شګلن: ریګی .

sandal, n. څیلۍ، چوټۍ، کېړۍ، څپلۍ، بوټ .

sandman, n. الوګر، ښاپېری (د کوچنیانو د خوب دپاره) .

sandpaper, n. ریګمال، شګه موښی

sandpaper, v.t. ریګمالول، په شګه موښل .

sandpiper, n. د اوبو د غاړې تارو وزمه مرغۍ چه اوږده مښوکه او نرۍ پښې لري .

sandstone, n. شګلن کاڼی، ریګلن کاڼی

sandwich, n. سېنډویچ، دوې ټوټې ډوډۍ چه په منځ کی یې پخه شوې غوښه، سابه، پوڅه یا نور خواړه ایښوول کېږي .

sane, adj. د نورمال فکر خاوند: معقول .

sang د sing ماضي

sanguinary, adj. د وینې، خونې، خونړی: وینو ته تږی، وینې توییوونکی .

sanguine, adj. سور، سور مخی، سور رنګی: خوشاله، ورین: هیله من، امیدوار: خوشبین: خونړی .

sanitarium, n. سناتوریم (د سل او نورو ناروغیو روغتون): د عقلي او عصبي ناروغیو روغتون .

sanitary, adj. صحي، د حفظ الصحې، د روغتیا .

sanitation, n. په علمي توګه د ناروغیو د خپرېدو مخنیوی .

sanitize, v.t. صحي کول، د روغتيا په اصول برابرول.

sanity, n. معقوليت، هوښيارى: عقلي روغتيا.

sank, د sink ماضي

sans, بې له، بدون له، غير له، چپ له، پرته له.

sap, n. د نباتاتو شيره، هغه شيره چه ونو او بوټو ته غذا پکښې رسول کيږي.

sapless, بې شيرې، وچ، زبېښلى.

sap, v.t. شيره ترې زبېښل، وچول، کمزوري کول، کرار کرار زمولول.

sapient, adj. هوښيار، پوه، حکيم.

sapience, n. هوښيارى، پوهه.

sapling, n. نيال، نيالگى: ژلى، ځوان، ځلمى.

sapphire, n. شين ياقوت: نيلي.

sappy, adj. د شيرې ډک، د اوبو ډک، مقوي: لوده، بېړا.

sapsucker, n. يو ډول کوچنۍ مرغه چه د ونو اوبه زبېښي، توردلى.

sarcasm, n. پېغور، ملنډې، کږې خبرې، د خندنۍ ډک انتقاد.

sarcastic, adj د پېغور، د ملنډو.

sarcastically, adv. د پېغور په ډول، په ملنډو.

sarcophagus, n. ډبرين او انځور شوى تابوت.

sardine, n. خينقى، وړو کې کب (چه د تېلو سره په ډبلې کې ساتل کيږي).

sardonic, adj. د مسخرو ډک، کبرجن، د ملنډو.

sardonically, adv. په ملنډو، په کرکه.

sarsaparilla, n. عشبه، د امريکا د تودو سيمو يو بوټى چه ريښې يې د دارو د خوند د پاره استعماليږي.

sash, n. د اورسى پله، د کړکۍ بټ

sash, n. پټۍ (فيته)، پټاره، پټکى (چه تر ملا يا اوږې تاويږي): امېل، ملاوستونى.

sassafras, n. د شمالي امريکې يوه ونه چه پوست يې په دارو کې استعماليږي.

sat, د sit, ماضي او دريم حالت.

Satan, n. شيطان، ابليس.

satanic, adj. شيطاني، د شيطان غوندې: د شيطاني، د ابليسي.

satchel, n. کڅوړه، شخوالى، خورجين، بسته، توبره، چانټه.

sate, v.t. مړول، ډکول، تنده ماتول: تسل کول: پړسول (په ډېر خوراک): اشباع کول.

sateen, n. اطلس وزمه ټوکر، يو ډول وړين يا نخي ټوکر چه د اطلس په شان ځليږي.

satellite, n. چوپړى، خادم: پيرو، مريى: سپوږمۍ (قمر).

satiate, v.t. له اندازې زيات مړول، اشباع کول: ارمان ايستل.

satiety, n. له اندازې زيات مړښت، اشباع: بېزارى.

satin, n. اطلس، ساټين (ټوکر).

satiny, adj. اطلسي، اطلس وزمه.

satire, n. ملنډې، کټرې، طنز، غندنه، هجو: کټرې اړوونکې کیسې.

satiric, adj. دغندنې، دهجو.

satirical, adj. دغندنې، دهجو.

satirist, n. غندونکی، هجو لیکونکی

saterize, v.t. هجو کول، ملنډې وهل

satisfaction, n. سوده، قناعت، رضایت، تسل: بدله، عوض: ترسره کونه، پرېکړه، فیصله.

satisfactory, adj. سوده ناک، دتسل وړ، دقناعت وړ.

satisfy, v.t. راضي کول، خوشالول، خوښول: ادا کول، مجرا کول: جواب ورکول، قانع کول: اډه ترسره کول.

satrap, n. والي، صوبدار.

saturate, v.t. ډکول: خړوبول، مړوبول، اشباع کول، اوبول: تربسو مړول، (کیم) یوه ماده په بله ماده کې تردې اندازې ګډول چه نور یې د حل کېدو او زغملو امکان نه وي (لکه مالګه په اوبو کې).

saturation, n. مړوبونه، ډکونه، خړوبونه، اشباع.

Saturday, n. شنبې، خالي، دهفتې ورځ

saturnine, adj. اندېښناک، پرېشان.

satyr, n. دیونانیانو ځنګلي رب النوع چه غوږونه او لکۍ یې د اس غوندې وو: شهواني.

sauce, n. چټني، ساس: سپین سترګتوب: دمېوې قورمه

v.t. سپین سترګي کول، سمخ سترګي کول.

saucepan, n. ارکاره، کړایي، تالي

saucer, n. تالبکی: تالبکی وزمه

saucy, adj. سپین سترګی، سمخ سترګی، کلک سترګی.

saucily, adv. په ګستاخۍ، په سپین سترګۍ.

sauerkraut, n. مېده شوی په مالګه کرم چه په خپله شیره کې تریو شوی وي (تخمر یې کړی وي).

saunter, v.i.n. خوشې ګرځېدل، وزګار ګرځېدل، چټي ګرځېدل: خوشې ګرځېدنه وزګار ګرځېدنه، چټي ګرځېدنه.

sausage, n. ساسیج، په کولمه کې پېچلې غوښه، کوفته شوې په کولمه کې، پېچل شوې غوښه.

saute, adj. ژر سور شوی، ژر وریت شوی

saute, v.t. ژر وریتول، ژر سور کول

savage, adj, n. تړند، ساړاني، وحشي، غیر مدني: شېل، بربري: سخت زړی، نازړه سواندی، ابتدايي انسان: سخت زړی سړی.

savagely, adv. په وحشي توګه، په بې زړه سوی.

savageness, n. شېلتوب، وحشت

savagery, n. سخت زړتوب، وحشت

savant, n. پوهاند، هوښیار.

save, v.t.i. ژغورل، بچول: ساتل، سپمول، خوندي کول: پاسره کول: سپمېدل، خوندي کېدل.

saver, n. ژغورونکی، ساتونکی، سپمونکی، بچوونکی.

savior, n. بچوونکی، ژغورونکی : شفاعت گر .

savor, savour, n. خوند، مزه، لذت: بوی: بېل خوند: ځانګړی صفت .

v.i. خوند کول، مزه کول: ښه بوی کول

savory, adj. خوندور، مزه ناك : خوش بوی .

saw, n. متل، مقوله، کره وینه، دهوښیارانو خبری .

saw, n. v.t.i. اره: اره کول: اره کېدل

sawdust, n. دارې بوره، دارې مېدګی

sawmill, n. دارې ماشین .

sawyer, n. اره کوونکی، اره کښ

saxophone, n. ساکسفون .

say, v.t.n. ویل: څرګندول: بیانول : بیاویل، وینا: د پرېکړې واك: اظهار، څرګندونه .

saying, n. متل، مقوله، کره وینه

scab, n. پاتری، داغ، نښه (د جوړ شوی زخم) : خوروکی : هغه کارېګر چه د دایمی کارېګرو د اعتصاب په وخت کی د ښه مزدې دپاره کار کوی .

v.i. خورنیول، پاتری کېدل : موقتی کار کول .

scabbard, n. تېکی، تېکه .

scaffold, n. خوازه، دار .

scaffolding, n. دخوازې سامان، خوازه .

Scald, v.t.n. په بړاس اوسرو او بلنو شیانو سوځول : ایشول، خوټول، سوځېدنه .

scale, n. تله، ترازو : مېچه : درجه، درجه بندی: پقه (پله) .

v.t.i. تلل، اندازه کول: تلل کېدل .

scale, n. پوستکی (لکه د کب، مار او نورو): نری پتری، پاڼګی .

v.t. پوستول، پوستکی ایستل، له پوسته کول: پاڼی پاڼی کول .

scale, n. مېچ، وېش، درجه بندی: درجه بندی کول (لکه د نرخونو): تناسب، نسبت: د تخمین یا قضاوت معیار : تال (لکه په موسیقی کی)

v.t. پورته کول، خېژول : درجه بندی کول .

scallop, n. صدف وال کب: سېپی: لیس، حاشیه .

v.t. لیس لګول، حاشیه اچول: سېپی پخول .

scalp, n. دسر پوستکی، د ککری پوست

v.t. کوپړی غوڅول، دسر پوستکی جلا کول .

scalpel, n. دجراحی چاړه .

scamp, n. لوچك، لنډه غر، بد معاش

scamper, v.i. ځغاستل، منډی وهل، تښتېدل .

scamper, n. ځغاستله، منډه، تېښته

scan, v.t. په وزن لوستل، په وزن ویل: په غور کتل، په ځیر کتل .

scandal, n. سپکاوی، رسوایی : بدو ینه، تور لګول، تور (تهمت) .

scandalize, v.t. سپکول، رسوا کول، تور لګول، تورول .

scandalmonger, سپکوونکی، رسوا کوونکی، تورتړونکی .

scandalous, adj. شرموونکی، رسوا کوونکی، توروونکی .

scant, adj. لږ، کم، نیمګړی، نا کافی

scantling, n. ستن، اچه، مټه .

scanty, adj. لږ، کم، نا کافی .

scantiness, n. لږوالی، کمی، قلت

scapegoat n. د قربانی ګوډوری، د بل په ډب کی تللی، د بل په ځای کی تللی، په بردی وانج کی تللی، د بل په ټکټ کی تللی .

scapegrace, n. لنډغر، بی پروا، کوچکټ، لچر .

scar, n. داغ، د پرهار نښه، ټپ

scar, v.t.i. ټپی کول، پرهارول، داغول، ټپی کېدل، داغکېدل .

scarce, adj. لږ، کم، نادر، کم پیدا

scarcity, n. لږوالی، کمی .

scarcely, adv. په لږوالی، په کمه توګه، په نادره توګه، په مشکله .

scare, v.t. ډارول، بېرول، وېرول

scary, adj. بېروونکی، ډاروونکی

scarecrow, n. تور کودی، شړوی، (په پالیز یا کروندې کی هغه تور زیږو کی یا کټوی چه د مرغانو د بېرولو د پاره دروول کېږی) .

scarf, n. سرتړونی، زړوکی، د غاړی یا سر دسمال .

scarlet, n. تکسور (پوخ سور)، آتشی رنګ .

scarlet, adj. سوررنګی، تکسور، آتشی .

scatter, v.t.i. پاشل، تیتول، شیندل، خپرول .

scavenger, n. د پاتی شونو ټولوونکی د تنظیف مامور؛ هغه حیوان چه پاتی شونی خوری: جیفه خور .

scenario, n. د فلم کیسه .

scene, n. پرده (په ننداره کی): ننداره، منظره، پېښه، حادثه: د پېښی صحنه: د احساساتو څرګندونه (په تېره د قار) .

scenic, adj. د ننداری، د تماشی .

scenery, n. سینري، صحنه، په ننداره کی د نقاشی پرده .

scent, v.t.n. بویول، خوږ بویه کول . بوی: عطر: د شامی قوه، د بوی قوه، مصنوعی بوی .

scentless, adj. بی بویه .

scepter, sceptre, n. د قوت امسه، سلطنتی لکړه: توانایی، اقتدار .

sceptic, د (skeptic) بل ډول

schedule, n. v.t مهالوېش (تقسیم اوقات) پروګرام، پروګرام جوړول، کړنلار سربښته کول، په جدول کی شاملول .

scheme, n.v.t. پلان، نقشه، جدول: توطئه، سازش، نقشه اچول، پلان جوړول: توطئه کول .

schemer, n. سکیم جوړوونکی، نقشه جوړوونکی، پلان جوړوونکی: چلی .

scheming, adj. نقشه جوړوونکی، پلان جوړوونکی، چلی .

schism, n. جلا کېدنه ، بېلتون : ګرځېدنه ، اوښتنه (د مذهب څخه) .

schismatic, adj. n. د جلا کېدنې ، د بېلتون : د ګرځېدنې ، د اوښتنې .

scholar, n. پوه ، عالم ، زده کوونکی ، د سکالرشپ خاوند .

scholarly, adj. د زده کړې په توګه : د پوهې په توګه .

scholarship, n. سکالرشپ ، پوهه ، زده کړه : وظیفه : د یو شاګرد سره د پوهې په لاره کې مرسته کول .

scholastic, adj. مکتبي ، د ښوونځي ، د پوهې ، علمي ، سکولاستیک .

school, n. ښوونځی ، مدرسه ، مکتب ، مسلک ، لار ، اصول : د یو مکتب پیروان .

school book, د ښوونځي کتاب .

schoolboy زده کوونکی ، شاګرد .

schoolfellow, د ښوونځي ملګری .

schoolgirl, زده کوونکې ، شاګرده .

schoolhouse, ښوونځی ، د ښوونځي ودانۍ ، د ښوونځي د مدیر کور .

schoolman, استاذ .

schoolmaster, سر ښوونکی ، سر معلم یا معلم .

schoolmate, هم ښوونځی ، په یوه ښوونځي کې درس ویونکی .

choolmistress, ښوونکې ، سر معلمه .

schoolroom, ټولګی ، صنف .

schoolteacher. ښوونکی ، معلم

schoolyard, د ښوونځي غولی .

school, n. ډله ، ټولګی ، بېړ (د کبانو او نورو لامبوزنو ژوو) .

schooner, n. وړوکې بېړۍ چه دوه یا ډېر بادوانونه لري .

science, n. ساینس ، پوهه ، علم : هغه پوهه چه په لیدو ، کتو او آزموینه ولاړه وي ، طبیعي علوم .

scientific, adj. علمي ، د پوهې

scientifically, adv. په ساینسي توګه ، په علمي توګه .

scientist, n. ساینس پوه ، پوه ، عالم ، په ساینس کې متخصص .

scimitar, scimiter, n. (د عربو او ترکانو) کږه توره .

scintilla, n. بڅرې ، سپرغۍ : ټوکی : کك (ذره) .

scintillate, v.i. برېښېدل ، ړپ کېدل ، ځلېدل

scintillation, n. ځلا ، ړپ ك ، برېښ .

scion, n. قلمه ، غوټۍ (د پیوند د پاره) ، زخه ، نیالګی : اولاد ، نسل : زوزاد .

scissors, n. پیاتی ، قیچی ، غېچی ، کېنچی

scoff, v.t.i. لنډې وهل ، ټوکې کول ، مسخره کول ، پېغور ور کول : مسخره کېدل .

scoffer, n. ټوکه ، مسخره .

scold, v.t.i. ښکنځل ، زیاتی کول ، زورلی کول ، پوچ ویل .

n. ترټل : ښکنځل کېدل . ښکنځونکی ، پوچ خولی .

scone, n. کلچه ، ټکی ، بسکټ .

scoop, n. څمڅې ، څمڅه ، چینچه ، ملاقه : رشېدل ، پیلچه : څمڅې وهنه : د عوامو خبری ، د خبرو په توګه په اخبار کې خپرول .

v.t. شمڅې کول: کېښودل: په چمچه راټولول: دعوا وینا وې را ښودول او خپرول .

scope, n. غایه ، مقصد: ډ ګر : ذهني وده، پر اختیار، وسعت ، انکشاف ، پر مخ تګ .

scorch, v.t. سوځول : وچول ، سوکړه کول .

score, n. پور: زخم، ټپ: نښه: شمېر ، حساب، عدد: شل: دموسیقۍ هغه ترکیب چه په هغه کې دهري آلې آواز جلا جلا معلومېږي .

v.t.i. نښتول، شمېرل ، حسابول: لاس ته کول، ګټل، درجه بندي کول: نښتېدل، شمېرل کېدل، حسابېدل، ګټل کېدل .

scorn, n. کرکه، نفرت: حقارت.

v.t. کرکه کول، نفرت کول

scorner, n. نفرت کوونکی، کرکجن.

scarnful, adj. د کرکې، دحقارت ، د نفرت، کرك ښاري .

scornfully, adv. دحقارت په توګه، د کرکې په توګه .

scorpion, n. لړم : یو ډول متروکه .

Scot, n. سکاټلېنډی .

Scotch, n. سکاټلېنډی، دسکاټلېنډ .

Scotchman, n. سکاټلېنډی .

scot-free, adj. روغ رمټ : خوندی ، سا تلی، محفوظ: د باج نه خلاص .

Scots, adj. سکاټلېنډی: سکاټلېنډی ژبه

Scottish, دسکاټلېنډیانو ، دسکاټلېنډ

scoundrel, n. لوچك، لنډغر، رذیل .

scour, v.t. ژر ژر ګرځېدل، په وارخطایي ورکه لټول، الوتنه ګرځېدل .

scour, v.t. پاکول ، موښل، سولول .

scourge, v.t. په متروکه وهل ، په شلاخه وهل ، په کمچینه وهل : سخته سزا ورکول .

n. متروکه، شلاخه ، کمچینه : سزا : مصیبت، تباهي ، بربادي ، بې پناتوب .

scout, v.t.i. څارل ، پسې ګرځېدل ، پسې کتل: جاسوسي کول ، مخبري کول : څارل کېدل ، خبرېدل .

n. څارندوی : مخبر ، جاسوس : مخبري ، جاسوسي .

Boy Scouts, n. څارندوی.

GirlScouts, n. څار نجونې .

scoutmaster, n. دڅارندویو مشر .

scout, v.t. سپکاوی کول، ریشخندول ، شنډې وهل : نفرت کول .

scow, n. لویه بېړۍ چه تل بې اوار وي

scowl, n.v.i. کنځه (ترش ، په قهر) بدمزاجي ، تریوتوب (دتندي) ، ګور ملتوب : په قهرېدل ، په غضب کتل .

scrabble, v, t.i. ګروول : موښل : په خاپوړو تلل: سخت او ځیر کار کول ، کچه لیکل : ګرېدل ، ګروول کېدل، موښل کېدل : مبارزه کول : په خاپوړو تلل .

scrabble, n. ګروونه ، ګرونه ، موښنه ، په خاپوړو کېدنه : سخت او ځیر کار کول : کچه لیکنه .

scramble, v.t.i. په خاپوړو ګرځېدل: په ځکه وهل ، پوړی وهل، ټپله کول : تیت

او پرك كول : سره ګډول : په خاپوړو كېدل : ټپله كېدل : تيت او پرك كېدل : سره ګډېدل .

scrap, n. ټوټه ، ريزه ، پاتې شوني ، پرېښوونې .

v.t. ټوټه كول : له كاره ايستل ، ايسته غورځول .

scrapbook, n. البم ، سپين كتاب چه عكسونه او چاپ شوي مواد پكښې ايښوول كېږي .

scrape, v.t.i. پاك كول ، ليرې كول ، ايسته كول : موښل ، سولول : په ګرانه ګټل ، په سختۍ دولت ټولول : كږېدل : پاسره كول ، پانګه كول ، لږي لږي پيسې ځونډول : د مشكلاتو سره جوړېدل .

n. پاكونه ، توږونه : ستونځې ، ربړی ګرانی ، ناوړی .

scraper, n. توږوونی : كنجوس ، بخيل .

scratch, v.t.i. ګروول ، ګرول : چونګاری كول ، شوكاري كول ، شنګاری كول : كيندل : توږل : ګرېدل ، كرښې ايستل : خطېړي راكښل ، ړنګول ، باطلول : ګرېدل : ګروول كېدل : كينل كېدل : خرل كېدل : مښل كېدل : پاكول ، ايسته كول : كښل ، ايستل .

n. پاكي ، ګرېدنه : ليكي .

scratchy, adj. دازمويني ، امتحاني : ناڅاپي ، اتفاقي : بې وقه ، بې عيبه (په لوبو كې) .

scrawl, v.t.i. چټل ليكل ، سرسري ليكل : ژرژر ليكل .

n. ژرژر ليكنه ، سرسري ليكنه

scream, v.t.i. بغاري وهل ، چيغې وهل ، كړيكې وهل : چيغېدل .

n. چيغه ، كړيكه ، بغاري .

screech, v.t.i. چيغې وهل ، كړيكې وهل

screen, n. پرده ، دلرګي پرده ، ددړو ديوال : جالۍ ، غلبېل : ساتنه ، حفاظت .

v.t. پرده ايښوول ، په پرده كول ، خوندي كول : غلبېلول : د پردې پرمخ ښوول .

screw, n. v.t. پېچ ، رخېز مېخ : تاوول پېچ وركول : اړول ، ګرځول : كږول ، كټ كول ، غبرګول : په پېچ ټينګول : تقويه كول .

screwdriver, n. پېچ تاو ، پېچ كښ

scribble, v.t.i. ژر ژر ليكل ، سرسري ليكل ، چټل ليكل .

scribbler, n. ژرژر ليكنه ، په بېړه ليكنه .

scribe, n. ليكوال ، كاپي كوونكي ، نقلوونكي ، كاتب ، مبيض : د يهودانو قانون ښوونكي (په لرغونو وختو كې) .

scrim, n. جالۍ ، ټوكر .

scrimp, v.i. كنجوسي كول ، سپمول ، امساك كول .

scrip, n. يوډول پخواني لوټ چه د يوه ډالر څخه لږو : قواله (قباله) ، سند

script, n. لاسي نسخې ، لاسي ليك .

Scripture, n. انجيل : مقدس كتاب .

scriptural, adj. كتابي ، انجيلي .

scrivener, n. ليكوونكي (كاتب) ، ليكوال

scroll, n. ملاتغه ، تومار (طومار) ، تومار پوښ .

scrub, n. بوټي ، واړه نيالګي .

ټیټ، لنډی: ناروزلی، بې ودی adj.

scrubby, adj.

scrub, v,t. مښل، په مښلو پاکول یا مینځل

n. مینځنه، مښنه، پاکونه .

scruff, n. څټ (دا ورمېږ)، د څټ پوستکی

scruple, n. ضمیر، وجدان: شك، دوه زړه توب، تردد: د دارو د تللو واحد چه شل غنمه وزن لري .

v.t.i شك کول: دوه زړی کېدل .

scrupulous, adj. وسواسی، احتیاطی: باوجدانه .

scrupulously, adv. په احتیاط، په ځیر .

scrutiny, n. په ځیر کتنه، ځیر کېدنه، کره ازمویښه، کره کتنه .

scrutinize, v.t.i. ځیر کېدل: په ځیر کتل، کره کتل .

scud, v.t. ځغاستل، چټك تلل: د باد په واسطه بښور ړېدل .

n. هغه چه باد په مخه کړی وی (لکه اوریځی)، پسې اخیستنه .

scuffle, v.i. لاس اچول، اخ ډب کول، نښتل: پښې ښکول، پښې په ځان پسې راکښل .

scull, v.t.i. چمچه وهل، پارو وهل، چپه وهل .

n. چمچه، پارو، چپه

scullery, n. د لوښو د پرېولو وړه خونه چه د پخلنځی اړخ ته وی .

scullion د پخلنځی چوپړی، د آشپز شاگرد

sculptor, n. مجسمه جوړوونکی، کاڼی توږوونکی (سنگ تراش) .

sculpture, n. مجسمه جوړونه، سنگ تراشی، بت جوړونه: مجسمه، بت .

v.t. مجسمه جوړول، بت جوړول، سنگتراشی کول .

scum, n. اوبړی، چڼاسی، ځگ، چوپړی، داوبو پر سر چټل شیان: زوي، چټلی، خیری، ناکاره، فضول .

scupper, n. د بېړی د اړخونو سوری چه اوبه ورنه دباندی تویېږی .

scurf, n. بخې (لکه د سر یا د وجود) .

scurrilous, adj. ټیټ، لوچك، پوچ خولی، بې شرمه .

scurry, v.i. په سپکو گامو ځغستل، منډې وهل، ترپکی وهل .

scurvy, adj. ټیټ (پست)، کر کجن (منفور).

scurvily, adv. په ټیټوالی، په کر کجنه توگه .

scurvy, n. یو ډول د وریو (اوریو) د بېړسېدو او وینې کېدو ناروغتیا چه غابنونه کمزوری کوی او لوېږی چه دویټامین (c) د نشتوالی له امله پیدا کېږی .

scutcheon, سپر، ډال: هغه تخته چه پر هغه باندې د نامتو توریالو نومونه او کارنامې لیکل شوې وی .

scuttle, n. د ډبرو د سکرو سطل، یو که یا بالقی: دریڅه، سوری .

scuttle, v.i. تښتېدل، ځغلېدل، ځغستل: دریڅه پرېښودل .

scythe, n. لور (داس)

sea, n. سمندر ، بحیره : دریاب : مالګوبې ، مالګینې اوبه : ترخې اوبه : درنده څپه، لویه چپه : ډېره اندازه .

sea, adj سیندی ، دریابی ، بحری : زیاتوالی ، ډېرښت

seaboard, n. د سیند غاړه ساحل : سیند په غاړه هوادونه .

seacoast, n. ساحل ، مځکه ، دریاب ته څرمه وچه .

seafarer, n. ماڼو ، سمندری ګرځندوی

seafaring, adj. سمندری ګرځېدنه ، ماڼو .

seagoing, adj. سمندری بېړی ، د سمندری سفر د پاره روغه او تیاره بېړی .

sealevel, n. د سیند مخ ، د سمندر سطح

seaport, n. بندر ، سمندری اډه .

seashore, n. د سیند غاړه ، ساحل

seaside, n. د سمندر شا وخوا .

seaward, adj. د سمندر لوری ، د بحر په خوا : څوړیدلی سیند .

seaweed, n. بحری واښه ، بوټی او ګیاوې .

seaworthy, adj. د سمندر وړ ، د سفر وړ

seagull, n. یوډول سمندری مرغه .

seal, n. سګ لاهو ، سمندری خوګ ، د سړو سیمو یو ډول بحری ژوی چه له پوستکی او غوړو څخه یې کار اخستل کیږی .

v.v. د بحری خوګ ښکار کول ، د سګ لاهو ښکار کول .

sealer, n. د سمندری خوګ ښکاری ، د سګ لاهو ښکاری .

sealskin. n. د سګ لاهو پوستکی .

seal, n. تاپه ، مهر ، مهرلاک ، سرغوچ .

v.t. تاپه کول ، مهرول ، کلکول ، سرغوچ کول ، سرتړل : پرېکړه کول ، فیصله کول : کره کول ، قصد یقول .

sealer, n. تاپه کوونکی ، مهر کوونکی : فیصله کوونکی .

seam, n. بخیه ، درز : کوت ، ګونځه : (جیالوجی) رګ ، پټ ، پوړ ، طبقه .

v.t. بخیه کول ، کوت کول ، لیکی لیکی کول ، سپخول ، تارا یستل .

seamless, adj. بې درزه ، بې کوته

seamy, adj. کوت لرونکی ، ګونځی ګونځی .

seaman, n. ماڼو ، بېړی وان ، د بېړی کار کوونکی .

seamanship, n. د بېړی چلو لو فن .

sea mew, seagull ته مراجعه وکړی

seamstress, n. درزی ، ګنډونکی ، خیاط

seaplane, n. سیندنی الوتکه ، یو ډول الوتکه چه د اوبو څخه الوزی او ور باندې کېنی .

sear, v.t. میداوی کول : وچول ، سوزول ، داغول .

search, v.t. پلټل ، غوښتل ، تلاش کول : کروړل ، تحقیق کول ، لټول .

n. پلټنه : کره کونه : لټونه ، تلاش

searcher, n. پلټونکی ، غوښتونکی ، تلاش کوونکی .

searchlight, n. رڼا غورزونکی (روشنی انداز) درڼا .

seasick, adj. سمندری ناروغ .

seasickness, سمندری ناروغتیا .

season n.	موسم ، فصل .
v.t.	خوند ورکول : مساله اچول : وچول : ساتل : عادتول ، اموخته کول ، بلدول (د مشکلاتو سره) .
seasonal, adj.	موسمی ، فصلی .
seasonable, adj.	د موسم سره سم ، په وخت برابر ، پر ځای ، په وخت .
seasoning, n.	مساله ، دارو (لکه مالګه مرچ دهنیا او داسې نور) .
seat, n.	سیټ ، ناست ځای : چوکۍ کرسۍ ، کټ : مرکز ، مقام ، استوګن ځای .
v.t.	کښېنول : ځای ورکول .
sebaceous, adj.	غوړین ، غوړ ، غوړي ورکوونکی .
secede, v.i.	بېلېدل ، جلا کېدل ، ځان کښل .
secession, n.	بېلتون ، جلا کېدنه ، ځان کښنه .
secessionist, n.	د بېلتون پلوی ، جدایي غوښتونکی .
seclude, v.t.	ګوښه کول ، ځانله کول ، جلا کول ، بېلول ، ځانګړي کول .
seclusion, n.	ګوښه توب ، یوازي توب ، ځانله والی .
second, n	ثانیه ، دقیقه : شېبه ، لحظه ، رپ (لکه د سترګې رپ) .
second, adj.	دوهم ، دوهمه درجه ، دویم ګړی .
n.	دویم ګړی ، دویمه درجه : ملاتړ
secondly, adv.	دویم ، دویم وار
second, v.t.i.	دوهم کېدل : تشویقول ، په مخ بېول : ټینګول ، تائیدول .
secondary, adj.	دوهم ، ثانوي : فرعي : منځنی (لکه ښوونځی) : کم اهمیته ، ټیټ : روستنی : د دویمې مرحلې : د مرغه د دویم بند بڼکې : لاس لاندې ، د اثر لاندې .
secondhand, adj	مبتذل ، مستعمل ، د دویم لاس (لکه جامې او نور) : ثانیه شمېرونکی .
secondrate, adj.	ادنی ، ټیټ .
secret, adj.	پټ ، پوښلی ، خفیه : د راز ، سري .
n.	راز ، سر ، خواله : پټ راز : پټوالی .
secrecy, n	پټوالی ، راز ، سر : ګوښې توب ، ځانله والی .
secretly, adv.	په پټه ، د راز په توګه .
secretariat, n.	دارالانشا ، سکرټریټ ، د سکرټر دفتر ، د منشي ځای .
secretary, n.	سکرټر ، منشي ، میرزا : وزیر : رئیس ، مشر : د لیکنې مېز
secretarial, adj.	د دارالانشا ، د منشي .
secretaryship, n.	منشي ګري
secrete, v.t.	پټول ، پوښول : ایستل ، بهول ، څڅول (لکه د افرازاتو لوتل) .
secretive, adj.	افرازي : خوښوونکی ، رازساتونکی .
secretively, adv	د راز په توګه ، په راز داری ، محرمانه .
secretiveness, n.	رازساتنه ، چوپتیا
secretion, n.	پټونه : افراز ، ترشح ، لوستنه .
sect, n.	فرقه (مذهبي) ، ډله ، ګوند .

sectarian, adj. n. فرقه یي، ګوندي، په خاص ګوند پورې تړلی .

sectary پیرو، ګوندي، تفرقه اچوونکی.

section, n برخه، حصه، ونډه : فصل (د کتاب)، څپرکی : ټوټه، ټوکړ، برخنه.

sectional, adj. فرقه یي، ډلیز، د ګوند: برخې برخې، ونډې ونډې: سیمه ییز.

sectionalism, n ګوند پالنه، فرقه پرستي، درزاچونه : تعصب .

sector, n. قطاع (د دایرې د محیط هغه برخه چه د دوو شعاعو ترمنځ واقع وي): جبهه د جګړې ډګر.

secular, adj. دنیایي، غیر مذهبي، مادي، دهري، د وحدت منکر، هغه سړی چه مذهبي قوانین نه مني، دنیایي ملا.

secure, adj. ساتلی محیط، خوندي، بې وېرې، بې ډاره: ډاډه، مطمئن، بې غمه: یقیني، متیقن .

v.t. ساتل، تضمینول : پېیل: لاسته کول، بودول، اخیستل .

securely, adv. بې خطره، بې ډاره، په محفوظه توګه .

security, n، ساتنه، حفاظت: ډاډ ګیرنه، اطمنان: بې وېرې، بې ډاره، بې خطره: امنیت: تضمین، ضمانت، بیمه .

sedan, n چوپان، ډولۍ، پالکۍ: د څلور سیټو لوکاډیه (موټر) .

sedate, adj. چپ، آرام، غلی، درونه، سنجیده، چورتي .

sedately, adv. په چپتیا، په آرامتیا، په درانښت، په سنجیده ګۍ .

sedative, adj. سوکه کوونکی، هوسا کوونکی، آراموونکی: درد آراموونکی دوا (مسکن) .

sedentary, adj. میشت، استوګن، ځایي، ځای پرځای ناست .

sedge, n. ډیله، لوخه، درګه .

sedgy, adj. د لوخې، د ډیلو: د درګو

sediment, n. کنوبي، رسوبي مواد (د اوبو یا باد پواسطه)، خټه : تل ته کښیناستونکي مواد .

sedimentary, adj. رسوبي، تل ته شوي، کښیناستلي .

sedition, n. بلوا، اړودوړ، بغاوت، پورته کېدنه، یاغیتوب .

seduce, v.t. بې لارې کول، تېرایستل، غولول، بې پردې کول، شرماړول .

seducer, n. تېرایستونکی، غولوونکی.

seduction, n. تېرایستنه، غولونه : بې پردې کول .

seductive, adj. تېرایستونکی، غولوونکی، زړه راښکوونکی .

sedulous, adj . زیارکښ، ستومانه ګالونکی .

see, v.t. لیدل، کتل: ازمویل: څیر کېدل: سلا کول: پام کول: بدرګه کول، ملګرتیا کول. لیدنه کول، ملاقات کول، پوهېدل، ګڼل، اشاره کول، په زړه اړل.

v.i. نظر اړل، پوهیدل، رسیدل .

seed, v.t. زړی، زڼی، تخم، دانه، نسل، پښت، اولاده، پښه، سرچینه، اصل، بنسټ، آر، خټه .

کرل ، تخم شیندل ، دانه نیول ، تخم نیول ،
ټیالول ، کښېنول ، v.t. زړی
اېستل ، تخم اېستل .

seeder, n. تخم شیندونکی ، د تخم کرلو ماشین .

seedless, adj. بې تخمه ، بې زړی ، بې دانې ، شنډ .

seedsman, n. تخم کروونکی ، تخم خرڅوونکی .

seedtime, n. د کر وخت ، د کرلو موسم

seedling, n. بوټی یا ټیغ (د ونو) : نیالګی (چه له زړي شین شوی وي) .

seek, v.t. لټول ، غوښتل ، پلټل : هڅه کول ، د رسېدو کوښښ کول : غوښتنه کول ، خواست کول : پسې کېدل : کوښښ کول ، ازمویل .

seeker, n. غوښتونکی ، لټوونکی ، پلټوونکی .

seem, v.i. ښکارېدل ، معلومېدل ، څرګندېدل ، اېسېدل .

seeming, adj. ښکاره ، جوت ، څرګند ، ظاهر .

seemingly, adv. په ښکاره ، په ظاهره .

seemly, adj. وړ ، مناسب ، سینګار شوی ، ښکلی ، خیالی ، ډولی .

seen, د see دریم حالت

seep, v.i. څڅېدل ، بهېدل .

seepage, n. څڅېدنه ، بهېدنه ، څڅوبی

seer, n. غیب ویونکی ، په پټو پوه ، ستر ګور : ځیرک ، د نظر خاوند : پیغمبر .

seesaw, n. بانیچک یا بانۍ چنغ ، غنجلبېنکه ، غنجر بار ، ټیمباچک ، دنګې .
v.t.i دنګېدل ، کوزو پاس کېدل .

seethe, v.t.i. خوټول ، اېشول ، جوشول ، ګېډۍ اخیستل ، خوټېدل ، اېشېدل .

segment, n برخه ، ونډه ، ټوټه : قطعه (هندسه) : کړۍ : بند .

segregate, v.t. بېلول ، جلا کول ، ګوښې کول : یوازې کول ، تبعیض کول .

segregation, n. بېلتون ، توپیر ، تبعیض

seigneur, n. ښاغلی : خان ، سردار ، زمیندار .

seine, n. تور ، د کبانو جال ، توپان جال
v.t. په جال کې کب نیول .

seismic, adj. د زلزلې ، زلزلیز .

seismical, adj. زلزلیز ، د زلزلې

seize, v.t. نیول ، لاندې کول ، قبضه کول : برید کول : وهل : ګیرول : اترا چول : ضبطول : اخیستل : ټینګول ، په منګول کې نیول : په غوټه اخیستل ، ناڅاپه نیول .

seizure, n. نیونه ، ناڅاپي برید : راټلنه (لکه د ناروغۍ) .

seldom, adv. ډېر لږ : یو نیم وار ، کم وار ، کله کله ، ندرتاً .

select, v.t. غوره کول ، انتخابول ، ټاکل ، خوښول ، چوڼل : بېلول : اېستل .
adj. غوره ، انتخابي ، خوښ کړی : په غور خوښوونکی .

selection, n. خوښونه ، ټاکنه ، انتخاب ، غوره کول ، (بیالوجي) د تکامل د قانون د مخې د ژوندو د ښو نوعو ژواندي پاته کېدنه (بقاء اصلح) .

selective, adj انتخابي، دغوره اوښه انتخاب خاوند.

selectman, n. (دامریکې په نیوانګلینډ کې) د اولسي چارو د چلولو د جرګې یو غوره شوی غړی.

self, n. خپل ځان، پخپله، ذات، نفس، شخص: پرځان مینتوب، خپلچاریتوب، د ځان منښه، خود خواهي.

self- ځان، پخپله، په خپل سر.

self-assurance, n. پرځان باور، په ځان ویسا.

self-centered, n. په ځان کې ډوب، پرځان مین.

self-command, n. په ځان واک، په خپل نفس حاکم، خپلواکي.

self-complacency, پرځان مینتوب، له ځانه خوښي.

self-complacent پرځان مین، ځان ته خوشاله، ځانته غره.

self-conceit په ځان غره توب.

self-confidence, په ځان ویسا، په ځان باور، په ځان ډاډه توب.

self-confident په ځان ډاډه، په ځان مټکی، په ځان باوري.

self-conscious په ځان پوه، په ځان خبر، په ځان شرمن.

self-consciousness, ځان کتنه، په ځان شعور، ځان ته پام کېدنه، په ځان خبرتیا، ځان پېژندنه.

self-contained, له ځانه پوره، نااړه، مستغني، بې تمې.

self-contradiction. دوه ژبتوب، تناقض ویینه، دوه وینا و تضاد.

self-control, په ځان واک، ضبط نفس، په ځان اختیار، ټینګه اراده.

self-defense, ځان ساتنه، له ځانه دفاع

self-denial, نفس وژنه، په ځان حراموونه (لکه نفسي لذت).

self-denying, د خوښاتو وژونکی.

self-lestruction ځان وژنه، ځان بربادونه، پخپله ویجاړېدنه.

self-determination, خپلواکي، دخپل سرنوشت ټاکنې حق.

self-devotion, سربښندنه، ځان وقفونه.

self-discipline, په ځان واک، ځان روزنه. ریاضت.

self-esteem, ځان منښه، په ځان مینتوب

self-evident, پخپله ښکاره، څرګند، بدیهي، جوت، معلومدار.

self-expression, ځان ښکاره کونه، د جذباتو ښکارونه، د خپل شخصیت اظهار (لکه په ښکلو هنرونو کې).

self-governing, د ځان حکومت، دخپلواکۍ.

self-government خپلواکي، دخلکو حکومت.

self-help, خپل کار پخپله کونه، پخپلو پښو درېدنه، پخپله خپله چاره کونه

self-importance, ځان ته غره توب، ځان غټ بلنه، ځان ته پخپله اهمیت ورکونه.

self-important, په ځان غره، ځان غټ ګڼونکی

self-mposed, پخپله ځان ته ټاکنه ، پخپل ځان تحمیلونه، په اوی لاس په ځان راوستنه .

self-knowledge, په ځان خبرتیا، ځان پیژندنه، په ځان پوهېدنه .

self-love, خپل خیر غوښتنه ، د ځان سره مینه .

self-mede, پخپله جوړ شوی ، پخپله رسېدلی .

self-pity, پر ځان زړه سوی .

self-possessed, پر ځان حاکم ، پر ځان واکمن، پر ځان زورور: ارام ، سوړ مزاجی .

self-possession, پر ځان حکومت ، په ځان واک ، متانت .

self-preservation, ځان ساتنه، ځان ژغورنه ، ځان بچونه .

self-reliance, په ځان ویسا، په ځان ډاډه توب ، پر ځان اعتماد .

self-reliant, په ځان ویسا ، په ځان ډاډه .

self-reproach, ځان غندنه ، ځان پړونه، ځان ملامتونه .

self-respect, غیرت ، عزت نفس، د ځان عزت ، پت .

self–respecting, غیرتی ، عزتمند ، حیثیت لرونکی ، د عزت نفس خښتن .

self-restraint, په ځان کنټرول ، پرهیز ، د ځان جلو نیونه .

self-righteous, ځان رښتونی گڼونکی ، ځان په حقه گڼونکی .

self-sacrifice, سر ښندنه، له ځانه تېرېدنه، د ځان جاروونه ، قربانی ورکونه.

self-sacrificing, له ځانه تېر ، سر ښندونکی، فدا کار .

self-satisfaction, له ځانه راضي توب ، له ځانه خوښ .

self-seeking, خپله گټه غوښتونکی ، خپله ښه غوښتونکی .

self-sufficiency, په ځان بسیا توب ، له خپله ځانه پوره والی .

self-sufficing, په ځان بسیا، له خپله ځانه پوره .

self-supporting, په خپلو پښو ولاړ ، په خپل مټ گټندوی .

self-sustaining, خپل بار پر خپلو اوږو وړونکی ، پر خپلو پښو ولاړ .

self-will, خپله اراده، ټینګه اراده .

self-willed, پر خپلی ارادی ټینګ، پر خپله خبره ولاړ .

selfish, adj. خپل چاری ، ځان منونی ، خودغرضه .

selfishly,adv. د خود غرضۍ په توگه .

selfishness, n. خود غرضی ، خپل چاریتوب .

selfsame, adj. هیڅو، همهغه شان، کټ مټ

sell, v.t. خرڅول ، پلورل : راکړه ورکړه کول : معامله کول :
v.i. خرڅېدل: د اخیستونکو پیدا کول

seller,n. خرڅوونکی ، دکاندار

selvage, selvedge, n. زیه (لکه د ټوکر)

selves, د self جمع

semblance, n. ظاهري ورته والی، یو شانته والی: ظاهري بڼه، شکل، څېره.

semester, n. سمستر، شپږ میاشتنی، نیم کال (تعلیمي)، په ځینو امریکایي او اروپايي ښوونځیو او پوهنځیو کې تعلیمي نیم کال.

semi- نیم، نیمايي ته نږدې: چلك، بخون (لکه تور چلك، تور بخون).

semiannual شپږ میاشتنی، په کال کې دوه ځله.

semiarid, نیمايي شاړه، نیمايي وچه

semicircle, نیمه دایره.

semicircular, نیم دایره يي

semiconscious نیم پرسد، نیم بې خود.

semiofficial نیم رسمي.

semiprecious کم قیمته ډبره (لکه لاجورد).

semitropical نیم باراني (اقلیم)

semicolon, n. پېلوونکې نښه، ټکي لرونکې کامه (؛)، هغه نښه چه د جملې فقرې سره جلا کوي.

seminary, n. دارالعلوم (مذهبي)، مدرسه (په تېره دد ینیاتو)

Semite, n. سامي (لکه عرب او یهود)

Semitic, adj. سامي (لکه عربي ژبه)

sempstress, درزی، خیاط.

د seamstress بله بڼه

senate, n. د مشرانو جرگه، سنا.

senator, n. سناتور، د مشرانو جرگې غړی

senatorial, adj. د سنا، د مشرانو، د جرگې.

send, v.t. لېږل، استول: خپرول، تېتول (لکه راديويي څپې). توغول، ویشتل (لکه د غشي)، چلول، شړل.

sender, n. استوونکی.

senile, adj. بوډا، زوړ، شیخ فاني، له کاره لوېدلی (جسماً او عقلاً).

senility, n. بوډاتوب، زوړ والی

senior, adj. مشر: مخکی، وړاندی، اوچت، لوړ: د ښوونځي یا پوهنځي وروستي کال ته مربوط.

n. مشر، په رتبه کې پورته، اوچت: د ښوونځي یا پوهنځي دوروستي کال شاگرد.

senna, n. سنا، جلاپ (جولاب)

sensation, n. احساس، حس: اغېزه: هیجان، پارېدنه: جذبات.

sensational, adj. پاروونکی، په هیجان راوړونکی، حسي، هنگامه يیز.

sense, n. حس: احساس، تمیز، عقل، شعور: قضاوت، معنا، مفهوم: حس (پنځگونی): نظریه.

v.t. حس کول، احساس کول، درك کول.

senseless, adj. بې حسه، بې شعوره، بې سده: بې معنا.

sensibility, n. حساسیت: ځیرکتیا، چټك ذهني، نازك ذهني.

sensible, adj. هوښیار، معقول، ځیرك: باخبره، باشعوره: په عقل برابر.

sensibly, adv. په ځیرکتیا ډول، په ځیرکتیا، د عقل له مخې.

sensitive, adj. حساس: حسي

sensitiveness, n. حساسیت، نازکتیا

sensitivity, n. حساسیت.

sensory, adj. حسي ، په حسي غړو پورې مربوط : پلې .

sensual, adj. جسمي ، نفساني ، شهواني ، جسمي خوند ته مربوط : د حسونو په خوشالتیا پورې مربوط : جسماني (د معنوي ضد) .

sensualist, n. شهوت پرست .

sensuality, n. عیاشي ، جسم پرستي

sensuous, adj. حسي ، حس ته مربوط ، پنځگونو حسونو ته مربوط .

sent, د send ماضي او دریم حالت

sentence, n. پرېکړه ، حکم (لکه د محکمې) : جزا : جمله

v.t. محکومول (لکه په جزا) : محکمې ته راکښل ، رټل ، لعنت کول (پر) .

sententious, adj. په شدومد ږغیدونکی ، په قافیو ږغیدونکی : نصیحت کوونکی ژبور : خوله ور .

sentient, n. حس لرونکی ، د حواسو په واسطه درك كوونكى .

sentiment, n. احساس: عاطفه ، جذبات ، احساسات : عقیده ، د زړه خبره : زړه سواندی ، خواخوږی : خیال ، تصور

sentimental, adj نری زړی ، نرم زړی احساساتي : زړه سواندی : احساسات پاروونکی ، دعاطفې ، پاریدلی .

sentimentalism, n. جذباتي توب ، احساساتي توب .

sentimentalist, n. جذباتي ، احساساتي .

sentimentality, n. جذباتي توب ، احساساتي توب ، دخواخوږی ښودنه .

sentimentally, adv. په زړه سواندی د جذباتو له مخې .

sentinel, n. پېره دار ، څوکی دار ، څارو .

sentry, n. پېره دار ، څارو .

sepal, n. کلپاڼه .

separate, v.t. بېلول ، جلا کول ، ووېشل : تجزیه کول : خوښول او بېلول ، ټولول .

v.i. بېلېدل ، جلا کېدل .

adj. بېل ، جلا ، سره بېل : ځانګړی او یوازې : هر یو ، خاص .

separable, adj. جلا کېدونکی ، د بېلولو وړ .

seperately, adv. په جلا ډول ، بېل بېل ، په ځانګړي توګه .

seperation, n. بېلتون ، جلاوالی .

separatist, n. بېلېدونکی : بېلتون غوښتونکی .

separator, n. جلا کوونکی ، بېلوونکی (لکه مندانۍ چه کوچ او مستې بېلوي)

September, n. دسپتمبر ، د عیسوي کال نهمه میاشت چه دېرش ورځې لري .

septic, adj. بوین ، بوی ناك ، وروست ، خوسا .

sepulcher, n. مړیستون ، قبر ، مقبره ، شاهي ، گوابته (گومبزه) .

v.t. ښخول .

sepulchral, adj. د هدیرې ، د قبر : خپه ، خواشینی ، گورملی : درونـد (لکه ږغ) ، ژور .

sepulture, n. ښخونه (په گومبزی کی ، په گوابتی کی) ننه ایستنه .

sequel, n. منطقي تسلسل: اغېزه، اثر، نتيجه: داد يو اثر وروستۍ برخه چه وروسته تر څه مودې د لومړي په پسې ليکل شوې وي .

sequence, n. نتيجه، لړ، سلسله: زماني: روڼ، زماني تسلسل، پر له پسې ادامه، بهير .

sequent, adj. پر له پسې، وروسته راتلونکی، يو د بل پسې .

sequester, v.t. جلا کول، بېلول، گوښه کول، بېلتون راوستل: ضبطول، نيول: پټول: ايستل .

sequestrate, v.t. ضبطول، نيول .

sequestration, n. ضبطونه، بېلونه، گوښې کېدنه

sequin, n. ايټالوي او ترکي د سرو زرو سکه چه دوه ډالره او پنځه ويشت سنټه کېږي: پاولي، ستاري يا رڼکي لکه چه ماشومان او ښځې يې په کاليو پورې ځړوي .

sequoia, n. يو ډول امريکايي غټه ونه

sera, د serum جمعه

seraglio, n. حرمسرای.

seraph, n. د seraphim جمعه، پرښته، يوه وزر لرونکې مقربه پرښته .

seraphic, adj. د مقربې پرښتې، د ملايکو، پرښته خويه .

sere, adj وچ، مړاوی .

serenade, n. عشقي بدلې يا ساز (چه د شپې له خوا معمولا د معشوقې کور ته ور څېرمه په تېره تر کړکۍ لاندې ويل کېږي) .

v.t.i. عشقي بدلې ويل .

serene, adj. روڼ، صاف، ښکاره، سوچه، ښوب: غلی، چوپ: آرام، کرار: په امن: آوار او آرام (لکه ولاړې اوبه) .

serenely, adv. په روڼوالي: په کرارۍ: په امن .

serenity, n. روڼوالی، ښکاره توب: کرارتوب، آرامي .

serf, n. مريي، په منځنۍ پېړۍ کې هغه غلامان چه د مځکو څښتنانو به د مځکو سره يو ځای خرڅول .

serfdom, n. مريي توب، غلامي .

serge, n. سرج (يو ډول وړينه توکر) .

sergeant, n. حوالدار (د پوليسو) ډلگی مشر .

serial, adj. پر له پسې، مسلسل، نوبتي .

n. موقوته ليکنه .

series, n. (يو) لړ، (يو) شمېر، سلسله، دوره، پر له پسې .

serious, adj. جدي، ټينگ: رښتيانی: رښتيانو: د فکر وړ، د پام وړ، مهم: خطرناک، سخت (لکه ناروغ) زيان رسوونکی

seriously, adv. په جدي توگه، په رښتيا، په خطرناک ډول .

seriousness, n. جدي توب، رښتيا والی، سخت والی .

serjeant, د sergeant بله بڼه .

sermon, n. وعظ، خطابه، موعظه، خطبه، پند، نصيحت

serpent, n. مار، منگور (اصط) د لستوڼي مار، ټگ .

serpentine, adj. ټګ: مار پېچ، کوږووږ: غولوونکی، تېرایستونکی، مکار، دغل: یوډول کاڼی تیږه چه شین یا سور بخون رنګ لري.

serried, adj. ګڼ، جوخت، اوږه په اوږه.

serum, n. سیروم: زروبه (ژړې اوبه)، خوناب (یوه مایع چه معمولاً د ځینو ژوو له وینو څخه اخیستل کیږي او د دارو د پاره استعمالیږي)

servant, n. چوپړی، نوکر، مزدور.

serve, v.t.i. چوپړی کول، نوکري کول، مزدوري کول: کار کول، کارور کول مزدور کېدل، نوکر کېدل: درېدل (یوه معین کار ته، لکه په ودونو یا رستورانونو کی چه یوڅوک له خلکو ته اوبه یا نور شیان د یوه سړي په څاره وي): کار چلېدل، د کار چاره (پر) کېدل: انجامل، بندګي کول: خدمت کول: ګټور کېدل: وړ کېدل: چلند کول: قید تېرول: عسکري خدمت کول: ګټه رسول، مرسته کول: مهیا کول، برابرول: اړتیا پوره کول: سرویس کول (لکه په والیبال کی).

server, n. خدمت کوونکی

service, n. خدمت: کار: وظیفه: مذهبي رسوم (لکه د اختر مراسم): رسمي یا حرفه یي وظیفه، ماموریت (لکه ملکي ماموریت): عسکري خدمت، نوکري: سیټ (لکه یو سیټ قابونه یا پنجې او کاچوغی): مرسته: ګټه: سرویس (لکه والیبال).

serviceable, adj. د کارېدو، خدمت ته تیار د استعمال وړ، د کار اخیستلو وړ

servile, a د غلامۍ، د مریتوب، غلامانه، تسلیمېدونکی، تابع، ایل: ټیټ، پست، خوشامند ګر.

servility, n. غلامي، مریتوب: نوکري: ټیټوالی

servitor, n. مزدور، نوکر، چوپړی: حاضر باش: منشي.

servitude, n. مریتوب، غلامي، بندګي

sesame, n. کونځلی، کونجتې

session, n. غونډه، جلسه، اجلاس: د غونډې دوره (لکه د شورا).

set, v.t. کېښوول: ایښودل: ځای په ځای کول: په کار اچول، په کارول: برابرول سمول، روڼ کول: پر خپل ځای ایښوول، چوکاټول: ټاکل، اټکلول: داو کول، شرط تړل: کلکول، ټینګول: برابرول، موزون کول.

v.i. چوړتي کېدل: برابرېدل: کښېناستل: پرېوتل، لوېدل (لکه لمر): هڅه لرل، میلان لرل: درېدل: شروع کول.

ټاکل شوی، معین شوی، مقرر شوی، سخت، ټینګ (لکه قانون): جوړ شوی، روغ شوی.

n. ایښوونه: شکل، بڼه: سمت، لوری (په تېره میلان او هڅه): برابر والی (لکه د کالیو): ډله، ټولی: سیټ: سینګارونه (لکه د صحنې او نمایش د پاره) په ټېنس کی یو لړ لوبی چه یوه خوا شپږ لوبی وګټي او له حریف څخه لږ تر لږه دوې لوبې وړاندې وي.

setback, n. ځا ته کېدنه ، تر شا کېدنه ، وروسته کېدنه ، په ځټ تلنه ، په شا تلنه .

settee, n. بازو لرونکی چوکۍ .

setter, n. تازي ، ښکاري سپی : ټولوونکی : دروونکی : ټاکونکی ایښوونکی .

setting, n. ایښودنه : اوڼنه (لکه په مطبعه کی د تورو) : د غمي د ایښودلو ځای : شاوخوا ، چاپېریال : هغومره هګۍ چه چرګه یا نور مرغان په یوه وار ور باندی کښېنی : د شعر دپاره جوړه شوی موسیقي : وضعه .

settle, v.t.i. مېشتول : په ځای کول : کښې منډل ، کښېښکښېل ، تخته کول : بېخ ته کښېناستل : په کرار کېدل ، هوسا کېدل ، ځای په ځای کېدل ، اډمخ لګېدل : متوجه کېدل : سره منل ، موافقې ته رسېدل : د قانون له لاری ورکول : برابرول ، سمول : روڼول ، غلی کول ، کرارول ، پرېکړه کول ، فیصله کول : رڼېدل (د ترسب په واسطه) مېشتېدل : ډوبېدل : سرته رسول : ټاکل : ادا کول .

settlement, n. مېشتېدنه ، استوګنه : ځای په ځای کېدنه : تل ته ناست ، تل ته کښېناستونکی : دحسابو او پرېکړه ، تصفیه ، حساب سپینونه : شکلری کونه ، اختلاف حل کونه : په پردی خاوره کی مېشتېدنه : یو څو کوره (چه یو ځای سره پراته وی) : بانډه ، ډېره .

seven, adj. اووه (۷) .

sevenfold, adj. اووه چنده ، اووه ګون ، اووه برابره .

seventh, adj. n. اووم ، اوومه .

seventeen, n. اوولس .

seventeenth, n. adj اوولسم ، اوولسمه .

seventy, adj. اویا .

seventieth, adj. n. اویایم .

sever, v.t.i. پرې کول ، شکول ، جلا کول ، بېلول .

severance, n. شکونه ، بېلونه ، پرې کول .

several, adj. څو ، یو څو (په دوو زیات مګر ډېر زیات نه) ، څو څو . ځانګړی ، جلا .

severally, adj. بېل بېل ، په ځانګړی ډول ، ځانله : یوه یوه ، ځان ځان له .

severe, adj کلك ، شدید ، سخت . خطرناك : په دسپلین ولاړ ، پر اصولو ټینګ : بی رحمه ، سخت زړی : ځوروونکی ، په عذاب کوونکی (لکه تبه) : نه زغمل کېدونکی ، له حوصلې وتلی ، له توانه لوړ .

severely, adv. په کلکه توګه ، په خطرناکه توګه .

severity, n. کلکوالی ، شدت : بد سلوکی .

sew, v.t.i. ګنډل ، بخی وهل ، بخی کول ، ټکے وهل .

sewer, n. ګنډونکی .

sewage, n. ناولی اوبه : چټلې ، ناولتیا

sewer, n. تر ځمکې لاندی نل یا تونل چه ناولتیا (کثافت) پکښې تېرېږي .

sewerage, n. د ښار د ناولو اوبو سیستم، د ناولتیاو ویاله، د ویالو او کانالو په واسطه د ښارو ناولتیا لرې کول: چټلې اوبه، ناولې اوبه.

sewing, n. ګنډنه (خیاطي): د ګنډلو کالي.

sex, n. جنس، نرتوب یا ښځتوب: شهوت: شهواني غریزه.

sexual, daj. جنسي، شهواني.

sextant, n. زقاله، یوه آله چه د زاویې او درجې له مخې فاصله اندازه کوي

sextet, sextette, n. د موسیقۍ شپږ کسیزه ډله، هغه موسیقي چه شپږ آلې پکښې وږغول شي: شپږ کسیزه سندر غاړې یا لوبغاړي (ډله): شپږ کسیزه ډله.

sexton, n. د کلیسا خادم، د کلیسا چوپړی: ګور کیندونکی.

shabby, adj. شړېدلی، ریښکی ریښکی، زاړه (لکه کالي): توی شوی: خوار بوڼی، خوار جامه: ټیټ، سپک، پرېوتی.

shack, n. کوډله، جونګړه، کنډر: وړه، انګاره، خوزاره: د درمند پاتی شونی.

shackle, n. ځولنۍ، دوربل، ښکېل: کړۍ، اتکړۍ.

v.t. ځولانه کول، دوربلول، ښکېلول: په ځنځیر تړل.

shad, n. یو ډول امریکایي کب چه د اتلانتیک په غاړو کې اوسي او د هګۍ کولو د پاره د سیند پورې خواته ځي.

shade, n. سیوری: تتوالی: تیاره (تاریک): لږ، لږه اندازه، لږ توپیر: پرده، چتر، د رنګ د تیزوالي اندازه.

v.t.i. تیاره کول: سیوری کول: پرداز ورکول، رنګول: تتول.

shady, adj. سیوری لرونکی، سیورن (سایه دار): بې پته.

shading, n. پرداس (په تصویر کې هغه رنګ یا لیکه چه سیوری ښیي) د سیوري د ښودنې د پاره د رنګ یا لیکې استعمال.

shadow, n. سیوری (لکه د ښیا دم): سرپناه، سیب: لږ کوټی، لوټکی، لږشانی: سیوری (لکه د غم، وېر، مرګ) عکس انعکاس: ځرک، نښه: خیال، شبح: څارو، جاسوس: د تصویر سایه لرونکی برخه.

v.t. سیوری اچول: تیاره کول، تتول: پیکه کول: تت ښودل: پیکه ښودل: تعقیبول، څارل، په پټه څارل: پرداز کول، سیوری ورکول.

shadowy, سیورن، تیاره، تت: سیوری وزمه.

shaft, n. لاسټی: ډنډه: میله، تیر: شلګی، شتی (هر اوږد شی چه لکه نېزه اچول کېږي)، غشی: ستنه، اچه، مټه: سوری، غار (لکه د کان د راایستلو د پاره)، غار (لکه چه لفټ پکښې پورته کښته کېږي).

shag, n. زیږې وړې یا د وېښتان: پټ: یو ډول زوړ ور اوړی تری شوې تمباکو

shaggy, adj. پېر، زیږ، څپولی (لکه د وېښتان)

shake, v.t.i. رېږدول، لړزول، بې ځايه کول، متزلزل کول: ښورول، ځچول: لړزېدل، ښورېدل، پارول: اړ کول: رېږدېدل، لړزېدل، ښورېدل، ځچېدل: پارېدل.

shaky, adj. خوځند، ځچند، رېږدېدونکی، لړزند.

shaker, n. خوځوونکی، ښوروونکی، دوړوونکی (لکه د مالګې لوښی)، د یو ډول مذهبی فرقې غړی.

shale, n. پسته ډبره، خاورینه تیږه.

shall, v. د فعل مرستیال: به (لکه زه به سبا ولاړ شم).

shallop, n. وړوکی سرخلاصی ماکو، وړه سرلوڅې بېړۍ.

shallow, adj. درګډ (چه ژور نه وي)، رڼی، ګوګډ، تش مغزی: سطحی، بې مغزه، ګډوسری.

shalt, د shall ارخونی بڼه

sham, n. شلغی، نقلی، جعلی، د باندنیت انځور شوی مخ، مصنوعی، دچلول: (اصط) زرګری جنګ.

v.t.i. جعلول، کاږې کول، پېښې کول، کلار کول، ټګی کول.

shammer, n. ټګمار، چلباز، جعل کار.

shamble, v.i. زمبېدل، مړی مړی تلل، پښې ښکول، کاږې واږې تلل، شواړ ګرځېدل.

shamble, n. پښې ښکوونه، شواړ تلنه.

shambles, n. مسلخ: وژل ځی، د حلالو لو ځای، د قتل عام ځای: ګډوډی، (اصط) غوبل.

shame, n. شرم: پښېماني: سپکوالی: خجالت، بېکه توب.

v.t. شرمول، سپکول: رسوا کول.

shameful, adj. شرموونکی، شرمناک

shamefully, adv. په شرموونکی توګه: په شرمندګۍ.

shameless, adj. بې شرمه، سپین سترګی

shamelessly, adv. په بې شرمۍ، په سپین سترګۍ.

shampoo, v.i. سرمینځل، سرموښل، و ښتان مینځل، شامپو کول.

n. سرمینځنه، شامپو کونه: شامپو (یو ډول ماېع چه سر پری مینځی).

shamrock, n. یو ډول شفتل (شوتل) چه د آیرلېنډ ملی نښان دی.

shanghai, v.t. بېړۍ ته په زور د یو مانو راوستل او بېړۍ چلولو ته مجبورول.

shank, n. لینګی، پوندی: پنډه: د خوایه دوړانه د غوښې ټوټه: مېله، توله، د یوه اسباب هغه برخه چه نماله برخه یې د لاستی سره یو ځای کوی (لکه د لور او ډډه توله).

shanty, n. کوډله، جونګړه، کوډی.

shape,, n. بڼه، شکل، څېره (اصط) کړه وړه، جوله، دود (لکه په رنګ او دود ښایسته ده)، رغښت: حالت، وضعه: قالب

v.t. جوړول، شکل ورکول: اچول (طرحه کول): برابرول، سمول: روڼ کول، تنظیمول.

shapeless, adj. بې ډوله، بې شکله.

shapely, v.t. ښایسته، ډولی، ګلالی.

shard, n. ټوکرکی ، ټوکړه ، ټوک ، ټوټه : ماته ټوټه، کودډی (کودرکی کودۍ ، کودډی) .

share, n. پاله ، سپاره ، کره کی .

share, n. برخه ، ونډه ، سهم .

v.t. په برخه ویشل : ونډې کول .

v.i. برخه اخیستل ، شریکېدل ، ګډېدل .

shareholder, n. ونډه وال ، سهم لرونکی .

sharer, n. ویشونکی : انډیوال ، شریک بانی .

sharecropper, n. شریکبانی ، دهقان (هغه بزګر چه د مځکی له خاوند څخه د کار په مقابل کی د حاصل یوه معینه برخه اخلی) .

sharecrop, v.i. په شراکت بزګر کېدل .

shark, n. شارک ، یو ډول داړونکی کب چه نورشیان خوری او پر انسان هم حمله کوی : درغل ، ټګی .

sharkskin n. د شارک پوستکی : یو ډول ښوی نرم ټوکر .

sharp, adj. تېره : څوکه ور ، تېغ : چغنده (ږغ) : بریښنده (شی) : خوله لګوونکی ، سوړ ، سوځوونکی : دردناک ، خوږوونکی : ځوځوونکی ، چیچوونکی ، سخت : ځیرک : لیوال ، مشتاق : زورور ، شدید : تکړه ، پام لرونکی : چالاک : ظریف : (مو) نری ږغ ، جګه ږغ .

v..t. (مو) په داسی ږغ سندری ویل چه نیم قدم تر نورو لوړ وی .

adj. په تېره کوګه، کټ مټ ، هوبه هو ، بیدو .

sharply, adv. په تېره ډول ، په چابکی ، په چټکی .

sharpness, n. تېره والی : چټکتیا ، ځیرکتیا .

sharpen, v.t.i. تېره کول : تېره کېدل

shatter v.t.i. ټوک ټوک کول : تس نس کول ، دړی وړی کول ، خچ پچ کول . ریچی ریچی کول : بربادول : ټوک ټوک کېدل : بربادېدل .

shave, v.t. خرییل : تراشل ، توږل : ګرول ، ګروول ، ګزول .

n. تراشونکې آله ، توږونکې آله خریینه ، توږنه .

shaving, n. خرییونکی : توږونکی : توږل شوی دړه ، نری ټوټه .

shawl, n. شال ، پوړنی : څادر ، پټو

she, pronoun. هغه ، دا (ښځه) .

sheaf, n. ګېډه ، کوده (ټوده) ، بنډل

shear, v.t. سکولل ، کټېل : غوڅول ، پرې کول ، خرییل .

n. سکوله ، کټینه ، سکول : د سکول ماشین .

shearer, n. سکوارونکی .

shears, n. خورخول ، بیاتی ، قیچی ، کینچی .

sheath, n. تېکی ، کاټی .

sheathe, v.t. په تېکی کې ایښوول ، پوښل

sheave, n. څرخ ، غرغره .

sheaves, n.	گېډۍ (کانۍ) ، بنډلونه .
shed, v.t.	څپره ، سېب ، چوپان .
shed, v.t.	توېول ، بهول : څڅول : خپرول ، خورول ، شېندل : اچول ، غورځول (لکه ورګې او پوستکی) .
sheen, n.	ځلا ، بهرك ، برېښ
sheep, n.	پسه ، ګډه : بې زړه ، مېږی ، ډارن
sheep cote, n.	شپول ، بنډغالی ، څپر .
sheepfold, n.	ښپون .
sheepherder, n.	شپون ، چوپان ، پووندہ .
sheepman, n.	پووندہ .
sheepish, adj.	شرمندوکی : خجالت .
sheepskin, n.	د پسه پوستکی ، د پسه څرمن : شهادتنامه ، برې لیك (په امریکا کی د پوهنځی) .
sheer, adj.	مازی ، بالکل ، فقط ، مطلق : ستنغ مخ ، لوړ مخ ، خوړ : روڼ ، نازك ، نری .
adv.	بالکل ، په ځوړ کنده توګه .
sheer, v.t.i.	لاره چپول ، له لاری ګرځېدل له لاری اوښتل (لکه د بېړۍ) .
sheet,	څادر ، روجایی (چه په بستر یې غوړوی) : پاڼه (لکه د کاغذ) : مخ (لکه د اوبو) : تخته (لکه فلزی) .
sheet, n.	رسۍ یا زنځیر چه د بادوان په ټولولو یا خپرولو کی په کار یږی ، د باد بان کښتنی مراد دی .
sheeting, n.	د څادر جوړولو ټوکر : پراپسی لګیدلی تختی .
sheik, sheikh, n.	شیخ (د عربو مشر) : د انجو او خوښ سړی .
shekel, n.	یو ډول یهودی وزن (چه نیم اونس کیږی) : ارځونی عبرانی سکه.
shelf n.	تاخچه ، رپ (رف) ، طاق ، کانډي (دشینوارو لهجه) ، تاجان : پان (د سیند دغاړی کوګې ځای).
shell, n.	کاسه ، تتی (لکه د کیشپ) : سیپی ، صدف ، کونچکه ، کوچی : د هګی پوښ : کشکوله : نلی ، کارتوس ، ګولی مردکی : اوږده نری دمسابقی ماکو (بېړۍ)
v.t.	پوستول ، سپینول : ګولی ورول ، شلیك کول .
shell. adj.	صدفی ، له سیپی ډك
sheller, n.	ګولی وروونه ، شلیك .
shelly, adj.	صدف وزمه ، پوښلوونکی ، له صدفه ډك .
shellac, n.	لاك.
v.t.	لاکی کول ، لاك موښل ، په لاکو پوښل .
shellfish, n.	کب یا بل د اوبو ژوی چه کلك پوښ ولری (لکه کونی کبر)
shellshock	د ګولی ویره ، دماغی وراننتیا (چه په جنګ کی د ګولیو او بمونو دچاودنی په اثر پیدا کیږی)
shellshocked, adj	له ګولی څخه ډارشوی .
shelter, n.	سرپټونی ، پناګاه ، سېب ، څوړه ، دخوندي کېدو ځای .

v.t.	ساتل ، خوندي کول ، پوښل ، پناه ور کول .
shelve, v.i.	ریوانده کېدل ، په تدریج مخ ځوړ کېدل ، ورو ورو میلان پیدا کول ، ښوه کېدل : په تاخچه کې اېښودل : لیری کول ، له کاره غورځول .
shelves,	تاخچې ، الماری ، کانی ، ریونه (رفونه) .
shepherd, n.	شپون .
v.t.	پڅول ، غونډول ، بیول .
shepherdess, n.	شپنه .
sherbet, n.	شربت ، خوږوالی .
sheriff, n.	ولسوال ، حاکم .
sherry, n.	یو ډول قوي هسپانوي شراب .
shew, n. & v.	د show بله بڼه
shibboleth, n.	نښه ، علامه ، بېلوونکې نښه (چې له خبرو څخه ښکاره کیږي).
shield, n.	ډال ـ سپر .
v.t.	سپر کېدل ، ساتل ، ژغورل .
shift, v.i.t.	بدلول : اړول : ګذران کول ، بدلېدل : اوښتل .
n.	بدلون : نوبت ، روڼ : پلمه ، بانه
shiftless, adj.	لټ ، بېکاره : بې پروا .
shiftlessness, n.	لټی ، بې لاس او بېښي توب
shiftless, adj.	لټ ، بېکاره ، بې پروا .
shiftlessness, n.	لټی ، بې لاسی او بې بېښی توب .
shilling, n.	شلینګ ، برتانوي د سپینو زرو سکه چې د دوولس پنسه کیږي .
shimmer, v.i.	شغلې وهل ، پړک کېدل ، ځلېدل
shimmer, n.	پړک ، ځلا .
shimmery, adj.	پړکنده ، ځلانده ، بریښنده .
shin, n.	لینګی (له زنګانه څخه تر بښنګری د پښې مخکینۍ برخه) پنا لګه
shinbone, n.	د لینګی شپېلۍ ، توله .
shine, v.i.	ځلېدل ، بریښنده : شهرت لرل .
v.t.	ځلول ، بریښول ، روښانول .
shingle, n.	کاڼ ، سنګر ، سنګړین ، ساحل
shingle, n.	دړه ، تخته ، تراشه چې په بام کې کار کیږي .
shiny, adj.	روڼ ، ځلاند ، بریښند ،
ship, n.	بېړۍ ، کښتۍ : د بېړۍ عمله .
shipboard (on),	په کښتۍ کې .
shipbuilder,	بېړۍ جوړوونکی .
shipbuilding,	بېړۍ جوړونه .
shipload,	د بېړۍ بار .
shipmaster,	د بېړۍ څښتن .
shipmate,	د بېړۍ ملګری ، د سفر ملګری .
shipowner,	د کښتۍ خاوند .
shipper,	په بېړۍ کې مال استوونکی
shipwright	بېړۍ جوړوونکی .
shipyard	د بېړۍ جوړولو کارخانه .
shipping, n.	په بېړۍ کښې د مال لوډول راوړل : د یو هېواد د بېړیو تم ځای یا اډه .
shipshape, adj	برابر ، سم .
shipwreck, n.	ماته بېړۍ ، ډوب بېړۍ : ورانتیا ، ویجاړتیا .
spelt, د spell ماضی او دریم حالت.

spend, v.t. لگول، خرڅول ، مصرفول : بېځایه لگول ، بربادول، کارل: تېرول (د وخت) .

spendthrift, n. بد خرڅی، مسرف . لگاوو.

spent, د spend ماضی او دریم حالت .

sperm, n. منی ، نطفه .

spermatozoon, نطفه، د نطفې حجره (د نر) .

spew, v.t.i کانگی کول ، قی کول ، لوستل

sphere, n. کره، غونډاری: سیمه، حوزه: آسمانی اجرام: ساحه: چاپېریال .

spherical, adj. کروی ، گردی .

spherically, adv. په کروی ډول ، په گردی ډول .

spheroid, n. کره وزمه ، گردو زمه ، گردی ډولدی .

spheroidal. adj. کره ډوله ، گردی

sphinx, n. ابوالهول ، د یونان یا مصر افسانوی څېره چه سر یې د ښځې، تنه یې د زمری او وزرونه یې د مارغه وی او خلکو ته به یې د معما و ځواب وایه : مرموز سړی، نه پوهېدل کیدونکی سړی

spice, n. مساله، دارو (د کټوې): خوند: (اصطـ) مالګه یا بټی (لکه د خبرې).

v.t. مساله‌دار کول، خوندور کول.

spicy, adj. مساله دار، خوندور.

spick-and-span, adj. نوی نوزی، سپین سپېځلی، تازه، پاك.

spicule, n. د هډوکی نه جوړه شوې ستن.

spider, n. غڼه (عنکبوت): ارکاره، کړ ایی.

spidery, adj. غڼې وزمه.

spigot, n. خولبوری، خولپوڅی، سرپوښ.

spike, n. مېخ (لکه د سپورټ د بوټو): ګل مېخ، لوی مېخ.

v.t. مېخ وهل، ټك وهل، مېخول.

spiky, adj. مېخ لرونکی، مېخی: څوکه ور.

spike, n. وږی (لکه د جوارو): غنچه، ګېډۍ (د ګلانو).

spill, v.t. توېول، تلول، بهول.

v.i. توېېدل، بهېدل: غورځېدل، لوېدل.

spillway, n. پرچاو.

spilt, د spill ماضی او دریم حالت.

spin, v.t.n. وریشل: اوبدل، غځول (لکه د وریښمو چنجی چه وریښمن غځوی)، غزول؛ څرخول، چورلول.

v.i. چورلیدل، څرخیدل: چټك تېرېدل، چټك تلل، چورلیدا: ځغاسته.

spinner, n. وریشونکی، اوبدونکی: چورلوونکی.

spinach, n. پالك، سوزی (سبزی).

spinal column. د ملا تیر، شمځی.

spindle, n. دوك، ماکو، څرخ لرګی: شپنډل، یو څرخېدونکی سیخ چه بل شی وربانده ګرځی.

spindling, adj. ډینګك، جګك نری، اوږد ډنګر.

spindly, adj. جګك، نری، اوږد ډنګر.

spine, n. اغزی، غشی، تېره زخه: د ملا غابنی، د شمځی غابنی، فقره، مهره.

spinal, adj. شمځی ییز.

spineless, adj. بې شمځی.

spiny, adj. شمځی وال: اغزن.

spinning, n. وریشنه، اوبدنه.

spinning, wheel څرخه (د وریشلو).

spinster, n. زړه پېغله، ستۍ، کورناسته پېغله.

spinsterhood, n, ستی توب، پـه پېغلتوب، زړ بټت.

spiral, adj. n. مار پېچ، مار پېچه، تاوراتاو، حلزونی، فنری، ول، کږی.

v.t.i. مارپېچ کول، ول ول کول: مارپېچ کېدل، ولول کېدل.

spire, n. څلی، منار: تېره څوکه (لکه دغر څه ښکر).

spiry, adj. څوکه لرونکی، تېره، څوکه ور.

spirit, n. سا: روح، سیوری، شبح: شخص، فرد: روحیه: ژوندیتوب، ویښتوب: اصلی مطلب، روح (لکه د خبرې): سپیریټ، تقطیر شوی الکول.

v.t. لمسول، په بېړه او په پټه وړل، الوزول.

adj. روحی: الکولی.

spiritless, adj. بې روحه، مړ ژواندی، مړاوی.

spirited, adj. ژوندی، تکړه، ویښ.

spiritual, adj. روحي، معنوي؛ روحاني: سپېڅلی، پاك: مذهبي.

spirituality, n. معنویت، روحانیت

spiritually, adv. په معنوي توګه، د روحانیت له مخې.

spiritualism, n. هغه عقیده چه وایي د مړو روح له ژوندیو سره خبرې کوي: د روح د اصالت عقیده.

spiritualist, n. د روحانیت طرفدار.

spiritualistic, adj. روحاني، د روحانیت.

spirituous, adj. الکولي، ډېر الکول لرونکی.

spirt, v.t.i.n. دارې وهل، خوټېدل: دارې.

spit, n. سیخ (د کباب): دماغه، وچه چه په اوبو ننوتلې وي.

v.t. پېيل (لکه په سیخ).

spit, v.t.i. توکول، توکل: لوئل، اچول (لکه خراشکې).

n. توکاڼی: کټ مټ ورته والی: شېبه (د باران یا واورې)، سپکه وریا.

spite, n. کینه، رخه.

spiteful, adj. کینه ور.

spitefully, adv. د کینې له مخې.

spitefulness, n. کینه ورتوب، رخه.

spittle, n. توکاڼی، لاړې، ناړې.

spittoon, n. توکاڼی، توك داني (تف داني).

splash, v.t. شیندل، پاشل: الوزول (لکه اوبه یا خټې).

v.i. شړپېدل، شړپهار کول.

splash, n.

splatter, n. v. شیندل: شړپهار.

splay, v.t. خپرول، غزول: کږول، ریبنده کول، ریونده کول

n. ریونده: خپور، غوړېدلی، ویړ، غزېدلی (لکه پښه).

splay-kneed, adj کچل، کچی، کوږ زنګونی

splay-legged, adj. پښې ارتی: شواړ، شوار.

splay-toed, adj. ارت ګوتی.

spleen, n. توري (طحال): کینه، رخه: بدخوئي.

splendid, adj. ځلاند، بریښند: پرتمین (مجلل، شکوهمند): روڼ: د ننداري وړ، لوی: لوړ: فوق العاده، ډېر ښه برمیالی، برمي.

splendidly, adv. په ځلانده توګه، په فوق العاده ډول.

splendor, splendour, n. ځلا، بریښ: برم، شان، شوکت، دبدبه.

splenetic, adj. د توري (د طحال، : تیلی): کینه کښ، کینه ناك: بدخوئي، توخمه ناك.

splenic, adj. د توري، توریني.

splice, v.t. غړل، تاوول، کښې ایښتل، سره وروسټل، سره نښلول (لکه دوه لرګي)، پیوندول.

splice, n پیوند : سره اوبدنه : سره وروستنه .

splint, n. مزری ، لښتې (دهډوکری او بدلو) : سیخ ، میله : چچه : دړه ، تخته ، پټری (لکه چه دمات هډوساتنی دپاره استعمالیږی) .

splinter, n. نری اوږده دړه ، تراړه ، تراژه ، ترانګه (د لرګی یا بل شی نری پټره ، ټوټه چه په اوږدو پرې شی) .

v.t.i. ترازه بېلول ، تراړی تراړی کول : چول : چاودل .

split, v.t.i.n.adj چول (لکه لرګی په اوږدو) ټوټی ټوټی کول : بېلول ، وېشل ، ونډی کول : چاودل : انشعاب کول ، ټوټی ټوټی کېدل انشعاب : چاود ، درز : وېش ، ونډه : چاودلی ، وېشل شوی .

splitting, adj. چوونکی : درد ناک .

splotch, n. v. داغ ، ټپی : ټپی کول ، ټپی ټپی کول : ککړول .

splurge, n. هغه کار یا شی چه نمایشی رنګ ولری ، لباسی ، ځان ښودنه ، تظاهر .

splurge, v.i. ځان ښودل ، د ځان ښودنی دپاره پیسې لګول .

splutter, v.t.i. ګونګېدل ، تېز ژبی کېدل

n. ګونګهار : شور بهار .

spoil, v.t.i. لوټول ، تالا کول : خرابول ، ابته کول ، ضایع کول ، له کاره ایستل ، ورانول : خوسا کېدل ، ورستېدل .

spoiler, n. لوټمار ، داړه مار : ورانکاری ، ضایع کوونکی .

spoke, د speak ماضی .

spoke, n. پره (د څرخ) : پټه ، پاټکی (د زینې) .

spoken, د speak دریم حالت : ږغېدلی شفاهی ، محاوره یی .

spokesman, n. ښکارندوی ، نطاق ، نماینده ، استازی .

spoliation, n. چور ، لوټ ، تالا .

sponge, n. سپنج (اسفنج) : په سپنج مینځنه : تیار خور (طفیلی ، پرازیت)

v.t.i. سپنج ټولول ، اسفنج ښکار کول ، په سپنج ځان مینځل : تیارخوری کول ، ځان په بل بارول .

sponger, زبېښونکی ، په بل بار .

spongy, adj. سپنج وزمه ، اسفنجی : سپک .

sponsor, n. ذمه وار ، ضامن ، په غاړه اخیستونکی ، د ینی پلار او مور : د لګښت ذمه وار .

sponsorship, n. ذمه واری ، تعهد .

spontaneous, adj. پخپله ، له ځانه ، په خپل سر ، له خپله انده : بې اختیاره .

spontaneous combustion, n. په خپل سر اور اخستنه .

spontaneity, n. بداهت .

spontaneously, adv. پخپله ، بې اختیاره .

spoof, v.t.i. ریشخندول ، مسخره کول ، غولول ، ملنډې وهل .

spook, n. سیوری ، بنو ، پېری ، روح

spool, n. کوټک ، ګوټ : څرخ .

spoon, n کاشوغه ، کاچوغه ، څمڅکی .

v.t. په کاشوغ اخیستل ، په دروغو او احمقانه ډول علاقه ښودل .

spoonful, n. یوه کاشوغه .

spoor, n. منډ، پل، پته، د ځنګلي ځناور منډ پسې اخیستل .

sporadic, adj. تیت و پرك، ځای ځای، خال خال، ځوټه ځوټه .

sporadically, adv. کله کله ، په پاشلي توګه .

spore, n. (بیالوجي) هغه تکثیري (تولیدي) واحد اجسام چه د یوه حجروي ژوو او بوټو څخه پیدا کیږي او په سترګو نه لیدل کیږي (سپور) .

sport, n.v.i.v.t. : سپورټ، بدني روزنه : ساعت تیري : لوبه: ټوکه ، ملنډه : د لوبي سیالي څښتن ، د سړي سیالي خاوند : چل چو : بد لون، انحراف ښیل ، ساعت تیرول .

adj. د لوبي (وسایل) .

sportive, adj. لوبغاړی، ورین، خوش طبع

sportsman, n. لوبغاړی ، د لوبي سیالي څښتن ، سپورټ مین .

sportsmanship, n. د ورزش سره مینه ، لوبغاړتوب : ورینتوب، سپورټ مینتوب .

sporty, adj. لباسي: سپورټ مین وزمه : ځان ښودونی .

spot, n. : خاپ داغ، خال، ټکی، پلموتی : ټپ، ټپی: لوغی: سیمه، ځای .

v.t. : داغ داغ کول ، رټه کول : نښه کول .

v.i. رټه کیدل: په نښه کیدل: لیدل ، پیژندل .

spotless, adj. سوتره ، بې داغه ، بې وټه .

spotlight, n. تیزه رڼا چه په یوه معین سړي یا ځای ولویږي : د دا ډول رڼا اچوونکی څراغ: د خلکو توجه .

spotter, n. خفیه پولیس، د کشف پولیس، جاسوس، خبرچی .

spotty, adj. ګڼوړ، تیت و پرك .

spousal, n. د واده دود، د نکاح مراسم .

spouse, n. میړه یا اورته، میړه یا میرمن .

spout, v.t.i. داري وهل ، فواره کول ، په دارو تویدل: بهر بهیدل .

n. : څوښکه، فواره، څوښکوری : داري داري .

sprain, v.t. اوښتل (لکه د پښې) ، زور موندل، رګیدل (لکه مړوند چه په زور تاوشي)، ټپ خوړل، ټوکل، ټکیدل .

n. زورموندل، تاوخوړنه، لګیدنه، ټکیدنه .

sprang, د spring ماضی

sprat, n. یو ډول کوچنی ار و پایي کب

sprawl, v.i. : شواړ (شوار) کیناستل : خوروور پریوتل، غزیدل، څانګی وانګی پریوتل، خوروور غزیدل (لکه تاك): ارت کیدل .

spray, n. منډوکی، ګل څانګه (د میوي د ګلونو یا پاڼو سره) .

spray, n. پوژ ، پوشنا: شیندونکی، پوژ وهونی (آب پاش) ، د پوژ و هنی او پاشلو اله .

v.t.i. پوژ وهل ، شیندل ، پاشل ، پڼ وهل .

sprayer, n. پوژوهونی، شیندونکی.

spread, v.t.n. غوړول، خپرول: پلنول، اوارول: غزول: ویشل، ونډې کول: خپرول، تیتول، خپرونه: ویش، ونډه: پسور، پلنوالی: توپیر: پوښ (لکه د میز دسر) څادر، روجایی: اخیړ، هر هغه نرم مواد (لکه کوچ) چه په بل شی (لکه ډوډی) پورې موښل کیږی.

spreader, n. غوړوونکی، تیتوونکی، خپروونکی.

spree, n. چړچه، مستی (په تیره چه ډیر شراب په کښې وڅښل شی).

sprig, n. لښته، څانګه کی، منډوکی.

sprightly, adj. ژوندی، ودین، ژوندی زړی: تکړه، ویښ.

spring, v.t.i. ټوپ وهل، غورځیدل: ټوکیدل: تیغ وهل، سروهل: ستنیدل، ځای ته راتلل (لکه فنر): کشیدل، څیر کیدل: کږیدل، بیځایه کیدل، چاکیدل، چاودیدل: په ناڅاپی ډول ښکاره کول: په غرپ ښندول (لکه د موږك تلك یا فنر)

n. ټوپ، خیز: چینه، سرچینه، منبع: پسرلی: فنر، کمانی، سپرینګ.

adj. پسرلنی: پسرلی: د چینی: فنرلرونکی، ارتجاعی.

springy, adj. فنری، غورځنګی.

springboard, n. د انګك دړه، هغه دړه چه او بوته ترې دانګك وهل کیږی.

springtide, n. د پسرلی مهال، لوی مهال.

sprikle, v.t.i. شیندل، تیتول، پرخول.

sprinkler, n. پرخوونکی.

sprinkling, n. پرخونه.

sprint, v.i. په تراټ ځغستل، لنډه منډه کول، ترپلل.

n. تراټ، ځغاسته.

sprinter, n. ځغستونی

sprite, n. پیری، ښاپیری: بلا، شبح.

sprocket, n. غاښی، پره.

sprocket wheel. پره ییز څرخ، غاښور څرخ.

sprout, v.t.i. تیغ وهل، ټوښ وهل، ټوکېدل.

n. نوده، پونګه، څوکری، بچکی، غونځکه.

spruce, n. نښتر، هره تل زرغونه ونه چه پاڼی یې د ستنی په شان نرۍ وی.

spruce, adj. سوتره، فېشنی، ډولی، خیالی، پاك، سینګاری.

sprung, د spring دریم حالت.

spry, adj. چټك، ګړندی: ژوندی.

spud, n. رمبی: (اصط) کچالو، پټاټې، الو.

spume, n. ځګ.

spun, د spin ماضی او دریم حالت

spunk, n. لګوونی، پیلوځی: اورلګیت (اصط) زړه ورتوب، جرأت.

spunky, adj. زړه ور.

spun rayon, د ریان سنی یارشمه (کلیښته)

spur, n. مهمیز (مهمېز): نوکه، څوکه: خنډ، بیخ (لکه د چرګ د پښې): محرك، څوکه: خنډ: پاڼ، ګړنګ: فرعی پټلی (د اورګاډی).

v.t.	پونده کول (لکه آس)، چوکه کول: پارول، لمسول.
spurred, adj.	پارېدلی، لمسېدلی.
spurious, adj.	کوټه، کلپ (قلب)، شلخی، غلط، بدل.
spurn, v.t.	په لغته وهل، رټل، شړل، ایسته اچول.
spurt, v.t.i.	داره وهل: خوټېدل: ناڅاپی هڅه کول، ناڅاپه جګېدل (لکه نرخ)
n.	داره: ناڅاپه چټکی: د نرخ جګېدنه.
sputter, v.t.i.	الوتل (لکه ناړی د خبرو په وخت کی): ژوولی خبری کول، لاړی بادول (د خبرو په وخت کی): سپرغی الوزول
n.	لاړې بادونه، لاړی بادونه: ژوولی خبری، سپرغی.
sputum, n.	خراشکی (بلغم): لاړې (لاړی).
spy, v.t.i.	څارل (په پټه)، جاسوسی کول، پسې کېدل.
n.	جاسوس، څاری.
spyglass, n.	وړوکی تلسکوپ.
squab, n.	د کوترې بچی، د کوتری چوچی: ګردی سړی، سخوټ.
squabble, n.v.i.	شخړه کول، کړکېچ کول: شخړه، کړکېچ.
squad. n.	ډله: ډلګی.
spuadron, n.	سپاره (لښکر): ډله: د امریکې د هوایی قواوو ډلګی.
squalid, adj.	خیرن، ناولی: هسکپرلی، لتلی، خوار.
squall, n.	سېلی، توند باد (چه واوره یا باران ورسره وی).
squally, adj.	توفانی، سېلی ناک.
squalor, n,	غریبی او خواری، هسکپرلتوب: خیرنتوب، ناولتیا.
squander, v.t.	بېځایه خرڅول، بربادول، تس نس کول.
square,	مربع، څلور ګوټی: څلور لاری، چوک: (ریاضی) دوهم طاقت، مربع.
v.t.i. adj.	مربع کول، څلور ګوټی کول، پاکېدل: موافقه کول، جوړه راتلل: پرېکړه کول، فیصله کول، دعوا غوڅول: په خپل ځان کی ضربول (عدد): څلور ګوټیز: لک، لېغ: په خپل ځان کی ضرب شوی: کلک (لکه حساب یا معامله): خواندور، په زړه برابر (لکه ډوډی).
squarely, adj.	په څلور ګوټیز ډول
square dance,	څلور کسیزه نڅا، څلور ګوټیزه نڅا.
square-rigged, adj.	څلور ګوټ بادوان وال (لکه بېړی)، هغه بېړی چه بادوان یې څلور ګوټه ولری.
squash, n.	کدو، نری ځاړی کدو.
squat, v.i.	د پښو په ګوتو کښېناستل، د پښو په سر کښېناستل: مځکه لاندی کول (بی د حکومت له اجازې)، غصبول، نیوکه کول.
adj.	سخوټ، پنډلنډی، لنډیه.
squatter, n.	مځکه لاندی کوونکی.

squaw, n. ميرمن، ښځه (د امريکايي سور پوستو ښځه): امريکايي سور پوستې ښځه.

squawk, n. قغهار، کغهار.

v.i. قغېدل، کغېدل

squeak, v.t.i. چغېدل، چغهار کول: شغېدل، گزېدل، گزهار کول.

n. چغهار: شغهار، گزهار.

squeaky, adj. چغنده: شغنده، گزنده (بوغ).

squeal, n. کوکنجهار، کوکنجې: چغهار: کوکنجېدل، چغېدل، نولېدل: چغلي کول، حال ويل.

squeamish, کارجن، نری زړی، نازك مزاجی، ژر خوابدېدونکی.

squeeze, v.t.i. کښېکښل، کښېکابل: نښتېښل، زبېښل: پهزور ځايول، پهزور ننه ايستل، پهزور ننوتل، ټېل وهل.

n. کښې منځ ته، فشار، زور: ايښوولی، ايښولي (لکه د ليمو او به چه د نښتېښلو په واسطه لاس ته راغلی وی).

squeezer. n. نښتېښونکی (لکه ماشين)

squelch, v.t. غلی کول، چوپول: ځپل.

squib, n. سرسره کی، سرسوانکه، ټوکی: لنډه فکاهي، انتقادی ليکنه، غندنه (په ليکنه کی).

squid, v.i. يو ډول د سمندری ژوی چه لس پښې لری.

squint, n. کاږه ترسترگو لاندی کتل، چپ چپ کتل په نيمکښو سترگو کتل: چپك کېدل، چپول کېدل، کږې سترگی لرل.

n. adj. چپول، کږسترگی.

squire, n. د نايټ اردلی: سردار، بادار، (په انگلستان کی) يو لقب چه تر نايټ ښکته او ترجنټلمين لوړ وی: د ښځو بدرگه کوونکی.

squirm, v.i. تاوېدل، څخېدل. کوږوږ کېدل، لټ پهلټ اوښتل.

squirrel, n. نولی، موږك پړانگ، پيش پړانگ.

squirt, v.t.i. نری داره وهل، الوتل، ريښند کی وهل.

n. د داری آله (لکه سرنج)، شيندونی (آب پاش)

stab, v.t.i. سوری کول، منډل، چخل (لکه چاړه)، چوخول.

n. پرهار، ټپ (لکه د توری): څوقه، بريد.

stabilize, v.t. انډول کول، موازنه برابرول: سمول: مستقر کول، تثبيت کول، ټينگول: د الوتکی د موازنی ساتل (د مخصوصی آلی پهواسطه)

stabilization, n. توازن، برابری، په ځای درونه: استحکام.

stabilizer, n. د موازنی برابروونکی آله.

stable, adj. ټينگ، پرځای ولاړ، ثابت: پايېدونکی: مضبوط.

stability, n. ټينگتيا، ثبات.

stable, n. غوجل (اصطبل): مال.

stableboy, n. غوجل به، غوجل پاکوونکی.

stableman, n. غوجل به.

staccato, adj. هغه موسیقي چه لنډې او ښکاره وقفې ولري .

stack, n. دلۍ، کوټه، ټوپ، خره (لکه د پروړو یا غنمو) : د لرګي موډې، دودکښ، توته، نلکه: څلی، ټوټکی، باره: د کتابو الماری .

v.t. دلۍ کول ، کوټه کول ، خره کول: باره کول .

stadium, n. لوبغالی، سټیډیوم، د لوبو میدان، لوبځای .

staff, n. لکړه، امسا، ډانګ: کوتك: اسره، هیله : زېرمه ، توښه : غړي (د دفتر) ، کارکوونکي: اداري هیأت، درستیز (ارکان حرب): (موسیقي) پنځه افقي کرښې چه موسیقي ور باندې لیکل کیږي .

stag, n. نر کښ ، غرڅه: اینده ، مینده ، تکه .

stage, n. صحنه، سټېج: د پېښې ځای: دریځ: رباط: مرحله: څلورارا په پېزه بګۍ: اندازه (لکه د پر مختګ) .

v.t. لوبول، د صحنې په مخ راوړل .

stagecoach, n. هغه بګۍ چه په معینه لار او ټاکلي وخت موظفه وي .

stagger, v.i. کاږې واږې تلل، ړنګې بنګې کېدل (لکه د نشې له لاسه) : ټکنۍ کېدل: شکمن کېدل، دوه‌زړی کېدل .

v.t. ړنګې بنګې کول: ټکنۍ کول: ترتیب اړول، په بل ډول ترتیبول .

n. کوږ ووږ تګ: (جمعه) پروهنه، نوك وهنه (لکه د آس) .

staging, n. تمثیل: کوېږه، خوازه (لکه د معمارۍ)، د کورا سکلیټ، اډاوته .

stagnant, adj. دریدلی، ولاړ (لکه اوبه)، راکد: لټ، غېږند، سست .

stagnate, v.i. ځای په ځای دریدل : تربوخته کیدل (لکه هوا)، خوسا کیدل، (لکه اوبه) : سستیدل ، لټ کیدل .

stagnation, n. رکود، لټي، ځای په ځای دریدنه .

staid, adj. ځایي، ثابت: درونډ (مؤثر)

stain, v.t. داغ کول، پلموټی کول، رټه کول: زنګ کول: رنګول: بې لارې کول: شرمول .

n. داغ، رټه، لکه، پلموټی: شرم، بې پتي: رنګ .

stainless, adj. بې زنګه، زنګ نه کوونکی، بې داغه: پاك لمنی، سوچه .

stair, n. زینه، د زینې پټه : (جمع) زینه، د زینې ټولې پټې .

staircase, n. زینه (په تېره چه کټار ولري) .

stairway, n. د زینې لار .

stake, n. موږی : ستنه چه خلك به پرې تړل کیدل او وروسته به سوځول کېدل: داو، شرط، رسك: جایزه، انعام .

v.t. برید ټاکل (د موږو په واسطه) داو وهل، شرط تړل، پیسې پرې ایښودل .

stalactite, n. ګونګړی، چونه چه د سمڅې له چت څخه راوځړېږي .

stalagmite, n. څلی، په تېره د چونې چه د سمڅې له غولي جګ شي .

stale, adj. پاسي، زېږنی، بې خونده .

v.t.i. باسی کول، زیرای کول: بې خونده کول: باسی کېدل، بې خونده کېدل.

stalk, n. نال، ډنډ، ډنډر .

stalk, v.i. خپ خپ تلل، غلی غلی تلل، غلچکی تګ کول: په نخرو تلل، په غوره تلل .

stall, n. غوجل: ځانګړی اخور (دیوه حیوان)، دکانچه: کړکۍ، غرفه: دریځ، منبر (د کلیسا): د تیاتر وړاندې چوکۍ، ستېج ته نژدې چوکۍ چه له نورو بېله وی .

v.t. درول، مړ کول (لکه ماشین) .

stllion, n. مېنده آس، نر آس (چه خصی شوی نه وی) .

stalwart, adj. پلوان، غښتلی، زړه ور .

stamen, n. د ګل مېنځ (چه تخم پکښې وی)، ستېمن، د ګل غوزه، د ګل بور .

staminate, adj. غوزه لرونکی .

stamina, n. ټینګتیا، زور: زغم، ګالنه: پایښت .

stammer, v.t.i. تهی تهی کېدل، تهی کېدل، ژبه بندېدل .

n. د ژبې بندېدنه، تهی توب .

stammerer, n. تهی، تهی تهی، چاړا .

stamp, v.t.i. اوړه کول، مېده ول: تر پښو لاندې کول، چیتول، ختل (پرې) ټاپه کول، مهرول: نښه کول، ټاپه لګول، چاپ لګول: ټکس سرېښول .

n. اره کول: ختنه: ټاپه، مهر: د پستې ټکټ .

stampede, n. تېښته، ترېدنه، ترپ، ترهېدنه

v.t. تښتېدل: ترهېدل .

stance, n. دریځ، وضعه: ولاړه (د درېدو وضعه) .

stanch, v.t.i. درول، ورو کول، بندول لکه (د وینې): درېدل، بندېدل . adj. بې درزه، بې سوری (چه اوبه ور څخه نه تېرېږی): کلک، ټینګ، مضبوط: رښتونی .

stanchly, adv. په رښتیا: په ټینګه .

stanchion, n. مېله، ستن، سیخ

stand, v.i.n. درېدل، ولاړېدل: دریځ لرل، عهده لرل: کاندیدېدل: ټولېدل، ډنډ کېدل (لکه اوبه چه په سترګو کی): وړاندې کېدل: (لکه محاکمې ته) . درېدنه، دریځ: دریځ (په محکمه کی د شاهد): غرفه، دکانچه، دکان: تخت مېزګی، قفسچه: د ونو غړو سکه، بوټکوره، نیالګره (هغه ځای چه بوټی بوټی یا نیالګی پکښې شنه شوی وی) .

standard, n. ښکاروندی، انبان: جنډه، بیرغ: معیار: واحد: پښه، پایه

standard, adj. معیاری .

standard-bearer, بیرغ چی، سوکښ .

standardize, v.t. معیاری کول، برابرول، یو رنګ کول، متوازن کول .

standardization, n. معیاری کول، برابرونه .

stand-by n. باوری (سړی) اتباری (سړی) د ډاډوړ، مرستیال، کومکی .

standing, adj. لك، اېښ: ولاړ: ثابت: تل ترتله: د ولاړی، ولاړی .

n. رتبه، مقام، دریځ: پایښت .

standpipe. n.	نېغ پایپ، داوبو ټانک (چه په ځنګه ایښی وي)، سپور پایپ.
standpoint, n.	نظر، فکر، خیال، نظریه، نقطه نظر.
standstill, n.	ټال، ځنډ: دریدنه (سکون)، ځای په ځای درېدنه: ډیل.
stanhope, n.	یو ډول بګۍ.
stanza, n.	پاړکی، بند، قطعه (دشعر)
staple, n.	ګېرا، ټوسی، دسټېپلر ستنې: اساسی تولیدات: اساسی برخه، مهمه برخه، لویه برخه: اومه مواد: پنبه، وړۍ (چه اومه وي).
adj.	ډېر تولیدېدونکی (مواد) اساسی، مهم، اصلی.
star, n.	ستوری: دسینما مهم لوبغاړی.
v.t.i.	ستوری کښېښول، په ستورو سینګارول، ستوری جړاوول: دسینما ستوری کېدل.
starless, adj.	بې ستوری.
starlight, n.	دستوری رڼا.
starlike, adj.	ستوری وزمه، دستوری په شان.
starry, adj	ستوری لرونکی، له ستورو ډک.
starboard, n.	ښۍ اړخ (د بېړۍ یا الوتکی).
starboard, adj.	دښۍ اړخ، ښۍ اړخیز.
starch, n.	بت. آړ (انشایسته، هار).
v.t.	آړور کول، بت ور کول.
starchy, adj.	نشایسته ییز: آړه لرونکی: نېغ نېغ، شخ.
StarChamber, n.	پټه محکمه، سری محکمه.
stare, v.i.	سترګې پکښې ښخول (د تعجب ویرې، یا کنجکاوۍ له مخې): څرګندېدل (په بارز ډول)
n.	په ځیر کتنه: تبارز، څرګندوالی
starer, n.	په ځیر کتونکی.
starfish, n.	بحری ستوری، یو ډول سمندری ژوی چه دستوری په شان دی.
stark, adj.	نېغ نېغ، په ځای ولاړ: زېږ، کلک، سخت، ټینګښ: لغړ، بربنډ: شاړه: بشپړ، بېخي قطعي.
adv.	بشپړه، بالکل.
starling, n.	شامتوره، زرزرکه.
star-spangled, adj.	په ستورو جړاو شوی، ستوری پرې لګېدلی.
start, v.i.	پیل کول (شروع کول): ټوپ وهل، دانګل، ټکان خوړل.
v.t.	چالانول: پارول، وېښول، ټکان ور کول.
starter, n.	پیل کوونکی، چالانوونکی.
startle, v.t.	ناڅاپه ویرول (لکه پخ وهل، بو وهل)، ټکان ور کول، ډارول.
startling, adj.	ټکان ور کوونکی، ناڅاپه ویروونکی، جټکه ور کوونکی لړزوونکی.
starve, v.i.	لوږه ګالل، ډېر وږی کېدل، له لوږې مړ کېدل، له لوږې هلاک کېدل، ډنګرېدل (له لوږې)

starvation, n. لوږه، کاختي (قحطي).

starveling, n. وږی، د لوږې د لاسه ناتوان، ډنګر.

state, n. حالت، وضعه: موقف، دریځ، موقعیت: دولت: ایالت، ولایت: او لس (ملت).

state, adj. د دولت، دولتي.

statehood, n. د دولت موقف.

state, v.t. بیانول، څرګندول: ټاکل، اېښودل (لکه بیه): تېرول (لکه کیسه)

statecraft, n. دولتي چال، دواکمنۍ چم چلند، سیاستمداري، د حکومت کولو فن.

stately, adj. رسمي: درانه، پرتمین (مجلل).

stateliness, n. درنښت، درناوی.

statement, n. څرګندونه، بیانیه، وینا.

stateroom, n. شخصي کوټه، ځانله کوټه (په اورګاډي یا بېړۍ کې)

statesman, n. د دولتي چارو ماهر، سیاست پوه، سیاستمدار.

statesmanlike, adj. سیاستمدار.

statesmanship, n. سیاسي پوهه، سیاستمداري.

static, statical, adj. آرام، ولاړ (ساکن)، بې حرکته: د راډیو غوږ مار.

n. غوږ مارچه په راډیو کې د برقي اختلال له کبله پیدا کېږي.

station, هډه، اډه، سټیشن، تم ځای: مرکز: دریځ: استوګنځی: د ځارویو د روزنې ځای: قشله: رتبه، مقام.

v.t. ځای، درول، استوګن کول، ټاکل.

stationmaster, n. د سټیشن آمر.

stationary, adj. ځای په ځای، ځایي، غلی، نه خوځېدونکی: نه بدلېدونکی، پر یوه حال.

stationer, n. قرطاسیه خرڅوونکی.

stationery, n. قرطاسیه، د لیک سامان (لکه کاغذ، قلم او نور).

statistics, n. احصائیه، شمېر.

statistical, adj. احصائیوي.

statistician, n. د احصائیې متخصص

statuary, n. مجسمه جوړونه: د مجسمو مجموعه، مجسمې.

statue, n. مجسمه، بت.

statuesque, adj. مجسمه ډوله، بت ډوله: باوقاره، ښکلی.

statuette, n. وړه مجسمه، کوچنی بت.

stature, n. ونه، جګوالی، قد: وده.

status, n. دریځ، موقف، موقعیت.

statute, n. قانون، منشور: دود، کښل شوي قانون.

statutory, adj. قانوني، اصولي: مشروع.

staunch, د stanch بله بڼه: قوي، ټینګ.

stave, n. لرګی، ډانګ: ډډې، تختې: قطعه، پارکی، بند: لنبته (د موسیقۍ د ډایرکټر)، پټه (د زینې).

v.t. ډډې ډډې کول: سوری کول: چیتول: خچ پچ کول، چیت پیت کول: پچ کول، پچول، شاته وهل، تنبول

staves, n د staff جمع، لرګي.

stay, v.i. پاتې کېدل ، معطلېدل : اوسېدل ، تم کېدل : دوام کول درېدل ، په ځای درېدل .

v.t. درول : مخه نیول : ځنډول ، ټالول .

n. ځنډل ، ځنډ ، توقف : استوګنه ، مېشتېدنه ، ډېره کېدنه .

stay, n. پړی ، کېبل ، چه د بېړۍ د بادوان ستنه پرې کلکېږي ، مرسته ، تکیه : د ښځې ملا بند .

v.t. تکیه کول : ټکه کول ، لوږه ماتول (په موقتي توګه) ، دفع الوقت ، چاره کول : (اصط) ټینګېدل (تر پایه)

stead, n. ځای (لکه د هغه په ځای ده کار وکړ) : ځای ، وخت ، مورد (لکه دا کتاب ما ته په ښه ځای کې په کار شو)

steadfast, adj. ټینګ ، کلک : ثابت ، نه بدلېدونکی .

steadfastly, adv. په ټینګه : په ثبات .

steadfastness, n. ټینګار ، ثبات

steady, ټینګ : ثابت ، بې تذبذبه : د عزم خاوند : منظم ، باقاعده : یو کمان ، یو حال ، یوه ترا (لکه سرعت) .

v.t.i. ټینګول ، کلکول : منظم کول ، باقاعده کول : ټینګېدل ، منظم کېدل

steadily, adv. په یو کمان (یکنواخت) ، په تدریج

steadiness, n. ټینګتیا : عزم ، ثبات .

steak, n. بوټی (د غوښې په تېره د خوسي)

steal, v.t. غلا کول ، پټول : شوکه کول .

v.i. غل کېدل .

n. غلا ، شوکه .

stealth, n. غلا ، پټ کار .

stealthy, adj. د غلا ، غلچکی ، پټ ، خپ و چوپ .

stealthily, adv. په غلچکي ډول ، په پټه ، په غلا .

steam, n. adj. پړاس ، بخار : د بخار ، بخاري .

v.i. پړاس کول ، بخار کېدل : تبخیرول : پړاس ایستل .

steamboat, n. د بخار بېړۍ .

steamengine, د بخار ماشین

steamer, n. د بخار ماشین ، د بخار بېړۍ ، د بخار دېګ .

steampipe, n. د بخار نل .

steam roller, د سړك جوړولو رولر .

steamship, n. د بخار بېړۍ .

steam shovel, د کیندلو ماشین .

steamy, adj. بخار ډوله ، پړاسي ، پړاس لرونکی .

steam fitter, نل غزوونکی ، د بخار د نل غزوونکی ، د نل کارګر .

steed, n. اېلۍ ، آس .

steel, n. پولاد

v.t. پولادي .

adj. پولادي کول ، په پولاد پوښل ، پولادي څوکه ور کول ، ټینګول ، کلکول .

steely. adj. پولادي .

steelyard, n. یو ډول اوږده درجه لرونکی تله .

steep, adj. ستوغ، کږ نګړ وزمه، رپوړنده: بې اندازه، بې حده ډېر زیات، کږ نګړ، چپ اړی، سینه کښ .

steeply, adv. په ستوغ ډول .

steepness, n. ستو غوالی .

steep, v.t.: خیشتول، لندول (په مایع کې): شیره ایستل، او به ایستل (د خیشتولو په واسطه): مړول، ډکول، اشباع کول.

steeple, n. مناره، د کلیسا د منارې څوکه

steeplechase, n. مانع لرونکې آس ځغاستنه، د آس ځغلولو لوبه چه په کښې آس له مصنوعي موانعو څخه ټوپ وهي .

steer, n. سخوندر، خصي شوی سخوندر .

steer, v.t. واګې نیول، چلول، بیول (لکه موټر) .

v.i. تلل، روانېدل: په چلو برابر تلل

steersman, n. چلوونکی، د ملوانۍ خاوند .

steerage, n. چلونه، سمت، لوری، د بېړۍ ارزانه برخه، د بېړۍ هغه برخه یا بله برخه چه کرایه یې ټیټه وي .

stein, n. کنډول، د کاشي ګیلاس چه لاستی ولري .

stellar, adj. ستوري ییز، د ستوري، ستوري ډوله .

stem, ډډ، تنه: ډنډر، منډه: پښه، ټبر: د بېړۍ سر، د بېړۍ وړ بوز: ریښه، اساس (د لغت).

v.i. راولاړېدل، راپیدا کېدل، نشأت کول .

stench, n. ډډوزه، خوړوسکه، بدبویی

stencil, n,, قالب، ستنسل، دچاپ قالب.

stencil, v.t. په ستنسل چاپول.

stenography, n, چټک لیکنه، د چټک لیکنې فن .

stenographer, n. چټک لیکوونکی

stenographic, adj. چټک لیکنی .

stentorian, adj. چګه بوغی (لکه سږی)

step, n.: قدم، پل، ګام، پوړۍ (د زینې): درجه، مرحله: تګه .

v.i. قدم ایښودل، ګام اخستل: په پله اندازه کول .

step,- ناسکه، مېړنی، مېړوی زی .

stepaunt, ناسکه ترور .

stepbrother, مېړی زی د مېړی زوی

stepchild پرکټی .

stepdaughter, پرکټۍ .

stepfather, پلندر .

stepmother, مېره .

stepsister. مېړې زی خور، ناسکه خور .

stepson پرکټی .

stepuncle, ناسکه تره، ناسکه ماما

stepladder, n. زینه، سپکه زینه .

steppe, n. بېدیا، ډاګ، دښت .

stereoscope, ستېریوسکوپ، دوه عدسه ییزه آله چه د هغې په واسطه د یوې منظرې دوه عکسونه چه څنګ په څنګ ایښودل شوي وي په مجسم ډول ښکاره کېږي

stereoscopic, adj. د ستېریوسکوپ، ستېریوسکوپیز .

stereotype, adj. د چاپ تخته، یوه فلزي تخته چه د هغې له مخې یوه صفحه چاپېږي، کلیشه: نمونه .

stereotyped, adj. متحدالمال، یکنواخته، مبتذل، بې خونده.

sterile, adj. شنډ، بې ثمره، بې حاصله، شاړه: بې مکروبه، معقم.

sterility n. شنډتوب: بې مکروبي، عقیم والی.

sterilize, v.t. تعقیم کول، له مکروبو پاکول.

sterilization, n. تعقیم.

sterilizer, n. تعقیم کوونکی، مکروب وژونکی.

sterling, n. سټرلنګ (د برتانیې پولي واحد).

adj. د سټرلنګ: د سټرلنګ له زرو څخه جوړ شوی: بوب، خالص، اسکه، سوچه.

stern, adj. سخت، ټینګ: کلک، ثابت، کراړ.

sternly, adv. په ټینګه، په سخته.

sternness, n. ټینګتیا، کلکوالی.

stern, n. د بېړۍ لکۍ، د بېړۍ وروستنۍ خوا.

sternum, n. د سینې هډ (عظم قص) سرپوښتی.

stethoscope, n. سټتسکوپ، د ډاکټرانو د معاینې آله.

stevedore, n. بنډري، جوالي (په تېره هغه چې له بېړۍ بار ښکته کوي یا یې ورخېژوي).

stew, v.t.i. ورو ورو ایشول، ورو ورو پخول، قورمه کول: دم کول، په بړاس (بخار) پخول: اندېښنه کول.

steward, n. ناظر، کنبي: سټیوارډ، مېلمه پال (د الوتکې یا بېړۍ).

stewardess, n. مېلمه پاله.

stewardship, n. نظارت، څارنه: مېلمه پالنتوب.

stick, n. لښته، لکړه، لرګی.

v.t.i. ټومبل، چوخول: ننه ایستل: نښتل، سرېښ کېدل: درېدل (لکه د ملګري سره).

sticky, adj. سرېښناک.

stiff, adj. شخ، بیخ: راښکلی، نیولی، کش: ټینګ: رسمي، تصنعي: سخت زوروړ (لکه باد)، سخت، شدید: ګران، مشکل.

stiffly, adv. په کلکه، په سختۍ.

stiffness, n. کلکوالی، ټینګوالی.

stiffen, v.t.i. شخول، کلکول، ټینګول: کلکېدل، ټینګېدل.

stiffening, adj. n. ټینګوونکی، شخوونکی.

stiff-necked, adj سرټمبه، سرزوری.

stifle, v.t. خپه کول، تربتول، زندۍ کول، کښېکاږل، کښېمنځل: بندول، نیول، ایسارول (لکه ساه یا ارږمې).

v.i. خپه کېدل، ساه بندېدل

stigma, n. داغ، تور، پېغور، بدنامي: بور، د بوټو هغه برخه چې تخم لري.

stigmatic, adj. بدنام، تورن: وړانګی چې په یوه نقطه کې سره یوځای کېږي.

stigmatize, v.t. تورول، شرماړول، توراړول، تورن کول: داغ ایښودل، نښه کول.

stile, n.	پوړۍ، زینه (په تېره هغه چه د باغ د دیوال یا کټارې مخې ته ایښودل کېږي).
stiletto, n.	ساتوره، پېش قبضه، تېره څوکې چاړه.
still, adj.	ولاړ، بې حرکته، آرام: غلی، چوپ.
n.	چوپتیا، چوپ، چوپاېي: بې ږغه عکس، مصور کلام.
v.t.i.	غلی کول، چوپول: غلی کېدل، چوپ کېدل.
adv.	لا، لاهم، لاتراوسه: بیاهم سره له دې.
conj.	خو، خو بیاهم
stillness, n.	غلی توب، چوپتیا.
stilly, adj.	غلی، بې سېکه، بې مټرې.
stillborn, adj.	مړ پیدا، مړ زېږېدلی.
stilt, n.	لکړه (هغه دوې لکړې چه د پښو د پاره ځای لري او سړی د هغې په واسطه ګرځي، پښتانه دا کار په دوو یوماتو کوي).
stilted, adj.	رسمي، ځان ښودونکی، تشریفاتي.
stimulant, adj.	پاروونکی، لمسوونکی، محرك.
n.	پاروونکی درمل یا څښاك.
stimulate, v.t.	پارول، لمسول، تحریکول.
stimulation, n.	لمسون، پارونه، تحریك.
stimulus, n.	پاروونی، لمسوونکی، محرك: باعث، سایق.
sting, v.t.& n.	چیچل، نېښ وهل: کنړې ویل: غولول: پارول: لمسول: چیچنه: ځړیکی (د چیچنې)، سوی: نېښ لېشه، لشکه.
stingy, adj.	کنجوس، سخت (بخیل)، ممسك، شوم، کنستك.
stinginess, n.	کنجوسي، سختي.
stink, v.i.	وږم کول، بوی کول، خوسا بوی کول.
n.	وږم، بدبوی، خوسا بوی، ډډوزې.
stint, v.t.	لږول، کمول، سپمول، محدودول.
v.i.	لږیدل، کمیدل، سپمېدل.
n.	لږوالی، سپما، کموالی: حصه، برخه، ټوټه (کار).
stipend, n.	مزد، اجوره، معاش، تنخا
stipple, v.t.	په ټکو ښه کښل، په ټکو څېره ایستل.
stipple, n.	ښه کښنه، څېره ایستنه (د ټکو په واسطه).
stipulate, v.t.i.	ټړون کول (د شرط سره)، شرط ایښودل، مشروطول.
stipulation, n.	ټړون، شرط، قید.
stipule, n.	بېخ پاڼی، د بوټی د بېخ ځېرګی پاڼی.
stir, v.t.i.	لړل، خوځول، ښورول: په احساساتو راوستل، تحریکول، پارول: سر وهل (لکه د هګۍ زېړ او سپین)، اخښل.
n.	ښورونه: لړنه: پارونه
stir, n.	جېل، بند، زندان (اصط).

stirring, adj. پاروونکی : ژوندی : لړزوونکی ، مهیج : الهام بخښوونکی .

stirrup ,n. کړیب ، رکاب .

stitch, n. ټك ، بخیه (کوك) : څړیکه ، بربښ .

v.t. بخیه وهل ، ټك وهل ، گنډل .

stiver, n. وړه هالنډی سکه : کودی ، (اصطـ) سره پیسه ، ټنگه (لکه په ټنگه هم نه ارزی) .

stoat, n. تور لمی (سمور) : سپین لمی (قاقم) .

stock, n. ډډ ، تنه ، گرگه : بېړا ، احمق : لاستی ، کنداغ (لکه د توپك) ، لیچ : کورنی ، توکم ، کهول ، خپل : څاروی ، مال : زېرمه ، ذخیره ، سامان ، مال : ونډه ، سهم (لکه په تجارت کی) : (جمع) سکنجه ، کونده : د گرځنده لوبغاړو ډله : اومه مواد .

v.t. ټولول ، غونډول .

adj. تیار ، چمتو ، غونډ : بې خونده (لکه ټوټه) .

stockade, n. دلرگو مورچه ، ویاړه ، لرگین دېوال .

stockbroker, n. دلال ، کمیشن کار .

stock exchange, صرافی ، دصرافی ځای ، داسهامو پلورنځی : د دلالانو ځای .

stockholder, n. دونډې والا ، سهم لرونکی .

stockinet, n. غزېدونکی ټوکر (چه ایکرونه او بنیان تری جوړېږی) .

stocking, n. اوږده جرابه (جورابه) .

stocky, adj. منډلی ، اندچاغ ، پنډ .

stockyard, n. پنډغالی (هغه ځای چه څاروی دحلالولو او لېږدولو نه مخکی په موقتی توگه پکښې ساتل کېږی) .

stodgy, adj. دروند (خوراکی شیان) ، ستړی کوونکی ، بې خونده .

stoic, adj. صبرناك ، صابر ، زغموونکی ، دزغم څښتن .

stoical, adj. دزغم ، دصبر ، صبرناك

stoically, adv. په زغم ، په صبر ، په حوصله ، په سړه سینه .

stoicism, n. دصبر فلسفه ، رواقی فلسفه .

stoke. v.t.i. اورلگول ، اور تازه ساتل ، دسون مواد اچول (اورته) .

stoker, n. اوربه ، اورلگوونکی .

stole, n. دغاړې دسمال ، مفلر .

stole, د steal ماضی .

stolen, د steal دریم حالت ، غلا شوی .

stolid, adj. سوړ (چه په اسانی نه پارول کېږي) یخ ، بې حسه : مړاوی .

stolidity. n. بې حسی ، پڅوالی .

stolidly, adv. په بې حسی .

stoma, n. دبوټو مسامات ، د پاڼو واړه واړه سوری (چه اوبه یا غاز جذبوی) .

stomate, adj. مساماتی ، د پاڼو دسوریو .

stomach, n. نس ، معده : خېټه : اشتها ، خوا

v.t. زغمل ، هضمول .

stomach-ache n. نس خوږی .

stomacher, ټټر ، گېډی .

stone, n. کاڼی ، تیږه ، ډبره ، قیمتی ډبره: منډکه ، زړی: (طب) د پښتورگی کاڼی .

v.t. په تیږو ویشتل، په کاڼو وژل سنگسارول: منډکی ایستل، زړی ایستل.

adj. ډبرین .

stonecutter, n. ډبر توږی، حجار

stone-mason, n. کاڼی گر (معمار چه په کاڼو کار کوی) .

stonework, n. ډبرین کار ، د کاڼو کار .

stony, adj. ډبرین ، کاڼیز .

stood, د stand ماضی او دریم حالت.

stooge, n. بالکی ، جمبوری : گوډاگی ، دلاس آله .

stool, n. کټکی: جگه چوکی (بې بازو) : بولې .

stoop, v.i. ټوغېدل ، کږوږېدل: ټیټېدل ، ځان ټیټول : سپکېدل ، ځان سپکول:

n. کږوږوالی: ځان ټیټونه ، ښکته کیدنه ، کږېدنه .

stoop, n. برنډه .

stop, v.t. ټالول ، بندول ، درول ، بس کول .

v.i. بندېدل، درېدل ، بس کیدل .

n. بندېدنه ، درونه ، درېدنه ، بس کونه .

stoppage, n. درونه ، مخنیوی ، بندیز ، تم ځای .

stopper, n. بندوونی ، دروونی ، خولپوټی ، خولوری .

stop watch, ساعت (چه د هغه ستنی د خپلی خوښی سره سم چالانیږی او یا درول کیږي) ، نخښه کوونکی گړی .

storage, n. گودام ، ساتن ځای ، ساتنه ، پاسره : تاجایی .

store, v.t.n. انبارول ، ذخیره کول ، بوگول، خوندی کول ، کوټ کول ، گودام ، انبار ، ذخیره ، (تحویلخانه) ، دکان .

storekeeper, n. تحویلدار ، بوگنوال ، دکاندار .

storehouse, n. بوگنځی (گدام ، مخزن) ، تحویلخانه ، کوټ ، مغازه .

storeroom, n. انبار کوټه، تحویلخانه

storied, adj. هغه څه چه په تاریخ او کیسو کښی نمانځل کیږی .

stork, n. لکې لکې .

storm, n. توفان : اڼدوړ: سخته سیلی: چپاو ، یرغل ، برید .

v.i. سخت اورېدل (باران) ، سخت الگیدل (سیلی) : له غضبه ایشیدل، له قاره سور کیدل ، چپاو وروړل .

stormily, adv. په توفانی ډول .

storminess, n. توفانی توب ، هیجان .

stormy, adj. توفانی .

story. n. کیسه ، نکل : راپور ، خبر : اپلتی ، گپ (ددروغو کیسه)، افسانه.

story, n. پوړ ، ډډ، تل ، منزل.

stout, adj. زړه ور : تکړه ، زغم والا: کلك ، مزبوت ، ښیتلی : پنډ ، پړ پډ پلوڼډ ، مزی .

stoutly, adv. په زړه وړتیا، په غښتلتوب .

stoutness, n. غښتلتوب .

stove, n. بخاري .

stovepipe, n. د بخارۍ نل .

stove, د stave ماضي او دریم حالت

stow, v.t. کېښودل (لکه د کالیو په بکس کې)، ځایول، ترتیبول: خوندي کول .

stowaway, n. هغه سړی چه په بېړۍ یا الوتکه کښې د کرایې د نه ورکولو د پاره پټ تیرېږي .

straddle, v.t.i. شواړ (شوار)، تلل، ارت کښېناستل، ازادې پښې ایښودل: دواړه غاړې وهل، بېطرف پاتې کېدل

n. شواړ تګ، شواړ کښېناسته ; د ارت تلو ځکې د پښو تر منځ فاصله یا ارتوالی .

straggle, v.i. بې لارې کېدل، له لارې اوښتل: بېلېدل، جلا کېدل، اوښتل (له خپلې ډلې) .

straggler, n. له لارې اوښتی .

straggly, adj. له لارې وتلی .

straight, adj. n. adv. سم (مستقیم)، سیخ، سیده، نیغ: رښتونی: نېکه، سوچه، خالص (لکه شراب)

په سمه، په نیغه، سمه لار: سموالی، د ځغاستې د ځای اخري برخه .

straightedge, n. د لرګي یا وسپنې ټوټه چه یوه څنډه یې د خط کش په شان سیخه وي .

straighten, v.t.i. سمول، سیده کول، ترتیبول، سیخول: سمېدل .

straightforward, adj سپین (سړی)، روک، سپین زړی، رښتونی: اسان، ساده

adv. په سپینه، په رښتونې توګه، بې پردې (خبرې)، په مستقیم ډول .

straightway, adv. سمدلاسه، سمدستي، ژر تر ژره .

strain, n. ذات، نسل، توکم: رګ، تومنه: ارثي خواص: کږه وږه، سلوک خوی: تال، غاړه .

strain, v.t.i. راښکل، کشول: تر وسه زیار ایستل: له حده زیات غزول: ځان ژوبلول (د ډېر زور وهلو په وجه): نیغول چاڼول .

n. فشار، زور: ډېر زور، زیات کوښښ .

strainer, n. ځلبیل، چاڼ، پرویزی .

strait, adj. تنګ، نری: سخت (لکه شرایط)، ټینګ .

n. نری، ابنا: (جمع) اړتیا، تنګسه .

straiten, v.t. تنګول، په تنګسه کې اچول، محدودول: خوارول .

strait-laced, adj. کلک (لکه په عقیده کې) دچ (سختګیر) .

strand, n. غاړه، ساحل .

v.t.i. په غاړه ختل، په ساحل لګېدل (لکه بېړۍ): په خنډ کې لوېدل، په تنګسه کې لوېدل .

strand, n. تار (لکه د ویښتانو): لړ (لکه د بډۍ)، لړ (لکه د امېل) لاړ، لړی، خوا .

strange, adj. پردی، نا اشنا، بېګانه: تماشه، عجیبه: نابلده: شرمناک: بې تجربې.

strangely, adj. په عجیبه توګه، په نا آشنا بڼه.

strangeness, n. عجیب والی.

stranger, n. پردی، پردېس، باندنی (خارجی): نا اشنا، ناپېژندوی: ناخبره.

strangle, v.t. خپه کول، ساه بندول، تربتول

strangler, n. خپه کوونکی، زندی کوونکی.

strap, n. تسمه، پټۍ.

v.t. په تسمه تړل، په تسمه وهل، په متروکه وهل: په تسمه تېره کول (لکه چاړه).

strapping, adj. پنډ، غټ، غښتلی، دنګ

strata, n. د stratum جمع.

پټونه، پوړونه، قشرونه..

stratagem, n. خدعه، چل، پلان (د دښمن غولولو دپاره).

strategy, n. ستراتیژی، د لښکر کښۍ پوهنه یا فن، سوق الجیشی.

strategist. n. د لښکر اېستنې پوه

strategic, adj. د لښکر اېستلو پوروژه

stratify, v.t.i. طبقې طبقې کول، پر طبقو وېشل.

stratification, n. طبقه کونه، طبقه وېشنه.

stratum, n. پوړ، قشر، پټ، پرده، ډله (د کلتور او اقتصاد په اساس.

straw, n. پروړه، ډکی، بوس: بې ارزښته، بابیزه.

adj.: بوس خوندی، د بوسو جوړ، دروزه.

strawberry, n. مځکنی توت (بوټی او مېوه یې).

stray, v.i. اوښتل (له سمې لارې)، لاره ورکول، بې لارې کېدل.

n. ورک حیوان، بې څښتنه مال

adj. دربدر، سرګردان، لالهانده

streak, n. لیکه، رګ، پټه، سکزی، پټ

stream, n واله، خوړ، بهاندی اوبه، جریان، بهیر، بهېدنه.

v.i. بهېدل، چټک تېرېدل، غځېدل.

streamlet, n. لښتی، ویاله.

streamer, n. جنډه، بیرغ: زوړندی (ځوړندی، زوړېدک): پرک: پټه: وړه لکه: لوی عنوان (لکه د ورځپاڼی په سرکی اوږد نوم).

streamline, v.t. بهول، چلول (د اوبو یا هوا)

streamlined, adj. بهېدنه، چلېدنه.

street, n. کوڅه، سړک، لار: کوڅه وال.

streetcar. n. ټراموای (هغه واګون چه په ښارکی خلک پر پټلیو باندې وړي)، ښاری ګاډی.

strength, n. مټره، زور، سېک، قوت، وس، کلک والی، سخت والی، ټینګ والی، زور مېچ.

strengthen, v.t.i. ټینګول، کلکول، پیاوړی کول.

strengthener, n. ټینګوونکی، کلکوونکی، سختوونکی، زور ورکوونکی.

strenuous, adj. زور غوښتونکی (لکه کار): مستعد، تکړه، فعال، پیاوړی، غښتلی، قوی، زورور.

strenuously, adv. په تکړه توب، په فعالیت.

streptomycin, n. سټرپټومایسین، مکروب وژونکی درمل.

stress, v.t.n. فشار اچول، ټینګار کول، خج اچول، زور ورکول: خج (فشار).

stretch, v.t. خپرول، غځول، اوږدول، راښکل: غوړول: زیاتی کول، افراط کول.

v.i. غوړېدل: رسېدل: اوږدېدل، غځېدل.

n. غځېدنه، کش: واټن، ټوټه (د دوو ټکو تر منځ)، وقفه، موده.

strecher, n. تزکیره (د ناروغانو د وړلو پاره)، کټ (د ناروغ د وړلو کټ): غوړوونکی (لکه د ټغر)

strew, v.t. شیندل، تیتول: دوړول، پاشل.

stria, n. (جمع) لیکی، ردي، پټي (په تېره چه موازی وی).

striated, adj. لیکی لیکی، پټي پټي، ردي ردي.

stricken, n, adj. زخمي، ټپی، پرهار ژلی: له پښو لوېدلی، اتلی: ژوبل.

strict, adj. ټینګ (جدی، سختګیر): درست، سم، پرځای، دقیق.

strictly, adv. په اصلي توګه: په ټینګه، په سخت ګیری.

strictness, n. ټینګتیا، سختګیری

stricture, n. غندنه، اعتراض، انتقاد، ایراد: ټینګېدنه یا غونجېدنه (د بدن د مساماتو چه یوه ناروغي منځ ته راولی).

stride, v.i.n. اوږده اوږده ګامونه اخیستل، لوی ګامونه اچول، ګام.

strider, n. لوی ګامونه اچوونکی.

strident, adj. چغنده، تېره (ږغ).

strife, n. جګړه، نښته، ناندری.

strike, v.t.i. وهل، ټکر کول، لګېدل، اچول، پیدا کول (لکه ډار): ښکار کېدل، پېښېدل، برابرېدل: خوښ راتلل، خوښېدل، رسېدل (نتیجې ته): غوره کول (بڼه): ټیټول، کښته کول (لکه د بیرغ یا سر)، کوره کول، ډانګول، قلم راښکل: تلل، مخه کول: اعتصاب کول.

n. اعتصاب: ګوزار، وار، براوښتل (لکه پر خزانه): خطا کېدنه.

striker, n. اعتصاب کوونکی

striking, adj. د پام وړ، تماشه، عجب: زړه راښکوونکی.

strikingly, adv. په عجیب ډول، په زړه راښکونکي توګه.

string, n.v.t. تار، مزی: ژیه: لړی، لړ. تار اچول (لکه رباب ته): کش کول، ټینګول (لکه د لیندۍ ژیه): پېل، تارول: سپینول (لکه د پلی): تېرل، پېړول (په تار): غزول.

stringy, adj. ریښکی ریښکی، تارارونکی، تار ریز.

string bean, n. پلی.

stringency, n. ټینګوالی (سختګیری، شدت)، سختوالی: لږوالی، نشتوالی، کموالی.

stringent, adj. ټینګ، سخت (لکه قوانین).

stringer, n. وېشه، تېر، شاتیر، بش: داور ګاډی د پټلیو لاندې تیر، تنبه.

stringpiece, n. دړه، پښتی وان.

strip, v.t.i.n. لوڅول، بربنډول، لغړول، پوستول، سپینول: کالی ایستل (خپل)، کالی څیرل: صافول، تشول: لوټول، چورول، ریتاړه، تړ الګه، ریښکی، تراړه، ټوټه، څیره، اوږده ټوټه.

airstrip or landing strip. د الوتکی د منډې لار.

flightstrip. د الوتکی د میدان فرعی لاره.

stripe, n. لیکه، پټه، لار: موړه، تغمه: خپل، ډول (نوع)، خاصیت.

striped, adj. لیکې لیکې، پټه ارونکی.

stripling, n. ژڼی، زڼکی، هلك، ابلوڅ

strive, v.i. هاند کول، زیار ایستل: ځان ستړی کول، لاس وپښې وهل: پڅوری وهل: هلې ځلې کول.

strode, د stride ماضی

stroke, n. ګوزار، وار: هڅه: ټوقه، حمله (لکه د میرګی): ټك (لکه د ساعت ږغ)، ضربان، لاس ښورونه، ربونه (هروار چه لامیوزن لاس اچوی یا مرغه وزرونه رپوی): کش (لکه د قلم).

v.t. لاس تېرول، وروسېل، لاس راښکل: چپې وهل.

stroll, v.t.i. قدم وهل، چکر وهل (د سیل د پاره): څټی ګرځېدل.

stroll, n. چکر، قدم وهنه: ګډکی (پای روك اطفال).

stroller, n. چکری، قدم وهونکی

strong, adj. ښېتلی، پیاوړی، قوی: ټینګ، کلك.

strongly, adv. په کلکه، په ټینګه.

stronghold, n. کلا، کوټ، چوڼی.

strop, n. تسمه (چه چاړه ور باندی تېره کوی).

v.t. تېره کول (په تسمه).

strove, د strive ماضی

sruck, د strike ماضی او دریم حالت.

structure, n. زړونه، جوړښت: ودانی: زغښت، رغاونه.

structural, adj. داړونې، د رغښت.

struggle, v.i.n. هلې ځلې کول، غورځی پرځی کول، مبارزه کول: اخ و ډب کول. هلې ځلې، هاند.

strum, v.t.i. ترنګول (لکه رباب د ساعت تېری د پاره) ټنګ ایستل (لکه په رباب په غیر جدی توګه).

strumpet, n. کنچنی، فاحشه، اولی.

strung, د string ماضی او دریم حالت

strut, v.t. په نخرو تلل، په خیال ګرځېدل

n. د خیال تګ، د نخرو تګ: اډم، میله، اډه کی.

strychnine, n. کوچله، کچوله، سټر کنین

stub, n. سټه: کونده (لکه د مقبوض یاچك): بېخ، ریښه: پخ سر (لکه د شمعې یا پنسل).

v.t. بودرې خوړل، ټوك وهل، ټوك لګېدل: له بېخه ایستل، ولې ایستل

stubble, n. دروزه، سواره، انګاره، ډك.

stubborn, adj. خری، اړم، سرټمبه، لجوج: ځېلی، ځېلناك.

stubbornly, adv. په سرټمبه ګی، په ځېل.

stubbornness, n. سرټمبه ګی، ځېل، لج

stubby, adj. خنډېن: له سټو ډك: لنډ پنډ، سخوټ، منځنلی (سړی).

stucco, n. ګچ، پلاستر.

v.t. پلاستر ور کول، اخږول، سپینول.

stuck, د stick ماضی او دریم حالت.

stuck—up, adj. په ځان غره.

stud, n. سپرغه، ګل مېخی: غوټه، کولپی تڼۍ: چڅه: د نسل ګیری آسونه.

studding, n. د چڅې مواد.

student, n. زده کوونکی، شاګرد، محصل

studied, adj. ارادی، قصدی، سنجش شوی، د نقشې له مخې.

studio, n. سټوډیو، هغه ځای چه له هغه څخه د راډیو او تلویزیون پروګرامونه خپرېږی، د راډیو سټیشن: د هنرمند چار ځای (د کار کوټه): د فلم جوړولو ځای.

studious, adj. زیار کښ، لېوال (د لوستلو).

studiously, adv. په لېوالتیا، په زیار.

study, n. مطالعه، زده کړه، د زده کړې څانګه: څېړنه، اراده، مقصد: د لیك او لوست خونه: ژوره مطالعه.

v.i. لوستل، کتل، مطالعه کول: سوچ کول.

stuff, n. اومه مواد، مواد، مهمه برخه، جوهر، اصل، ځانګړې شتمنی: ټوکر: کڅه، شلغی: زیاتی مواد.

v.t.i. ډکول، بندول، درول: تخته کول: ډېر خوړل.

stuffing, n. د ډکولو مواد.

stuffy, adj. تې بوخته، تې بوخه، بنده هوا

stultify, v.t. بېعقل ښودل، مسخره کول، احمق معرفی کول: بی اعتباره کول بی باوره کول، بی اثره کول.

stumble, v.i. ښوئېدل: کوږ وږ تلل، ز لګېدل: اشتباه کول: ګډوډ غږېدل. په تصادفی ډول پیدا کول یا پېښېدل.

n. ټکر، لوېدنه، پېښېدنه، تېروتنه، خطا.

stump, n. سټه، بېخ (لکه د ونې)، کنده، سوټی، ریښه، کونسټ: دریخ (د ویښتا): مچکه پا کول (د سټو شخه): درو ند، درو ند تلل، په انډي انډي تلل، کاږي واږي تلل، شاړي واړي تلل.

stumpy, adj. د سټې په شان، منډلی

stun, v.t.	بې هوښه کول ، بې سده کول ، گنگس کول ، گېچول .
stung,	د sting ماضي او دریم حالت .
stunk	د stink ماضي او دریم حالت .
stunning, adj.	زړه راښکونکی (ښکلی) ، حیرانوونکی ، بې سده کوونکی .
stunt,n.	شاهکار ، غیر معمولي کار : اریانوونکی (شی یا کار) : د ننداري وړ .
stunt, v.t.	د ودې مخه نیول ، د پرمخ تگ نه پاتې کول : لنډول .
stupefaction, n.	اریانتیا : بېړاتوب : بې سدی ، بې هوښی .
stupefy, v.t.	بېړا کول ، تحمیق کول : بې سده کول : اریانول .
stupendous, adj.	اریانوونکی (د غټوالي او لویوالي له کبله) .
stupid, adj.	بېړا ، بخ ذهنه ، احمق ، ساده : بې خونده ، زړه وهونکی .
stupidity,n.	حماقت ، بېړاتوب .
stupidly, adv.	په احمقۍ ، په بېړاتوب .
stupor, n.	بې سدی ، گنگسی ، بې حسی .
sturdy, adj.	مزی ، کلك ، مزبوت ، ټینگ
sturdily, adv.	په کلکوالي په مزبوتیا
sturdiness, n.	کلکوالی ، ټینگښتیا .
sturgeon, n.	یو ډول لوی کب .
stutter, v.t.i.	توړی کېدل ، تړ تړی کېدل ، ژب تړی کېدل .
sty, n.	خولنه ، غولنکی .
sty, n.	د خوگانو شپول ، چټل ځای .
style, n.	ډول ، سبك ، طرز .
v.t.	نومول ، بلل ، لقب ور کول .
stylish, adj.	په موډ برابر ، فیشني ، سینگاري ، ډولي .
stylishly, adv.	په ډولي توگه ، په خیالي توگه .
stylist, n.	د سبك خاوند ، د خاص طرز څښتن .
stylus, n.	د گرافون ستن : لیکاڼی (په لرغوني زمانه کی د لیك اله وه چه پر موم باندی به لیکنه پر کېده) : د کاربن پېپر د پاره یو خاص قلم .
suave, adj.	پوست ، خوږ ، په زړه پوری ، مهذب .
suavity, n.	پوستوالی .
sub-,	(ورو ستاړی) لاندې ، ښکته .
sublieutenant.	بریدگی ، وړوکی ضابط .
subnormal,	له عادي ټیټ .
subaltern, n.	تر لاس لاندی (د تورن) .
subcommittee, n.	جرگه گی .
subconscious, adj.	نیم سدی ، نیم حاله : د لاندینی شعور ، د پټ شعور ، د تحت الشعور .
subcutaneous, adj.	تر پوست لاندی .
subdeacon, n.	د پادری مرستیال .
subdivide, v.t.	لا ویشل ، بیا بیا ویشل ، پر اجزاو ویشلول .
subdivision, n.	په ویش کی ویش ، فرعی ویش .
subdue, v.t.	بری موندل ، فتح کول : نرمول : کمزوری کول : کمول .
subject, adj.	رعیت ، تابع : په معرض کی : مربوط ، مشروط .

n. ترلاس لاندې، رعيت: موضوع، عنوان: فاعل، مبتدا.

subject. v.t. اېلول، لاندې کول: اخته کول، مخامخ کول (لکه د خطر سره): وړاندې کول: موضوع گرځول.

subjection, n. اېلونه: مخامخ کول.

subjective, adj. ځاني، عندي، ذهني، شخصي: موضوعي.

subject matter, د شيې ئي موضوع، اصلي موضوع.

subjoin, v.t. تړل، زياتول، ضميمه کول.

subjugate, v.t. لاندې کول، اېلول، فتح کول.

subjugation, n. لاندې ايستنه، تسلط، غلبه.

subjunctive, adj. شرطي، التزامي (د فعل وجه).

sublet, v.t. په باړه ور کول، په اجاره ور کول، په کرايه ور کول.

sublimate, v.t. لوړول (تصعيد کول)، تصفيه کول (په کيميا کې د منجمد حالت څخه د غازو حالت ته اوښتل او همدا رنگه د غاز د حالت څخه بېرته جامد کېدل.

sublimation, n. تصعيد، لوړتيا، تصفيه.

sublime, adj. لوړ، اوچت، درونډ، شريف، د برم څښتن.

sublimity, n. لوړوالی، شرافت.

sublunary, adj. تر سپوږمۍ لاندې، ځمکنی، دنيائي.

submarine, n. اوبتل (تحت البحری)، ډوب ماکو (يو ډول جنگي بېړۍ)

submaxilary, adj. دلاندې زامې (مرغړی، هډوکي، او نور).

submerge, v.t.i. ډوبول، ډوبېدل.

submergence, n. ډوبوالی.

submersion, n. ډوبېدنه، ډوبونه.

submerse, v.t. ډوبېدل، ډوبول.

submit, v.t. تسليمول، سپارل، وړاندې کول.

v.i. غاړه اېښودل، تسليم کېدل.

submission, n. سپارنه، غاړه اېښودنه، تسليم کېدنه

submissive, adj. منونکی، مطيع

suborder, n. فرعي تصنيف، خيل، څانگه.

subordinate. adj. لاس لاندې (مادون)، ټيټ، اېل، منونکی: په گرامر کښې تابعې جمله.

v.t. ټيټول، کښته کول، لاس لاندې کول.

subordination, n. لاس لاندې والی: ټيټوله، منښته.

suborn, v.t لمسول، مجبورول (و بد کار او يا غير قانوني کړو ته)، رشوت ور کول.

subpoena, n. احضار ليك، غوښتن ليك (محکمې ته)، جلب.

v.t. جلبول.

subscribe, v.t.i. لاس ليك کول: موافقه کول، مثل: اشتراك کول، گډون کول، برخه اخستل: بسپنه ور کول.

subscriber, n. گډون کوونکی، لاس ليك کوونکی.

subscription, n. بسپنه: گډون (اشتراك): لاس ليك : باور ، د اشتراك بيه، د گډون ونډه .

subsection, n. د برخې برخه ، فرعي څانگه .

subsequent. adj. وروستنى، راتلونكى .

subsequently, adj. په راتلونكي ډول، وروسته، بيا .

subservience, n. لاس لاندې توب، غوړه مالي، مريي توب، چاپلوسي : گټور توب (دوسيلې په حيث) .

subserviency, n. مريي توب، غلامي .

subservient yس لاندې، مريي، گټور .

subside, v.i. كښته كېدل، ترسب كول، بېخ ته كښېناستل، لاندې تلل: ډوبېدل، ځلي كېدل، چوپېدل، ارامېدل .

subsidence, n. كښېنستنه : ترسب : چوپتيا .

subsidiary, adj. كومكي ، مرسته كوونكي : متمم، مكمل : فرعي شركت، څانگه (دشركت يا كمپنۍ) .

subsidize, v.t. مرسته كول ، كومك كول، امداد كول (مالي) .

subsidy, n. مالي مرسته، بسپنه، تخصيصيه .

subsist, v.t. پايېدل ، ژوند كول ، گوزاره كول ، خوراك او پوشاك برابرول، توښه برابرول .

subsistence, n. پايښت ، وجود : گوزاره: توښه .

subsoil, n. لاندې خاوره (دځمكې دمخ دخاورو لاندېنۍ پټ .

substance, n. جوهر، تومنه، ذات: جسم، ماده : مفهوم ، مضمون، اصل مطلب : شتمني، منابع .

substantial, adj. اساسي، مهم، بنيادي ، مادي، ذاتي، اصلي ، ربښتيني: محكم، پياوړی: ټينگ ، كلك : معتبر، شريف : د يادونې وړ: پريمان .

substantially, adv. په اساسي ډول، په بنيادي توگه .

substantiate, v.t. ثبوتول، ثابتول، اسناد وړاندې كول ، په شواهدو دړول .

substantiation, n اثبات .

substantive, n نوم، اسم .

substation, n. وړوكى سټېشن .

substitute, n. ونج ، عوض، بدل .

v.t.i. بدلول، ونجول ، عوضول: ځاى نيول (د بل شي)، په ځاى درول (د بل چا) .

substitution, n. عوض، ونج .

substratum, n. لاندېنۍ پوړ، د ځمكې لاندېنۍ پټ .

substructure, n. بنسټ، تاداو، زيربنا .

subterfuge, n. پلمه، بانه، چل (د تېښتې يا ځاى پټولو د پاره) .

subterranean, تر ځمكې لاندې، پټ .

subtile, د subtle بله بڼه .

subtitle, n. عنوان گى، وړوكى عنوان

subtle, adj. نازك ، لطيف : ځيرك ، ژور فكري: چكوره، چالاك .

subtlety, n. نزاكت، باريكي : ځيركي .

subtract, v.t.i. لیرې کول، کمول (تفریق کول)، کټ کول.

subtraction, n. لیرونه، تفریق.

subtrahend, n. مفروق، بېل شوی، وتلی (عدد).

subtreasury, n. خزانه، څانګه (د خزانې)

subtropical, adj. حارې ته نږدې، تاوده اقلیم ته نژدې

suburb, n. د ښار شاوخوا، د ښار لمن، سیمه، اطراف.

suburban, adj. اطرافي، کلیوال.

subvention, n. بسپنه، کومکي پیسې.

subvert, v.t. له منځه وړل، ړنګول: بې لارې کول، فاسدول.

subversion, n. ړنګونه، غورځونه، خرابونه.

subversive, adj. له منځه وړونکی، ړنګوونکی، مخرب.

subway, n. میټرو: د ځمکې لاندې د برقي ګاډي لار: د ځمکې لاندې لار.

succeed, v.i.t. (یو په بل) پسې راتلل، ځای نیول، پر ځای کېناستل: بریالی کېدل، نتیجې ته رسېدل.

success, n. بری، بریالیتوب، کامیابي: بریالی، کامیاب سړی.

successful, adj. بریالی.

successfully, adv. په بریالیتوب.

succession, n. پر له پسې والی، رون، یو په بل پسې راتګ، په ځای کښېناستنه (د چا).

successive, adj. پر له پسې، سر په سر.

successively, adv. پر له پسې، یو په بل پسې.

successor, n. ځای نیوونکی، خلف، وارث، ولیعهد.

succinct, adj. لنډه، څرګنده (لکه خبره)

succinctly, adv. په لنډه توګه، په څرګندوول.

succinctness, n. لنډوالی، روڼوالی.

succor, n. مرسته، دمه، سیاله.

v.t. لاس نیول، مرسته کول، په تنګسه کې لاس ور کول.

succotash, n. کونګړی، کوچه (د امریکایي هندیانو خواړه چه له لوبیا او جوارو بې پخوي).

succulent, adj. شیره وال، اوبلن، ښېراز: غوښن.

succulence, n. ښېرازتوب، تنکي والی.

succulency, n. ښېرازتوب، تنکي والی.

succumb, v.i. غاړه ایښودل، قانع کېدل: مړ کېدل، له پښو لوېدل.

such, adj. داسې، دا رنګه، دا ډول.

suck, c.t.i. رودل: زبېښل، څکول.

n. رودنه، زبېښنه، څکونه.

sucker, n. رودونکی، زبېښونکی: یو ډول کب چه خواړه په سا راکاږي: ځاندر.

suckle, v.t.i. رودل: تی ورکول: په شودو لویول.

suckling, n. تی رودونکی، تیخور.

sucrose, n. شکره (د ګنې یا چغندر)

suction, n. رودنه، زبیښنه: راښکنه، کشونه (لکه د هوا) ساه کښنه.

sudden, adj. ناڅاپی، ناببره: په بېړه: واردواره، سمدلاسه: بې خبره.

suddenly, adv. ناڅاپه، سمدلاسه، واردواره.

suddenness, n. ناڅاپی توب، بې خبری.

suds, n. د صابون ځګ، ځګنی اوبه.

sue, v.t.i. عریضه کول، غوښتنلیك وړاندې کول: هیله کول، اسره کول: دعوا کول (د محکمې له لارې).

suede, n. څرمن (اش ورکړه شوی او توږل شوی): څرمن ډوله ټوکر.

suet, n. د پس وازده (وازګه).

suffer, v.t.i. ګالل، زغمل (لکه درد): راتلل، پېښېدل (لکه د ربړ): کړېدل، ځورېدل: پرېښودل، اجازه ورکول.

sufferer, n. کړېدونکی، غم ګالونکی.

sufferance, n. زغم، تېرونه، صبر: رضا، خوښه.

suffering, n. درد، خوږ: کړاو، ستوازه، ربړ.

suffice, v.i. بسیا کول، بس کېدل، کافی ګڼل وس لرل.

v.t. بس کول، کفایت کول.

sufficiency, n. کفایت، بسوالی، بسیاتوب: په ځان باور، ویسا.

sufficient, adj. بس، کافی، پر یمانه: وړ، باوری.

sufficiently, adv. په پر یمانې، په کافی اندازه.

suffix, n. وروستاړی، پایځوړ، سفکس، لاحقه.

suffocate, v.t.i. خپه کول، له مرۍ نیول، زندی کول، تر غاړې نیول، تر ښتول.

suffocation, n. خپه کېدنه، زندی، ساه بندونه، اختناق.

suffragan, n. د اسقف مرستیال، د پادری مرستیال.

suffrage, n. د رایې حق، رای، د رای ورکونه.

suffragette, n. د ښځو د رایې ورکولو د حق طرفداره ښځه.

suffragist, n. د ښځو د رایې ورکولو د حق طرفدار.

suffuse, v.t. خپرول، غوړول: خپرېدل (لکه رنګ یا مایعات) لړل.

suffusion, n خپرېدنه، غوړېدنه، توېېدنه.

sugar, n. شکره، بوره، چینه.

v.t.i. خوږول: خوږېدل: بوره اچول.

sugary, adj. خوږ، شکرېز.

sugar beet. چغندر، لبلبو.

sugar cane. ګنی، شکر ګنی، نیشکر.

sugarplum, n. پتاسه، خوږه شیرینی.

suggest, v.t. تجویز کول: تلقین کول: سلا ورکول، توصیه کول، پیشنهاد کول: په زړه کول (تداعی کول).

suggestion, n تجویز، پیشنهاد، نظریه، سلا، مشوره، تنبه، اشاره (د لار ښودنې د پاره).

suggestive, adj. اشاره کوونکی: لمسوونکی (دفکری فعالیت): اندیښنه پیدا کوونکی: را په یاد وونکی: شکمن کوونکی.

suicide, n. ځان وژنه، انتحار: ځان وژونکی.

suicidal, adj. دځان وژنې

suit, n. غوښتنه، عریضه: ننواتی، هیله: دعوا: جوړه (کالی) دریشی: رنگ خال (د پتو دلوبې).

v.t. جوړه را تلل، جوړېدل، وړ کېدل، ښایېدل: برابرېدل: جوتېدل.

suitable, adj. وړ، مناسب، سم لگېدونکی، ښایېدونکی.

suitability, n.. وړوالی، سمون

suitably, adv. په مناسب ډول، په ښایېدنکی ډول.

suitcase, n. بکس، سفری بکس، چمدان

suite, n. شاتړان، اردلیان، دنوکرانو ډله، دنوکرانو بدرگه: یوه جوړه کوټې، یوځای کوټې.

suiting, n. دکالیو ټوکر.

suitor, n. عارض، مدعی: غوښتونکی

sulfa, adj. سلفا (یو ډول میکروب وژونکی درمل چه دډبرو دسکرو نه لاس ته راځی).

sulfanilamide, n. سلفا نالمید، یو ډول کیمیاوی مرکب چه د درمل په حیث استعمالیږي.

sulfur, سلفر، گوگړ، د گوگړو جوهر.

sulk, v.i. بې وسېدل، مروریدل.

n. بې وسوالی، مرورتیا

sulky, adj. بې وس، مرور، ترووش، تریو تندی:

n. یو کسیزه ارابه لرونکی بگی.

sulkily, adv په تریو تندی، په بې وستوب

sulkiness, n. بې وسوالی، مرور تریا

sullen, adj. بې وس، تغمه ناک، تریو تندی: خواشینی، نیولی: غمجن، خپه، نیولی (لکه ورځ).

sullenly, adv. په خواشینۍ، په بې وسوالی.

sullenness, n. بې وستیا، خواشینی، تغمه ناکی.

sully v.t.i. خیرنول، ککړول، خړول، داغ لگول: داغی کول.

sulpha د sulfa بله بڼه.

sulphate, n. سلفیټ، د گوگړو د تیزاب مالگه.

sulphide, n. دسلفر او بل عنصر مرکب

sulphur,sulfur, n. گوگړ، سلفر.

sulphureous, adj. گوگړی، سلفری.

sulphuric, adj. گوگړی، گوگړ لرونکی.

sulphuric acid. دگوگړو تیزاب

throng, n.v.t.i. غونډه، ګڼه ګوڼه: زیاتوالی: راغونډېدل، ګڼېدل.

throttle, n.v.t. مری: د تېلو د کنټرول ډډه: خپه کول، تربتول، سابندول: بندول، تېرل (لکه داوبو یا تېلو)

through, prep. adv. adj. دمنځ څخه، په منځ کې: په ترڅ کې: په واسطه، په: له یوه سره تر بله سره، سر تر پایه، ټول: خلاص، آزاد: ختم، پای: برله بسې

(تګک، جریان)

throughout, prep. adv. ټول، هره خوا، له هري خوا، په ټول وخت کې، تل تر تله: سر تر پایه، په هره برخه کې.

throve, د (thrive) ماضي

throw, v.t.n. غورځول، اچول، توغول، تلول: شړل، لیري کول: حرکت ورکول نغښتل: بایلل: غورځونه، اچونه: سرپوټی، زړوکی، د غاړی دسمال: واټن، فاصله (دانداخت).

thrum, v.t.i. ترنګول (لکه درباب)، وهل.

thrush, n. یو ډول مرغی

thrust. v.t.i.n. پوری وهل، ټېل وهل، منډل: ټېله، پوری وهنه، منډنه: برید: فشار.

thud, n.v.t.i. ډب، ګوزار، درز: دربول، درزېدل.

thug, n. جنایتکار، خوني

thumb, n.v.t. غټه ګوته، بټه ګوته: په بټه ګوته اړول یا لمس کول.

thumbscrew, n. پېچ: سکنجه

thumbtack, n. ګل مېخی

thump, n.v.t.i. ډب، درب، غپ، درز: دربول، غپ ایستل، ډبول.

thunder, n.v.i. تالنده، تڼا: برېچ، غندنه، ترټنه: غورېدل، غرهار کول

thunderous, adj. غورېدونکی، وېروونکی.

thunderstorm, n. جم جکړه، تالنده او برېښنا.

thunderbolt, n.	برېښنا، پړکه، تندر، ټکه .
thunderclap, n.	تالنده، رعد
thundercloud, n.	توره اوریځ، تور اوره .
thunderhead, n.	توره اوریځ (چه برېښنا او تالنده ورسره وي).
thundershower, n.	باران چه تالنده او برېښنا ورسره ملګري وي .
thunderstruck, adj.	تندر وهلی، ټکې وهلی، هک پک، اریان .
Thursday, n.	پنجشنبه
thus, adv.	داسې، نو، په دې ډول، لکه چه، ځکه نو .
thwack, n.	ډب، غرب، غپ ، ګوزار:
thwart, adj. n.v.t.	په پساره ایښودل شوی ، له یوې څنډې تر بلې څنډې، مایل، عرضي: په بېړۍ کې، د ماڼوګانو د کښېنستلو تخته: شنډول، باطلول، لاره بندول .
athwart, adv.	په پساره، په عرض
thy, pron.	ستا .
thyme, n.	سعتر، یو بوټی چه خوشبویه پاڼې یې په خوړو کې استعمالیږي .
thymus, n.	د تیموس مرغړۍ .
thyroid, adj. n.	د تایرایډ په مرغړۍ پورې مربوط: د تایرایډ مرغړۍ .
thyself, pron.	ته پخپله.
tiara, n.	درې کونجي خول (چه لرغونو پاچهانو پر سر کاوه او اوس یې د روم پاپ پر سر کوي) .
tibia, n.	د لینګی هډوکی.
tic, n.	رېږد (لکه د بدن د ځینو غړو یا پلو)، رپ .
tick, n.	منګوړ، وراسکه ، کنکه ، کونۍ .
cattle tick	کنکه، منګوړ، وراسکه
tick, n.	پوښ، ابره، غلاف (لکه د بالښت یا نیالۍ) .
tick, n.v.i.t	ټک ټک (لکه د ساعت): نښه، نښانه (لکه د تصحیح): ټک ټک کول : نښه کول، په ټک ټک شمېرل
tick, n.	(اصط) پور، کریډټ، د اعتبار پور.
ticker, n.	ټک ټک کوونکی: د ټیلګراف آله چه خبرونه چاپوي .
ticket, n.v.t.	ټکټ، ټکس: اجازت پاڼه: په انتخاباتو کې د یوه سیاسي ګوند د کاندیدانو لست: ټکټ ورکول: په لست کې ایول.
ticking,	یو ډول ټوکر (لکه خمتا یا ګامسکوټ).
tickle, v.i.t.n.	تخڼېدل، تخول ، تخڼول : نازول، خوشالول: تخونه، تخڼېدنه .
ticklish, adj.	تخڼېدونکی، نازک‌خیالی: سخت، ګران : نری.
tidal wave, n.	توفاني څپه (چه کله کله تر زلزلې وروسته په بحر کې پیدا کیږي) .
tidbit, n.	غوړې، خوږه خبره، ګپ شپ ، خوږه مړۍ .
tide, n.v.t.i.	څپه، مد او جزر : رسول ، پرې مړودل .

ebb tide	جزر : دزمانې بهير ، دزمانې لوړې ژورې .
tidal, adj.	څپه ييز .
tidewater, n.	څپه ، دڅپې اوبه (چه دسيند غاړې ته راشي) ، دسمندرغاړه .
tidewater, adj.	دڅپې
tidings,n.	خبر ، زيری ، پيغام .
tidy, adj.	سوتره ، سپېڅلی : لوی ، ښايسته ، ډېر .
v.t.i.	پاکول ، سوتره کول ، سمبالول .
tidiness, n.	سوتره والی ، سپېڅلتوب .
tie, v.t.n.	تړل ، غوټه کول ، کنډه کول : ټينګول : مساوي کېدل (په لوبه کې) : مزی ، بندری ، غړوندی : يکتايي : برابري : اړيکې : پټه (لکه هغه تخته چه داورګاډي پټلۍ پورې نښلوي) .
tier, n.	لړ ، ليکه ، کتار : پوړ ، پټ
tie-up, n.	ډب ، تم کېدنه ، د رېدنه ، اعتصاب : اړيکه (رابطه) .
tiff, n.v.i.	دخولې جنګ ، خپګان ، بدخويي : خبرې اړول ، خپه کېدل .
tiffin, n.	ناری ، دغرمې ډوډۍ ، شکه
tiger, n.	پړانګ .
tigerish, adj.	پړانګ وزمه .
tigress, n.	پړانګه .
tight, adj. adv.	کلک ، تړلی ، ټينګ ، محکم ، شخ : تنګ : تنګـه : اړوالی : کنجوس : په کلکه توګه .
tightly, adv.	په کلکه .
tightness, n.	کلکوالی
tighten, v.t.i.	کلکول ، تړل ، ټينګول .
tghtfisted, adj.	کنجوس ، شوم ، سخت ، ممسك .
tightrope, n.	شخه رسۍ ، کش شوې رسۍ با پړی .
tights, n.	چسپې جامې ، سلتراج : هغه چسپې جامې چه نڅا کوونکي يې اغوندي
tile, n.v.t.	کاشي خښتې ، پخې خښتې : کاشي کول .
tiling, n.	کاشي کاري .
till, conj.	تر ، تر هغه وخته ، ترڅو
till, v.t.i	شودياره کول ، يوې کول ، اړول ، وهل (ځمکه ، ابادول ، کرل .
till, n.	دپيسو صندوقچه (په دکانو کې) .
tillage, n.	کرونده ، کر ، کرنه ، کرکېله .
tiller, n.	اړم (څنګ رون) چه بېړۍ باندې ګرځوي .
tilt, v.t.i.n.	کږول : کږېدل : په نېزه جنګ کول : سانګی ، دنېزو لوبه : برچه په برچه کېدنه : کوږوالی .
tilth, n.	کرونده ، ودانه ځمکه : کرنه .
timber, n.v.t.	الوار ، چارتراش ، ورشه ، بش : دودانۍ او ترکاڼۍ لرګي : د ونو ځنګل : په لرګو پوښل .
timbered, adj.	دلرګو جوړشوی .
timbering, n.	دلرګو څخه جوړونه : لرګي
timberland, n.	دلرګو ځنګل .
timber line,	په غرونو او سړو سيمو کې هغه خط چه تر هغه هاخوا ته ونې نه شنې کېږي
timber wolf.	دشمالي امريکا يو ډول خټ لېوه .

timbre, n. طنین ، سور ، تال ، رنګ

timbrel, n. چمبه ، دریه (دایره) ، داربال ، تمبل .

time, n..adj. وخت ، دوران ، نېټه : ټېك وخت ، ټاکلی وخت ، پېړو ، موده ، موقع : دم ، وار ، محل : ګړۍ ، ساعت ، شېبه ، څوټه : مهال : دموسیقۍ شېبه : پروخت ، پر ټاکلي وخت .

v.t وخت ټاکل ، نېټه ایښودل : پر سور برابرول : وخت اندازه کول .

timekeeper, n. وخت شمارونکی

timeless, adj. تل ، همېش : بې وخته

timelessly, adv. تل ، تل تر تله : بې وخته

timely, adv,. پر وخت ، پر ځای

timer, n. وخت ښود .

timeworn, adj. موښلی ، سولېدلی ، زوړ

time-honoured, adj. درند ، د لمانځنې وړ : هغه شی یا سړی چې د عمر د تېرو خدمتو له کبله د لمانځل کېږي .

timepiece, n. ساعت (د مېز یا لاس)

timetable, n. مهال وېش ، تقسیم اوقات

timid, adj. شرمندوکی ، وېرېدونکی ، ډارن .

timidity, n. ډار ، وېره : شرم ، حیا

timidly, adv په وېره ، په حیا ، په شرم

timorous. adj, بې زړه : شرمېدونکی

timothy, n. ډیله (یو ډول وابښه دی)

timpani, n. نغاره ، ډمامه ، دوکړی

timpanist, n. نغاره چی ، ډم

tin, n.v:t, ټیم ، ډبلی ، کوټی (قطی) : حلبی ، قلعی : په قلعی پوښل : په کوټی کی بندول .

tinct, n.v.t. رنګ ، کمرنګی ، کم خوندی : رنګول ، لږ رنګ ور کول .

tincture, n.v.t ټینچر (یو ډول کیمیاوی محلول چې پر زخم وهل کېږي) : توکی ، اغښته ، یوه خاشه : لږ رنګ ور کول ، خوند ور کول

tinder, n. پېلوزی ، تیری ، لګوونی ، شونټی ، خپو ، خو .

tinderbox, n. د بګړی (پڅه بګړ) ساتلو قطی .

tine, n. تېره څوکه .

tin foil زر پرخ (زر ورق) ، ترامه

tinge, v.t.n. لږ رنګ او خوند ور کول : لږ تغییر ور کول ، لږ څه اړول ، رنګ اخیستل : رنګ اخیستنه ، نښه ، څاپې ، اثر .

tingle, v.i.n. سوی حس کول ، مېږی مېږی کېدل ، بوګنېدل ، تریدل : سوی ، بوګنېدنه .

tinker, n.v.i. ټټار ، کوشېرګر ، مسګر : بې مهارته رغوونکی ، ناقابله جوړوونکی : بې ځایه هڅه کول ، چټی په کار پوری نښلېدل .

tinkle, v.i.t. ټینګېدل ، شرنګېدل ، ژرنګېدل : ټنګول ، ژرنګول .

tinny, adj. ټیمی ، قلعیز ، قلعی لرونکی ، ټیمی خوند لرونکی .

tin plate, یو فلز چې په قلعی پوښل شوی وی

tinsel, n.: یو ډول ټوکر (لکه بنارسی) ، چرمه ، لیس .

tinsmith, n. حلبی ساز ، ټیمګر ، ترامه ګر

tint, n.v.t. بېلك رنګ ، تت رنګ ، تت سیوری : تت رنګ ور کول ، کم رنګ ور کول .

tintinnabulation, n. شرنګی، شرنګهار، ترنګهار.

tintype, n. داوسپنې پر تخته باندې یو ډول عکس

tinware, n. حلبي لوښي.

tiny, adj. ډېر کوچنی، وړوکی، مونانی

tip, v.t.i. نسکورول، سرچپه کول: کږول، ربنده کول

tip, n.v.t. څوکه، پای، سر: ورسك، خولۍ: څوکه‌ور کول.

tip, v.t.n اشاره‌ور کول، نښه‌ور کول، خبر ور کول: بخشش ور کول (لکه په رستوران کې): اشاره، ټپ، پټ خبر.

tippet, n دغاړې دستمال، داوږو شال

tipple. v.t.n. زیات شراب څښل: شراب

tipster, n. مخبري، مخبر.

tipsy, adj. مست، نشه‌خوندی.

tiptoe, n.v.i. دپښو څوکې، دپښو دګوتو سر، دپښو نوك: دپښو پر څوکو تلل، دګوتو پر سرو تلل.

tiptop, n. adj. تر ټولو لوړ، څوکه، اعلی: ډېر لوړ، دډېر لوړ مقام او صفت خاوند.

tirade, n. اوږده له قهر او کرکې ډکه وینا

tire, v.t.i. ستړی کول: ستړی کېدل: زړه وهل، بې حوصلې کول، تنګول: بې حوصلې کېدل، په تنګ کېدل.

tire, n. لباس، پوښاك، کالی

tire, n. ټایر، اربه.

tired,, adj. ستړی، ستومانه.

tireless, adj. نه‌ستړی کېدونکی: بې ټېره.

tirelessly, adv. په نه ستړي کېدونکي توګه.

tirelessness, n. ناستوماني.

tiresome, adj. ستومانوونکی، زړه وهونکی، مزاحم.

tiresomely, adv. په‌ستومانوونکي توګه.

tiresomeness, n. ستومانونه، مزاحمت.

tissue, n. نسج، نرۍ ټوټه.

tissue paper, n. نری کاغذ، نازك کاغذ.

tit, n. یو ډول کوچنۍ مرغۍ.

titan, n. غټ، غښتلی، برمانو، دیو.

titanic, adj. ډېر غټ، غښتلی، د دیو په شان.

titbit, n. خوږه مړۍ: خوندوره خبره

tithe, adj. لسم، عشر: مالیه.

titillate, v.t. تخول، تخنول، ساعت تېري کول.

titillation,n. تخونه، ساعت تېري

titivate, v.t.i. ځان ښوی کول، ځان جوړول: سینګارول.

title, n. سرلیک، عنوان: وړ نوم لقب (لکه د ملکیت)، وړوالی (استحقاق، لیاقت).

titled, adj. دلقب څښتن (په تېره بیا داشرافیت.)

title page, n. سرلیک پاڼه، دعنوان صفحه.

titmouse, n. یو ډول وړوکی مرغۍ چه خزنده خوري (ګنجره).

titter, v.i.n. پټ خندل، په نیمه خوله خندل: پټه خندا، په نیمه خوله خندا.

tittle, n. ټکی : ټوټه ، ذره .

tittle-tattle, n. ټوکی ، اپلاکی ، اپلتی ، ټکالی ، اوتی بوتی .

titular, adj. دلقب : تش په نامه : افتخاری .

to, prep. ته (لکه کور ته) : پر (لکه پر ډوډۍ باندی کوچی موښل) تر : د ... سره (لکه دموسیقی سره سندري ویل) : د پاره (لکه دمرستی د پاره) : ته (لکه پنځو بجو ته لس دقیقی پاتی) : په مقابل کی (لکه دوه دشلودو) : ترکومه : سره سم : په باب .

to, n. adv. دمصدر علامه : مقصد ، عمل ، نتیجه ، حالت ، علت او نور افاده کوی : قصد ، امکان ، خاصیت او نور : دې خوا ها خوا ، مخکښی وروسته : مخکی : ته ، پر (لکه پرسد کېدل) .

toad, n. غټه چونګښه ، خوټکاښ ، شینداخ .

toadstool, n. لیونی ږینګری ، لیونی خرېړی ، هندوستوری ، دشیطان کوپلی یوډول پوښکی چه دمځکی پرمخ شنه کیږی او نه خوړل کیږی .

toady, v.t. غوړه مال ، چاپلوس ، متازو خوشامندگر : غوړه مالی کول ، چیکی جیکی ویل .

toast, v.t.n. الوی کول ، وریتول خرسنه کول ، کرېندی کول ، الوېدل : تودول : ټوسټ ، برشته ډوډۍ ، کرېنده ډوډۍ ، وریته ډوډۍ .

toast, n.v.t. دچاپه سلامتی دجام دپورته کولو عمل : دچاپه سلامتی ږغ : دچاپه سلامتی جام پورته کول .

toaster, n. یوه برقی آله چه ډوډۍ پکښی برشته کوی (وریتوی) .

toastmaster, n. میلمه پال ، دمېزمشر (هغه څوک په میلمستیا کی دچاپه سلامتی جام پورته کوی او وینا کوونکی معرفی کوی) .

tobacco, n. تمباکو ، تماکو : دخانیات د تمباکو څخه جوړشوی شیان .

tobacconist, n. تمباکو او د تمباکو څخه دجوړشوو شیانو پلورونکی .

toboggan, n.v.i. ښوینده تخته ، هغه دړه چه پر واوره باندی پرښویږی : پرښوینده تخته ښویېدل .

tocsin, n. دخطر اعلان ، دخطر زنګ ، دخطر اشاره .

today, adv. n. نن ، نن ورځ : نن ، نن سبا .

toddle, v.i.n. پای پای کول ، پاپلی کول ، پالی پالی کول : پاپی پای تګ (لکه دماشوم) ، پالي ، پیالی .

toddler, n. هغه کوچنی چه نوی یې تګ زده کړی وی .

toddy, n. د الکولو او تودو اوبو خوږ مخلوط .

to-do, n. شورماشور ، الهګوله ، زوږ

toe, n.v.t. دپښې ګوته ، څوکه (دپښې جرابی ، بوټ) : پنجه : دپښی څوکه وررسول ، په څوکه وهل .

toffee, toffy, n. یوډول چاکلیټ

tog, n. اغوستل.

toga, n. څادر (پټو) د لرغونی روم اوږده لودو پټه (جو بټه.)

together, adv. سره یوځای ، په ګډه : په یوه وخت ، یوځای : یو تر بله ، یو د بل سره .

toggery, n. کالی ، جامې ، پوښاك.

togs, n. کالی ، جامې، پوښاك .

toil, v.i.n. کار کول ، زیار ایستل ، خواری کښل : هڅه کول : زیار ، خواری ، ستونزه .

toiler, n. خواری کښ، زیار کښ

toilsome, adj. دخوارۍ ، سخت ، ستړی کوونکی .

toilworn, adj. خوارۍ وهلی، ستړی خوارۍ ځپلی .

toilet, n. سینګار : لباس(د سینګار): چه چوبی ، لمباځی (تشناب) .

toiletry, n. د سینګار شیان .

toilette, n. سینګار ، ډول ، پسولونه جوړونه (د حمام عطریاتو او نورو په ګډون) .

token, n. نخښه ، نښه ، سمبول : دسوغات شیان : فرعی سکه : فلزی ټکټ (د ریل یا بس د پاره) .

told, د (tell) ماضی او دریم حالت

tolerable, adj. دزغملو وړ: ښه، د ګذاری

tolerably, adv. په زغمل کیدونکی توګه .

tolerance, n. زغم ، اغماض ، پراخه سینه ، سړه سینه .

tolerant, adj. زغمونکی .

tolerantly, adv. په پراخه سینه

tolerate, v.t. زغمل ، ګالل ، وړل : ګذاره کول .

toleration, n. زغم ، حوصله ، ګالنه

toll, n. باج ، مزدوری ، خوشیکری ، اجوره ، باړه ، حق العبور .

tollgate, n. دحق العبور دروازه .

toll, v.t.n. ورو ورو زنګ وهل ، ټلی وهل : خبرول (د ږغ په واسطه) ټنګېدل ، کړنګېدل : کړنګهار ، شرنګی (په موزون ډول) .

tomahawk, n. تبرګی ، یو ډول تبرګی چه د امریکا سور پوستی یې دوسلې په حیث استعمالوی .

tomato, n. رومی بانجن ، سور بانجان سور باټینګڼ .

tomb, n. قبر ، مړستون ، ګور ، زیارت.

tomboy, n. نرګټه (نجلۍ چه د هلکانو پېښې کوی) .

tombstone, n. شنخته، خازه ، د قبر ډبره.

tomcat, n. پیشی ، پشه ، پیشك .

tome, n. کتاب ، لوی کتاب.

tomfoolery, n. احمقانه کار، چټی کار، بېړاتوب .

tomorrow, adv. n. سبا: سبا، ګانده : راتلونکی وخت .

tomtit, n. (titmouse) ته مراجعه وکړی .

tom—tom, n. ډول ، طبله، ډمامه : آهنګ.

ton, n. ټن، د تول اندازه (۱۰۰۰) کیلو ګرامه .

tone, n. غاړه، لحن، بږغ: لهجه (دويلو او ليکلو خاصه لار)، بږغون: بڼه، کړه وړه، جوله، رنګ: سيوري، د رنګونو ګډون (په رسامۍ کې).
v.t.i. رنګ ور کول، لهجه ور کول، ډول ور کول.

tonal, adi. غاړه ييز، د بږغ.

tong, n. يوه چينايي پټه ډله.

tongs, n. نوسي، انبور.

tongue, n. ژبه، د غوښې ټوټه: وينا، ژبه (لکه پښتو)، ژبې: د وينا سبك.

tongueless, adj. بې ژبې، ګونګی.

tongue-tied, adj. ژب تړلی، ګونګی، خوله تړلی.

tonic, adj. غاړه ييز، لهجه يي: مقوي، سيك ور کوونکی: د تال، د سور: سبك ور کوونکی دارو.

tonight, adv. n. نن شپې ته، په نن شپه: نن شپه، نننۍ شپه.

tonnage, n. ګمرکي باج چه د ټن په حساب پر بېړۍ اېښودل کېږي: ځايښت، ظرفيت (د ټن په اساس): ټول بار (د ټن په اساس) چه بېړۍ يې وړلای شي.

tonneau, n. د ګړندۍ موټر وروستنۍ د ننه برخه چه سوارلي پکښې کښېني.

tonsil, n. بغوټ، بغوټۍ، د ستوني غړی، تانسل.

tonsillectomy, n د بغوټۍ جراحي، د تانسل جراحي.

tonsillitis, n. د ستوني د بغوټو پړسوب، د ستوني پړسوب.

tonsure, n. د سر د کوپړۍ د ويښتانو خرييه: د کاتوليك د پادريانو د سر د کوپړۍ خرييل شوې برخه.

too, adv. هم، همداسې: ډېر، خورا ډېر، بې کچه، دومره ډېر چه د پښېمانۍ وړ وي.

took, v. د (take) ماضي، واخيست.

tool, n. سامان، اوزار (افزار)، اسباب: آله، د لاس آله، ګوډاګی.
v.t د آلې په واسطه جوړول يا انځور کول.

toot, v.t.i. ټوټو کول (لکه په شپېلۍ)، له ښکر يا شپېلۍ څخه بږغ ايستل، شپېلۍ کول، تي تيت کول.
n. تو تو، تي تيت (د هارن بږغ)

tooth, n. غاښ: غاښی (لکه د اره): اشتها.

toothed, adj. غاښور، غاښ لرونکی

toothless, adj. بې غاښو، کنډاس.

toothache, n. د غاښ درد.

tooth—brush, n. د غاښ برس (برش)

toothpick, n. غاښ ټومبوني، غاښ خلی، غاښ ډکی.

toothsome, adj.. خوندور، مزه ناك، خوږ.

top, n. سر، څوکه: پاس: لواړګی: لوړ، اوچت، هسك: د ننګانچه (د بېړۍ د بادوان)
adj. لوړ، سر، مشر، مخکی.

v.t. سرغوڅول، څوکه پرې کول: پرسر ایښودل (تاج، خولۍ)، سرته رسېدل: مخکې کېدل، تېرېدل، برى موندل.

top, n. څرخېدونکی، چورلندی، لاټو.

topaz, n. زېړ (ژېړ) یاقوت.

topcoat, n. بالاپوښ، براغوستنی، پسرلنی بالاپوښ.

tope, n. ډېر څښاک (دشرابو).

toper, n. نشه یي (دشرابو)، شرابي، عملي.

topflight, adj. سرایستلی، اوچت، لوړ

top-heavy, adj. دروندسری، داسې شی چه لوړه برخه یې تر لاندنۍ برخې درنه وي: غیرعملي.

topic, n. موضوع، عنوان، دخبرې سر.

topical, adj. په موضوع پورې مربوط، په ورځنیو جریاناتو پورې تړلی: سیمه ییز، موضعي.

topknot, n. جوغه، څړۍ، سرزونړی.

topmast, n. دوهم بادوان، دبادوان دوهمه برخه چه تر دکانچې پورته وي.

topmost, adj. ډېر لوړ، ډېر اوچت، سرایستلی.

top-notch, adj. اوچت، اعلی.

topography, n. نقشه کښي، ټوپوگرافي.

topographer, n. نقشه کښونکی.

topographic, adj. د نقشه کښي.

topographical, adj. د نقشه کښي

topping, n. سر، اوچت، اعلی، څوکه

topple, v.i. غورځول، ارتول، اړول، نسکورول: لوېدل، اوښتل، غورځېدل، چپه کېدل، نسکورېدل.

tops, n. اوچت، لوړ، سر.

topsail, n. دبادوان دوهمه برخه.

topsoil, n. دمځکې دسر خاوره.

topsy-turvy, adj. نسکور، سرچپه، پړمخې: گډوډ.

toque, n. گردې خولۍ (دښځو).

torch, n. مشعل، شونټۍ، لېټ: دلاس څراغ، لاس ډیوه.

torchbearer, n. رڼاوړونکی، مشعل وړونکی.

torchlight, n. دمشعل رڼا، دبجلۍ رڼا

tore, v.t. د (tear) ماضي

toreador, n. اسپانوي اتل چه دغوایي سره مقابله کوي.

torment, n. عذاب ورکول، کړول، ځورول: تنگول، ربړول، تزنول.

n. عذاب، ربړ، ستونزه.

tormentor, n، عذاب ورکوونکی، ځورووونکی.

torn, adj. د (tear) دریم حالت

tornado, n. سخته بوړبوکۍ، توفاني دوړ دوړ که، بوړبوکی.

torpedo, n. ټارپیډو، ډوب ماکو، شتۍ

v.t. دټارپیډو په واسطه یرغل کول

torpid, adj. مړاوی، غړند، لټ، مړ څپن، مړ غېچن، مړ ژواندی، یخ.

torpidity, n. مړاوی توب.

torpor, n. مړاوی توب، یخ مغزي.

torque, n. څرخوونکې قوه، تاوونکې قوه، چورلوونکې قوه .

torrent, n. سېل، نېز .

torrential, adj. سېل وزمه، بهاند .

torrid, adj. ټکنده، تود، ډېر تود، سوځوونکی، تود او وچ .

torsion, n. غښتنه، تاوېدنه، مروړنه

torso, n. تنه، کالبوت (بې لاس او پښو)

tort, n. تاوان، زیان، هغه کار چه په حقوقو کې تاوان ایجابوی .

tortilla, n. د جوارو یو ډول کېك چه جنوبی امریکایان یې استعمالوی، سوړ سك (سوکړك)، پیاځه .

tortoise, n. کیشپ، شمشتی .

tortuous, adj. کوږ ووږ، کږ لېچن .

torture, n. عذاب، کړونه، شکنجه، تزنونه: ازار .

v.t. (اصط) سکنجه کول، کړول، چپه مېچنی په گرځول، زمولول، ځپل: کږول، اړول (لکه خبره) .

torturer, n. عذاب ورکوونکی، ربړوونکی .

Tory, n. د برتانیې د محافظه کار گوند پخوانی نوم: د امریکا په انقلاب کې د برتانیې د سلطې پرخوا .

Tory, adj. د محافظه کار گوند غړی

toss, v.t. غورځول، اچول، ارتول (لکه پیښو سکه)،

v.i. غورځېدل، راغورځېدل (لکه بېړۍ د څپو پرسر): ناارامه کېدل، ټکان خوړل .

n. اچونه، ارتونه: پچه (قرعه)، وچه لنده .

tot, n. کوچنی، ماشوم، وړوکی: ګوټ، غوړپ (د شرابو) .

tot, v.t. راټولول، جمع کول، ټولټال کول .

total, adj. n.v.t. ټول، ټولټال: بشپړ: بېخی: ټول، غونډ، جمله، مجموع: ټولول، غونډول، جمع کول .

totalitarian, adj. ټولواك، ټوټالیټاری (هغه سیاسی گوند چه د هېواد ټولی واگی په خپل لاس کې نیسی او نور گوندونه له منځه وړی لکه فاشیستی گوند) .

totalitarian, n. د ټولواکی پرخوا، ټوټالیټار .

totality, n. ټول، مجموع .

totalizator, totalisator, n. یو ډول حسابی ماشین چه د آسونو په ځغاسته کې د تړلی شرط اندازه ښیی .

tote, v.t. رسول، وړل .

totem, n. هغه ژوی یا بوټی چه ارغونو قبیلو به خپل نسب پوری تاړه .

totem pole, جنډه یا نښان چه د پخوانیو قبیلو رب النوع به پکښې ترسیم شوی و .

totemism, n. د توتم عقیده، توتمیزم

totter, v.i. لړزېدل: زنگېدل (لکه په تنگ کې)، شواړ بواړ تلل، کاړی واړی تلل: ربېدل: په ټاټالی تلل

toucan, n. یو ډول امریکایی مرغی چه اوږده مښوکه لری او مېوې خوری .

touch, v.t.i. لمس کول، لګول، ور وړل (لکه لاس یا ګوته څه شي ته): ټېل وهل: خوړل، چنډل: وهل: نښلول، رسېدل: یو ځای کېدل: ګډوډول: اغېزه کول، اشاره کول: سمول: درول، درېدل: ګرول (لکه وړوکی ټپ).

n. ټپ، سپک ګوزار: بلودنه، لمس، حس: نخښه (نښه)، کرښه: ټوټه، هنر: نږدې خپلوان: خوا خوږی: ترنګونه (په موسیقۍ کې).

touchdown, n. ګول (په امریکایي فټبال کې).

touching, adj. اغېزه ناک، احساس پاروونکی.

touchstone, n. ازمېښت کاڼی، محک، معیار، مېچاڼه.

touchy, adj. تندخویه، مرچکی، لنډپاری، نازک، حساس.

tough, adj. کلک، پلمې وزمه (لکه ربړ): سخت (لکه غوښه): مټه کور، وچ: ځېلی (ځلی)، سرټمبه: ګران، سخت (لکه کار).

toughness, n. کلکوالی: کسکرتوب.

toughen, v .t.i. کلکول: کلکېدل.

tour, v.t, ګرځښت، سیاحت، ګرځېدل. سیاحت کول، دوره کول.

tourist, n ګرځندوی، سیلانی، سیاح

tourmaline, n. کهربا، کربه، یو ډول کاڼی غمی.

tournament, n. ټورنمنټ، د سانګی وهلو لوبه (په ارغوني وخت کې) لوبه، د لوبو مسابقه.

tourney, n. (tournament) وګوری

tourniquet, n. بندری، باندار (پټۍ چه د وینې د بندولو د پاره کار ځنې اخیستل کېږي).

tousle, v.t. جړول، ګډوډ کول (لکه وېښتان).

tout, vt.i. دلالی کول، اخیستونکی (دانیوونکی) پیدا کول، د آس ځغلولو په لوبه کې شرط تړونکو ته د آس په باره کې معلومات ورکول.

tow, کشول، راکښل (په تېره بیا په اوبو کې د رسۍ په واسطه).

toward, prep خوا ته، لوري ته، پلو ته باره کې، باب کې: خوا او شا ته (لکه د ماز یګر)، په مهال کې: ته، د پاره.

towards, prep toward ته مراجعه وکړی

towel, n. ټوال، ځان وچونی، دسمال، تولیه، لوښي وچوني.

toweling, towelling. د تولیې ټوکر، د ټوال ټوکر.

tower, n. کلا، برج، څلی، مناره.

v.i. تر نورو لوړېدل، تر ټولو سرا یستل.

towery, adj. برجور، څلي وزمه

towering, adj ډېر لوړ، ډېر هسک، تر نورو لوړ.

towhead, n. د ژېړ بخنو پستو وېښتانو لرونکی، هغه سر چه ژېړ بخن پاسته وېښتان لري.

towheaded, adj. ژېړ سری.

town, n ښارګی، ښار، بازار، کلی (د پېښور په اصطلاح) کندی، ښاریان.

town meeting, د کلی جرګه.

township, n. کندی، سیمه، ناحیه، ضلع، تحصیل.

townsman, n. ښاری: کلیوال.

townspeople, pl. ښاریان.

townsfolk, ښاریان، د ښار اوسېدونکی

towpath, pl. د سیند یا کانال په اوږدو کی نری لار.

toxemia, toxaemia, n. د وینی زهرجن توب، د وینی خرابی، هغه ناروغی چه د وینی له تسمم څخه پیدا کېږی.

toxic, adv. زهرجن، وښن، زهرناک

toxicology, n. زهر پوهنه، وښ – پېژندنه.

toxicolgist, n. زهر پوه، وښ – پېژندونکی.

toxin, n. ټاکسین، زهر، وښ.

toy, n. لوبتکه، د لوبو شی (د کوچنیانو د پاره).

adj. د لوبو.

trace, n. منږه، پل، خاپی (لکه د پېښی) څرښنده، نوکی، پڅرکی.

v.t. نښه کول، کښل، ایستل (لکه رسم یا نقشه) کاپی کول، نقلول، منږه نیول، پل اخیستل، پل په پل پسی تلل، لړیه راسپړل (لکه دیوه سړی شجره).

traceable, adj. د سپړلو وړ، د موندلو وړ.

tracer, n. د نقشی ایستلو سامان، لټوونکی.

trace, n. تسمه، واګی، هغه تسمه یا ځنځیر چه آس په ګاډی پوری نښلوی.

tracery, n. انځورګری، ګلکاری (په ډبره یا لرګی کی)، منبت کاری.

trachea, n. وچه غاړه، وچه مری.

tracheal, adj. د وچی مری، د وچی غاړی.

tracing, n. د خاپی ایښودنه، کاپی کول، کاپی، کاپی شوی انځور: د رګ، د ټوپ او د زړه د درزېدو د ښودلو آله.

track, n. منږه، پل، رو، لیکه، نری لار، پټه (د لوبو د پیل کېدو کرښه): څرک، درک، پټه: د ځغاستی کرښه پټلی، کیل.

v.t. منږه اخیستل، څرک معلومول، منږه پرېښودل، خاپی پرېښودل.

tracker, n. درک لګوونکی.

trackage, n. د پټلیو لړی، د اورګاډی پټلی.

tract, n. رساله، کتابګوټی (په تېره بیا مذهبی).

tract, n. سیمه، چک، څېره، ونډه، د مځکی یوه ټوټه: سرشته، جهاز (لکه د تنفس)، لار (لکه د تنفس).

tractable, adj. اېلېدونکی، رام – کېدونکی: نرم، پوست (لکه ځینی فلزات).

tractate, n. رساله، څېړن لیك، مقاله.

traction, n. کښښه، غونجیدنه (انقباض). راښکون: ایوله، د ځان کلکولو قوت، ټینګار: د کښولو قوه، مځکه قوه.

tractive, adj. راکښوونکی، د ټینګار

tractor, n. ټراکټور، د اسې اوټکه چه انجن یې له وزرو څخه مخکی وی.

trade, n. موسمی باد چه په سمندری وړلو راوړلو کښې ور څخه استفاده کېده: کسب، شغل: تجارت، سوداګری: دیوه کسب ډله: راکړه ورکړه، ونج وپار، معامله.

v.t.i. راکړه ورکړه کول، پېرودل او پلورل: بدلول، ایشول په ناروا ګټه کول، په ټګی ګټل.

trade-mark, n. تجارتی نښه، د فابریکې نښه، بېلوونکې نښه، د پېژندګلوی نښه.

trader, n. تاجر، سوداګر: تجارتی بېړی.

tradesman, n. پلورونکی، هټیوال، کسبګر، اوستا کار.

tradespeople, n. کسبګران، اوستا کاران.

trade-union, n. د کارګرو اتحادیه، د کارګرو ډله: د کارګرو سندیکا، صنفی ډله.

trades-union, n. د کارګرو اتحادیه، صنفی اتحادیه.

trades-unionism, n. د کارګرو د اتحادیې پلوی توب.

trade-unionist, n. د کارګرو د اتحادیې طرفدار.

trade wind, n. تجارتی باد چه د استوا په شمال کی د شمال ختیځ له خوا د جنوب لوېدیځ خوا ته الوزی او د استوا په جنوب کی د جنوب ختیځ له خوا د شمال ختیځ خوا ته چلېږی

tradition, n. دود، روایت، عنعنه، رسم ورواج، دود دستور.

traditional, adj روایتی، عنعنوی.

traditionally, adv. په روایتی توګه، په عنعنوی ډول.

traditionary, adj. روایتی، پر دود دستور ولاړ.

traduce, v.t. تور لګول، تور تړل، دروغ تړل، شرمول، بدنامول

traffic, n. ټرافیك، چلند (د مال یا سپرلی)، وړنه راوړنه: راکړه ورکړه، ونج وپار: تګ راتګ.

v.i. وړل راوړل: راکړه ورکړه کول، معامله کول، سوداګری کول.

trafficker, n. سوداګر.

tragedian, n. د تراژیدی (ویرجنی کیسې) لیکوال یا لوبغاړی.

tragedienne, n. د ویرجنی کیسې یا ډرامې لوبغاړې (ښځه).

tragedy, n. ویرجنه کیسه، ویرجنه ډرامه، ویرجنه پېښه، تراژیدی.

tragic, adj. ویرجن، ویرژلی.

tragical, ویرجن، خواشینوونکی، ویرلړلی.

tragically, adv. په ویرجن ډول.

trail, v.t.i. : را کښل، څکول، کشول ، په پسې کېدل (تعقیبول) ، پېر ته پاتې کېدل: ځړېدل : ښویېدل ، ښخېدل ، خښل: غـزیدل

n. لیکه، لکی (لکه د لویدونکی ستورو) ، لمبه خاپی، منځ (لکه د ځینو ژوو تیریدو): توس، بوی (لکه دسپی)

trailer, n. ښکنند ، غزند (لکه پروته چه پر و نه خېژی) : ټریلر (ټیلـر) ګرځنده کور، ریړه ، کراچی، هغه کوریا واګون چه د موټر په واسطه کش کېږی .

train, n. اورګاډی (ریل) ، شاتنی لمن چه په ښځی پسی ښکېږ ی : بد رګه، بدرګه چی، ورا، جنج: لړیه، ځنځیر.

trainload, n. د اور ګاډی بار.

trainman, n. د اورګاډی کار ګر .

train, v.t.i. : روزل (تربیه کول)، پالل : ایلول: ښودل، ورزده کول : جوړول، چمتو کول، تیارول : نښه کول، شیش ټیول : روزل کېدل : ایلېدل.

trainer. روزونکی، پالندوی ، ښوونکی، مربی .

training, n. . روزنه، زده کړه، ښوونه

adj. دروزنی، دزده کړی، دښوونی (تربیتی) .

trait, n. ځانګړی انځېنه ، مشخص صفت، خاصیت .

traitor, n. درغل (خاین).

traitorous, adj. ددرغلی، دخیانت، خاین.

traitress, n.fem. . درغلـه (خاینه)

trajectory, n. : تګ کرښه، ویشتن لیکه: دار، د توغول شوو شیانو د یون کرښه .

tram, n. ټرام، د کوڅې ګاډی، یو ډول اور ګاډی .

tramcar. ټرام ګاډی.

tramway, . دټرام لار، ټرام پټلی

trammel, v.t. تړل، پچاړی کول، زولانه کول ، دوربلول ، پیکړی اچول: و لچك کول، بندول ، ځنځیراچول

n. تړنه، پچاړی: ولچك: بند .

tramp, v.i.t. په درنو ګامو تلل: ګام اخیستل : تلل : د پښو لاندې کول : منځ ایښودل، چیت پیت کول، ریچی ریچی کول.

n. ایله ګرد ، رویله، سرایله : پلی پردیسی ، پلی سفر : پردیسی ، سفر : تربهار ، ترپا ، ترپ ، ترپی : سرا یله ښځه یه ، هغه ښځی چه په خاصه لارنه ځی.

trample, v.t.i. د پښو لاندې کېدل ، چیت پیت کېدل ، ریچی ریچی کېدل : پاخل کېدل .

v.t. د پښو لاندې کول : ځپل : پاخل

n. دربونه ، دربهار .

tramway, n تهمراجعه و کړی tram

trance, n. هك پکتوب ، هېښه : بې ښنالی (لکه دخوب)خوبولتیا ، بې سدی .

tranquil, adj. ، آرام ، سوکه : غلی ، ولاړ ، کرار .

tranquillity, tranqulty . آرامی سوکالی : غلی توب، کراری .

tranquilly, adj په آرامی ، په سوکه توګه : په کراری.

tranquilize, tranquillize, v.t.i. ارامول ، سوکه کول : غلی کول ، کرارول ، خواږولی کول .

trans- (مختاړی) پورې خوا ، اخوا ، په بله خوا ، په پورې خوا ، پوری غاړه .

transact, v.t. چلول ، کول ، په مخ بیول ، ترسره کول : ونج و پار کول .

transaction, n. چلونه ، کړنه ، په مخ بیونه ، ترسره کول : ونج و پار : راکړه ورکړه (په تجارت کی) ، سوداګری : پېښېدلیک ، رویداد ، دغونډې دجریاناتو لنډیز .

trnsatlantic, adj. داتلانتیک نه اخوا ، داتلس نه پورې غاړه .

transcend, v.t.i. تر ټاکلی اندازې تیری کول : بریالی کول ، وړاندې کول : بریالی کیدل ، وړ کیدل ، وړاندې کیدل ، مخکښی کیدل .

transcendent, adj. له معمولی اندازې زیات : فوق العاده ، بی کچه ، بی ساری .

transcendental, adj. له معمولی اندازې نه زیات : خارق العاده : بی کچه ، بی ساری ، بی اندازې : له ازمېښتنه پورته ، له تجربې نه جګه .

transcendentalism, n. (فلسفه) ترانسینډنټلیزم ، د فلسفې هغه لار چه د هغې مرکزی عقیدې له مخې حقیقت او واقعیت د انسان د تجربې نه پورته ګڼلی شی .

transcontinental, adj. له یوې لویې وچې تر بلې لویې وچې پورې ، د یوې وچې د یوې غاړې نه تر بلې غاړې پورې .

transcribe, v.t. نقلول ، پوره لیکل ، کاپی کول ، لنډ یا داشتونه په تفصیل لیکل : ثبتول (دراډیو دپاره) ، ټ کول (دږغ) .

transcript, n. لیکنه ، نقلونه ، کاپی ، نقل : ټک شوی ریکاټ ، ټیکلی .

transcription. پوره لیکنه : نقلونه (دیادداشتونو) : کاپی ، نقل : ټک شوی ریکاټ (ټیکلی) .

transept, n دصلیب ډوله کلیسا صلیب وزمه برخه .

transfer, v.t.i. بدلول : پاتی کیدل (لکه میراث) : قباله کول : موقر بدلول (لکه کور یا وظیفه) .

n. بدلونه ، بدلیده .

transferor, بدلوونکی ، پرېښودونکی

transferee, اخیستونکی (د حق ، ملکیت ، امتیاز ، میراث) .

transferable, adj. د بدلولو وړ ، منقول .

transference, n. بدلون (له یوه ځایه بل ځای ته) ، وړنه .

transfiguration, n. د بڼې ، بدلون ، د څیرې اوښتنه : د عیسی (ع) د رنګ اوښتنه (چه د هغې په مناسبت جشن نیول کیږی) .

transfigure, v.t. بدلول ، اړول (د بڼې) : لوړول ، هسکول (لکه په ستاینه) ، سرلوړی کول .

transfix, v.t. سوری کول ، پورې وړې سوری کول : میخول ، ځای په ځای درول ، کنډول .

transform, v.t. اړول ، گرځول (بڼه، ډول)، بدلول .

transformation, n. اړونه ، بدلون .

transformer, n اړوونی ، ټرانسفارمر .

transfuse, v.t. توېول ، ډکول ، اچول (لکه له یوه لوښی بل ته) : تېرول (لکه وینه له یوه سړی څخه بل ته).

transfusion, n. د وینې تېرونه ، وینه ورکونه .

transgress, v.t. تېری کول ، له اندازې وتل ، له بریده اوښتل: گناه کول ، قانون ماتول ، جرم کول : زیاتی کول .

transgression, n. تېری.

transgressor, n. تېری کوونکی .

transient, adj. تېرېدونکی ، څوورځنی ، بې پایښته ، ژر تللونی ، کم عمری .

transit, n. ټرانزیت ، سفر (له یوه ځایه بل ته) : وړنه ، پورې ایستنه (لکه مال له یوه ځایه بل ته): د توپوگرافۍ د زاویې د معلومولو آله ، کچونۍ .

transition, n. تېرېدنه: بدلون ، اوښتنه ، اړونه .

transitional, adj. د تېرېدو ، د بدلون : تېرېدونی : تللونی .

transitive, adj. د تېرېدو ، د بدلون : تېرېدونی: تللونی : (گر) متعدی فعل ، هغه فعل چه صریح مفعول غواړی .

transitive, n. تېرېدونی : (گر) متعدی .

transitively, adv د تېرېدو په توگه: (گر) په متعدی توگه .

transitory, adj. تېرېدونی ، کم عمری ، د لږ وخت ، بې پایښته .

translate, v.t. ژباړل ، ترجمه کول ، تعبیرول ، معنا کول : ځای بدلول ، تبدیلول .

translation, n. ژباړه، اړونه ، ترجمه

translator, n. ژباړونکی ، اړوونکی ، ترجمان.

translucent, adj. تت ، نیم روڼ ، خړ ، نیم شفاف (لکه غوړ کاغذ یا پړ اړه ښیښه) .

transmigrate, v.t. لېږدېدل ، کوچېدل : تناسخ (د یوه اروا په بل کې ننوتل).

transmigration, n. تناسخ، د یوه کالبوت اروا په بل کې ننوتنه .

transmission, n. تېرېدنه (انتقال) ، رسېدنه: مخابره: رسوونی ، راډیويی خپرونه .

transmit, v.t. استول ، تېرول (انتقالول) ، لېږل: په ارث پرېښودل: خپرول (د راډیويی څپو په واسطه)

transmitter, n. لېږوونکی (آله یا سړی)، ټرانسمیټر ، مرسله .

transmute, v.t. اړول ، گرځول ، بڼه بدلول .

trarsmutation, n. اړونه ، گرځونه ، د بڼې بدلون .

transoceanic, adj. له سمندر څخه پورې ، د سمندر د پورې غاړې ، له سمندر څخه پورې وتونکی .

transom, n. پټری (لکه د کړکی) هغه دړه چه د وره په ساره میخ کیږی : کړکی (د دروازې د پاسه) ، باری ، درشه ، کولك .

transpacific, adj. له اټ سمندر څخه پورې ، له بحرالکاهل څخه اخوا .

transparent, adj. روڼ، رڼا تیروونکی، شفاف : نری ، مهین (لکه خاسه یا ململ) : څرګند ، ښکاره ، روښان : اسان (لکه خبر) .

transparency, n. روڼوالی

transparently, adv. په څرګنده ، په رڼه توګه .

transpire, v.i. خولې کول ، خولې کیدل : وتل ، په ډاګه کیدل ، څرګندیدل (افشاء کیدل) : پیښیدل ، واقع کیدل .

transpiration, n. خولې کیدنه ، خوله ، تاو .

transplant, v.t. نیالول ، نالول : پیوندول (په جراحی کی) : له یوه ځای څخه لیږدول او په بل ځای کی میشتول .

transplantation, n. نیالونه، نال

transport, v.t. وړل ، راوړل ، چلول (لکه بار) : بیخوده کول ، بیده کول (له خوښی یا غم څخه) : شړل ، فرارول .

n. وړنه راوړنه ، ټرانسپورټ ، چلونه : بیخودی ، بیسدی : نقلیه وسیله

transportation, n. وړنه راوړنه (ټرانسپورټیشن) .

transporter, n. چلوونکی ، وړونکی ، راوړونکی .

transpose, v.t. وروسته وړاندې کول ، روڼ بدلول (لکه کلمه په جمله کی): (موسیقی) لاریه (لاری) بدلول ، سور بدلول .

transposition, n. وروسته وړاندې کیدنه .

transship, v.t. له یوې بیړۍ بلې ته اچول ، په بلې بیړۍ کې سپرول .

transshipment, n. د بیړۍ بدلون ، د سپرلۍ بدلون .

transubstantiation, n. د خاصیت بدلون ، د جوهر بدلون : هغه عقیده چه وایی په ربانی عشاء کې شراب او ډوډۍ د حضرت عیسی په غوښه او وینه بدلیږی .

transverse, adj. n. متقاطع ، پرېکوونکی .

trap, n. کړکومی ، تلکه ، لومه : چل ، اړه کی : یو اسپه دوه اراپه بیزه ګاډی : یوه اله چه شیان پاس اچوی داسې چه لاندې ووېشتل شی .

v.t. په لومه کې گښېستل ، په تلکه کې نیول : لومه اېښودل ، تلکه اېښودل .

trapper, n. تلك چی .

trap door, n. دروازه چه د کوټې په غولی یا چت کې جوړه شوی وی .

trapeze, n. ټال ، ډال (په اکروباتی لوبو کې) .

trapezoid, n. هغه څلور ضلعي شکل چه
موازي دوي ضلعي بې موازي وي .

trappings, n.pl. يراغ ، يراق ، داس
کاڼه .

traprock, n. کرېړ ، هغه ووړي تيږي چه
په سړك جوړولو کی ورڅخه کار اخيستل
کيږی ، ژغل ، ږغل (جغله) .

traps, n.pl. کالی ، پنډه کی

trash, n. خزلی ، کيچه (تفاله) ، پاتی
شونی : بې ارزښته ، چټی ، بيکاره

trashy, adj. چټی ، بيکاره :
ګډې وډې (خبرې) .

trauma, n. پرهار ، ټپ : ذهنی ټکان ،
دماغی جرك .

travail, n. ستونزه ، زحمت : دلنګون
درد : دزيږښت درد .

v.i. ستونزه ګالل ، درد تيرول .

travel, v.t.i. سفر کول ، ګرځېدل :
ګرځنده سوداګری کول : يون کول ،
لار وهل .

n. سفر ، يون ، تګ : وړاندې
ورو سته خوځيدنه (دماشين) ،
ګرځېده .

traveler, n. ګرځندوی ، لاروی

traveller, n. ګرځندوی ، مسافر

travelogue, n. دسفر بيان (په تيره چه
مصوروی) : دسفر فلم .

traverse, v.t.i. تيريدل (دڅه شی په
سر يا مينځ کی) : ردول ، درواغ
ګڼل : څوکی ، پيره ، ګزمه .

n. متقاطع ، تير يا لاري

adj. برا برا

travertine, n. هغه کاڼی چه د چينو
او يو له کو نو بی (ترسب) څخه جوړېږی او
په ودانيو کی هم کار تري اخستل کيږی .

travesty, n. ناوړه تعبير (ديوی خبری) ،
پيښې ، پيري : خندنی پيښې .

v.t. پيښې کول : ملنډې وهل .

trawl, n. دکب نيولو لوی اوږد تور
(جال) ، دام ، هغه مزی چه ډير څنځکی
والری .

v.t.i. په کښتوړو زمه جال کښی نيول

trawler, n. دکب نيولو ماکو :
کب نيوونکی .

tray, n. پتنوس : مجمه .

treacherous, adj. ټګ ، درغل : ناباوره ،
بی اتباره ، ناويسا : غولوونکی ،
تيرايستونکی .

treacherously, adv. په ټګی :
په غولوونکی ډول .

treachery, n. ټګی ، درغلی (خيانت) ،
چل ، دروه ، بی لوزی ، بی اتباری .

treacle, n. کلك ، کنډ ، ګوړ وړی ، څوښا
(دوشا) .

tread, v.t.i. پښه ايښودل ، ګام اخيستل :
قدم وهل ، تلل : تر پښو لاندی کول ،
پاځل ، ختل ، نښته يځل .

n. منډه ، پل : پښکالو ، ترپ :
پاټکی ، پوړۍ ، اړيکی : تلی .

treadle, n. رکاب ، پايډل .

treadmill, n. ګاڼی ، څرخ ، هغه څرخ
چه په انسانی يا حيوانی قوه کار
کوی : خوا تودی کار ، يو رنګه ، نه
بدليدونکی چاره .

treason, n. درغلي، خيانت .

treasonable, adj. درغلتوب، خيانت، غدارى ، ددرغلۍ .

treasonous, adj. ددرغلۍ، درغلگرى

treasure, n. خزانه، ارزښتمن، گران بيه

v.t. پاسره کول، خوندي کول .

treasurer, n. زېرمه‌وال ، خزانه دار.

treasure-trove, n. پټه خزانه ، بې څښتنه خزانه .

treasury, n. زېرمه تون، خزانه .

treat, v.t.i. خبرې اترې (مفاهمه) کول ، بحث کول: معامله کول، سلوك کول، چلند کول : ادا کول : دارو درمل کول .

n. خوښي : مېلمستيا .

treatise, n. پوهن ليك (علمى رساله)، سيستماتيکه څېړنه .

treatment, n. چال چلند: دارو درمل : ډول، سلوك .

treaty, n. تړون، لوزنامه .

treble, adj. n. درې ستوى ، درې گون: (موسيقى) نرى زيل، لوړ ږغ .

v.t.i. درې ستوى کول ، درې خوا کول .

trebly, adv. په درې لايه توگه .

tree, n. ونه: ډډ ، مڅه، تنه: شجره .

v.t. په ونه خېژول ، ونې ته پناه وړل .

treeless, adj. بې ونو، لغړ ، بربنډ، سپېره (لکه مځکه) .

tree frog, n. دونى چونگښه .

treenail, trenail, n. موږى ، د لرگى مېخ .

tree toad, n. دونى چونگښه .

trefoil, n. شوتله ، شفتل : درې پاڼيز انځور .

trek, v.i. کډه کول ، لېږدېدل (د کراچۍ په وسيله)، پړاو په پړاو تلل .

n. لېږد ، کوچ .

trellis, n. چيله ، چچه: څپرى .

trelliswork, n. څپرى تړنه ، چچه کارى .

tremble, v.i. رېږدېدل ، رپېدل ، لړزېدل (لکه له وېرى)، ترهېدل.

n. رېږد ، لړزه: ترهېدنه .

tremendous, adj. ډار لوى: لړزوونکى، وېروونکى : زور ور ، بېشانه : اريانوونکى ، عجيبه : دليدو وړ.

tremendously, adv. په اريانوونکى توگه ، په عجيبه ډول .

tremolo, n ترنگ، اهتزاز (موسيقى)

tremor, n. رېږد ، لړزه ، جړك ، ټکان (لکه دزلزلې).

tremulous, adj. رېږدوونکى ، لړزوونکى : ډاروونکى ، ډارن : ړچنده ، خوځنده .

tremulously, adv. په رېږدېدا .

trenail, n. treenail ته مراجعه وکړى .

trench, n. نرى لښتى: کنده ، ژورغالى: مورچل ، پټ غالى .

v.t. کنده کېدل، لښتی اېستل : مورچل جوړول، ښه غالی کېندل : تېری کول، لاس اوږدول .

trenchant, adj. تېره : روڼ، څرګند : ځیرك .

trencher, n. دغوښو او ډوډۍ د پرې کولو پتنوس و زمه دره .

trencherman, n. خېټو، ګېډو، نس پرستی .

trend, v.i. یوې خوا ته مخه کول، تمایل ښوول : پاملرنه کول .

n. خوا، مخه، تګ لار، میلان، تمایل .

trepan, n. د کوپړۍ د سوري کولو اره (جراحی) .

v.t. په اره سوري کول (د کوپړۍ)

trephine, n. د سرد کوپړۍ د سوري کولو اصلاح شوې اره .

trepidation, n. رېږد : ترهه، تراره، وېره .

trespass, v..i,. تېری کول، لاس اچول، زور زیاتی کول : ګناه کول : بریدماتول، تر پولې ور تېرېدل .

trespasser, n. تېری کوونکی .

tress, n. کوڅۍ، چوټۍ .

trestle, n. ګېډونج، پایه، خرك .

triad, n. درې ګونی، د درو شیانو مجموعه .

trial, n. ازمایښت، آزموینه : ځوروونکی (شی) : کوښښ : محاکمه، مقدمه .

adj. آزمایښتی .

triangle, n. مثلث، درې ګوټه .

triangular, adj. درې ګوټیز، مثلثی .

triangulate, v.t. په مثلثو وېشل، درې ګوټیز کول .

tribe, n. ټبر، قبیله، توکم، کهول، خېل، کورنۍ (لکه د ژوو) .

tribal, adj. قبیلوی، قومی .

tribesman, n. د قبیلې غړی .

tribulation, n.. کړاو، نول، ناورین

tribunal, n. د قاضی ګدۍ (مسند) : محکمه .

tribunate, n. قضا .

tribune. n. په لرغونی روم کی د خلکو د آزادۍ او حقوقو ساتونکی : د خلکو مدافع : ټریبیون (د خطابې مېز)، دریځ .

tributary, adj. کلنګ ورکوونکی، باج ورکوونکی : کومکی (لکه فعل)، معاون (لکه سیند) .

n. کلنګ ورکوونکی : کومکی سیند، تابع .

tribute, n. باج، خراج، جزیه : نمانځنه، ستاینه، مننه .

trice n, شېبه، درنګ .

triceps,, n. دمټ درې سرې پله درې سری

trick, n. چل، چم : تېر اېستنه، غولونه : ځیرکی، چالاکی : خاص عادت، خاصیت، ځانګړی خوی .

v.t. غولول، تېر اېستل : چل کول، ملنډې وهل : سینګارول .

trickery, n. چل ، تېر ايستنه ، غولونه، چالاکي .

trickster, n. چلباز، چلي، چالاك، ټګ .

tricky., adj. د چل، چلي، چلباز .

trickle, v.i. څڅېدل، څاڅکي څاڅکي تويېدل .

n. څاڅکي، څاڅکي څاڅکي.

tricolor, tricolour, n. درې رنګی (بيرغ) .

tricuspid, adj. درې څوکی، درې سري، درې غاښي، درې غوږي .

n. درې څوکی غاښ .

tricycle, n. درې ارابه ييزه سايکل، ګاډي سايکل، درې څرخي .

trident, n. درې غاښي، درې غاښې نېزه .

tried, v.t. ازمويل شوی، د ډاډ وړ، تجربه شوی: خالص، صاف شوی .

triennial, n. درې کليز، درې کلن .

n. درې کليزه پېښه: درېيمه کاليزه (د پېښې) .

trifle, n. کم ارزښته، خوشی، بابېزه .

v.i. بابېزه ګڼل، په ټوکو تېرول (خبره) .

trifler, n. سات تېرونکی، وخت اړوونکی .

trifling, adj. بې ارزښته، لږ، وړوکی.

trig, adj سوتره، سوچه، سپېڅلی، سينګار شوی: څېرك .

trigger, n. ماشه

trigonometry, n. مثلثات .

trigonometric, د مثلثاتو .

trigonometrical, adj. د مثلثاتو .

trill, n. لړزند ږغ، په مخرج کې د سره ورته بې غږو تورو ژر ژر تکرار: د موسيقی د رپېدونکی ږغ .

trillion, n. زر بليونه (په امريکا او فرانسه کی) يو مليون بليون (په المان او انګلستان کی) .

trilogy, n. درې ګونی ځانګړی هنري اثار چه د يو د بل بشپړوونکی وی، درې ګونی مقالې .

trim, v.t. سمول، سمبالول ، جوړول : بياتی کول، خرېيل: سينګارول: پرې کول، سر کپ کول (لکه ونې) .

n. بياتی کول، سر کپ کول : چمتو والی (لکه د بېړۍ)، تياري .

adj. سوتره ، سينګار شوی ، بشپړ جوړ، ډولی .

trimly, adv. په سينګار، په ډول .

trimness,n. جوړښت، ښکلا

trimeter, n. درې توليز نظم ، درې تاليز نظم .

trimmer, n. سينګاروونکی ، ښکلوونکی: د وخت سره چلېدونکی، اپرتونست : په بېړۍ کی د وزن د انډول جوړوونکی .

trine, adj. درې ستوی ، درې ګونی ، درې چنده .

Trinitarian, n. د تثليث منونکی .

trinity, n. تثليث .

trinket, n. ارزان بيه ګاڼه : ګوډۍ ، نانځکه، لوبتکه .

trio, n.	دري ګوني، دري تنه، دري کسیزه ډله: دري کسیزه سندره، دري سازیزه سندره.
trip, v.t.i.	او چت ګام اخیستل، چست ګام اخیستل، سپک تګ کول: بودری خوړل، ټینډک خوړل، تیر وتل، ښوییدل: خوشی کول، خلاصول، ایله کول.
n.	اوچت ګام، چست تګ: چکر، لنډ سفر، دوره: بودری، تیر وتنه، غولیدنه.
tripartite, adj.	دري برخیز، دری ټوکیز: دری ګوني، دری اړخیز، دری خواییز.
tripe, n.	لړی (لکه دغویی) چټیات، بی ارزښته شی.
triple, adj.	دری ګوني.
	دری کسیزه ډله.
v.t.i.	دری ستوی کول، دری چنده کول.
triplet, n.	دری ګوني (اولاد).
triplex, adj.	(triple) وګوری.
triplicate, adj.	دری نقله (لکه درسیدونو) سه پارچه.
n.	دریمګړی، دریمه نسخه.
v.t.i.	یو په دری کول، دری ګوني کول.
tripod, n.	دری پښیز (لکه نغری د کمري پایه).
triptych, n.	هغه انځور یا ځیره چه پر دروډډو کښل شوی او څنګ په څنګ اېښودل شوی وی (په تیره بیا په معبدو کښې).
trisect, v.t.	په درو برخو ویشل، پر درو برابرو ونډو ویشل (لکه په هندسه کښې).
trite, adj.	پیکه، بیخونده، کچه، مبتذل، ډیر استعمال شوی.
triturate, v.t.	اوړه کول، اوډل، میده کول، چوډل.
triumph, n.	سوبه، بری: د بری جشن: بری موندل، بریالی کیدل: د بری اختر کول.
triumphal, adj.	د بری، د سوبی، د سوبی اختر.
triumphant, adj.	بریالی.
triumphantly, adv.	په بریالیتوب، په برم، په خوشالی.
triumvir, n.	د دری ګوني اتحاد غړی (په لرغوني روم کښې).
triumvirate,	دری ګوني اتحاد، دری کسیزه ډله.
triune, adj.	دري ګون، دری په یوه کښې.
trivet, n.	داوسپنی نغری.
trivial, adj.	بی ارزښته، سپک، مبتذل، کچه، خوشی، جزئی، وړوکی.
triviality, n.	بی ارزښتی، کچه توب، ابتذال.
troche, n.	ګولی، تابلیت، دانه.
trochee, n.	دوه سیلا بیز وزن چه لومړی سیلاب یی څجوال وی (په نظم کښې).
trod	د (tread) ماضی او دریم حالت.
trodden.	د (tread) دریم حالت.

troll, v.t. پرله پسې سندرې ويل، په روڼ سندرې ويل: په جګکې ږغ سندرې ويل: د چنګک د راښکودلو په واسطه کب نيول. v.i. په خوشالۍ سندرې ويل. n. پرله پسې سندره، داسې سندره چه يو يې سر کړي او بل يې ور پسې پيل کړي.

trolley, n. لاس ربړه، لاس ګاډۍ (لکه درستوران) برقي ګاډۍ.

trollop, n. کاسيره ښځه، پواډه، ناولې، کچنۍ، فاحشه.

trombone, n. تروم.

troop, n. ډله: ډير، ګڼ: قولۍ، لښکر: دعمارندوی ډله چه له ۱۶ څخه تر ۳۱ پورې وي.

v.i. ډله کېدل، غونډېدل: په ډله تلل.

troopship, n. لښکري بېړۍ، هغه بېړۍ چه لښکر وړي.

trooper, n. درسالې عسکر، سپور پوليس.

trope, n. مجازي معنا، د لغتو مجازي يا شعري معنی، استعاره.

trophy, n. د برۍ نښان، يادګار، ميډال.

tropic, n. يوه له هغو دوو فرضي کرښو چه د استوا کرښې په شمال او جنوب کښې هغې ته نژدې او موازي پرتې دي: (جمع) تودې سيمې چه د چونګاښ او مرغومي د کرښو ترمينځ پرتې دي.

Tropic of Cancer. د چونګاښ کرښه.

Tropic of Capricorn. د مرغومي کرښه.

tropic, tropical, adj. حاره. حاره ييز.

trot, v.t.i. په تراټ تلل: يرغه تلل، څغستل. n. تراټ. څغاسته.

trotter, n. په تراټ تلونکی، يرغه آس.

troth, n. لوز، لاس، ژبه (عهد)، دوفا لوړه: رښتيا، رښتين توب: باور، عقيده.

troubadour, n. د يوولسمې نه تر ديارلسمې پيړۍ پورې د فرانس او شمالي اقاليې د سندرغاړو شاعرانو ډله.

trouble, v.t.i. ناآرامه کول: ويرول، خپه کول، ربړول، په ستونځه اخته کول، دردول، رنځول، خواشينی کول، په لانجه اخته کول، زيار ايستل. n. ناکرارۍ، ناآرامي، ترورولی، ربړ، تکليف. لانجه، تکليف ورکوونکی، ځورونکی، سرخوږی، زيار، کړاو، ناروغتيا، رنځورتيا.

troublesome, adj. ربړوونکی، ځوروونکی، تکليف ورکوونکی.

troublous, adj. مشکل، ربړوونکی، ځوروونکی.

trough, n. اخور (ادخور): ناوه، نل: د دوو څپو ترمنځ واټن: دره: تش، لګن.

trounce, v.t. وهل يا ډبول، ټکول: ماتې ورکول.

troupe, n. د هنرمندانو قولۍ، ډله.

trouper, n. د ډلې غړی.

trousers, n. پرتوګ، پتلون.

trouser, adj. د پرتاګه، د پتلانه.

trousseau, n. د ناوې جوړه، جهيز، د ناوې جامې، داج.

trout, n. د سلمن د کورنۍ کب .

trow, v.t. فکر کول ، چورت وهل : جاج وهل ، سوچ کول .

trowel, n. دسپنه ، ګل ماله ، رمبی .

troy, adj. توله (د سرو او سپینو زرو تول چه دولس اونسه د یوه پونډ سره برابر وی)

truant, n. له کاره غاړه غړوونکی ، تښتېدونکی (د ښوونځی ، دفتر ، وظیفې او نورو نه) ، ناسوب .

truancy, n. تېښته ، له کاره غاړه غړونه .

truce, n. سوله ، اوربند ، تېزه : دمه .

truck, v.t. راکړه ورکړه کول ، تبادله کول ، جنسی تبادله کول .

n. جنسی تبادله ، جنسی راکړه ورکړه : تجارت ، معامله ، د خرڅلاو سابه .

truckfarm, n. د تجارتی سبو کرونده .

truck garden, n, د سبو باغ ، د سبزیجاتو کښت .

truck, n. ریړه ، ګاډۍ ، لاری ، سرلوڅی ریړه ، سرلڅې ریړۍ .

v.t. په ریړه وړل ، په لاری کی چلول .

trucker, n. چلوونکی ، موټروان ، ریړوان .

truckman, n. چلوونکی ، موټروان ، ریړوان .

truckage, n. په لاری کی وړل راوړل ، د وړلو او راوړلو باړه .

truckle, v.i. په اسانۍ ځان سپارل ، ټوډه مالی کول ، چاپلوسی کول ، خوشامند کول .

truckle, n. وړوکی ارابه .

v.i. پر ارابو تلل .

truckle bed, n. ټیټ رغړند کټ .

truculence, n. سختی ، کلکوالی (بی رحمی) ، وحشی توب ، ناترسی .

truculency, n. سختی ، کلکوالی ، وحشی توب .

truculent, adj. سخت زړی ، په زړه کلک ، ناترس .

truculently, adv. په سختی .

trudge, v.i. پښې په ځان پسی راښکل ، پسی ښکول .

true, adj. رښتونی ، وفادار : سم ، درست ، روغ : رښتیانی ، واقعی ، حقیقی ، اصلی .

n. رښتیانی ، سم ، درست .

v.t. سمول ، رغول ، درستول .

adv. په رښتیا .

true-blue, n. کلکه وفاداری ، هوډ .

truffle, n. یو ډول اروپایی مرخېړی یا خرېړی .

truism, n. څرګنده خبره ، څرګندوالی ، څرګند حقیقت .

trump, n. بیګل ، ترم ، ترومپت

trump, n. رنګ (په پتو یا قطعو کی) .

v.t. په پتو کی رنګ ټاکل یا لاس پیول : پتی کول .

trumpery, n. غولوونکی ، لباسی ، پوچ ، بی معنا .

trumpet, n. ترومپت (د ساز اله) ، برغو ، ښکر ، د ترومپت اواز : جار .

trumpeter, n. ترومپټ غږوونکی ، ترومپټ وهونکی .

truncate, v:t. پرېکول ، څوڅول ، سرکپول ، سکوالل .

adj. څوڅ ، سرکپ ، پرېکړی .

truncheon, n. سوټی ، ډبې (د پولیسو)

trundle, v.t.i. رغړول ، چورلول ، څرخول : رغړېدل .

trunk, n. سټه ، تنه ، ډډ (د ونې) تنه (دژوی) ، شونډلک ، شونډک بکس ، پېټۍ ، الهی بلول : ټول بکس (موټر) : (جمع) مایور ، نیکر ، سویچ بورډ .

adj. مواصلاتی .

truss, v.t. انډۍ تړل ، بارتړل ، کلک تړل ، ټینګ تړل ، شکنجه کول ، ترینګل .

n. انډۍ ، پنډ ، بنډل (تخنیکی) اډانه (لکه د کور یا پل او داسې نور) (طب) چجه ، ډډه .

trust, n. باور ، ویسا : باوری ، اعتباری : ذمه وار مقام ، مسئول مقام : چوکیدار ، چوکۍ والا : امانت ، ودیعه ، سپارنه ، امانتی پانګه : د نرخونو د کنټرول موسسه .

v.t.i. باور کول ، ویسا کول ، اعتبار کول : اسره کول ، هیله کول ، تکیه کول ، اعتماد کول ، توکل کول : عقیده لرل ، امید کول .

trustee, n. امانت ساتونکی ، معتمد ، امین : هغه ډله چه د پوهنتون چارې سموی او ګټې یې ساتی .

trustful, n. د باور وړ ، معتمد .

trustfully, adv. په باوره ، په ویساینه .

trusting, adj. باور کوونکی ؛ د باور وړ

trustworthy, adj. د باور وړ ، د ویسا وړ ، اعتمادی ، باوری .

trusty, adj. د باور وړ ، د ویسا وړ ، د ډاډ وړ .

n. اعتمادی ، باوری .

truth, n. رښتیا ، صداقت ، واقعیت ، رښتین والی ، حقیقت .

truthful, adj. رښتونی ، رښتیا ویونکی ، صادق ، سم ، درست .

truhfully, adv. په رښتیا .

truthfulness, n. رښتیا ، سپین تیا .

try,, v.t.i. زیار ایستل ، هاند کول ، کوشش کول ، هڅه کول : آزمویل ، امتحان کول ، تجربه کول ، ترازمایښت لاندې نیول : ویلی کول او نیول محاکمه کول ، ګرویږل .

n. کوښښ ، زیار ، هڅه ، هاند : ګرویږنه : محاکمه .

trying, adj. ترټوونکی ، ځوروونکی ، پکو کوونکی ، ربړوونکی ، نه زغمل کېدونکی .

tryst, n. ژمنه ، (ژمنه) ، وعده (د لیدو) : میعاد ، د کتو ځای .

tsar, n. زار ، څار (روسی امپراتور)

tsarevich, زار . څار (د روسی امپراتورانو کورنۍ) .

tsetse, n. یو ډول افریقایې مچ چه د هغه د چیچلو نه څاروی په ناروغتیا اخته کېږی او انسان د خوب په ناروغتیا اخته کوی .

tub, n. تغاره ، ښانک : ټب : لمبا
(غسل) وړو کې چاټۍ، ماټ (ماټۍ).

tuba, n. ارت خولی تروم ، غټ تروم

tube, n. نل ، کوږی ، ټیوب (لکه
دغاښو د کریم) تر مځکې لاندې
داورګاډي تونل ، اورګاډی.

tuber, n. غوټه، بېخ، مونډ (لکه د پیاز)
دانه (لکه پرمخ)،

tudercle, n. غوټه
(لکه د نباتاتو پرڼو باندې) زخه .

tubercular, adj. پړسېدلی ، ددانې ،
زخن : مسلول ، په نری رنځ اخته.

tuberculate, adj. پړسېدلی (د نری رنځ
له کبله) ، ددانې ، زخن.

tuberculine, n. توبرکولین ، د نری
رنځ د معلومولو مواد .

tuberculosis, n. نری رنځ ، سل ،
توبرکلوز .

tuberculous, adj. په نری رنځ اخته
(مسلول) .

tuberose, n. شینډی و زمه ګل، دریدی
په شان ګل .

tuberous, adj. پړسېدلی ، غوټه

tubing, n. نلونه یا د نلونو لړی : د نلونو
جوړولو مواد : یوه ټوټه نل.

tubular, adj. نل وزمه : د نلونو نه
جوړ شوی .

tubule, n. نلکه ، نلګی ، وړوکی نل

tuck, v.t. نغښتل : ټېل وهل : تاوول
(لکه ځان په بړستن کې)، پټول،
چونډل ، چین وهل .

n. چونډلی ، چین : سپک، انرژی :
ژوند .

tucker, v.t. ستړی کول، ستومانه کول :
ستړیا ، ستومانی .

Tuesday, n. سه شنبه .

tufa, n. یو ډول داوبو دخېړی یارسوب
څخه جوړ شوی کاڼی.

tuft, n. ګېډۍ (د وېښتانو ، سپڼسیو ،
پرو) .

v.t. ګېډۍ کول ، موټی کول

tug, v.t.i. راکښل، څکول، کش کول :
زیار ایستل ، ستونځه ګالل: د بېړۍ
راکښونی په ذریعه راکښل .

tugboat, بېړۍ راکښونی، بېړۍ
کښونی .

tug of war, د رسۍ کشولو لوبه، د پیاستی
کښلو راکښلو مسابقه : دلوړوالی
د پاره هڅه .

tuition, n. ښوونه ، تدریس : د زده
کړې فیس .

tulip, n. غاټول ، خاټول .

tulle, n. ګاج ، نری ورېښمین جالی
ټوکر.

tumble, v.t.i. سرکونډی وهل ، سر په
ځړی اوښتل : په درب لویدل ، په
ځرپ لویدل : رغړول ، څرخول :
غورځول : په غورځو پرځو تلل :
ډنګل ، ټوپ وهل : سرکونډی
کېدل، رغړیدل .

n. لویدنه ، پرېوتنه، غورځېدنه

tumble-down, adj. غورځېدونکی ،
نړېدونکی : پرېوتونکی .

tumbler, سرکونډی وهونکی ، سر په ځمکه اوښتونکی : کټوری : سرکونډی وهونکی کوتره : د کلپ (قفل) هغه برخه چه د کلي د ننویستو په وخت کي یوې خوا ته کېږی او کلپ خلاصېږی .

tumbleweed, n. یو بوټی (یو ډول بوټی) بادوړی .

tumbrel, n. بګی ، ګاډی : یو ډول ګاډی چه د فرانس د انقلاب په وخت کی به یې هغه کسان چه د مرګ حکم به ور باندې شوی و وژل ځای (مقتل) ته وړل .

tumbril, ګاډی .

tumid, adj. پړسیدلی : ډنډ : دډب خاوند . ډډ بډ .

tumor, tumour, n. تومور ، پړسوب ، غوټه ، زیاتی غوښه .

tumult, n. اله ګوله ، غوغا ، شور اوزوږ ، های هوی : ګډوډی : پاریدنه ، ناکراری .

tumultuous, adj. زوږند ، چغند ك : پاریدلی ، ناکرار ، هیاهوی کوونکی .

tun, n. چاټی ، مټ (خم) .

tuna, n. ټونا ، یو ډول سمندری کب چه خوړل کېږی .

tunable, adj. هم تال ، سندریز ، هم آهنګ : خوږ غاړی ، خوږ اوازی ، په سور .

tuneable هم تال ، سندریز ، هم آهنګ : خوږ اوازی .

tundra, n. ټوندرا ، د شمالی قطب پراخه او بې ونو دښته .

tune, n. سور ، تال ، زیروبم غاړه : هم تال جوړښت .

v.t. سورول ، برابرول ، همغاړه کول .

tuneful, adj. جوړ ، هم آهنګ : خوندور ، خوږ : سورناك ، په تال .

tuneless, adj. بې سوره ، بې تاله : بې خونده ، پېکه (موسیقی) .

tungsten, n. ټنګسټن ، یو ډول سپین کلك او درونډ فلز چه په برقی آلاتو (په تېره ګلوب) کې استعمالیږی .

tungsten lamps, د ټنګسټن څراغ .

tungsten steel, د ټنګسټن پولاد .

tunic, n. د لرغونی یونان او روم یو ډول اوږده کالی چه تر پښو به رسیدل ، اوږدې جامې : بلوز : کورتی .

tuning fork, دوه ښاخی (صوتی پنجه) : یوه پولادی آله ده چه دوه څوکې او یو لاستی لری چه د وهلو په ذریعه یې یو مخصوص اواز پیدا کیږی او د موسیقی د آلاتو د سور او تال د پاره ضروری ده .

tunnel, n. سورنګ (تونل) سورنګ

v.t. وهل ، تونل ایستل .

tunny, n. یو ډول غوښن او څورب کب

tuque, n. پکول ، وړینه خولی .

turban, n. پټکی ، پګړی ، لونګی : بې ژبو خولی ، ټوپی .

turbid, adj. په خټو ککړ : تت ، خړ خړ (آسمان) .

turbine, n. څرخ ، توربین ، ټرباین

turbot, n. يو ډول خوندور کب

turbulence, n. اله ګوله ، الړو دوړ : بلوا ، چور چپاو : پاريدنه

turbulent, adj. اله ګوله کوونکی ، شورشی ، ياغی : پاريدلی : توپانی (توفانی).

tureen, n. کونډی ، دښوروا کاسه .

turf, n. چم ، مرغه : خاشاک ، ځغلې : د اسونو د ځغل لار ، آس ځغل (مسابقه) .

turgid, adj. غوړيدلی : پړسيدلی : پوچ ، خوشې .

turkey, n. غټه تمی چرګه ، پيل مرغ ، شوانډ کيز چرګه .

turmoil, n. زوږ ، شور او زوږ : الغاوتلغاو ، ناکراری .

turn, v.t. ګرځول ، چورلول : بڼه ور کول : را په زړه کول : تاوول : اړول : ستنول : په بل مخ اړول : بې ځايه کول : بدلول : تنبول ، په شا کول : مخ کول ، توجه کول ، سپارل : ترجمه کول ، ژباړل : جوړول : ګرځيدل ، تاويدل ، څرخيدل ، چورليدل ، ستنيدل : اوښتل .

n. ګرځيدنه ، څرخا ، تاويدنه ، چورليدنه : د احصا يو پاريدنه ، ګونډی اخيستنه ، ترلهوتنه : چکر وهنه : بدليدنه : کږليچ : پېښه : کار ، چوپړ ، خدمت : وار ، رون : سينګار : ځيره ، جوله ، بڼه : طرز ، چم : ميلان .

turnbuckle. n. يو ميخانيکی آله چه د غځولو او د پرزو د ټينګولو د پاره پکاريږی .

turncoat, n. اوښتی (له مسلک يا نظر يې شخص). مرتد

turner, n. ګرځوونکی ، څرخوونکی ، بدلوونکی : خراد .

turnery, n. د خرادۍ (خراتی) هټۍ ، دخراتی مواد او کارځای .

turning, n. تاويدنه ، څرخيدنه ، چورليدنه : کږليچ ، ګوټ پېر : توږنه ،

turnip, n. منګړ يتې (شلغم) ، ټيپر

turnkey, n. د بنديخانې ساتنوال (محافظ) .

turnout, n. بوده (محصول) : غونډه : اعتصاب : سامان : کالی ، جامې : لګه پيداوار : د اورګاډي څنګلار .

turnover, adj. اوښتی ، اوړيدلی .

n. نسکور : بدلون : خواړه : خواړه : تمام شوی کار ، بشپړه شوې چاره ، ترسره شوی کار : ونج و پار (د اقتصادي چارو دوران) : عوضي کاريګر ، بادله يي مزدور .

labor turnover. عوضی کارګر : اجير .

turnpike, n.: د لارې د محصول اخيستلو ځای : لويه لار .

turnspit, n. کبابی ، وريتوونکی ، سيخ اړوونکی ، د کباب سيخ .

turnstile, n. څرخيدونکې دروازه ، څرخند ور .

turntable. n. ګرځنده چوتره : څرخنده دړه .

turpentine, n. رانجړه ، لنجړه ، تارپين

oil of turpentine. د تارپين تيل

spirits of turpentine, نښتولی نښځی .
turpitude, n. کښته‌توب، ټيټوالی .
turquoise, n. پیروزه ، شین بخن ډبری : پیروزه یی .
turret, n. برج، وړوکې منار: مورچل: تانړه .
turtle, n. کټمیره (د کوترو د کورنۍ څخه یو ډول) ، بوغده .
turtle, n. شمشتی ، کیشپ .
turtledove, n. کټمیره ، بوغده .
turves, n. د turf جمع
tush, n. داړه (داس، پیل او نورو)، ایښ
tusk, n. داړه (لکه د پیل، ځناور) . ایښ
tusker, n. داړه ور (لکه پیل ځناور)
یو ډول دور وریښمو چینجی:
tussah, n. ور وریښمین ، ټسر .
tusseh, دور وریښمو چینجی .
tussore, ټسر .
tussle, v.i. زور و هل ، غېږی نیول، په غېږ سره ور تلل :
n. پهلوانی ، غېږه .
tussock, n. کلوښته ، گیډۍ (د وښو ، وېښتانو او نورو).
tutelage, n. روزنه (تربیه) ، ساتنه ، پالنه: سرپرستی، ترسیوری لاندې، ترسیب لاندې: ښوونه .
tutelary, adj. ساتندوی ، پالندوی، سرپرست، مربی .
tutelar پالندوی، تربیه کوونکی
tutor, n. کورنی ښوونکی، روزونکی ، مربی ، پالندوی .
v.t. روزل، پالل: ښوول: ترڅارنی لاندې نیول، استادی کول .
Tuxedo, n. ماښامی دریشی (د نارینه‌وو)
tuyere, n. موری، مښوکه ، نل : بڼی
white ant, n. وینه (چنجی) ، لرګی خوړونکې خزنده.

whitebait, n. کبوړنی ، د هګیو نه وتلی د کب تنکی بچی.

white birch, n. سپین برچ ، په شمالی امریکا کې یوه ونه چه سپین پوټکی لری او ځوړند ټوکری ، شکری او د ښکلا سامانونه یې له پوټکی څخه جوړېږی.

whitecap, n. هغه څپه چه په ځګې اوړی.

white cedar, n. د لمنځی (ارچی) د کورنی یو ډول ونه چه د اتلانتیك په جبه ایزو غاړو کې شنه کېږی : د دې ونې پوست لرګی.

white-collar, n. مامورین (لکه د دفتر او هغه چه لاسی کارونه نه کوی.)

white elephant, n. سپین پیل : هغه کار چه ګټه یې لږ او زیان یې زیات وی : د اوږو پېټی ، پر اوږو بار.

white-faced, adj. زیړ بیښلی ، ژیړ غوړی

white feather. د بې زړه توب نخښه .

whitefish, n. سپین کب .

white flag, n. سپینه جنډه ، سپین بیرغ چه د اوربند یا تسلیم په وخت کې پورته کېږی.

whitehall, n. هوایټ هال ، په لندن کې د یوې کوڅې نوم دی چه په دواړو غاړو کې یې دولتی ادارې دی : (مجازی) د برتانیې شاهی دولت.

white heat, n. سپین تاو ، د تودوخې هغه زیاته درجه چه مثلا یو فلز له سوروالی څخه سپینوالی ته اړوی .

white-hot, adj. له زښته تاوه سپین

White House, n. سپینه ماڼۍ ، په واشنګټن کې د اتازونی د جمهور رئیس رسمی استوګنځی : (مجازاً) د جمهور رئیس دفتر ، جمهور رئیس .

white lead, n. د سرب سپین رنګ (یا پوډر) .

whiten, v.t.&v.i. سپینول ، سپینېدل

whiteness, n. سپینوالی ، سپین رنګ : د کوڼی زیړ والی : سوتره والی ، سپېڅلتوب .

white plague, n. نری رنځ ، سل. (په تېره بیا د سږو) توبرکلوزیس .

white slave, n. هغه ښځه چه فحشا ته په زور او جبر اړه شوې وی ، لوڅې .

white slavery نوچي گري، فحاشي ته دښځې په زور اړتوب .

whitewash, v.t سپینول په چونه (اهاکو) سره سپین رنگ ورکول: (په اوبو کې) پټ کول، ماتې ورکول، وهل . n. دچونې (اهاکو) او بلن رنگ .

whitewood, n. یو شمېر ونې چې دلرگي رنگ یې سپین بخن دی، ددې ونې لرگي .

whither, adv: چېرې، کوم ځای ته: دپاره، دکوم (مقصد، هدف، اندازې او نورو) .

whithersoever, adv. هرچېرې.. هرځای ته چې . . .

whiting, n. یو ډول اروپایي سپین کب: سپین زر رنگی کب: دشمالي امریکې بلن یوزی کب .

whiting, n. (تباشیر) پسته سپینه خاوره چې دفلزونو درنگولو دپاره کار ځنې اخیستل کېږي .

whitish, adj. سپین بخن .

whitlow, n. گزک، او په اخیستنه، پاړسوب، التهاب .

Whitsun, adj. دمسیحي اختر، عیسوي اختر ته منسوب .

Whitsunday, n. ترعیسوي اختر وروسته اوومه یکشنبه .

Whitsuntide, n. دعیسوي اختر اوومه یکشنبه او وروستې دوې ورځې (چې په لاندې نومونو یادېږي) .

whitsunady سپینه یک شنبه (اوومه یک شنبه) .

Whtmonday سپینه دوشنبه .

Whit-Tuesday. سپینه سه شنبه

whittle, v.t.n.: توږل (په چاکو) غوڅول: لږول، کمول، توږل غوڅېدل (په چاکو)، لویه چاړه .

whiz, whizz, v.i. شنگېدل، ښنگېدل، بړبړېدل . n. شنگهار، ښنگهار، بړهار

who. څوک، چا: کوم یو (وگړی) . relat, pron. څوک چې، چا چې، کوم چې:

whoa, interj. داس ددرولو دپاره بږغ .

whodunit, n. دجاسوسي کیسه یا فلم یا ډرامه .

whoever, څوک چې... چا چې... کوم چې... کوم یو چې...

whole, adj.: ټول، بشپړ، پوره، سمت، روغ، جوړ (نه ویشل شوی، لاس نه خوړلی): د هري خوا پوره، له هره پلوه بشپړ: ټول ټال: سکڼی، سکه . n. پوره بشپړ، ټول ټال .

wholeness, n. بشپړتوب، پوره والی

whole-hearted, adj. رښتونی، ځواړه، دزړه له کومې .

whole number, n. صحیح عدد، روغ عدد (دکسر ضد) .

wholesale, n. په غونډ ډول خرڅول (خرڅېدل: غونډ پلورنه (عمده فروشي، : غونډ خرڅوني: پراخ، عام .

wholesome, sdj. روغتیا بخښونکی ،
ګټور : روغ ، جوړ ، روغ رمټ .
wholesomeness, n. روغتیا، صحت
whole step, n. دموسیقۍ د تالو نو ترمنځه
شېبه اودرنګ.
wholly, adv. په پوره ډول ، په بشپړه
توګه، بېخي : یوازی ، تنها .
whom, pron. د who, مفعولی حالت
چاته، کوم ته، کومو ته، چاته چه ....
whomsoever, pron. د whosoever مفعولی
حالت : چاته چه ... کوم ته چه ....
whoop, interj. شاباسی ، شاباش .
v.i. چغه کول ، کړیکه کول : ټوخل
(په توره یاشنه غاړه) .
v.t. چغه کول : شاباسی ورکول .
n. چغه ، کړیکه (د خوښۍ)
شاباسی: د تورې غاړې د ټوخې آواز.
whooping cough, n. توره غاړه ، شنه
ټوخلې ، ټوخلې .
whopper, n. خورا لوی ، ډېر ستر :
غټ درواغ ، ښکره وردرواغ .
whore, n. کاسیره ، بدامنی ښځه ،
کنچنی ، فاحشه .
whorl, n. کړۍ، ولکه، ول ، ماشوړه :
غړوسکه یاغړشکه ، ګونجه، کات ،
ګونځه.
whortleberry, n. huckleberry و ګوری
whose, د چا .
whoso. whoever, whosoever. و ګوری
why, adv. ولی، څله : په کومه توګه
له څه کبله ، د څه د پاره .
n. سبب ، وجه، توګه .

wick, n. باتی ، پلته ، پلیته .
wicked, adj. بدکاری، بدچلند، ناوړه ،
ګناه کار: بد، ناوړه : زلند، خطرناک:
بېخونده : ناوړه (لکه بدبوی) .
wickedly, adv. په بدۍ ،
په بدکارۍ .
wickedness, n. بدی ، ناوړتیا .
wicker, n. شکرۍ ، ټوکرۍ ، سوده
(سبده) : هغه د روزه (لوخه) چه
ټوکرۍ ځنی او بدل کېږی .
wickerwork, n. او بدنه (د شکرۍ ،
ټوکرۍ ، چوکۍ) .
wicket, n. کړکۍ، دریچه ، باری
(په لوی وره کی وړوکی ور) دورخ
تمبه : (د کرکېټ په لوبه کی هغه
دوه لرګی چه په منځ کی یی توپ
تېرېږی) : کرکټ (یوه لوبه ده) :
د کرکټ (لوبی) : ویکټ : د کرکټ
ډګر .
wickiup, wikiup, n. جونګړه، کوډلی،
څپری .
wide, adj. ارت، پراخ : پلن، پسوردور :
ازاد، له مقصده لیری، له نخښې لیری .
adv. ډېر لیری .
widely, adv. په پراختیا : لیري :
لوی واټن: له نخښې ، مقصد رښتیانه
خطاء .
wide-awake, adj. ویښ، بیدار، چمتو ،
تیار: څارو .
widen, v.t.&v.i. ارتول ، ارتیدل ،
پراخول ، پراخیدل، پلنول، پلنیدل .

widespread, adj. خپور، ویړ، غوړېدلی، واز: تیت، متداول.

widgeon, wigeon, n. یو ډول هیلۍ ده چه د سیندونو او جهیلونو په غاړو کې موندل کېږي او سر یې سپین وي.

widow, n. کونډه.

widowhood, n. کونډتوب.

widower, n. کونډه.

width, n. پلنوالی، سپور: ارتوالی، پراخوالی.

wield, v.t. په مهارت سره استعمالول: چلول: په واك کې لرل.

wielder, n واکمن، لرونکی.

wiener, n. د غوایه د غوښو یا د غوایه او خوګ د غوښو نرۍ ساسیج، نرۍ کلبسه.

wienerwurst, n. د غوایه د غوښو یا د غوایه او خوګ د غوښو نرۍ ساسیج، نرۍ.

wife, n. ماینه، ښځه، مېرمن.

wifehood, n. ماینه توب، مېرمنتوب.

wifely, adj. د ماینې په شان، د ماینې د شان وړ.

wig, n. جوړ شوي ویښتان، مصنوعي ویښتان.

wigged, adj. د مصنوعي ویښتانو لرونکی.

wiggle, v.t.&v.i. خوځېدل (د چینجي په شان)، کوږوږ تلل.

n. کوږ وږ تګ (لکه د چینجي).

wiggly, adj. کوږوږ.

wight, n. شخص، سړی (زوړ اصطلاح).

wigwag, v.t&v.i. مخکښې وروسته کېدل یا کول: د جنډو یا رڼا په خوځولو اشاره کول، د جنډو یا رڼا په ښورولو مخابره کول (شفري مخابره).

n. د جنډو یا رڼا په ذریعه مخابره (شفري مخابره).

wigwam, n. (د امریکایي هندیانو) جونګړه چه په لرګو، پوزیو او څرمنو سره پوښلې شوې وي.

wikiup, د wickiup بل شکل دی. د امریکایي هندیانو جونګړه چه له وښو، لوخوا و لرګو څخه جوړه وي.

wild, adj. بېدیاني، ځنګلي، وحشي، نااېل، ترند: بې واکې، ناروزلی، خودرویه: شړل: ویجاړه: له واکه وتلی، یاغي: په غوسه، په قهر، له عقله وتلی سودایي: لېوال (سیمه ییز): بد چلنده، سرایله، خوشې: تلوسه ناك، بېړندی: غوسه ناك: هردم خیاله.

adv په خپل سري، په بې کابو توب.

n. بېدیا، دښته (دښت)، صحرا، شاړه.

wildly, په وحشیانه توګه.

wildness, n. بېدیا، شاړه، دښت، ځنګل.

wildcat, adj. بې اتباره، ناویسا: بې اساسه.

wild cated, v.t. د تېلو یا ګاز پلټل.

wild cat, n. لېمچي، وحشي پیشی: جنګره سړی، تندخویه (سړی): قاچاق

wilder, v.t. بې لارې کول، بې سره کول.

wilderness, n. چول ، دښت ، بېديا ، بيابان .

wildfire, n. تباه کوونکی اور: ليونی اور: هغه شيان چه ژر اور اخلی او په اسانه نه مری: (مجازاً) ژر خپرېدونکی

wild ofwl, wildfowl, n. داوبو نا ايل مرغان لکه هيلی : بتې او نور .

wildwood, n. ګوښه، بېديا ځنګل چه تګ را تګ نه پکښې کېږی .

wile, n. چل ول، پلمه ، دوکه، غولونه، ټګی، چم .

wilful, adj. ځيلی، خپل خوښی، خپل سری ، هوډی: عمدی، قصدی .

will, n. ميل ، خواهش، اراده : عزم ، ټينګه اراده: خوښه: رضاء: واك: اختيار: هيله: دارادی قوت، دارادی آزادی، خپلواکی: وصيت: وصيت ليك:
v.t., v.i. په خپله خوښه ټاکل: په واك کی راوړل، اختيارول: په خپله خوښه پرېښودل: وصيت کول .

will, v. به (دمخاطب او غايب دمستقبل دصيغو دجوړولو کومکی فعل) دفعل داجراء خواته دفاعل خوښه او تمايل څرګندوی، په فعل کی تاكيد پيدا کوی، دفعل د اجراء ټاکنه کوی: د مستقبل د صيغی جوړونکی کومکی فعل: ديوه شی څومره والی او توان څرګندوی .

willet, n. دچوغکی په شان يو مرغه دی چه د سمندرونو په غاړو کی موندل کېږی او اوږده مښوکه لری .
v.t. د دغه مرغه ښکار کول.

willful, wilful, adj. ارادی، قصدی ، عمدی: ځيلی، هوډی .

willing, adj. راضی، خوښ، مايل، چمتو ، تيار: رضاكار .

willingly, adv. په خوښه، په رضا .

willingness, n. خوښه ، رضا ، چمتو والی، تياری .

will the wisp, n. هغه رڼا چه په شپه کی د بوختو او زيمناکو ځمکو له پاسه ليدل کېږی او دهغی په باره کی اټکل کېږی چه د ګازد بخار څخه پيدا کېږی: هغه غولوونکی شی چه دسړی لاس ته نه ورځی .

willow, n. وله: دولی ارګی: دولی نه جوړه شوی شی لکه د يامه لاستی (عاميانه)

willow herb, n. دژړو ګلابو د کورنی يو بوټی دی چه ارغوانی ډوله ګلان لری .

willowy, adj. دولو، په ولو پوښلی: لوړ دروند باو قاره سړی: نرم او نری .

willy-nilly, adv&adj. په خپله خوښه ، په خپل سر، خپل خوښی ، بی پروا : خامخوا، بی له خوښی .

wilt v.i. ضعف کول: مړاوی کېدل : مړژواندی کېدل : بی زړه کېدل ، زړه اچول: کمزوری کېدل .
v.t. مړاوی کول: مړژواندی کول: کمزوری کول .
n. دونو ناروغی.

Wilton, n. يوډول غالی چه مخ يی بخمل وزمه دی .

Wilton carpet or rug. بخمل وزمه غالۍ .

wily, adj. ټګ، ټګ بر ګټ، دوکمار، غولوونکی .

wimble, n. برمه (د سوري کولو آله)

wimple, n. څپوڼی (د ښځو د سر دسمال) (پخوانی دود دی چه اوس یې هم راهبې ښځې استعمالوی)

v.t. څپوڼی پر سر کول : کتول، کت په کت کول: رپېدل .

win, v.i. ګټل، وړل: بریالی کېدل ، مخکښی کېدل .

v.t. پیدا کول (لکه روزی) لاس ته راوړل، ترلاسه کول: موندل (لکه لار) پسې تلل، اغېزه کول : د جایزه یا مینه ګټل .

n. سوبه ، بری، ګټنه

wince, v.i. ټکان خوړل ، شو اچېدل ، ترېدل (تورېدل) په شا تلل .

n. ټکان .

winch, n. یو ماشین دی چه شیان په پورته کېږي یا کش کېږي، جر ثقیل.

wind, v.t. تاوول ، کوږوږ کول، پېچل: کږول : پېرل ، اودل : ګرځول : سمبالول، په تاوولو کمانی کلکول: څکول ، کشول ، پورته کول . کوږ وږ تلل (لکه د سوی زغاسته): په غیر مستقیم ډول مقصد ته رسېدل: تاوېدل ، غبرګېدل .

n. حلقه ، پېچ .

wind, n. باد : سیلی ، توفان : وږمه، شمیم : اغېزه ، علامه : سا، تنفس: چټی خبره : ځان غولونه: د موسیقۍ آلې چه د پوکلو په ذریعه غږېږي (لکه شپېلۍ ترومپ): د کولمو باد .

v.t توس وهل ، بوی وهل : ساویستل: سېلېدل ، سیاره جګېدل ، دمه کول ، په سا کېدل ، سیاله کول .

windless, adj. بې باده .

wind, v.t پوکول ، پوك وهل (لکه شپېلۍ) .

windage, n. د هوا اغېزه (چه د ګولۍ د لارې د اړولو سبب شي): کږېدنه، انحراف .

wind-blown, adj. باد الوزولی : د سر جوړولو یو طرز دی .

windbreak, n. د ونو ځنګی، د ونو شپول، خصوصاً د ونو لړۍ چه د سخت باد د فشار مخه نیسي .

wind-broken, adj. هغه حالت دی چه د سږو د هوایی سلولونو د چاودلو په اثر په سا کښلو کی تکلیف پیدا کوی .

wind cone, n. بادښود (مخروطی کڅوړه چه د باد سمت ښیی لکه په هوایی ډګرونو کښی) .

windfall. n. باد توی کړی (لکه میوه) ، باد غورځولی (لکه ونه) بادراوړی، غیر متوقعه ګټه یا مال

windflower, n. یو بوټی دی چه ښالی وزمه ګلان لري .

winding, n: کوږووږ ، کږلیچ، ورسك: حلقه ، پېچ ، پېچومی، د پېری .

adj. تاوېدونکی ، ګرځېدونکی ، غړغړېدونکی .

winding sheet, n. کفن

wind instrument, n. د موسیقۍ آلات چه په پوکلو غږیږي (شپېلۍ ، تروم) د پوکلو د ساز آلات .

wood_wind instruments د لرګو د پوکلو آلات .

wood winds . د لرګو د پوکلو آلات

brass-wind instruments د ژېړو د پوکلو آلات .

brass winds.

windjammer, n. بادوان لرونکې بېړۍ د عملې یو تن (عامیانه سمندري اصطلاح)

windlass, n. او چتوونکی څرخ یا ماشین

windmill, n. بادي ژرنده .

window, n. کړکۍ ، بریاله .

windowpane, n. د کړکۍ ښیښه ، د کړکۍ هنداره .

window seat, n. هغه کړکۍ چه د ناستې ځای ولري

window sill, n. هغه تخته (د لرګي کاڼۍ) چه د کړکۍ چوکاټ برې ایښودل شوی دی

windpipe, n. ، سږه غاړه : وچه مرۍ ، قصبته الریه .

windrow. n. د ریبل شوو بوټو کتار (ستری) چه د وچولو د پاره اچول شوی وی ، لاڼ : واښه ، پاڼې یا خځلې چه د باد په ذریعه سره غونډ شوی دی .

windshield. n . د موټر د مخ ښیښه

wind sleeve, wind sock.

wind cone وګوری (باد ښود) .

Windsor, House of n. له ۱۹۱۷ کال نه راپه دې خوا د برتانیې د شاهي کورنۍ لقب .

windup, n. نتیجه ، پای .

windward, n. د باد د راا او تلو پلو (سمندري اصطلاح) .

adv. د باد خواته .

adj. د باد په لوري تلونکی : د باد د خوا .

windy, adj. بادېز ، بادي : باد وهلی : د سېلۍ ، توفاني : په کولمو یا ګېډه کې د باد پیدایښت : لاپو .

wine, n. د انګورو شراب : د مېوو تخمر شوې شیره : نشه .

v.t,v.i. څښل (د شرابو) : د شرابو د څښلو بلنه ورکول ، د شرابو ست کول .

wine cellar, د شرابو د ساتلو ځای .

wine colored or coloured, adj شراب رنګی ، سور رنګی .

wine glass, n. . د شرابو د څښلو ګیلاس

wine press, د انګورو څخه د شیرې ایستلو ماشین یا خم (چاڼۍ) .

Winesap, n. د ژمي د موسم یو ډول تکه سره مڼه چه د زیاتې مودې د پاره ساتل کېدای شي .

wing, n. وزر : ځانګه : (په ملنډو) لاس : ور تل ، الوتنه : وزر وزمه : ډډه ، څنګ ، اړخ : پره ، جنبه : د ودانۍ جناح : شرازه (کلا) : (نظامي) د لښکر کیڼ یا ښي اړخ : د الوتنې په وخت کې د الوتکو بېل بېل سېلو له : په لوبو کې د مرکز د کیڼ یا ښي اړخ لوبغاړی : (تیاتر) لوړ (جناح) .

v.t. وزر ور کول : تېزول (په الوتنه) : الوزول : لار وهل : په وزرکې زخمي کول ، دښمن ټپي کول الوتل .

v.i. الوتل .

winged, adj. وزروال .

wingless, adj. بې وزرو .

wink, v.i. سترګک وهل ، چشمک وهل ، اشاره کول (په سترګو) : رپېدل (دستوري ، سترګې) .

v.t. سترګک وهل ، سترګه رپول ، رپول : د سترګو په رپولو څوک متأثر کول .

n. خوب : دخوب غوټه : غوټه : په سترګه اشاره ، سترګک ، چشمک .

winker, n. سترګک وهونکی ، سترګې رپوونکی : باڼه : سترګې تړوني (داس دسترګو دپټولوشي چه دهغه په سبب آس نه شي کولای یوې خوا یا بلې خواته وګوري) .

winkle, n. یو ډول سمندري غټ حلزون .

winner, n. ګټونکی ، وړونکی : سوبمن ، بریالی : دلوبې اتل .

winning, n. سوبه ، بری .

adj. ګټونکی ، بریالی ، وړونکی : زړه رابښکوونکی ، ښکلی .

winnow, v.i.&v.t. بادول (درشی) ، بېوزی وهل : چاڼول ، اڼول ، تحلیلول ، بېلول ، کمول : غوره کول ، خوښول : خپرول ، تیتول (دباد په واسطه) .

winsome, adj. زړه راښکونکی ، په زړه پورې . خوشالوونکی : خوشال ، خوښ .

winter, n. ژمی ، ژمنی .

v.i. ژمی تېرول .

v.t. په ژمي کې ساتل (لکه دڅاروېو)

wintertide. ژمی .

wintertime, n. دژمي موسم .

wintergreen, n. هغه نباتات چه په ژمي کې شنه وي او له پاڼو څخه یې خوشبویه غوړ ایستل کېږي .

oil of wintergreen. دنوموړي نبات غوړي .

witerize, v.t دژمي د تېرولو د پاره وړ ګرځول ، دژمي د حالاتو د پاره چمتو کول .

winterkill, v.t.&v.i. د ژمي د سړو په ذریعه وژل کېدل .

winter wheat, rye, etc. غنم جودر یا نورچه په مني کرل شوي او په راتلونکي پسرلي یا دوبي کې ریبل کیږي .

wintry, adj. ژمنی ، دژمي ، سوړ ، یخ : ډېر سوړ ، سخت ساړه ، بې خونده ، بې مزې

wipe, v.t. پاکول ، وچول : ورک کول ، له منځه وړل ، وژل : د دوه الونو کوشیرول (په تل غزولو کې) .

n. وار ، ګوزار : پاکونه .

wiper, n. پاکوونی ، د پاکولو دسمال یا ټوکر : دموټر کلینر .

wire. n. سیم ، فلزي مزی : دمزي غزونه : دپنجرې یو تار ، جالي : تلک ، کړ کومی ، اغزن مزی : تیلیګراف ، تیلګرام : سیمه ییز (خاصاً دجمع په صیغه) تر پټې څارنې لاندې ساتنه ، د تیلګراف شبکه : سیمه ییز ، تلیګرافي مخابره : (د آس دځغلولو په لوبه کې) دځغاستې فرضي وروستی حد .

پەمزی تړل ، پەتار ټینګول ، v.t.
سیم کښول یاغځول (لکه د برق) : پە
تلکه کی نیول : (سیمه ییز) د مزی
پەذریعه خبرورکول .

v.t.

wiredraw, adj. سیم ځنی جوړول : اوږد
دول (لکه خبره) ، اوږده دلیلونه ویل .

wireless, adj. بی تاره .

wireless telegraph, n بی تاره تیلیګراف

wireless telegraphy بی تاره تیلیګرافی
مخابره .

wireless telephone, n. بی سیمه تیلفون

wireless telephony, n. د بی سیمه
تیلفون چارې .

wirepulling, n. د تار پە را کښولو
د ناوکیو (نا ځرګکو) د نڅالوبه ، پە
سیاست کی دلاس ګوډاګی (ناوکی)
ګرځونه .

wireworm, n. د خزدکی (ګونګټ)
وزمه چینجو لاروا .

wiring, n. د برېښنا د مزیو (خصوصاً)
د کور د برېښنا د مزیو غزونه .

wiry, adj. دتاره جوړ شوی یاتاروزمه ،
سیم وزمه : دتار پە شان .

wisdom, n. هوښیاری ، حکمت ، ځیرکتیا :
عقل .

Wisdom, n. د تورات هغه برخه چه
د سلیمان د هوښیاری پە باب ده .

Wisdom of Solomon . د سلیمان (ع)
هوښیارتیا او ځیرکتیا .

wisdom tooth, n. د عقل غاښ (هغه غاښ
چەدژامی پەپای کی د (۱۷- ۲۲) کلو
پە عمر پیدا کیږی .)

wise, n. بڼه ، ډول ، طرز ، وجه .

wise, adj. پوه ، هوښیار ، ځیرک : پە
ښه او بد پوه ، د تمییز خاوند ، خبر ،
خبرداروونکی ، خبرشوی .

wisely, adv. پە هوښیارتیا ، پە
ځیرکتیا .

wiseacre, n. پە ځان ویسا احمق ، هغه
څوك چه پوهه نه لری او ځان پوه ګڼی ،
ناپوه .

wisecrack, n. مسخره ، پەرمز ټوکه .

wisecrack, v.i. پەرمز ټوکه کول

wish, v.t. هیله کول ، ارزو کول ،
غوښتل : پېرزوینه لرل : غوښتل (سوال
کول) : دعا کول .

v.i. هیله لرل ، غوښتل کیدل : د هیلی
ښکاره کیدل .

wishbone, n. چیناغ ، ګروه ، غوالکی .

wishful, adj. هیله من ، ارمانجن .

wishy—washy, adj. نری ، اوبلن : رنځور
غاړی ، بی خونده (سړی) .

wisp, n. وړه ګوډه (دوښو ، ټاټو) :
کلوښته یاغوټچه (د ویښتانو) مجازاً
وړوکی ، تنکی : لږ ، خاشه ، بوټی .

wist. د wit ماضی ده .

wistaria, wisteria, n. خود رو یه پیروت
وزمه دلوبیا له کورنۍ بوټی دی .

wistful, adj. لیوال ، ارمانجن ، هیله
من .

wistfully, adv په لېوالتیا، په ارمان، په هیله.

wistfulness, n. لېوالتیا، ارمان، هیله.

wit, v.t.&v.i. پوهېدل. to wit یعنې

wit, n. (معمولاً د جمعې صیغه) پوهه، عقل، د ماغې قوت: تمییز: څېرکې، ذکاوت: ادراك، رسېدنه، ظرافت، ټوکماری، ټکاله: ټوکمار.

witch, n. کوډگره (ښځه)، جادوگره، شیشکه، بلا: (سیمه ایز) ډېر ښکلې وگړی.

v.t. کوډې کول، جادو کول.

witchcraft, n. کوډې، جادو.

witchery, n. جادوگري، کوډگري: ښکلا: زړه وړنه.

witch hazel, n. د شمالي امریکې یو ډول بوټی دی چه د پاڼو تر لوېدو وروسته واړه واړه ژړ گلونه نیسي: ددې بوټي د پوټکو څخه ایستل سوی الکولي محلول چه دارو په توگه کار ځنې اخیستل کېږي.

witching, adj. کوډگر، د کوډو، مسحور کوونکی.

witenagemot, witenagemote, n. د (انگلو ساکسون په تاریخ کې) سلطنتي شورا گڼله کېده.

with, prep. سره (لکه د ده سره)، په مقایسه کې، برابر.

withal, adj. (ارغوني اصطلاح) سربېره پردې: پرته، بې له . . : سره د ټولو، له بلې خوا.

prep. (ارغوني اصطلاح) سره، بري، په.

withdraw, v.t. بېرته اخیستل، راکښل، ترشا تلل، راایستل، پرېښودل: تلل، ستنېدل، لاس اخیستل.

withdrawal, n. بېرته اخیستنه، لاس اخیستنه، ترشا تلنه.

withe, n. لښته، نری تنکی لښته.

wither, v.t.i. مړاوی کول (کېدل)، کمزوری کول (کېدل): گونجې کول (کېدل): وچول، وچېدل.

withers, n. (معمولاً د جمعې په صیغه) دآس د شې بېخ، دآس داوږو منځ.

withhold, v.t. منعه کول، بندول، درول، تم کول: ډډه کول، ځنډول، ځان ژغورل.

within, adv. دننه، پکښې، په ساحه کې، په حدودو کې: تر اغېزې لاندې.

without, adv. بې له، پرته: ورچنې، بهر، دباندې: یوازې، گوښې، ځانله، جلا، بېل: خالي (عاري).

withstand, v.t.&v.ii. په مقابل کې درېدل، ټینگار کول، مقاومت کول: ټینگېدل، په مقابل کې درول، ټینگول.

withy, n. نری لښته، تنکی لښته.

witless, adj. بې مغزه، بېها (بوده)، شوده، بې علقه.

witness, n. لوونه، شاهد، شاهدي.

witticism, n.	مسخره، ټوکه، ټکاله، لطیفه .
witting, aj.	په لوی لاس، قصدی، عمدی، ارادی .
wittingly, adv.	په لوی لاس، عمدی، قصداً .
witty, adj.	هوښیار ، ځیرك ، ټوکمار
wive, v.t.i.	واده کول (کېدل) .
wives, n.	ماینې، د wife جمعه ده.
wizard, n.	کوډګر، جادوګر، ساحر: مداری : چالاك .
wizardry, n.	جادوګری، سحر، طلسم .
wizened, adj.	وچ، ګونجلك، مړاوی، جینګړ .
woad, n.	داوری د کورنۍ یو اروپایی بوټی دی چه د پاڼو څخه یې یو ډول شین رنګ جوړیږی: هغه رنګ چه ددې بوټی څخه لاس ته راځی .
woadwaxen, n.	woodwaxtn. و ګوری
wobble, wabble, v.i.	کوږ وږ تلل ، ټالی خوړل: رږدېدل، په زنګېدو تلل مترددکېدل .
wobbly, wabbly, adv.	په زنګېدو.
woe, wo, n.	(لرغونې اصطلاح) ډېر غم ، ویر .
woebegonewobegone, adj.	غم ځپلی ، خپه، غمجن، خواشینی .
woeful, woful, adj.	غمجن، بې وزلی ، دزړه سوی: بدمرغه : بې ارزښته .
woefully, wofully, adv.	په غم ، په خواشینۍ، په بدمرغۍ .
woke.	د wake. ماضی ده.
wold, n.	دښت، شاړه، مېره .
wolf, n.	لېوه، شرمښ : سرابښ ، وږو سترګی، داړونکی: چالاك: ناترس ، بې رحمه، سختزړی .
v.t.	سرابښنده خوړل، نغړل .
wolfberry, n.	په لوېدیځه امریکا کی دچمبېلی د کورنۍ یو بوټی دی چه سپینه توت وزمه مېوه نیسی .
wolfhound, n.	یو ډول لوی تازی ته ورته سپی چه یو وخت دلېوانو دښکار دپاره روزل کېده .
wolfish, adj.	لېوه وزمه، شرمښ وزمه ، داړونکی، ماتوونکی .
wolfram, n.	ټنګسټن (د فلزاتو دډلی یو کیمیاوی عنصر) .
wolfsbane, n.	یو ډول وښناك (زهرجن) بوټی .
wolverine. wolverene, n.	د توړلمی (خپك) له کورنۍ یو ډول چاغ ژوی دی: په غټه (W) دمشیګن اوسېدونکی .
wolves, n.	د wolf. جمعه.
woman, n.	ښځه، ښځینه جنس: ښځنوکی: ښځیتوب: خدمتګاره .
womanhood, n.	ښځیتوب: ښځینه صفات: ښځې .
womanish, adj	ښځنوکی، ښځې وزمه ، ښځینه، ښځینی .
womankind, n.	ښځې .
womanlike, adj.	ښځینه .
womanly, adj.	ښځینه، ښځینه صفات لرونکی .

woman suffrage, د ښځو د رايې ور کولو حق .

womb, n. زيلانځ (رحم)، د رحم غوندې ساختمان .

wombat, n. ومبات (يو ډول تي لرونکى استراليايي يږوزمه ژوى) .

women, n. د (woman) جمعه .

womenfolk, n. ښځينه جنس ، ښځې .

won. د win. ماضي

wonder, n. حيراني ، هك پكتيا ، تعجب ، اريانتيا : معجزه .

v.i. اريانېدل ، هك پك كېدل ، هېښ كېدل .

v.t. اريانول ، هك پك كول ، هېښ كول .

wonderful, adj. هېښوونكى ، هك پك كوونكى ،

wonderfully, adv. په تعجب ، په اريانتيا .

wonderland, n. د عجايبو ځمكه .

wonderment, n. اريانى ، تعجب ، هك پكتيا ، هېښتيا : اعجاز ، معجزه .

wondrous, adj. هېښوونكى ، هك پك كوونكى ، اريانوونكى .

adv. په اريانتيا ، په تعجب ، په هېښتيا .

wondrously, adv. په اريانتيا ، په تعجب ، په هېښتيا .

wont, adj. روږدى (روږد)، آموخته .

n. روږدتوب ، عادت ، دود ، رواج .

wonted, adj. معمولي ، روږدى ، عادي ، د عادت له مخې .

woo, v.t.i. مينه ښكاره كول ، رضا كول (د معاشقې د پاره) : پلټل ، لټول : ټينګار كول .

wood, n. لرګى : (معمولاً د جمعې په صيغه كې) ځنګل : بش (چار تراش) : له لرګي جوړ شوى .

adj. له لرګي جوړ شوى ، د لرګي (د لرګي د پرېكولو او نيولو وړ) : ځنګلي (بوټي ، ژوي او نور) .

v.t. د ونو كرل : لرګي ور ته برابرول

wood alcohol, n. ميتانول (سپيرټ) ، ميتايل الكول (هغه الكول چه د لرګيو څخه اخيستل كېږي) .

woodbine, n. يو ډول زينتي پېروت وزمه بوټى چه پر ديوالو پورته كېږي واړه خوشبويه ګلان لري : پېچك ، پېروته .

wood block, n. د لرګي برغنډ ، د لرګي ټوټه ، بنډكى : د لرګي ټوټه چه كومه څېره يا كوم انځور پكښې توږلى شوى وي : خاب (مهر) چه په دغه ټاپه جوړ شوى وي .

woodchuck, n. په شمالي امريكا كې د مږود كورنۍ يو غښتلى ژوى دى چه زېږي وېښته لري او ټول ژمى په ځمكه كې د ننه بيده وي .

woodcock, n. يو ډول مرغه دى چه لنډې پښې او اوږده مښوكه لري او ښكار يې كېږي .

woodcraft, n. ځنګل پېژندنه ، ځنګل پوهنه ، خصوصاً د ځنګله د ښكار د چارو پوهنه : د لرګو صنعت .

woodcut, n. په لرگي کي انځور، منبت کاري، د لرگي ټاپه.

woodcutter, n. لرگي ماتوونکی، لرگي څیروونکی.

wooded, adj. په ونو پټ، له ونو ډک.

wooden, adj. د لرگي، لرگين: کلک، لرگين: بې سا، بې ژونده: ناپوه.

woodland, n. ځنگل، د ځنگله سیمه.

wood louse, n. یو ډول کوچنی بیضوي شکله ژوی دی چه سخت پوست لري او تر لندو خاورو او ورستو لرگو لاندي ژوند کوي.

wood nymph, n. د ځنگله ښاپېرۍ (یو افسانوي موجود دی چه دونو سره یو ځای زیږي، دونو په پاڼو کي ژوند کوي او دونو سره یو ځای مري): تاروگی، پتنگ، پرپرکی: غزي (یو ډول وړوکي مرغۍ ده).

woodpecker, n. ترکاڼک، ټکټکی، وړه مرغۍ ده چه کلکه مښوکه لري، دونو په سټو پوري نښتلي او دونو د پوستکو څخه چینجي را باسي او خوري یې

wood pigeon, n. یو ډول اروپایي کوتره ده چه په غاړه کي سپین بخونه پټه لري: د امریکا په شمال لویدیځ کي یو ډول سارایي کوتره ده چه په لکۍ کي توره پټه لري.

woodruff, n. داوښکک (اوښکرۍ) د کورنۍ یو خوش بویه بوټی دی چه د شرابو د خوشبویه کولو د پاره په کار یږي.

woodshed, n د لرگو د ساتلو کوټه یا کوډله.

woodsman, n. ځنگلی: د لرگو د صنعت ماهر: لرگي ماتوونکی.

woodsy, adj. ځنگلی، د ځنگله. (امریکایی اصطلاح).

wood tar, n. رنځره، ننځره (د لرگي قیر).

wood turning, n. خرادي (خراتي).

wood turner. خراد.

woodwaxen, n. د لوبیا د کورنۍ یو بوټی چه ژړ گلونه لري.

woood winds, n. د موسیقۍ لرگینه آله چه په پوکلو ږغول کېږي لکه شپېلۍ او نور.

woodwork, n. د لرگي څخه جوړ شوي شیان (چوبکاري).

woody, adj : په ونو پټ، له ونو ډک: لرگين: لرگي وزمه.

wooer, n. مینې ته رابلونکی، معشوقې ته راضي کوونکی.

woof, n، پوده (پود)، پلیتن: اوږدنه، اوبدنه: ټوکر.

wool, n. وړۍ، وړین ټوکر: لنډ پنډ ویښتان، کوږ کوټي (کوټې کوټې) ویښتان: وړۍ وزمه.

woolen, woollen, adj. وړین، پشمي.

n. وړین ټوکر.

woolgathering, n.، دوړیو ټولونه (د پوټو، ولو او خاشو څخه).

adj. سودایي، وسواسي، اندېښمن، او تر.

woolgrower, n دوړيو د لاسته راوړلو دپاره د څارويو روزونکی .

woolly, adj. وړين ، د وړيو ، وړی وزمه : په وړيو کالېو پټ ، وړی لرونکی : شډل (غير مهذب): وړين کالی : مېږه .

woolpack, n انخی ، سڼی (غڼی) : غړی شکه (غړو سکه) اوريغ ، کنډو کی وريغ.

woolsack, n. جوال ، غونډی ، له وړيو ډکه نالی (نالی) چه دلارډانو رئيس پری کښېنی.

word, n. لغت ، کلمه ، خبره ، لفظ : وعده ، ژمنه ، لوز: څرگندونه، اعلان، خبر ، اطلاع ، دشپې نوم : امر، حکم: ناندری ، جگړه : وينا ، خبرې اترې : صحيفه (وحی)، مسيح (ع).

v.t. ويل ، په الفاظو څرگندول ، وينا کول ، محاوره کول چوپ (چپ).

wordless, adj. پټه خوله ، غلی.

wording, n. وينا ، خبره ، دخبرجوړونه.

wordy, adj. وياند ، الفاظ : لفظی .

wore. د wear ماضی .

work, n. کار، زيار، ربړ گاللنه ، چار: دنده ، وظيفه: دکار محصول: کړنه، اثر: شاهکار، بوخ کار : ددماغ محصول (لکه تأليفات) : انځور ، کښېده: د انجنيری دفن په اساس جوړ شوی (لکه، ساعت ماشين): ټاپريکه، چار ځای: (جمع) د ميخانيکی شيانو متحرکی برخی : کار کوی ، د کار استعداد : ځکې:(ميخانيک) دانرجی اوښتونه (لکه د برښنا) قوه په بېلو بېلو ډولو نو .

adj. د کار، دزيار .

v.i. کېدل، کول: زيار کښل، زحمت گالل: بوختېدل، لگيا کېدل: اغېز کول، اثر کول. پای ته رسېدل، په تکليف اجرا کول: ايشول، خمير کول:

v.t. په زيار رغول ، په زحمت جوړول: پشپړول ، پوره کول: ايستل (لکه کوچ ايستل): کول ، اجراه کول: لگيا کول ، بوختول، په کار اچول، تر پښو ايستل ، په پښو غوښتل (لکه د کار د پاره په يوه سيمه کښې گرځېدل) په زيار اډول، په زحمت بدلول: ورو ورو يوه ټاکلی حالت ته راوستل. اودل، او بدل (په سيخونو لکه دبنيان) گنډل : خلاصول ، پراېستل، حل کول : دخپل غرض دپاره (له يوشی شخه) کار اخيستل: اريانول، پارول، څپه کول.

workpeople, n. زيار کښان ، کارگران .

workroom, n. دکارخونه ، دکار کوټه .

workshop, n. کار ځای، ورکشاپ

worktable, n. دکار مېز .

workable, adj. دکاروړ ، کېدونکی .

workaday, adj. دکار دورځو، دکار وړ ورځ: عادی ورځ، معمولی ورځ

workbag, n.. دکارگرو دسامان بکس

workbench, n. د کار گرد کار کولو چوکۍ (لکه د ترکاڼ).

workday, n. د کار ورځ: د ورځې د کار وخت.

worker, n. کارگر، زیار کښ، مزدور: (ژوبوهنه) کارگر (مچۍ او مېږی)، د شاتو د مچیو او مېږیانو هغه ډله چه کار کوی.

workhouse, n. (انگریزی اصطلاح) مرستون، دارالمساکین، (هغه موسسه چه د کار وړ سوالگر به کار اچوی): (امریکایی اصطلاح) دارالتأدیب، د معمولی مجرمانو د اصلاح کولو زندان.

working, adj. د کار، کار کوونکی، زیار ایستونکی: بوخت، په کار گومارلی: د کار وړ، د کار بېیا: خمیره شوی: د کار کومکی.

n. کار، زیار، عمل: جوړونه، سمونه، رغونه: سپړنه، حل: (د جمع په صیغه) کیندنه: خمیره: رپېدنه (د مخ، سترگی، یا بل غړی عصبی رپېدنه).

workingman, n. کارگر، مزدور، زیار کښ.

workman, n. مزدور، اجیر، اکثراً ماهر کارگر.

workmanlike, adj. ماهرانه، استادانه.

workmanship, n. مهارت، اوستادی، هنر، کاریگری.

workout, n. د استعداد ازمایښت: تمرین مشق، مسابقه.

world, n. نړۍ، کاینات: نړیوال، عالم، خلك: د ژوند یا عمل صحنه: د ژوند لار: توښه، زېرمه: انسانی چارې او هڅونه: موسسه، ټولنه: کوټه، انبار، زښت ډېر: نړۍ، دنیا (لکه د ژوبو، موسیقی، اسلامی او نورو دنیا): مملکت قلمرو (لکه د شهرت، نفوذ او نورو).

worldling, n. دنیوی، د دنیا د چارو سړی.

worldly, adj. دنیوی، د دنیا، مادی، غیر روحانی: پردنیا مین: د دنیا د چارو پوه، ځیرك، فانی.

worldliness, n. دنیاوی چارې، د دنیا خوښونه.

worldly-wise, adj. د دنیا په چارو پوه.

world-wide, adj. جهان شمول، په ټوله نړۍ کښې خپور.

worm, n. چینجی: پېچ: متواضع سړی: چینجی وزمه، کوږ و وږ: اوږده، پیاو: د نس چینجی.

v.i. په ټګۍ سره مطلب ته رسېدل.

v.t. په ټګۍ سره مطلب ته رسول: له چینجیو نه پاکول.

wormy, adj. چینجن.

worm-eaten, adj. چینجن، چینجو خوړلی: وروست.

worm gear, n. څرخه، د تار څرخه: د څرخی گراری او څرخ یی.

worm wheel, n. گراری، چکلی.

wormwood, n. زوېل، ستیاره او د هغی له کورنی نور بوټی، تریخ، خپه کوونکی تریخوالی (لکه د مزاج).

worn. د wear ماضی.

worn-out, adj. موښلی ، وروست ، زوړ ،
ستومان ، ستړی .

worry, v.t. غمول ، تزنول ، ربړول ،
کړول .

v.i. تشویش کول : چیچل : نولیدل .

n. نارامی ، تشویش ، ربړ : سودا ،
بی فایدې چورت .

worse, adj (د bad مقایسوی صفت)
ډېر بد ، زیات ناجوړ : ډېر خپه کوونکی ،
خورا خوابدوونکی .

n. ډېر بد ، خورا بد .

adv. ډېر بد ، خورا ناوړه ، ډېر خراپ

worsen, v.t.& v.i. ډېر خراپول ، بدترول ،
لاخراپېدل ، بدتره کېدل .

worship, n. لمانځنه ، درناوی : لمونځ ،
عبادت ، بندگی .

v.t. نمانځل ، ستایل ، درناوی کول :
بت گرځول ، معبود گرزول .

v.i. لمانځل کېدل ، معبود گرځېدل

worshiper, worshippr, n. لمونځ
کوونکی ، لمانځونکی .

worshipful, adj. ددرناوی وړ ، محترم :
لمانځلی .

worst, adj. د bad د مبالغی صفت :
تر ټولو بد .

adv. خورا زیات بد .

n. تر هر څه بد ، تر هر چا ناوړه ،
تر ټولو خراپ : ماته ورکول ، بری
موندل .

worsted, n. پشمی ، وړین تار ، وړین
ورېښل شوی تار .

wort, n. نبات ، بوټی ، واښه .

wort, n داوربشو اوبه چه تخمر شوې
نه وی یا تخمر شوی وی (د بیرود
جوړولو دپاره) : هغه ماده چه د بیرود
تخمر دپاره استعمالیږی .

worth, adj. ارزښت : بیه ، ښه والی ،
خاصه ، وړتیا ، سپڅلتیا ، پرځای ،
اهمیت : ثروت .

worthless, adj. بی ارزښته ، بی کاره ،
بی فایدې ، بی قیمته .

worthlessness, n. بی ارزښتی ،
بی قیمتی .

worth-while, adj. ارزښتناکه ، پرځای

worthy, adj. وړ ، ارزښتناک ، جوگه ،
مستحق .

n. وړ سړی ، جوگه سړی ،
وتلی سړی .

worthily, adv. په ارزښتناک ډول .

worthiness, n. وړتیا ، ارزښت ، قیمت

wot. د wit ماضی

would. د will ماضی .
دمستقبل او ماضی د جوړولو د پاره
کومکی فعل دی چه ددغو توکو افاده
کوی : د خوښی او ارادې ، د نیت
اودقصد : د ټاکنی او تعیین : دغوښتنی
او هیلی : دډول او وضعیت شرگندونه
کوی .

would-be, adj. غوښتونکی ، په راتلونکی
وخت کی ... کېدونکی .

wound, n. ټپ ، زخم ، پرهار :
توهین : صدمه .

v.t.&.v.i. زخمی کول ، زخمی کېدل

wound, د (wind.) ماضی او دریم حالت

wove. د weave. ماضي .

woven, n. د weave. دریم حالت .

wrack, n. ورانی، ړنګېدنه، تباهي: نباتات چه داوبو دڅپو په اثر دسیند غاړې ته راوړل شوي وي .

wraith, n. روح، خیال .

wrangle, v.i.t. ناندرۍ وهل، جګړه کول: مناقشه کول: جنجال کول .

n. جګړه، جنګ، ناندرۍ، مناقشه، نزاع .

wrangler, n. مناقشه کوونکی .

wrap, v.t. پېچل، تاوول، پټول، نغښتل .

v.i. تاوېدل، غبرګېدل .

n. شړۍ، کمپله، شال: هغه جامې چه پر اوږو و سر پوره اغوستلې کېږي .

wrapper, n. پېچوونکی، شوځه، چوخه، چپنه، د کاغذ پوښ: ارته پاسنۍ جامه: لفافه .

wrapping, n. د کاغذ کڅوړه، لفافه، پاکټ .

wrasse, n. یو ډول کب دی .

wrath, n. خشم، غوسه، قهر، غضب

wrathful, adj. غضبناک، په غصه، په قهر

wrathfully. adv. په غصه، په قهر، په غضب .

wreak, v.t. زړه تشول (پر چا)، دزړه تناکې چول، دزړه تاوا یستل: تلافي کول

wreath, n. غړوشکه (لکه دلوګي): ګېډۍ (د ګلونو) .

wreathe, v.t.&v.i. تاوول، تاوېدل، نغښتل کېدل، ګونجې کول، ګونجې کېدل (لکه په موسکا کې مخ): کتول، کت کېدل، غبرګېدل، غبرګول .

wreck, n. کښتۍ، ماڼۍ یا موټر او نور چه د توپان، حادثې یا داسې نورو عواملو په واسطه ړنګ شوي وي: بېځي ډنګر سړی: د بېړۍ ټکر: ړنګوالی، نړېدنه .

v.t ټکر ور کول، ړنګول، په خطر کې اچول (د ټکر په ذریعه)، ماتول، ویجاړول

wreckage, n. مات، کنډکپر، ړنګ: دمات شي ټوټې .

wrecker, n. ورانوونکی، ویجاړوونکی: سړی یا بل شی (لکه موټر) چه وران شوي شیان ټولوي، هغه سړی چه زاړه ځایونه نړوي .

wren, n. چتۍ، چتکی، یو ډول د بلبل د جنس څخه وړوکی سندرغاړې مرغۍ ده .

wrench, n. رینچ، پانه: جټکه، ټکان، تأثر: په زور سره تاوونه: خوږ، درد، خټنه (د بندونو، دلاس ګوتو او نورو) .

v.t. ایستل، خېژول، کښښل (له بنده): اړول (حقیقت د خبرې)

wrest, v.t. په شدت سره کشول، تاوول: په زحمت سره نیول یالاس ته راوړل .

n. رینچ، پېچ تاو، د ساعت د کوک کلی .

wrestle, v.i. غېږ نیول، پالواني کول، په غېږ ور تلل: زیار ایستل، مسابقه کول .

v.t. په مسابقه اچول، په غېږ ور وستل .

n. غېږ نیونه، هاند، مسابقه .

wrestler, n. پالوان، غېږ نیوونکی .

wrestling, n.	غېږ ، پهلواني .
wretch, n.	بې وزلى ، بدمرغه ، سپېره ، بدبخته : ټيټ ، کم اصل .
wretched, adj.	خواشينى ، بې وزلى ، غم زپلى ، غم لړلى : خواشينوونکى ، غمناك د کرکې وړ : ټيټ .
wretchedness, n.	خواشيني ، بې وزلي ، غم ، پسخاك .
wriggle, v.i.&v.t.	رغښتل ، تاوېدل ، رغړېدل ، کوږووږ تلل ، په چل ول ځان خلاصول .
n	رغښتنه ، تاو ، پېچ ، رغړېدنه .
wriggler, n.	رغښتونکى ، رغړېدونکى تاوونکى : د غماشي چينجى (شفيره يا بطيطه) .
wright, n.	جوړوونکى ، استاد .
wring, v.t.	نښتېښل ، پېچل ، تاوول : په زور لاس ته راوړل .
wringer, n.	نښتېښونکى (سړى ، ماشين)
wrinkle, n.	گونجه ، گونځه ، گنځور تجويز يا چل .
v.i.	گونجې کېدل .
v.t.	گونجې کول .
wrist, n.	دلاس بند ، مړوند .
wristband, n.	د لستوڼي خوله ، لستوڼي خوله ، د مړوند بند (لکه د ساعت) .
wristlet, n.	بنگړى ، وښى : د ساعت بند ، لاسوندى ، لاس بندى .
writ, n.	ليکنه ، صحيفه : ليکلى حکم ، فرمان يا امريه ، ابلاغيه ، د جلب رقعه .
write, v.t.	ليکل : انشا کول ، تاليف کول .
writer, n.	ليکوال ، مؤلف : ليکونکى
writhe, v.t&v.i.	له درده تاوېدل . راتاوېدل (تاوول ، راتاوول) تاوېدل
writing, n.	ليکنه : ليك : دلاس ليك ، مشق : ليکوالى ، تاليف : ليکلى سند .
written, n.	د write ماضي او دريم حالت
wrong, adj.	غلط : گرم ، ملامت : وران : ناوړه ، نامناسبه : زړه نه‌منونکى : اړولى .
adv.	په غلط ډول .
n.	غلطي ، وراني ، درواغ ، دروهه گرمتيا : گناه ، تېرى ، ظلم .
v.t.	تېرى کول (په چا) ، بې نياوى کول .
wrongdoer, n.	خطاکار ، گناهکار : بداخلاقه .
wrongdoing, n.	خطا ، گناه ، بداخلاقي : بې قانوني .
wrongful, adj.	غلط ، بې انصافه .
wrongfully, adv.	په بې انصافي . غيرعادلانه .
wrongheaded, adj.	سرتمبه ، ځيلى ، جيلى ، سرزوري .
wrote.	د write. ماضي
wroth, adj.	له قاره ډك ، قارېدلى ، پارېدلى .
wrought.	د work. ماضي او دريم حالت
adj.	ډول ، سينگاري : پسولى : په ټکولو سم شوى ، د سټك په وهلو جوړ شوى (لکه اوسپنه ، پولاد) .

wrought iron, n. خوړه اوسپنه، چون (چودن) یو ډول اوسپنه چه په سلو کی تر ۳ر. لږ کاربون لری ، پڅه غزیدونکی اوسپنه .

wrought-up, adj. ډیر پارېدلی، تحریك شوی .

wrung. د wring. دویم اودریم حالت

wry, adj. کوږ، تاوشوی.

wryneck, n. کوږ (ناروغی) یو ډول ناروغی ده چه د ناروغه غاړه او سر یوی خوا ته کږوی: کوږشټی (مرغی) د ټکټکانی د کورنی یوه مرغی چه غاړه یی کږه وی .

wych-elm, n. یو ډول ونه چه ښوی پوست لری اود پشه خانې له کورنی څخه ده .



X

xebec, n. د مدیترانې (د روم د بحیرې) یو ډول درې بادوان لرونکې بېړۍ.

xenon, n زینون (یو درند عاطل گازی عنصر دی چه په هوا کی په ډېره لږه اندازه پیدا کیږی).

xeric, adj. وچ شانته.

xerophilous, adj. د وچو بی زغمونکی (لکه د دښت بوټی).

xerophyte, adj. د وچی بوټی، هغه بوټی چه لږ اوبه غواړی (لکه د دښت بوټی).

xerophytic, adj. په وچه کی وده کوونکی (نبات).

X ray, n.: اکسرې، مجهوله وړانگه د بدن د داخلی برخو عکس چه د دغو وړانگو په ذریعه اخیستل شوی وی.

X-ray, v.t. د اکسرې په وړانگو کتل، معالجه کول او عکس اخیستل

xylem, n. زایلم، د ونی د لرگینی برخی هغی ریښې (انساج) چه په هغو کی اوبه ښاخونو ته تېرېږی،

xylo-, prefix. یو مختاړی (پریفکس) دی چه د لرگی معنا ورکوی.

xylography. لرگی انځورنه، د لرگی حکاکی.

xylophone, n. زایلوفون (د موسیقی یو ډول آله).

Y

yacht, n. د تفریح وړه بېړۍ .

v.i. په دغه بېړۍ مسابقه کول .

yachting, n. په وړه تفریحي بېړۍ کې تفریح او مسابقه کول .

yachtsman, n. د تفریحي بېړۍ خاوند یا چلوونکی .

Yahoo, n. انسان وزمه ځنګلي مخلوق (افسانه): ناترس او سخت زړی ، حیوان صفته سړی ، د کرکې وړ .

Yahweh, Yahwe, n. یهوا (په عبراني کې د خدای نوم دی) .

yak, n. غژګاو (خشګاو) .

yam, n. د کچالو د کورنۍ یو بوټی چه په تودو سیمو کې پیدا کېږي او خوړل کېږي ، خواږه کچالو (جنوبي امریکا)

yank, n. جټکه ، ټکان ، راکشونه .

v.t.i. جټک ورکول: جټکه خوړل: ټکان ورکول: ټکان خوړل .

Yank, n. د Yankee لنډ شکل .

Yankee, n. د امریکا د نیوانګلنډ او شمالي امریکا اوسېدونکی: د اتازوني استوګن .

adj. امریکایي

yap, n. د سپي غپا: ګړتي ، اوتي بوتي: ناروزلی ، شخړل ، شاړه .

v.i. غپل: زوږ کول ، په زوږ خبرې کول ، غوغا کول .

yard, n. یارډ (وارډ) یا (لمبر) ، (۳ فوټه یا ۳۶ انچه): د بادوان د ټینګولو تیر چه افقي پروت وي (سمندري) .

yard, n. انګړ ، غولی: د کار غولی: د پوهنتون یا د پوهنځي سیمه: د اورګاډي د جوړولو او درولو ځای .

yardage, n. ګزانه (په ګز اندازه کول) .

yardarm, n. د بادوان د ټینګولو د افقي تیر سر او پای .

yardstick, n. یارډ (لرګی یا فلز چه یو ګز اوږد دوی): معیار .

yarn, n. ورته ، تار ، سپنسی ، وریښلی: قصه ، حکایت .

v.i. قصه کول ، حکایت ویل: د تار تاوول .

yarrow, n. زول (یو تریخ تند بوی یه بوټی دی چه په منی کې غوړېږي او سپین یا ګلابي ګلان لري او په درملو کې کار ځني اخلي) .

yataghan, n. توره .

yaw, n. د لارې څخه ګرځېدل (لکه کښتۍ چه د موجو په واسطه له خپله سمته څخه منحرفه شي) .

n. ګرځېدنه (انحراف) .

yawl, n. بادوانی وړه بېړۍ .

yawn, v.i. ارږمی ایستل ، باسی اخیستل .

yawn, n. ارږمی ، باسی ، خولوازی .

yaws, n. په تودو سیمو کی د بدن د پوست یوه ناروغی .

y-clept, y-cleped, adj. یاد شوی (موسوم) ، نومړی (لرغوني اصطلاح ده) .

ye,pron. ته (د you زوړ شکل) .

ye, artic. د the لرغونی ډول .

yea, adv. هو ، ښه : رښتیا : بې شکه ! (د ایجاب کلمه ده) .

yean, v.i.t. ورغومی یا وری زیږېدل یا زېږول .

year, n. کال : عمر (د جمع په حالت کی) .

astronomical, natural, or solar year. نجومی کال ، طبیعی کال یا لمریز کال .

common year. عمومی کال .

calendar or legal year, رسمی کال ، قانونی کال .

yearbook, n. کالنۍ (داسی کتابچه د ټول کال پېښی او احصائیه پکښی وی او کال په کال خپرېږی) .

yearling, n. یو کلن (عموماً حیوان) .

yearly, adj. هر کالیز ، کلنی ، کال په کال .

adv. کال په کال ، هر کال .

yearn, v.i. زهیرېدل (په چا ، څه پسې) : خواخوږی کول ، زړه نرمېدل (په چا ، په څه) : ارزو ، یا اشتیاق لرل .

yearning, adj.n. هیله من ، آرزومن : هیله ، آرزو ، اشتیاق .

yeast, n. خمیره ، تومنه ، موره : خمیره کوونکی بوټی : یوه ژړه بخونه ماده چه د خمیره کولو د پاره په کار یږی : ځګ : خمیره ، سریوکی : پړسېدنه ، پارېدنه .

yeastcake, تیاره شوې تومنه .

yeasty, adj. ځګن ، د تومنی ، ځوښند ، ایشند ، ځګ کوونکی .

yell, v.i.v.t. چیغې وهل ، کړیکه ایستل : په کړیکو کول .

n. چیغه ، کړیکه : په تال اوسندریزه غاړه شاباسی ویل (خصوصاً د پوهنځی د شاګردانو له خوا) .

yellow, adj. ژیړ ، ژړ : ژیړ رنګی ، ژړغونی (ژیړ توکمی ، ژیړ پوستی لکه مغولی نژاد) : ډارن ، بی زړه : درغل : لمسوونکی ، پاروونکی (د احساساتو) .

n. ژیړوالی ، ژیړ رنګ : ژیړ رنګ ورکوونکې ماده : ژړ (د هګی) : ژړی (ناروغی) : د نباتاتو یو ډول ویروسی ناروغی ده چه پاڼی یې ژړ یږی .

v.i., v.t. ژیړول : ژیړېدل .

yellowbird, n. زیړ که ، وړه ژیړه سندرغاړی مرغۍ ده .

yellow fever, n. ژیړه تبه، یوډول ساری تبه ده چې زیړی ته‌ورته او د کولمو څخه‌دوینې تلل او قی ورسره ملګری وی .

yellowhammer, n. اروپایی زیړ که : په شمالی امریکا کې دټکټکانۍ له کورنۍ یوډول مرغۍ ده .

yellowish, adj. ژړبخن ، زیړ بخن .

yellwojack, n. د yellowfever کلمه وګورئ : دبېړیو له پاسه دقرنطین زیړ بیرغ .

yellow jacket, n. ژړه غالبوزه ، ژیړه غومبسه .

yellowlegs, n دچوغکی له کورنۍ یوه مرغۍ ده چه دامریکې په ساحلی برخو کې ژوند کوی اوزیړې پښې لری .

yellow peril, n. دزیړ پوستو واك او تسلط څخه د سپین پوستو ډار او ترهه .

yellow tail, n. یوډول کب دی چه دکالیفورنیا په سواحلو کې موندل کیږی اوژیړه لکۍ لری .

yellowthroat, n. یو ډول امریکائی سندرغاړی مرغۍ ده چه غاړه اوسینه یې ژیړه ده .

yellowwood, n. یوډول ونه چه سپین ګلان او کلك ژړ لرګی لری .

yelp v.i.&.v.t. غپل ، انګولل ، غپول .

yelp, n. غپ، غپا، انګولا .

yen, n. دجاپان پولی واحد .

yeoman, n. شاهی یا اشرافی چوپړوال : اصیل : دشاهی ګارډ غړی : د برتانیې دایله جارو (رضا کارو) یو غړی : میرزا ، لیکونکی (په بحریه کې) : کوچنی زمیندار .

yeomanry, n. دوړو کروندګرو ډله (طبقه) : دایله جارو سپرو ډله .

yes, adv. هو .

yester, adj. پرونی ، د تیری ورځې ، دپرون .

yester- صفت دی چه‌دسمدستی تیرشوی معنا افاده کوی او د نومونو سره دمختاړی په ډول استعمالیږی .

yestereve. پرایی ، تیر ماښام

yestermorn. تیر ګهیځ ، تیرسهار .

yester morning. تر ګهیځ ، تیرسهار

yesternoon. تیره غرمه ، تیر څاښت

yesteryear, تیر کال ، پروسږکال

yesterday, n. پرون ، تیره ورځ : نژدی تیروخت .

adv. پرون .

yesternight, n. پرایی، تیره شپه ، بیګا

yet, adv. تراوسه ، لاتردی ، تردی : سربیره پردی ، علاوه پردی ، لانور : په پای کې ، بالاخره : سره له‌دی ټولو بیاهم : که څه‌هم .

yew, n. یوتل شنه‌ونه یا بوټی چه‌اکثره په پارکو کې دښکلا د پاره ایښودل کیږی (یو) .

Yiddish, n. یدیش ، د زړی جرمنی ژبی یوه لهجه ده چه د عبرانی او سلاوی ژبو تاثیر لاندی یی انکشاف کړی ، په روسیه ، منځنی اروپا او نورو هیوادو کی یهودیان خبری په کوی او په عبرانی الفباء لیکل کیږی .

yield, v.t.i. : (میوه) حاصل ورکول : ګټه ورکول : پرېښودل ، تسلیمیدل ، لاس اخیستل : لاس ته راتلل ، حاصلیدل : فایده ایښودل ، منل ، تیریدل : ځای ورکول ، مجبوریدل ، د چا ځای نیول .

n. ګټه ، حاصل .

yielding, adj. تسلیمیدونکی ، تیریدونکی

yodel, yodle, v.t.&v.i. په غیر طبیعی ږغ سندره ویل .

yodle,n. د غیر طبیعی ږغ سندره .

yoga, n. جوګ د هندوانو ذهنی ریاضت

yogi, yogin, n. جوګی ، مرتاض هندو

yoke. n. : ژغ ، څغ ، زغ ، جغ : مریتوب ، غلامی : بانګی ، د اوبو بوقی : جوړه (د یوی غویان) : غوټه ، ګنډه د وصل کړی ، تڼی ، تړون .

v.t. په جغ تړل ، سره تړل ، یوځای کول ، واده کول ، تړل ، سره جوړه کول .

yokefellow, n. ملګری ، همکار

yokel, n. کلیوال : شډل (سړی) .

yolk, n. ژیړ (د هګی) : د پسه د وړی غوړ

Yom Kippur, n. د یهودو د روژی ورځ چه رخصتی وی .

yon, yond, adv.&adj. yonder وګوری .

yonder, adv.&adj. : هلته ، هو لته دورایه ښکاره . (مګر لیری) .

yore, adv, n. پخوا ، پخوانی ، لرغونی

you, ته ، تا ، تاته ، تاسی ، تاسی ته .

young, adj. ځوان ، ځلمی ، ژلمی ، وړوکی ، بی تجربی ، ناپوه کمزوری : نوی ، تازه ، اوسنی .

n. ځلمیان ، ځوانان : بچی ، چیچیان .

youngish, adj. ځلموټی ، ځوانکی .

youngling, adj. ځلموټی ، ځوان ، ژلمی .

youngster, n. هلک ، وړوکی .

younker, . هلک ، وړوکی ، ځوانکی .

your, pron. poss. ستا ، ستاسی .

yours, pron.poss. ستا ، ستاسی .

yourself, pron. ته پخپله ، تاسی پخپله

youth, n. : ځوانی ، ځلمیتوب ، ژلمیتوب : ځلمیان ، ځوانان .

youthful, adj. : ژلمی ، ځلمی ، ځوان : د ځوانی ، د زلمیتوب : نوی تازه : تکړه .

youthfully, adv. په ځلمیتوب ، په ځوانی .

youthfulness, n. ځلمیتوب ، ځوانی ، ژلمیتوب .

yowl, n. انګولا ، غړانګه .

v.t.i. انګولل ، غړانګی وهل .

ytterbium, n. ایتربیم ، یو نایابه دری ویلانسه کیمیائی فلزی عنصر .

yttrium, n. ایتریم ، یو نایابه دری ویلانسه کیمیائی فلزی عنصر .

yucca, n. د سوسن له کورنۍ یو سپین گل ارونکی بوټی دی.

Yugoslav, n. یوګوسلاوی، د یوګوسلاویا اوسیدونکی.

Yugoslav, adj. د یوګوسلاویا، یوګوسلاوی.

Yugoslavian, adj یوګوسلاویایی، دیوګوسلاوی.

yule, yuletide, n. کرسمس، د مسیح د زیږیدنې اختر.

yult, n. د مسیح د زیږیدنې اختر.

yule log, n. لویه ګرګه ده چه د مسیح د زیږیدنې د اختر په ماښام یې په مقدس اوری کې سوځي.



Z

zany, n.	مسخره ، بې عقل ، احمق .
zeal, n.	شوق ، ذوق : غیرت : لېوالتیا
zealot, n.	متعصب ، افراطي : لېوال .
zealous, adj.	لېوال ، شوقمن ، دغیرت ، دشوق .
zebec.	د (xebec) بله بڼه .
zebra, n.	گوره خر .
zebu, n.	یو ډول یوك لرونکی آسیایي غویی .
Zeitgeist, n.	د وخت عمومي میلان ، د کلتور او ذوق میلان چه یوې خاصې زمانې ته منسوب وي .
zemstvo, n.	د پخوانۍ روسیې یوه انتخابي محلي جرگه چه د (۱۹۱۷) کال وروسته د شوروي نظام له خوا له منځه تللې ده .
zenana, n.	حرمسرای .
zenith, n.	سمت الراس ، اوج ، تر ټولو لوړه څوکه ، وروستۍ نقطه .
zephyr, n.	وږمه ، لویدیځ باد ، نری شمال : تار ، تاوشوی نری مرغلین تار .
zeppelin, n.	یو ډول غټه هوایي بېړۍ چه کونټ فون زپلین جوړه کړې وه .
zero, n.	صفر : هیڅ .
zero hour,	د کار د پیل کولو ټاکلی وخت : بحراني شېبه .
zest, n.v.t.	خوند ، حظ ، مزه : ذوق : خونده ور کول ، مزه داره کول
zestful, adj.	خوندور : ذوقمن .
Zeus, n.	زیوس (د یونانیانو رب الارباب)
zigzag,,n, adv.	کوږ وږ ، منکسر ، مات
v.t.i.	کږول ، کوږ وږ تلل .
zinc, n.	کوټ (جست) .
zincography, n.	زنکوگرافي .
zinc ointment, n.	د کوټ ملهم (یو ډول ملهم دی چه ۲۰ فیصده د کوټ اوکساید او د پترولېتم یا یو ډول غوړو څخه جوړ یږي) .
zinc oxide, n.	د کوټ (جست) اوکساید (زنگک) .
zinnia, n.	د رعنا او زیبا د گورنې یو ډول گل .
Zion, n.	صیون ، صهیون (په بیت المقدس کې یوه غونډۍ ده چه د سلیمان علیه السلام معبد او د داؤد علیه السلام ماڼۍ پکښې جوړې شوې دي) : یهودیان : آسمان او آسماني ښار .

Zionism, n. صهیونیت (دمتعصبو یهودیانو یو نهضت دی چه غواړی دفلسطینیانو خاوره غصب کړی).

zip, n.v.i. بوړهار: په چټکی سره حرکت کول.

Zipper, n. ځنځیر (لکه د پتلون).

zippy, adj. چټك، چالاك.

zircon, n. یو ډول شفاف منرال (کانی) دی چه مختلف رنگونه لری او دغمی په ډول استعمالیږی.

zirconium, n. یو فلزی عنصر دی.

zither, n. سنتور (دموسیقی یوه آله ده چه د (۳۰-٤۰) پوری تارونه لری).

zloty, n. دپولینډ پولی واحد.

zodiac, n. (نجوم) منطقة البروج.

zoic, adj. دژوو، دژوو ژوند یاعمل ته منسوب.

zoism, n. دژوو ژوند ته احترام، دژوو قدرت یااغیزې ته عقیده (لکه په ځینو ابتدائی اقوامو کی).

Zollverein, n. دگمرکاتو د محصول دمقرراتو د پاره د ملتو یا ایالتو ترمنځ اتحادیه (د ۱۸۳٤-۱۸٦۷ کلو ترمنځ په جرمنی کی).

zombi, zombie, یو ډول سحری قدرت دی چه دغربی افریقی ځینی خلك عقیده لری چه دهغه په واسطه مړی حرکت کولای شی: مړ جسم چه داسی قدرت ولری.

zonal, adj. سیمه ییزه، منطقوی.

zonar, zonnar, n. یو ډول ملاوستنی (کمربند) دی چه یهودیانو او عیسویانو به ددې د پاره ترملا تاړه چه دمسلمانانو سره یې توپیر وشی.

zone, n. سیمه: ملاوستنی (کمربند): جغرافیوی سیمه (لکه توده، معتدله اوسړه): ناحیه: طبقه.

zoo, n. ژوبڼ (باغ وحش).

zoo— یو مختاړی دی چه دژوی معنا افاده کوی.

zooculture, n. دژوو روږدونه اوروزنه

zoogeography, n. ژوییزه جغرافیه، دژوو جغرافیه.

zoography, n. ژوپوهنه.

zooid, n. یو ژوندی موجود چه ژوی ته ورته دی خو دژوی ټول خواص نه لری (لکه دسپرم حجره)، ژووزمه.

zoological garden, ژوبڼ.

zoologist, n. ژوپوهاند، ژوپېژندونکی.

zoology, n. ژوپوهنه.

zoom, v.i.n. په چټکی سره او په لوړ ږغ پورته کېدل یا تلل (لکه الوتکه): ددې حرکت ږغ یاعمل.

zoomorphism, n. دژوو په شکل دارباب انواع تمثیل.

zoophyte, n. واښه وزمه ژوی (لکه مرجان، سپنج).

zooplasty, n. دژوو دانساجو پیوندیه انسان کی.

zoot suit, په امریکا کی یو ډول خاصه دریشی.

Zoroastrian, adj. زردشتی.

Zoroastrianism, n. دزردشت مذهب.

Zouave, n. د الجزایر هغه اوسېدونکی چه د فرانسی په اردو کی یې خدمت کاوه او په میړانه کی یې شهرت درلود.

zounds, interj. لوړه (قسم) چه د تعجب یا قهر په وخت کی ویل کیږی.

zucchetto, n. د رومن کاتولیکانو د مذهبی مشرانو خولی (رخچینه) چه د مقام په لحاظ یې رنگونه توپیر سره لری.

Zulu, n. د جنوبی افریقا د تور پوستو یوه قبیله او د هغوی ژبه.

Zuni, n. د لویدیځی مکسیکو سور پوستی

zwieback, n. یو ډول بسکویټ.

zygote, n. نطفه (القاح شوی حجره).

zymase, n. یو ډول کیمیاوی ماده (انزایم).

zyme, n. یوه کیمیاوی ماده ده چه د ساری ناروغیو د خپرېدو سبب گرځی.



Abbreviations لنډونی

A, argon	ارگون (یو نجیبه غاز)
A., America, American	امریکا، امریکایی
A.A.A., Amateur Athletic Association	شوقی ورزشی ټولنه
American Automobile Association	دامریکا د ګړندیو موټرو اتحادیه
A.A.A.S., American Association for the Advancement of Science	دساینس دپرمختګ دپاره امریکایی ټولنه .
A.B., Artium Baccalaureus (L., Bachelor of Arts)	د بشری او اجتماعی علومو لیسانسه .
Abbr., abbr., abbrev., abbreviated; abbreviation	لنډ شوی، لنډونه (مخفف)
ABC, American Broadcasting Corporation	دامریکا (راډیویی او تلویزیونی) خپرونو شرکت .
Abp., abp., archbishop	سراسقف .
AC, Air Corps	هوایی لښکر .
A.C., ante Christum (L., before Christ)	تر میلاد دمخه (ق، م)
A.C., a.c., alternating current	د برق متناوب جریان
A/C, a/c, account current	جاري حساب .
A/C, a/c, ac., account	حساب (بانك) .
acad., academy	اکادمی .
acous., acoustics	اواز پوهنه (داوازد تولید او انتقال په شمول).
act., active.	فعال، (ګرامر) متعدی .
A.D., anno Domini (L., the year of our Lord.)	میلادی .
ad., advertisement.	اعلان، خپرګندونه .
a.d., after date	
adap., adapted	توافق ورکړه شوی .

A.D.C., Aide-de-camp.	د جنرال مرستیال .
ad. int., ad interim (L., in the meantime)	په عین حال کی .
adj., adjective .	صفت .
Adj., Adjt., Adjutant.	پوځی مرستیال
ad lib., ad libitum (L., at one's pleasure)	د سړی په خپله خوښه، په خپل زړه .
Adm., Admiral	امیر البحر .
adv., adverb; adverbial; advertisement	قید، قیدی: اعلان، څرگندونه .
ad. val., ad valorem (L., according to value.)	د ارزښت له مخی .
advt., advertisement	اعلان، څرگندونه .
A.F., a.f., audio frequency	آډیو فریکونسی .
AFL, A.F. of L., American Federation of Labor	د امریکا د کارگرو اتحادیه .
Afr. Africa, African.	افریقا، افریقایی .
Ag., argentum (L., silver)	سپین زر .
A.G., Adjutant General; Attorney General.	پوځی لوی مرستیال: لوی څارنوال .
agr., agric., agriculture; agricultural	کرنه: د کرنی، زراعتی .
agt., agent.	نماینده: عامل: مخبر
Al., aluminum.	المونیم .
Ald., Aldm. Alderman	نائب السلطنه: د ښاری جرگې غړی .
Alex., Alexander	سکندر .
alg., algebra	الجبر
alt., alternate, altitude.	متناوب: ارتفاع .
A.M., Artium Magister (L., Master of Arts)	ماستری په بشری او اجتماعی علوموکی .
A.M., anno mundi (L., in the year of the world)	د دنیا د پیداینت کال .
A.M., a.m., ante meridiem (L., before noon)	قبل الظهر، تر غرمې دمخه .
Amb., Ambassador	سفیر .
amp., ampere.	امپیر .
amt., amount	مقدار، اندازه .
anal., analytic; analysis.	تحلیلی: تحلیل .
Anat., Anatomy.	علم تشریح، اناټومی .
anon., anonymous.	بی نومه، مجهول .

ans., answer.	ځواب .
Ant., Antonym (s).	متضاد (کلمه).
Ap., Apl., April	اپریل .
A.P., AP, Associated Press	اسوشیټید پرس.
Apoc., Apocrypha.	نوشتې چه لیکونکی یې معلوم نه وی .
app., appendix	مل، ضمیمه .
approx., approximately.	تخمیناً. نږدی.
Apr., April.	اپریل.
Apt., apartment; Pl. Apts.	اپارتمان .
Aq, aq, aqua (L., water)	اوبه.
ar., arrive; arrives.	رسیدل، رسیږی.
Ar., Arab., Arabic	عرب، عربی.
ARA, Agricultural Research Administration,	دامریکا د علمی تحقیقاتو اداره .
ARC, A.R.C., American (National) Red Cross.	دامریکا (ملی) سور صلیب
Arch., Archbishop.	سراسقف، ستر پادری .
arch., archipelago; architect, architecture; archaic :	مجمع الجزایر : مهندس مهندسی : لرغونی .
arith., arithmetic	حساب، شمېر .
art., article; artillery; artist; artificial. :	مقاله، ماده (شی)، دتخصیص توری : پیاده پوځ : هنرمن : مصنوعی .
As, arsenic.	یو زهرناکه کیمیاوی ماده (سنکیا) .
AS., A.S., Anglo-Saxon	انګلوساکسون .
A.S.C.E., American Society of Civil Engineers.	دامریکا دملکی مهندسانو (انجینرانو) ټولنه .
assn., association.	ټولنه .
Asst., assistant	مرستیال، اسستانت
Atl., Atlantic.	داتلس سمندر
att., attorney.	عارنوال : ددعوې وکیل .
at. wt., atomic weight	اټومی وزن.
Au, aurum (L., gold)	سره زر .

Aug., August.	آګسټ .
AUS, A.U.S., Army of the United States	د امریکا د متحدو ایالاتو پوځ .
Aus., Australia	استرالیا .
Aust., Austria, Austrian.	اسټریا (اتریش) : اسټریایی .
auto., automatic; automotive	خپل کار : پخپله خو ځېدونکی .
aux., auxil, auxiliary.	کومکی .
av., average.	اوسط .
av., avenue	واټ .
A.W.O.L., a.w.o.l., absent without leave	(عسکری) غیر حاضر . ناسوب ، هغه چه بې له اجازې بې وظیفه پرې ایښې وی .
B.A., Baccalaureus Artium (L., Bachelor of Arts).	د اجتماعی او بشری علومو لیسانسه .
